

د محبت او معرفت خزانه

# درسِ مثنوی

## مولانا رومؒ (پښتو)

شیخ العرب والعجم عارف باللہ مجددِ زمانہ حضرت مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ

ادارۂ تالیفاتِ اختریہ

www.hazratmeersahib.com

# فهرست


| | |
|---|---|
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>۱۵د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۶ د دسمبر ۱۹۹۷ء | |
| ⇦ لوی زیری | ۹ |
| ⇦ مقدمه | ۱۰ |
| ⇦ مثنوی شریف الهامی کتاب دی | ۱۵ |
| ⇦ د حدیث اَنْ تَعْبُدَاللّٰهَ کَاَنَّکَ...الخ تشریح | ۱۸ |
| ⇦ دحق تعالیٰ د قدرت تماشې | ۲۱ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>۱۶ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۷ د دسمبر ۱۹۹۷ء | |
| ⇦ دنیا څه شی ده؟ | ۲۳ |
| ⇦ پر اصحابو باندی اعتراض کونکی بې عقلان دی | ۲۶ |
| ⇦ د حضرت صاحب مبارک حالات | ۲۷ |
| ⇦ پیر د آسمان زینه ده | ۳۰ |
| ⇦ د نفس غلط خواهشات قتل که | ۳۵ |
| ⇦ د شیخ لمن ټینګه ونیسه | ۴۱ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>۲۱ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۲ د دسمبر ۱۹۹۷ء | |
| ⇦ د حضرت پهولپوری رحمة الله علیه بندګی | ۴۳ |
| ⇦ اسلام د عشق نوم دی | ۴۵ |
| ⇦ د مجازی عشق صله | ۴۷ |

## مجلس درسِ مثنوی

۲۳ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۴ د دسمبر ۱۹۹۷ء


| | |
|---|---|
| ⇦ نفس فرعون خصلته دی | ٤٩ |
| ⇦ د شهوت اور کوم شی وژنی ؟ | ٥٢ |
| ⇦ د اصلی او جعلی پیرانو فرق | ٥٦ |


## مجلس درسِ مثنوی

۲۴ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۵ د دسمبر ۱۹۹۷ء


| | |
|---|---|
| ⇦ حرام خواهشات قربانول دخدای دوستی ده | ٥٩ |
| ⇦ د قهر شراب | ٦٢ |
| ⇦ د لغړزنی هلکوانو عشق عذاب دی | ٦٤ |


## مجلس درسِ مثنوی

۲۵ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۶ د دسمبر ۱۹۹۷ء


| | |
|---|---|
| ⇦ د اولیاوو قرب بې قیاسه دی | ٦٧ |
| ⇦ دخدای دوستان دخدای څخه جلا نه دی | ٧٠ |


## مجلس درسِ مثنوی

۲۶ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۷ د دسمبر ۱۹۹۷ء


| | |
|---|---|
| ⇦ اصلی دخدای دوستان څوک دی | ٧١ |
| ⇦ مجاهده فرض ده | ٧٢ |
| ⇦ د حضرت تهانوی رحمة الله علیه لس کلن اشکال | ٧٤ |
| ⇦ د اولیاوو اهمیت د مولانا رومی صاحب په ژبه | ٧٧ |
| ⇦ د بدبخته خلکو کار بهانې او پلمې کول دی | ٨١ |

| | |
|---|---|
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>۲۷ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۸ د دسمبر ۱۹۹۷ء | |
| ⇦ دخدای په موجودی کی بل چاته زړه ورکول نادانی ده | ۸۲ |
| ⇦ شوپرک او باز | ۸٤ |
| ⇦ پر اولیاوو باندی بدګمانی کول د بدبختی دروازه ده | ۸۸ |
| ⇦ د شیخ شهاب الدین سهروردیؒ نصیحت | ۸۹ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>۲۸ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۹ د دسمبر ۱۹۹۷ء | |
| ⇦ هر څونه ګناوی چی وسی دخدای څخه مه ناامیده کیږه | ۹۲ |
| ⇦ توفیق څه شی دی | ۹٤ |
| ⇦ د نفس صفت | ۹٤ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>۲۹ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۳۰ د دسمبر ۱۹۹۷ء | |
| ⇦ د کریم څلور صفتونه | ۹٦ |
| ⇦ ابدال څوک دی؟ | ۱۰۰ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>۲ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱ د جنوری ۱۹۹۸ء | |
| ⇦ د نفس طبیعت د ټپوس دی | ۱۰۲ |
| ⇦ د توبې سواری | ۱۰۳ |
| ⇦ د حق تعالیٰ عجب تصرفات | ۱۰٦ |
| ⇦ د تکبر او لویې په سبب په زړه کی فساد پیدا سی | ۱۰۷ |

| | |
|---|---|
| ⇦ د شیخ سره د صلاح کولو برکت | ۱۱۰ |
| ⇦ د گناه په سبب د انسان نظر او زړه بدل سی | ۱۱۲ |
| ⇦ د فرار درې قسمونه | ۱۱۶ |
| ⇦ د نفس اصلاح پر درو خبرو باندی موقوف ده | ۱۲۰ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>**۴ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۳ د جنوری ۱۹۹۸ء** | |
| ⇦ د معرفت عظیم الشانه مضمون | ۱۲۶ |
| ⇦ د حدیث زُرغِبّاً تَزدَد حُبّاً تشریح | ۱۲۸ |
| ⇦ د دوږخ نس به په دوږخیانو نه سی ډک | ۱۳۲ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>**۷ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۶ د جنوری ۱۹۹۸ء** | |
| ⇦ د لغږزنو فتنه | ۱۳٤ |
| ⇦ د اولیاوو مجلسی هیڅکله بدنصیبه نه سی پاته کیدای | ۱٤٤ |
| ⇦ د حضرت صاحب مبارک حالات | ۱٤٦ |
| ⇦ زړه د پنځو لارو څخه خوند اخلی | ۱٤۹ |
| ⇦ اولیاءصدیقین څوک دی | ۱٥٤ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>**۹ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۸ د جنوری ۱۹۹۸ء** | |
| ⇦ د یُحِبُّهُمْ وَیُحِبُّوْنَه تفسیر | ۱٦۰ |
| ⇦ د قوم او ژبی د تعصب اصلاح | ۱٦۲ |
| ⇦ د محبت خاوندان بې وفا نه وی | ۱٦٤ |
| ⇦ نقلی ځج کونکو ته نصیحت | ۱٦۷ |

| | |
|---|---|
| ⇦ د اولیاوو د صحبت اهمیت په یو مثال سره | ۱۷۰ |
| ⇦ کله چی عشق د عقل امام سی بیا کار سمیږی | ۱۷۱ |
| ⇦ د محبت زنځیران | ۱۷۳ |
| ⇦ د اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّکُمْ تشریح | ۱۷۵ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>۱۱ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۰ د جنوری ۱۹۹۸ء | |
| ⇦ د نظر د حفاظت حکمت | ۱۷۹ |
| ⇦ د عاشقانو د دعا کولو مقصد | ۱۸۲ |
| ⇦ فَنَاءُ الفَنَا څه شی ده | ۱۸۵ |
| ⇦ د شیخ د خوشکی برکت | ۱۸۶ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>۱۲ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۱ د جنوری ۱۹۹۸ء | |
| ⇦ شهوت د انسان په فطرت کی شامل دی | ۱۸۹ |
| ⇦ د حضرت یوسف علیه السّلام او زلیخا قصه | ۱۹۲ |
| ⇦ د بدنظری تاوانونه او ایمانی حلوا | ۱۹۵ |
| ⇦ موږ ازلی عاشقان یو | ۲۰۸ |
| ⇦ دخدای پر وجود باندی د مولانا رومی صاحب دلایل | ۲۱۱ |
| **مجلس درسِ مثنوی**<br>۱۳ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۲ د جنوری ۱۹۹۸ء | |
| ⇦ د شیخ خوشکی د اصلاح دپاره وی | ۲۲۰ |
| ⇦ د اولیاوو او د دنیادارو د کاهلی فرق | ۲۲۳ |

| | |
|---|---|
| ⇦ د سیاست څخه لیری واوسیږی | ۲۲۵ |
| ⇦ د اولیاوو په صحبت کی تسلسل ضروری دی | ۲۳۱ |

## مجلس درسِ مثنوی

**۱۴ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۳ د جنوری ۱۹۹۸ء**

| | |
|---|---|
| ⇦ د مراد نه قبلیدو راز | ۲۳٤ |
| ⇦ د اولیاوو مستی | ۲۳٦ |
| ⇦ د شیطان تر ټولو لوی جال بې پرده ښځې دی | ۲٤۰ |
| ⇦ غیبت تر زنا بدتره دی | ۲٤۲ |
| ⇦ د اسلام هر قانون رحمت دی | ۲٤٤ |
| ⇦ د نفس اصلاح د اولیاوو پر صحبت موقوف ده | ۲٤٦ |

## مجلس درسِ مثنوی

**۱۵ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۴ د جنوری ۱۹۹۸ء**

| | |
|---|---|
| ⇦ اٰمَنْتُ بِاللهِ وَرُسُلِهٖ د وسوسې علاج دی | ۲۵۰ |
| ⇦ د قیامت په ورځ به د بدن اعضاوی شاهدی ادا کوی | ۲۵۱ |
| ⇦ په ګناوو سره مستیدل دخدای عذاب دی | ۲۵۵ |

## مجلس درسِ مثنوی

**۱٦ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۵ د جنوری ۱۹۹۸ء**

| | |
|---|---|
| ⇦ د طریقت منزلونه | ۲۵۷ |
| ⇦ د زړه آرام او قرار دحق تعالیٰ په لاس کی دی | ۲۵۹ |
| ⇦ د زړه د سلامتیا علامت | ۲٦۱ |
| ⇦ د عافیت مطلب | ۲٦۷ |

## مجلس درسِ مثنوی

۱۸ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۷ د جنوری ۱۹۹۸ء


| | |
|---|---|
| ⇦ د صاحبِ نسبت عالم د علم مثال | ۲۷۰ |
| ⇦ د علم حاصلولو نیت | ۲۷۵ |
| ⇦ د انسان تخلیق په څلورو عناصرو سوی دی | ۲۷۷ |
| ⇦ د وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى..... الخ تشریح | ۲۷۹ |


## مجلس درسِ مثنوی

۱۹ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۸ د جنوری ۱۹۹۸ء


| | |
|---|---|
| ⇦ دخدای فضل سړی د ګناوو څخه ساتی | ۲۸۵ |
| ⇦ د اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ تشریح | ۲۸۷ |
| ⇦ د مولانا رومی صاحب د خپل شیخ سره محبت | ۲۹۱ |


## مجلس درسِ مثنوی

۲۰ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۹ د جنوری ۱۹۹۸ء


| | |
|---|---|
| ⇦ د اولیاوو باطنی کیفیات | ۲۹۶ |
| ⇦ مولانا رومی صاحب دوو کسانو ته مبارکی ورکړې ده | ۳۰۰ |


## مجلس درسِ مثنوی

۲۱ د رمضانُ المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۰ د جنوری ۱۹۹۸ء


| | |
|---|---|
| ⇦ حق تعالیٰ خپله فیصله بدلولای سی | ۳۰۶ |
| ⇦ د اولیاوو محبت تر جنته رسوی | ۳۰۹ |
| ⇦ د مومن او کافر تر مابین فرق | ۳۱٤ |

# لوی زیری

د مُناظرِ دیوبند حضرت مولانا سید مرتضٰی حسن چاند پوری رحمة الله علیه کړوسی سید ثروت حسین صاحب کوم چې د حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب مدظله د مریدانو څخه دی هغه خوب ولیدی چې نبی علیه الصلوٰة والسّلام د مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب په حجره کی ناست دی، د نبی علیه الصلوٰة والسّلام راسته اړخ ته مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب دی او د حضرت صاحب راسته اړخ ته خوب لیدونکی دی او مخامخ درسِ مثنوی مولانا روم کتاب پروت دی، نبی علیه الصلوٰة والسّلام خوب لیدونکی ته وفرمایل چې درسِ مثنوی ډیر ښه کتاب دی ته داغه وایه.

**به این مــــژده گر جان فشانم رواســـت**

پر دغه زیری باندی که ځان قربان کړم نو روا دی

**اَلْحَمْدُ لَكَ وَالشُّكْرُ لَكَ يَا رَبَّنَا**

# مقدمہ

د کال ۱۴۱۸ھ د روژې مبارکې په میاشت کې د شیخُ العرب والعَجم عارف بِاللّٰه حضرتِ اقدس مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب مدظله د عمرې سفر په یو سبب پاته سو، د عمرې څخه د پاته کېدو خبر چې عام سو نو روژه مبارک د حضرت صاحب په خدمت کې د تیرولو دپاره د ډیرو مملکتو څخه د حضرت صاحب مریدانو د اجازې وروسته راتګ شروع کړی او د شعبان د میاشتې تر نیمایي پورې د هندوستان، بنګله دیش، جنوبي افریقه، کینیا، برطانیه، امریکا او داسې نورو مملکتو څخه ډیر علماء او نور حضرات راغلل.

دغه علماء د حضرت صاحب د مثنوی د درس خواهشمند وه، نو د هغو د خواهش په خاطر پر کمزوری سربیره حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب د شعبان د میاشتې د نیمایي څخه د روژې تر آخره پورې تقریباً هره ورځ د مثنوی شریف درس ورکړی، کوم چې د الهامی علومو او معارفو خزانه وه، دغه درس د عشق او محبت د اوره ډک، د طوفان او زلزلې په شان وو ځکه چې د محبت دغه درس د محبت په ژبه وو، په دغه درس کې د مولانا جلالُ الدین رومی صاحب د سینې د عشق اور او د حضرت صاحب د عشق اور دواړه په یو ځای کېدو سره دخدای د محبت د شرابو نشه دوه چنده سوه، لکه څنګه چې یو شاعر ویلی دی ؎

**نشّہ بڑھتا ہے شرابیں جو شرابوں میں ملیں**

**ترجمه**: نشه ډیریږي چې شراب په شرابو کډ سي

حال دا چې ددې درس یو یو لفظ په عشق و محبت او کیف و مستی کې ډوب دی چې ناست ټول علماء پر وجد راغلل او مست و سرشار سول

که د حضرت صاحب په یوه لاس کی د عشق او مستی رازونه دی نو په بل لاس کی یې د قرآن او سنت علمی دلایل دی کوم چی د محققین علماوو دپاره د کیف او وجد سبب او د منکرینو دپاره د سوچ او فکر دعوت دی.

الحمدُلله حضرت صاحب تصوف او طریقت د قرآن او حدیث په علومو او معارفو سره داسی مدلل کړی دی چی اوس د دې خبری گنجایش نه دی پاته چی تصوف او طریقت د قرآن او حدیث خلاف دی، په داغه خاطر د حضرت صاحب په باره کی زه په عامه دغه وایم چی ؎

**دل میں ہر لحظہ ترے جلوۂ جاناں دیکھوں**
**ہاتھ میں گرچہ ترے سُبحۂ صد دانہ نہیں**
**تری آنکھوں میں ہے وہ مستیِ صہبائے ازل**
**جس کے آگے کوئی شے مستیِ پیمانہ نہیں**
**تری آنکھوں سے ملاتی نہیں نرگس آنکھیں**
**اس کی آنکھوں میں تری مستیِ خمخانہ نہیں**
**مفت بٹتی ہے مئے نابِ محبت یاں پر**
**ترے مے خانے سا دیکھا کوئی مے خانہ نہیں**

**ترجمه**: ستا په زړه کی هره لحظه دخدای تجلا وینم، که څه هم ستا په لاس کی تسبیح نسته، ستا په سترګو کی د ازلی شرابو هغه مستی سته، چی دهغه ومخته هیڅ د مستی اندازه نسته، نرګس ستا سره سترګی نه سی جنګولای، ځکه چی دهغه په سترګو کی ستا د میخانې مستی نسته، دخدای د محبت خالص شراب دلته مفت ورکول کیږی، ستا د میخانې په شان بله میخانه نسته

او زما څه حقیقت دی چې په ټوله دنیا کی د لوی لوی علماوو، محدثینو او مفسرینو پر ژبو باندی د حضرت صاحب صفتونه دی او هغه د حضرت صاحب د کمالاتو اقرار کونکی او د حضرت صاحب په مریدانو کی شامل دی ـ

**میں ہی اس پر مر مٹا ناصح تو کیا بے جا کیا**

**میں تو دیوانہ تھا دنیا بھر تو سودائی نہ تھی**

**ترجمه**: زه که پر هغه باندی قربان سوم اې نصیحت کونکې نو څه ناحقه می وکړه، زه که لیونی وم ټوله دنیا خو لیونۍ نه وه

د مثنوی شریف دغه درس کوم چې د عشق او محبت د اوره ډک دی او په یوه یوه لفظ کی یې د عشق او محبت اور احساسیږی، د عشق داسی توند او تیز شراب د سنت او شریعت په جام کی کلا بنده دی، د عشق او مستی څه طاقت دی چې د شریعت تر حدودو دباندی قدم کښیږدی، حضرت صاحب فرمایي چې ټوله تصوف سنت او شریعت دی او هغه تصوف تصوف هم نه دی کوم چې د قرآن او سنت خلاف دی او کوم عشق چې د شریعت حدود مات کړی د دې لایق دی چې هغه عشق سړی مات کړی، دغه درسِ مثنوی مولانا روم په خپل نوع کی یو نادره درس دی، په دغه درس کی د مثنوی د شعرو تشریح د عشق او مستی په توند او تیز شرابو سره سوې ده کوم چې د قرآن او حدیث په علومو او معارفو سره تائید سوې ده چې په دې دغه واضح کیږی چې مثنوی شریف د قرآن پاک او حدیث پاک بې مثاله عاشقانه وضاحت او تشریح ده.

حق تعالیٰ چې په دغه درس کی د حضرت صاحب په مبارکه ژبه باندی د مثنوی شریف کومه تشریح کړې ده هغه مثال نه لری او شاید چې

یو داسی تشریح موجود وی، دا فقط د مثنوی شریف د شعرو لفظی تشریح نه ده بلکې په دې کی د تصوف او طریقت د مسایلو د قرآن پاک او حدیث پاک څخه استنباط هم سته او د خدای د طلبګارانو د باطنی تکلیفو او روحانی امراضو(ګناوو) علاج هم سته او د مثنوی شریف د شعرو الهامی او نادره تشریح هم سته، الغرض هر درس یو مکمل بیان او د علومو او معارفو خزانه ده او دخدای په لار کی د راتلونکو تکلیفو دپاره ډیر ښه رهبر او د لاری څراغ دی چی په دې د مثنوی شریف د هر اړخیزوالی، ژورتیا او جامعیت هم اندازه کیږی.

د کتاب ویونکو څخه د دعاوو غوښتنه کوو چی حق تعالیٰ دغه کتاب ته د قبولیت شرف ورپه نصیب کړی او تر قیامته پوری یې د حضرت صاحب دپاره صدقۀ جاریه وګرځوی او جمله خادمان او کومکیان دی هم حق تعالیٰ په خپل کرم سره پکښی شامل کړی او تر قیامته پوری دی دغه درس د اُمَّتِ مسلمه دپاره دحق تعالیٰ په محبت کی د مست او سرشار کیدو او دحق تعالیٰ ډیر زیات محبت د حاصلولو ذریعه وګرځوی بلکې د کافرانو دپاره دې هم د ګمی اخیستلو او د ایمان راوړلو ذریعه او سبب وګرځوی.

حق تعالیٰ دی په خپل رحمت سره د دنیا په جلا جلا ژبو د دې کتاب د ترجمې انتظام وکړی او تر قیامته پوری دی دغه درس د هدایت ذریعه وګرځوی او د حضرت صاحب هر تصنیف، هر تقریر او تحریر دی د دنیا په ټولو ژبو کی په نشرولو سره تر قیامته پوری د اُمَّتِ مسلمه دپاره د استفادې ذریعه وګرځوی ځکه چی دا دخدای د محبت هغه اور دی چی په دې باره کی زما ګمان یقینی دی چی وطن په وطن پسی وګرځی نو دغه اور به نه کړی پیدا، دا د محبت هغه اور دی کوم چی د اُمَّت په خاصُ الخاص

اولیاوو کی یو چا چاته عطا سوی دی او د دې ثبوت او دلیل اول خپله د حضرت صاحب مبارک حالات او د حضرت صاحب د عشق درد او د خدای سره خاص تعلق دی کوم چې د لمر په شان روښانه دی او دوهم د حضرت صاحب تقریر او تحریر د حضرت صاحب د منفرد او بې مثاله عشق او محبت د اور شاهد دی ؎

**در سخن مخفی منم چون بوی گل در برگِ گل**

**هر که دیدن میل دارد در سخن بیند مرا**

زه په خپل کلام کی داسی پټ یم څنګه چې د ګل خوشبویي د ګل په پاڼو کی پټه ده، بس کوم سړی چې لیدل غواړی زما په کلام کی دی ما ووینی

حق تعالیٰ دی موږ ته د قدر توفیق راکړی او د حضرت صاحب سایه دی زموږ پر سرو تر ډیره وخته قایم او دایم ولری او ماته دی په خاصه او ټولو مریدانو ته دی په عامه د حضرت صاحب د قدر کولو او د ګټې اخیستلو توفیق راکړی او حق تعالیٰ دی موږ د حضرت صاحب د فیض او برکتو څخه برخمن کړی. **آمِیۡن یَارَبَّ الۡعٰلَمِیۡنَ بِحُرۡمَةِ سَیِّدِالۡمُرۡسَلِیۡنَ عَلَیۡهِ الصَّلٰوةُ وَالتَّسۡلِیۡمُ.**

**جامع او مرتب کونکی**

**یو خادم د شیخُ العرب والعَجم عارف بِالله**

**حضرتِ اقدس مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمة الله علیه**

**خانقاه امدادیه اشرفیه**

**۱۹ محرم الحرام ۱۴۲۰ھ مطابق ۶ مئی ۱۹۹۹ء یوم الخمیس**

# مجلس درسِ مثنوی

## ۱۵د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۶ د دسمبر ۱۹۹۷ء د سې شنبې ورځ د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

**قافیه اندیشم و دلدارِ من — گویدم مندیش جز دیدارِ من**

ارشاد یې وفرمایه چې مثنوی شریف الهامی کتاب دی، حضرت مولانا قاسم نانوتوی رحمة الله علیه به فرمایل چې درې کتابونه نادره دی، قرآن شریف، بُخاری شریف او مثنوی شریف، قرآن شریف خو د حق تعالیٰ کلام دی لهٰذا دهغه نمونه او مثال څوک وړاندې کولای سی، ځکه چې **کَلَامُ الْمُلُوْکِ مُلُوْکُ الْکَلَامِ** وی یعنی د پاچاهانو کلام د کلامو پاچا وی، نو کوم ربّ چې وپاچاهانو ته پاچاهی او سلطنت، تخت او تاج ورکوی دهغه احکمُ الحاکمین د کلام به څنګه شان وی او څوک دهغه په مقابل کی خپل کلام وړاندې کولای سی.

زمونږ شیخ حضرت مولانا شاه عبدُالغنی پهولپوری رحمة الله علیه به فرمایل چې د قرآن شریف جملې که څه هم په ښکاره د داغه الف با تا څخه جوړی دی لاکن په اصل کی دغه الف با تا د بلی دنیا دی او په ځان کی یې الٰهی انوار ساتلی دی، همداغه سبب دی چې د قرآن د تورو څخه جوړ سوی آیتو خپل په شان مثال د راوړلو څخه ټوله جهان عاجزه کړی.

حق تعالیٰ د خپل اُمّی رسول په ژبه داسی فصیح او کامل کلام بیان کړی کوم چې د ټوله عرب فُصحاء حیران پاته کړه او کوم عربو چې د خپل فصاحت او بلاغت په مقابل کی غیر عربو ته عجم یعنی ګونګیان ویل هغه د حق تعالیٰ د کلام د عظمت ومخته خپله ګونګیان سوه او د قرآن شریف پر اعلان **فَأْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ** ......الخ (سورت بقره، آیت ۲۳) باندی یې د

پوره زور لګولو سربیره د قرآن پاک په شان یوه جمله نه کړه جوړه او عاجز پاته سوه او څنګه به نه عاجز کیدل ځکه چې دا د خدای کلام وو، مولانا رومی صاحب داغه ته فرمایي ے

**گفتهٔ او گفتهٔ الله بُود**
**گرچه از حُلقومِ عبدالله بُود**

د نبی علیه الصلوٰة والسّلام پر سینه مبارک چې کوم قرآن نازل سو هغه که څه هم د نبی په مبارکه ژبه ادا سو لاکن هغه وو د خدای کلام، د عبدالله په ژبه کلامُ الله جاری کیدی چا چې د عربو د فصاحت او ژبپوهنی افتخار په خاورو ورګډ کړی، مولانا رومی صاحب داغه ته فرمایي ے

**صد هزاران دفتر اشعار بُود**
**پیش حرفِ اُمیش آن عار بُود**

د عربو سره د فصاحت او کامل شعرو دفترونه موجود وه لاکن دهغه اُمّی رسول د یوه آسمانی توری ومخته هغه ټوله دفترونه په تعجب او شرمندګی کی غرق سوه او بُخاری شریف د سیدالانبیاء صلی الله علیه وسلم کلام دی او "*بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر*" (یعنی دخدای وروسته ستا درجه ده قصه خلاصه) دغه ستا مرتبه ده لهٰذا دحق تعالیٰ د کلام وروسته د نبی علیه الصلوٰة والسّلام د کلام هم هیڅ مثال نسته نبی علیه الصلوٰة والسّلام خپله فرمایلی دی چې **اُوْتِيْتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ** (مسلم جلد۱، صفحہ۳۷۱).

د قرآن او حدیث وروسته چې کوم کتاب ته تر ټولو زیات مقبولیت حاصل سو هغه مثنوی مولانا روم دی، مولانا جلالُ الدین رومی صاحب د اُمَّت ډیر لوی شخص دی، په هره زمانه کی د اُمَّت لوی لوی

علماوو او اولیاوو د مثنوی شریف څخه استفاده کړې ده، زموږ شیخ به فرمایل چې مثنوی شریف په زړو کی دحق تعالیٰ د محبت اور بلوی.

زموږ مشایخو ته وګوری شیخُ العَرب والعَجم حاجی امدادُ الله مهاجر مکی صاحب د مثنوی شریف عاشق وو، د خپلی زمانې مُجَدِّد حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه د مثنوی شریف شرح لیکلې ده دهغه نوم کلیدِ مثنوی دی، د مختلفو مملکتو او مختلفو ژبو لوی لوی اولیاء کرام کلیدِ مثنوی په ویلو سره دخدای په محبت کی مستان کیږی، مثنوی شریف الهامی کتاب دی، مولانا رومی صاحب خپله فرمایي ے

**قافیه اندیشم و دِلدارِ من**

**گویدم مندیش جُز دیدارِ من**

کله چې زه د شعر قافیې(دوهمی مصرعې) ته فکر وکړم نو د آسمانه څخه ږغ راباندی وسی چې اې جلالُ الدینه! فکر مه وهه، مثنوی خو زه په تا لیکم بس ته زما وخوا ته متوجې اوسه، قافیه به زه درته عطا کوم، د دیدارِ من معنٰی داغه ده چې ته زما وخوا ته متوجې اوسه کنې بنده دخدای دیدار په دې دنیا کی څنګه کولای سی، د دیدار معنٰی دغه ده چې حق تعالیٰ موجود دی او هغه راته ګوری نو ګواکې ته هم حق تعالیٰ ته ګورې، لکه څنګه چې یو ړوند شخص د سترګو د خاوند سره د ملاقات وروسته وایې چې نن ما هغه ولیدی که څه هم ړوند هغه نه دی لیدلی د سترګو خاوند ړوند ولیدی لاکن د سترګو د خاوند سره ملاقات او دهغه ومخته حاضری ورکول ړوند په خپل لیدلو سره تعبیروی.

په دنیا کی د حق تعالیٰ خاص تعلق، تجلا او د حق تعالیٰ توجه نبی علیه الصلوٰة والسّلام د احسان په حدیث کی بیان کړه چې

اَنْ تَعْبُدَاللهَ کَاَنَّكَ تَرَاهُ فَاِنْ لَّمْ تَکُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ یَرَاكَ

(مسلم جلد ۱، صفحہ ۴۹۲)

د حق تعالیٰ داسی عبادت وکه ګواکې ته حق تعالیٰ ته ګورې بس که ته هغه نه وینې نو الله خو تاته ګوری بس حق تعالیٰ چې تاته ګوری نو ګواکې ته هم حق تعالیٰ ته ګورې. د دې حدیث شریف شرح علّامه ابنِ حجر عسقلانی رحمة الله علیه دغه کړې ده چې

اَنْ یَّغْلِبَ عَلَیْهِ مُشَاهَدَةُ الْحَقِّ بِقَلْبِهٖ حَتّٰی کَاَنَّهٗ یَرَی اللهَ تَعَالٰی شَانُهٗ

(فتح الباری جلد ۱، صفحہ ۱۲۰)

یعنی دخدای توجه پر زړه باندی داسی غالبه سی ګواکې بنده حق تعالیٰ ته ګوری

په دغه شعر کی د دیدار معنٰی همدغه دخدای توجه ده چې د زړه په حضوری او کامل توجه سره زما وخوا ته متوجه اوسه مثنوی به زه ستا پر زړه دراچوم، په دغه شعر کی د مثنوی شریف د الهامی کیدو اشاره ده او تر دې ډیره واضح اشاره د مولانا رومی صاحب په بل شعر کی ده، فرمایی ؎

چون فتاد از روزنِ دل آفتاب
ختم شد وَاللهُ اَعْلَم بِالصَّوَاب

پر زړه چې د کوم باطنی دریچې او علمی آفتاب د فیض څخه علوم او معارف د غیبو څخه اوریدل هغه د فیض آفتاب د زړه د مخ څخه دخدای په حکمت سره ډوب سو لهٰذا مثنوی ختمه سوه او خدای ښه خبر دی چې صواب او حکمت څه وخت په کوم شی کی دی، دهغه هر کار پر حکمت برابر دی لهٰذا دغه وخت چې خدای داسی وکړه نو یقیناً په دې کی یو حکمت دی په دغه خاطر زه اوس پر ځان زور په راوستلو سره کلام نه

وایم او مثنوی ختموم لهٰذا مولانا رومی صاحب مثنوی لیکل بند کړه او قصه یې هم نیم حاله پریښول، همدغه دلیل دی چې مثنوی الهامی کلام دی، که الهامی نه وای نو کوم شخص چې اته ویشت نیم زره(۲۸۵۰۰) شعرونه لیکلای سی آیا هغه یو څو نور شعرونه په لیکلو سره مثنوی نه سوای پوره کولای، زه د کوچنیوالی څخه د مولانا صاحب عاشق یم، په ډیر کوچنیوالی به ما د مولانا صاحب شعرونه ویل او ژړل به می، په خاصه دغه شعر ــه

**آه را جُز آسمان همدم نبود**

**راز را غیرِ خُدا محرم نبود**

زه د ځنګله په تنهایي کی په داسی ځای کی د الله نوم اخلم چیری چې د خدای ماسوا هیڅوک زما د فریادو ملګری نه وی او زما د محبت راز بې له خدای ماسوا بل هیڅوک نه پیژنی، الحمدُلله ما هغه ځنګل لیدلی دی چیری چې مولانا رومی صاحب دغه شعر ویلی وو او چیری چې دخدای د محبت او معرفت اته ویشت نیم زره د درده ډک الهامی شعرونه د مولانا رومی صاحب په ژبه ادا سوه، ټوله ځنګل نن هم په نور کی ډوب معلومیږی.

د کوچنیوالی څخه ما د مولانا رومی صاحب ښار قونیه(ترکی) د لیدلو خواهش درلودی، حق تعالیٰ دغه خواهش هم راپوره کړی او سږ کال لندن ته د سفر په دوران کی ما د ترکی په پایتخت استنبول کی قیام وکړی چیری چې د لندن دعوت راکونکی او ډیر علماء راغلل او د جنوبی افریقه څخه هم ډیر علماء راغلل، د استنبول څخه په ایرکنډیشن بس کی موږ ټوله د قونیه ښار ته ولاړو.

په قونیه کی د مولانا رومی صاحب په خانقاه کی ما د مولانا صاحب د مثنوی درس هم ورکړی او هلته په خانقاه کی ځنی خلګ زما پر لاس

بیعت هم سوه او ډیرو علماوو کوم چې راسره وه هغو د بیعت تجدید وکړی، زما د ترکی دغه سفرنامه چاپ سوې ده دهغه نوم "الطافِ ربّانی" دی کوم چې میر صاحب(د حضرت صاحب خاص خادم) ترتیب کړې ده ــ

**ای که صبرت نیست از فرزند و زن**
**صبر چون داری ز ربِّ ذُوالمنن**

مولانا جلالُ الدین رومی رحمة الله علیه فرمایي اې خلکو! تاسی پر خپلی ښځی او اولادو باندی صبر نه سی کولای، که دی ښځه د مور کره ولاړه سی نو ته ناآرامه سې، که خوابدې سی نو د ټوله کاینات نبض تاته غرق درمعلومیږی، لکه څنګه چې یو شخص وو فانی هغه د خپلی ښځی پر خوابدتیا باندی وایی ــ

**ہم نے فانی ڈوبتے دیکھی ہے نبضِ کائنات**
**جب مزاجِ یار کچھ برہم نظر آیا مجھے**

**ترجمه**: ما د ټوله کاینات نبض غرق ولیدی، کله چې می یار لږ غوندی راڅخه خوابدی سو

پر خپلی ښځی او اولادو باندی ته صبر نه لرې که څه هم هغه پر تا باندی احسان کونکی نه دی نو بیا پر هغه احسان کونکی ربّ باندی ته څنګه صبر وکړې، خپل مالک خوابدی کوې او تاته خیال هم نه درګرځی چې زه د څنګه احسان کونکی ذات نافرمانی کوم، د چا په رزق چې زه ژوندی یم او د چا چې پر ما باندی هره لحظه دونه احسانونه دی کوم چې شمارل کیدای هم نه سی، داسی احسان کونکی ذات خو باید د چا یوه لمحه نه وای هیر سوی.

تاسی وګوری ماهیان پر اوبو صبر نه لری، ماهیان که څه هم اوبو نه دی پیدا کړی، اوبه فقط د هغو د اوسیدو ځای دی لاکن ماهیان د اوبو سره څنګه تعلق لری؟ که یې د یوې ساه جدایي ځنی وسی نو د ماهیانو حال ګواکې داسی سی ہے

**جو تجھ بن نہ جینے کو کہتے تھے ہم**
**سو اُس عہد کو ہم وفا کر چلے**

**ترجمه**: ما چې بې له تا د ژوند نه کولو خبره کول، نو پر هغه وعده ما وفا وکړه

او ته د انسان کیدو سربیره پر خپل اصلی احسان کونکی ربّ باندی صبر کوې، چا چې ته د منی د یوه څاڅکی څخه شپږ فوټه انسان جوړ کړې او په هغه څاڅکی کی یې د بینایي خزانه کښیښول چې هغه ناپاک څاڅکی نن دید کوی، د اوریدلو خزانه یې پکښی کښیښول چې هغه ناپاک څاڅکی نن خبری اوری، د ګویایي خزانه یې پکښی کښیښول چې هغه څاڅکی نن خبری کوی او داسی نور شیان یې پکښی کښیښول، په دنیا کی څوک داسی نقاش سته کوم چې پر اوبو باندی نقش و نګار جوړوی، دا فقط دحق تعالیٰ غالبه قدرت دی کوم چې د منی پر څاڅکی باندی انسانی شکلونه جوړوی ہے

**دهد نطفه را صورتی چون پری**
**که کرده ست بر آب صورت گری**

یاالله! ته ناپاک نطفې ته ښایسته انسانی شکل عطا کوې او ستا قدرت پر اوبو باندی شکلونه جوړوی یعنی د منی پر څاڅکی باندی سترګی پزه، غوږونه تا جوړ کړی دی، مولانا رومی صاحب فرمایي ہے

## شکر از نی میوه از چوب آوری
## از منی مرده بُتِ خوب آوری

یاالله! ته د ګنی په لرګو کی اوبه په ایښولو سره بوره پیدا کوې او د مړه او بې جانه منی څخه په ښایسته شکل کی انسان پیدا کړې، دا ټوله ستا د قدرت کمال دی، مولانا رومی صاحب فرمایي چی پر داسی احسان کونکی ربّ باندی خو باید ځان قربان کړل سوی وای، دحق تعالیٰ سره خو زموږ د ارواحو تعلق باید داسی وای چی ے

## ترا ذکر ہے مری زندگی ترا بُھولنا مری موت ہے

**ترجمه**: ستا ذکر زما ژوند دی تا هیرول زما مرګ دی

د خدای یاد زموږ ژوند او یوه لحظه هغه هیرول زموږ مرګ دی لاکن آه! پر داسی احسان کونکی ربّ باندی موږ صبر کړی دی کوم چی زموږ خالق دی، مالک دی، رازق دی، پالونکی دی، پر هغه باندی د ځان قربانولو سربیره هم دهغه د احسانو حق نه سی ادا کیدلای ځکه چی وجود هغه راکړی دی که مو پر هغه قربان کړی نو څه کمال مو وکړی ے

## جان دی دی ہوئی اسی کی تھی
## حق تو یہ ہے کہ حق ادا نہ ہوا

**ترجمه**: ځان می پر قربان کړی را کړل سوی دهغه وو، حق خو دغه دی چی حق یې ادا نه سو

❁ ❁ ❁

# مجلس درسِ مثنوی

۱۶ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۷ د دسمبر ۱۹۹۷ء د چار شنبې ورځ
د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

**چیست دُنیا ؟ از خُدا غافل بُدن　　نی قماش و نقره و فرزند و زن**

مولانا رومی صاحب په دغه شعر کی د دنیا حقیقت بیان کړی دی چی دنیا څه شی ده؟ بعضی نادانه خلګ وایی چی دنیا ته لغته ورکه او دنیا ته لغته ورکه، زه دا وایم که پیسه نه وی او سړی ډوډی تـر لاسه نه کړی نو دنیا ته به یې د لغتی دپاره پښه هم پورته نه سی نو معلوم سول چی د مال او دولت نوم دنیا نه دی، نو بیا دنیا څه شی ده؟ مولانا رومی صاحب په یوه مصرعه کی سوال کوی او په هغه مصرعه کی جواب هم ورکوی ؎

**چیست دُنیا ؟ از خُدا غافل بُدن**

فرمایی دنیا څه شی ده؟ دخدای څخه غافل کیدل، د خدای څخه د غافلیدو نوم دنیا ده ؎

**نی قماش و نقره و فرزند و زن**

قماش معنٰی ټوکر یعنی ټوکران، سره او سپین زر، مال او اسباب، ښځه او اولادونه دا دنیا نه ده، که دغه شیان څوک دخدای څخه نه غافلوی او دخدای پر رضا باندی دنیا ساتی، خپله دنیا دخدای په نافرمانی کی نه کاروی نو دغه سړی دخدای دوست دی بالکل دنیاداره نه دی او یو سړی غریب دی، په تنګدستی او نیستی کی ژوند تیروی لاکن دخدای څخه غافله دی، په ګناوو اخته دی نو دغه سړی پوخ دنیاداره دی.

نو معلوم سول چی په عین امارت او پاچاهی کی سړی دینداره او دخدای دوست کیدای سی او په عین مفلسی او محتاجی کی دحق تعالیٰ څخه

لیری او پوخ دنیاداره کیدای سی، په داغه خاطر مولانا رومی صاحب دخدای څخه غفلت ته وفرمایل چی دغه دنیا ده، مال، دولت، امارت او پاچاهی دنیا نه ده.

د مولانا جلال الدین رومی رحمة الله علیه د دې خبری دلیل په تفسیر روحُ المَعانی کی د دغه آیت **وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ** (سورت ال عمران ،آیت ۱۸۵) په تفسیر کی موجود دی چی دنیا **مَتَاعُ الْغُرُوْرِ** یعنی د دوکې سرمایه ده، متاع څه شی ده؟ علّامه آلوسی السید محمود بغدادی رحمة الله علیه د یو عجمی عالم علّامه اصمعی قصه لیکلې ده چی هغه د لفظ متاع او رقیم د تحقیق دپاره د عربو وصحرا ته ولاړی، ځکه چی په هغه زمانه کی په صحرا کی فصیح او مستنده ژبه ویل کیده، په ښارو کی خو په ژبه نوری ژبی گډی سی.

نو علّامه اصمعی ولیدل چی په یو کلی کی یو کوچنی هلک ناست دی په دا حال کی یو ابلق سپی راغلی او د نغری سره د لوښو د پاکولو یو خیرن ټوکر پروت وو سپی هغه ټوکر په خوله کی ونیوی او یوه غره ته وختی هلته کښنیناستی، کله چی یې مور راغله نو کوچنی ورته وویل

## يَا اُمِّيْ جَاءَ الرَّقِيْمُ وَاَخَذَ الْمَتَاعَ وَتَبَارَكَ الْجَبَلَ

علّامه اصمعی فرمایي چی په یوه جمله کی زما درې لُغاته حل سوه، نو معلوم سول چی رقیم ابلق سپی ته ویل کیږی او متاع هغه بیکاره او خیرن ټوکر ته ویل کیږی چی په اشپز خانه کی لوښی په پاکیږی کوم چی زموږ په ژبه صافه بلل کیږی.

علّامه آلوسی په تفسیر روحُ المَعانی کی فرمایي چی دنیا متاع، بده، ذلیله او بې قدره څه وخت ده؟ **اِنْ اَلْهَتْكَ عَنِ الْاٰخِرَةِ** کله چی تا د آخرت

څخه غافله کړی، **اِنَّ الدُّنْيَا جِيْفَةٌ وَطَالِبُوْهَا كِلَابٌ** دنیا مرداره ده او دهغه طلبګاره سپیان دی لاکن دغه دنیا **جِيْفَه**(مرداره) او **مَتَاع** یعنی کمتره او ذلیله په یو شرط ده او هغه شرط څه شی دی **اِلْهَاءٌ عَنِ الْاٰخِرَةِ** د آخرت څخه غفلت او که دنیا څوک د آخرت څخه غافله نه کړی نو علّامه آلوسی فرمایي

**وَاِنْ جُعِلَتِ الدُّنْيَا وَسِيْلَةً لِّلْاٰخِرَةِ وَذَرِيْعَةً لَّهَا فَهِيَ نِعْمَ الْمَتَاعُ**

که ته دنیا د آخرت د سمولو سبب او ذریعه جوړه کړې نو دغه ډیره ښه سرمایه ده

یو شخص چې په خپل مال باندی د علماوو خدمت کوی مسجدونه او مدرسې جوړوی، دینی کتابونه په چاپوی، په طلباوو او صلحاوو ډوډی خوری نو آیا دهغه دغه دنیا د دوکې سرمایه، ذلیله او بې قدره ده؟ دا خو دهغه ډیره ښه سرمایه ده کوم چې پر خدای قربانیږی، په داغه خاطر په حدیث شریف کی دی چې

**لَا يَأْكُلُ طَعَامَكَ اِلَّا تَقِيٌّ** (ابوداؤد، جلد۴، صفحہ۲۵۹)

تقواداره خلک دی ستا ډوډی وخوری

ځکه چې تقواداره د ډوډی خوړلو وروسته کوم نیک کار وکړی هغه به د ډوډی ورکولو والا دپاره صدقهٔ جاریه وی، بس دهغه دغه دنیا هیڅکله بې قدره نه ده ځکه چې د آخرت د سمولو سبب او ذریعه جوړیږی لاکن دغه نعمت هر چاته نه حاصلیږی، د هر چا دغه نصیب چیری دی چې دنیا هغه دحق تعالیٰ څخه غافله نه کړی.

زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب به فرمایل چې حق تعالیٰ د خپل محبت راز هری سینې ته نه ورکوی او په ډیر خوند به یې د یو بزرګ دغه شعرونه ویل ؎

**نه هر سینه را راز دانی دهند          نه هر دیده را دیده بانی دهند**

نه هری سینې ته حق تعالیٰ د خپل محبت رازونه ورکوی او نه هر سترګو ته د خپلی لاری د رهنمایی مقام ورکوی ــ

**نه هر گوهری دُرّةُ التّاج شُد          نه هر مرسَلی اهلِ معراج شُد**

نه هر مرغلری ته حق تعالیٰ دغه عزت ورکوی چی هغه د پاچا په تاج کی ولګیږی او نه هر رسول ته حق تعالیٰ معراج ورپه نصیب کړی دی ــ

**برای سر انجام کار صواب          یکی از هزاران شود انتخاب**

حق تعالیٰ د خپل دین د سرکاری کار دپاره، د خپل دوستی او محبت دپاره په زرهاوو کی د یوه انتخاب کوی، هر چاته دغه سعادت، عزت او شرف نه حاصلیږی

او دخدای د طرفه څه چی د دین د کار دپاره د چا انتخاب وسی هغه ته چی کوم ملګری ورکول کیږی هغه هم منتخب سوی وی، د اصحابِ کرامو انتخاب هم دخدای د طرفه شخه سوی وو، په دنیا کی وګوری کله چی یو پلار خپل زوی په سفر استوی نو دهغه سره ښه وفادار او جانثاره ملګری ورسره کوی، د یو پلار د رحمت چی دغه تقاضا ده نو حق تعالیٰ چی خپل پیغمبر علیه الصلوٰۃ والسّلام دنیا ته راولیږی نو د خپل محبوب پیغمبر د نصرت دپاره یې اصحابِ کرام هم ډیر ښه وفادار او جانثاره ورانتخاب کړه.

په دغه خاطر پر اصحابِ کرامو باندی اعتراض کونکی هم ډیر بې عقلان دی، پر اصحابِ کرامو باندی اعتراض پر خدای باندی اعتراض دی چی نَعُوذُ بِاللہ خپل پیغمبر ته حق تعالیٰ صحیح ملګری نه دی ورکړی او په دې کی د حق تعالیٰ د رحمت هم انکار دی چی یو پلار خو خپل زوی ته وفاداره ملګری ورکوی او نَعُوذُ بِاللہ حق تعالیٰ د خپل نبی سره

داسې رحمت ونه کړی، العَیاذُ بِاللهِ نقل کُفر کُفر نباشد، په داغه خاطر نبی علیه الصلوٰة والسّلام وفرمایل **مَنْ سَبَّ اَصْحَابِیْ فَقَدْ سَبَّنِیْ....الخ (کنز العمال جلد۱۸، صفحہ۴)** چا چې زما اصحابی ته بد وویل هغه ماته بد وویل او چا چې ماته بد وویل هغه حق تعالیٰ ته بد وویل. د اصحابِ کرامو د مرتبې د لوړوالی دپاره همدغه یو حدیث کفایت کوی.

اې علماء کرامو! تاسې چې زما پر بیان کوم خوندونه اخلی نو دا زما کمال نه دی، دا زما د بزرګانو برکت دی د چا چې ما خدمت کړی دی.

زما دوه شعرونه دی ؎

**مزہ پاتے ہو کیوں اس کے بیاں میں کوئی تو بات ہے دردِ نہاں میں**

**ترجمه**: دهغه پر بیان ولی خوند اخلې، یو خبره خو سته د زړه په درد کی (یعنی د دې اصلی سبب د زړه په درد خبری کول دی)

**مرے احبابِ مجلس سے کوئی پوچھے مزہ اس کا**
**بہ شرح دردِ دل اخترؔ کا محوِ گفتگو رہنا**

**ترجمه**: زما د مجلس د خلکو څخه دی څوک د دې خوند وپوښتی، کله چې زه د زړه په درد خبری کوم

الحمدُلله! الله پاک ماته د بزرګانو دونه صحبت راپه نصیب کړی دی چې د مځکی پر سر باندی د بزرګانو دونه صحبت اخیستونکی شاید تاسې ونه وینی، د شاید لفظ دعوه د ماتولو دپاره وایم چې دعوه ونه سی، زه خو بالغه هم د اولیاوو په تربیت کی سوی یم، د پنځلسو څخه تر اته لسو کالو پوری مسلسله درې کاله د حضرت مولانا شاه محمد احمد صاحب په خدمت کی واوسیدم، د چا ملاقات ته چې کله زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب دهغه کور ته ورغلی نو مځکی ته یې وکتل بیا یې د آسمان وخوا

ته وکتل او وې فرمایل چې د مولانا شاه محمد احمد صاحب نور زه د مځکی ځخه تر آسمانه پوری وینم او دا دهغه چا د سترګو فیصله ده د چا سترګو ته چې حق تعالیٰ په خوب کی دوولس واری د نبی علیه الصلوٰة والسّلام زیارت ورپه نصیب کړی.

حق تعالیٰ په خپل رحمت سره زه د مولانا شاه محمد احمد صاحب سره درې کاله وساتلم، هره ورځ د طبابت د فاکولتې ځخه د فارغه کیدو وروسته د مازدیګر ځخه د ماخوستن تر یوولسو بجو به زه د مولانا شاه محمد احمد صاحب په مجلس کی اوسیدم، لوی لوی علماء به راتلل، شعرونه به ویل کیده، بس څه درته ووایم چې ځنګه مجلس به وو، په دغه درې کاله کی ما د مولانا شاه محمد احمد صاحب د خولې ځخه بله خبره نه ده اوریدلې بې له د خدای د محبت ځخه، هغه د آخرت راډیو وه، مورزاده ولی وو، یو عالم ویل په کوچنیوالی کی چې کله به موږ بازۍ کولې نو په هغه کوچنیوالی کی به مولانا شاه محمد احمد صاحب د تختو او خښتو ځخه مسجد جوړ کړی اذان به یې کوی.

دهغه وروسته د مولانا شاه عبدُالغنی پهولپوری رحمة الله علیه سره مرید سوم، د پهولپور(هندوستان) په کلی کی زموږ د شیخ کور د کلی ځخه لیری وو، د کور ځخه یې کلی خو معلومیدی لاکن دهغه ځای ږغ نه راتلی، د کلی ځخه د لسو دقیقو لار وه، د ځنګله په شان خاموشی به وه، زموږ د شیخ خپل مسجد، خپله خانقاه او کوچنی مدرسه وه چیری چې پر هر یو ساعت دوه ساعته به د شیخ آه او زارۍ اوریدل کیدې، د قرآن شریف ویلو عجبه انداز یې وو، داسی ښایسته آواز یې وو داسی به معلومیدل لکه ساز چې وهل کیږی او د لسو شلو آیتو ویلو وروسته به داسی معلومیدل لکه سینه چې یې د درده ځخه ډکه سوه بیا به یې د تلاوت په دوران کی داسی

په زوره الله وویل چې ټوله مسجد به ولړزیدی، لکه څنګه چې په یو ماشین کې کله بخار ډیر سی نو سړی دهغه سرپوښ ورخلاص کړی نو په شور سره دهغه بخار ووځی کنې ماشین به وچاؤ دی، کله چې به زموږ شیخ صاحب د الله ناره ووهل نو همداغسی به معلومیدل که شیخ دغه ناره ونه وهی نو بدن به یې وچاؤ دی، زموږ د شیخ عبادت به عاشقانه عبادت وو، داسی به معلومیدل لکه یو څوک چې په ډیره لوږې کې وریجی او کباب خوری، د مځکی پر سر باندی ما څوک په داسی عاشقانه عبادت کې نه دی لیدلی، په تهجد کې به یې هم ډیر ژړل.

دحق تعالیٰ پر ما باندی لوی فضل دی چې د دونه لوی شیخ سره الله پاک اوولس کاله وساتلم چې لس کاله خو خاص د پهولپور په کلی کې ورسره وم او اووه کاله پر جلا جلا ځایو باندی ورسره وم، دهغه زه نن شکر ادا کوم چې خدایه ستا احسان او کرم دی چې تا زه د خپل شیخ سره وساتلم، کنې په ځوانی کې څوک د سپین ږیری سره اوسیږی، ځوان خو د مجلس دپاره په خپل هم عمر ځوانانو پسی ګرځی، زه د شلو دوویشتو کالو وم او زموږ شیخ اویا کالو ته نژدې وو لاکن زه څه درته ووایم د خپل شیخ ماسوا زما زړه هیڅ ځای نه لګیدی، ټوله جهان ماته په شاه عبدُالغنی صاحب کې رامعلومیدی، پر داغه باندی زما شعر دی ؎

**وہ اپنی ذات میں خود انجمن ہے　　　اگر صحرا میں ہے پھر بھی چمن ہے**

**ترجمه**: هغه په خپل ذات کې خپله انجمن دی، که په صحرا کې دی بیا هم ګلستان دی

ما مثنوی شریف هم پر شاه عبدُالغنی صاحب باندی ویلې ده او هغه بیا پر مولانا اشرف علی تهانوی صاحب باندی ویلې ده او حضرت تهانوی صاحب بیا پر شیخُ العَرب والعَجم حضرت حاجی امدادُ الله صاحب

باندی ویلې ده او حاجی صاحب بیا پر حافظ عبدُالرزاق صاحب باندی ویلې ده کوم چې د مثنوی شریف حافظ وو او حافظ عبدُالرزاق صاحب بیا خاص شاګرد وو د خاتمِ مثنوی مفتی الٰهی بخش کاندهلوی صاحب، دا زما د مثنوی شریف ویلو سند دی، دونه نژدې سند به هم کم خلکو ته حاصل وی، الغرض هر څه چې راته حاصل سوه د خپل شیخ په صحبت سره راته حاصل سوه، مولانا رومی صاحب داغه ته فرمایي ؎

**پیر باشد نَردبانِ آسمان　　　　تیرِ پرّان از که گردد؟ از کمان**

نردبان معنٰی زینه، پیر د آسمان زینه ده یعنی تر حق تعالیٰ پوری د رسیدو لار، ذریعه او سبب دی، که تر حق تعالیٰ پوری ځان رسول غواړې نو یو حقانی پیر پیدا که، دلته د آسمان معنٰی دحق تعالیٰ ذات دی، دا خو یو دعوه سوه چې پیر تر حق تعالیٰ پوری د رسیدو ذریعه ده لاکن د دې دعوې ښکلې بنایسته دلیل مولانا رومی صاحب په دا بله مصرعه کی ورکوی، هم د داغه علومو په خاطر په هره زمانه کی علماء د مولانا رومی صاحب عاشقان سول، فرمایي ؎

**تیرِ پرّان از که گردد ؟ از کمان**

غشی د کوم شی په ذریعه ویشتل کیږی؟ د کمان په ذریعه، غشی که د یو کروړو روپو وی او د زرو څخه جوړ وی لاکن کمان ته که ځان ورنه کړی نو پر مځکه به پروت وی، پیر په مثل د کمان دی، کله چې یو څوک دهغه صحبت ته ورسی نو پیر یې تر عرشه پوری په هوا کړی، هغه د فرش څخه عرش ته ورسیږی، غافل شخص دخدای دوست سی.

مولانا رومی صاحب دغه خبره د ځانه نه کوی، مثنوی شریف خو د قرآن پاک او حدیث پاک تفسیر دی، د خلکو د پوهنی دپاره مولانا رومی

صاحب په مثنوی شریف کې د قرآن او حدیث علم په مثالو سره په عاشقانه انداز وړاندې کړې دی، د دې شعر دلیل د **كُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ** (سورت توبہ، آیت ۱۱۹) آیت دی، د قرآن شریف څخه انکار څنګه څوک کولای سی، حق تعالیٰ په قرآن پاک کې فرمایي که ته تقوا غواړې او زما دوست جوړیدل غواړې نو د تقوا د خاوندانو سره واوسیږه، که ته دهغو سره واوسیږې نو دهغو د زړه تقوا به ستا زړه ته نقل سی، لاکن دهغو سره محبت په اخلاص وکه، دهغو د زړه سره خپل زړه ومښلوه، په څراغ سره څراغ بلیږی ے

قریب جلتے ہوئے دل کے اپنا دل کر دے
یہ آگ لگتی نہیں ہے لگائی جاتی ہے

**ترجمه**: یو اور لګیدلی زړه ته خپل زړه ورنژدې که، دخدای د محبت اور خپله نه لګیږی دا په یو چا لګول غواړی

که یو څراغ د یو کروړو روپو وی، د سرو زرو او ګرانو ډبرو څخه جوړ وی او فرض یې کړی چې دهغه پلیته هم د لکهاوو روپو وی او دهغه تیل هم د لکهاوو روپو یو خاص تیل وی لاکن هغه څراغ خپله نه سی بلیدای تر څو چې د یو لګیدلی څراغ د پلیتې څخه ونه مښلی، نه خپله روښانه کیدلای سی نه بل څراغ روښانه کولای سی.

همدغه رنګه سړی چې هر څونه لوی عالم وی، د علم دریاب او کتابخانه وی لاکن دهغه زړه دخدای په محبت سره نه سی روښانه کیدلای، هغه ته پر خپل علم باندی عمل نه سی حاصلیدای تر څو چې دخدای په محبت کې د یو بل سوی او د نسبت خاوند زړه سره خپل زړه ونه مښلوی او تر څو چې دخدای د یو دوست خدمت او صحبت اختیار نه کړی نه به دهغه په زړه کې دخدای د محبت اور بل سی نه به یې په نورو کې بلوای

سی، د دې دوهم مثال دغه دی چې دوه تالابونه دی، په یوه تالاب کې ماهیان نسته او په بل تالاب کې ماهیان سته، نو که خالی تالاب خپل سرحد د ماهیانو د تالاب سره ومښلوی نو دهغه تالاب ټوله ماهیان به دغه خالی تالاب ته راسی، همدغه رنګه د اولیاوو سره تعلق د پیدا کولو وروسته دهغو د زړو تقوا نورو زړو ته نقل سی.

زه خو د اولیاوو یو کوچنی خادم یم، زه دخدای د دوستی دعوه نه کوم لاکن ما ټوله عمر د اولیاوو خدمت کړی دی، زما د اولیاوو د خدمت انکار هیڅوک نه سی کولای، د جنوبی افریقه علماء دلته موجود دی دهغو څخه پوښتنه وکړی چې زما د ورتګ وروسته د دوی په ملک کې څه حالات دی او د علماوو په ژوند کې څنګه انقلاب راغلی دی.

دهغه ځای یو عالم چې د ډیر لوی دارُالعلوم مهتمم دی هغه زما پر لاس بیعت سو، الله الله یې وکړی، د نفس اصلاح یې وسوه، تقوا ورپه نصیب سوه، ما خلافت هم ورکړی اوس خپله وایی چې تر مخه زما په بیان کې هغسی تاثیر نه وو کوم چې اوس حق تعالیٰ پکښې ایښې دی، اوس چې کومه خبره کوم د زړه په درد یې کوم، په ژړا یې کوم، د زړه په سوز یې کوم، اوس تبلیغ هم کوی او د نفس اصلاح هم کوی، خلګ ډیر په کثرت سره ورسره مریدان کیږی، د دین کټه یې څو چنده سوه.

د یو لوی دارُالعلوم شیخُ الحدیث کوم چې زما پر لاس بیعت سو هغه د بُخاری شریف درس ورکوی، ماشاءالله ټوله ژوند یې په تبلیغ کې تیر کړی، اوس هم ټولی دنیا ته په تبلیغ پسی ځی لاکن داغه راته وایی چې زما په تبلیغ کې تاثیر ډیر سو، خلګ می پر سرو کښینوی او د جنوبی افریقه د یو ډیر لوی ښار د تبلیغی جماعت مشر چې د جنوبی افریقه علماء کوم چې دلته موجود دی هغه یې پیژنی هغه په کعبه شریفه کې زما پر لاس بیعت

سو، یو کال وروسته چې می ولیدی نو راته وې ویل چې د تقوا دونه لو فایده راته حاصل سوې ده کوم چې ټوله ژوند نه وه راته حاصل سوې که څه هم ټوله ژوند می د دین په خدمت کی تیر سو او د بیعت وروسته د بنځو څه د نظر د حفاظت انعام راته حاصل سو، اوس می یو نظر هم نه خرابیږی که څه هم په طیاره کی یم، که په لندن کی یم او که بل هر ځای چې یم او پر دې نعمت باندی هغه دونه مست سو راته وایې چې زړه می دا غواړی چې ټوله تبلیغی دوستان ستا سره مریدان کړم ځکه چې بې له تقوا دخدای خاص دوستی نه سی حاصلیدای.

په دې کی د حیرانی څه خبره ده، د زړو کالو څخه د بزرګانو دغه سلسله را روانه ده چې بې له شیخه څوک دخدای دوست نه دی جوړ سوی، څونه خلګو چې بې له شیخه یې دخدای پر لار تګ شروع کړی هغه د ډیر ذکر کولو په سبب لیونیان سوه ځکه چې شیخ یې نه درلودی ذکر خوند ورکړی، د زر واری پر ځای یې لس زره واری ذکر وکړی، تر خپل وس یې ډیر کوښښ وکړی، په دماغ کی یې خشکی پیدا سوه، تر دې حده چې لیونیان سوه، خلګو دا فکر وکړی چې مجذوب سول خو په اصل کی هغه لیونیان سوه.

زموږ موجوده شیخ مولانا شاه ابرارُالحق صاحب فرمایي چې څنګه د موټر چلولو دپاره موټروان ضروری دی همدغه رنګه دخدای پر لار د تګ دپاره شیخ ضروری دی، کوم موټر چې موټروان ونه لری نو تر کوم ځایه چې کاټی نه وی راغلې موټر به سیده ولاړ سی لاکن چیری چې یو کاټی راسی هلته به موټر ټکر سی، همدغه رنګه چا چې شیخ نه درلودی هغه یو څه خو صحیح ولاړه لاکن یو ځای د لویي او تکبر په ټکر برباد سوه، یو ځای د شهوت پر کاټی برباد سوه.

زموږ شیخ فرمایي که د موټر بریک موټروان ته دا ووایي چې ته د خره په خوشایو لړلی بوټ زما پر څټ را ایږدې په دې زما عزت خرابیږی، نو موټروان به ورته ووایي چې ته زما په بوټ مه وارخطا کیږه، که ستا پر څټ زما بوټ نه وی پروت نو موټر به ټکر سی، نه به ته پاته یې نه به موټر پاته یې نه به موټروان، په دغه خاطر د بزرګانو سایه ډیر لوی نعمت ده، د شیخ په سایه کی واوسیږه او دهغه پر بندیزو او خوشکو مه وارخطا کیږه، داغه خوشکی به تا د لویي او غرور د ټکر څخه وساتی، چا چې علم درلودی لاکن دخدای د یو دوست سره یې تعلق نه درلودی نو هغه ګمراه سول، پرویزی، قادیانی او داسی نوری باطلی فرقې چې هر څونه دی د هغو مشرانو یو څه علم درلودی لاکن د هغو شیخ نه وو چې اصلاح یې په سوې وای.

که ته یو دوکان ته ورسې او ورته ووایې چې زه د سیبو مربا غواړم لاکن مربا به داسی وی چې هغه به یو چا جوړه کړې نه وی خپله کتاب په ویلو سره به مربا جوړه سوې وی، نو دوکاندار به درته ووایي چې ته د دماغ په یو ډاکټر باندی خپل علاج وکه، په دنیا کی هیڅ مربا داسی نه سی کیدای چې هغه یو چا جوړه کړې نه وی.

خپلو بزرګانو ته وګوری، د تبلیغی جماعت بانی مولانا الیاس صاحب د مولانا خلیل احمد سهارن پوری صاحب خلیفه دی او دهغه شیخ بیا قطبُ العالم مولانا رشید احمد ګنګوهی صاحب دی هغه به فرمایل زموږ خلیل احمد سهارن پوری ته حق تعالیٰ د اصحابو نسبت عطا کړی دی، مولانا الیاس صاحب د مولانا خلیل احمد سهارن پوری څخه تربیت حاصل کړی دی، اول دهغه مرید سو بیا دخدای دوست سو او نن په ټوله دنیا کی (د تبلیغی جماعت په ذریعه) دهغه خلوص پر مخ روان دی.

يو عام غوندی ديسی آم د لنګړا خاص آم نه دی جوړ سوی تر ځو چې هغه د لنګړا آم د قلم سره پيوند نه وی خوړلی، ديسی آم د لنګړا آم د قلم سره ټينګ په ښکی تړل کيږی، که يې ټينګ ونه تړی تعلق يې ورسره سست وی نو د لنګړا آم خاصيت به ديسی آم ته نه سی نقل او دوهم کار دغه کوی چې ديسی آم مخته کيدو ته نه پريږدی، پرې کوی يې، پر دغه طريقه د لنګړا آم ټوله خاصيت ديسی آم ته نقل سی.

همدغه رنګه يو عالِم هم دخدای دوست نه سی کيدای تر ځو چې هغه د خدای د يو دوست سره پيوند نه سی يعنی د هغه صحبت اختيار نه کړی او د خدای د دوست سره به يې تعلق سست نه وی، ډير مضبوط تعلق به يې ورسره وی بيا به دخدای د دوست خاصيتونه هغه ته ورنقل سی او څنګه چې ديسی آم مخته کيدو ته نه پريږدی پرې کوی يې همدغه رنګه د شيخ په تجويز کی خپله خبره فنا که، مخته مه کيږه کنې تر شا به پاته يې، لهٰذا د شيخ سره تعلق بايد ډير قوی وی او دهغه په خبره کی خپله خبره فنا که نو ديسی آم خو لنګړا آم جوړ سی لاکن عام غوندی زړه به لنګړا نه سی جوړ بلکې تکړه زړه به جوړ سی او داسی به تکړه سی چې په لکهاوو انسانان به دهغه څخه فيض اخلی، مولانا رومی صاحب داغه ته فرمايي چې ؎

**نفسِ خود راکش جهانی زنده کن خواجه راکشته ست او را بنده کن**

خپل نفس فنا که، د نفس غلط غلط خواهشات قتل که يعنی کله چې ستا په نفس کی د غلط خواهش تقاضا پيدا سی نو پر هغه باندی عمل مه کوه نو ګواکې تا خپل نفس قتل کړی او بيريږه مه چې خپلی تقاضې که ما قتل کړې نو زما سره به څه شی پاته سی، په ښکاره خو به د خواهشاتو مرګ درمعلوميږی لاکن که تا لږ کوښښ وکړی نو د دې خواهشاتو په قتل

سره به تاته داسې ژوند عطا سي چې ته به په خپل روح کې په سلهاوو ژوندونه احساس کړې او يو جهان به په تا راژوندی سي، نفس خو غلام وو او روح بادار وو لاکن ستا نفس روح وژلی دی، غلام خپل بادار وژلی دی لهٰذا ته دهغه څخه قصاص واخله، مولانا رومی صاحب د قرآن پاک دليل وړاندی کړی دی چې

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ

(سورت بقره، آيت ۱۷۹)

حق تعالیٰ فرمايي اې د عقل خاوندانو په قصاص کې ستاسی دپاره ژوند دی

يعنی که ته قصاص واخلې يعنی قاتل که قتل سي نو په لکهاوو انسانانو ته به ژوند حاصل سی ځکه چې د ملک څخه به قتل و قتال ختم سی، بس که ته هم د خپل نفس په مملکت کې غلط خواهشات قتل کړې نو تاته به يو ايمانی، احسانی، د دوستانو، عاشقانو او وفادارانو ژوند حق تعالیٰ درکړی، ډير وخت دی د نفس غلامی وکړه، د دې غلامی ذلت، تکليفونه او ناقراری تا وليده چې هر چيری نفس وغواړی هلته ستا روح کش کړی، هر ځای چې وغواړی هلته ښځی دربنکاره کړی، هره ګناه چې وغواړی هغه درباندی وکړی او روح بيچاره ورته مغلوب او مظلوم دی، د دې مثال داسی دی لکه يو چغال چې پر زمری ناست وی او خاندی نو يا خو دغه زمری نه دی يا زمری د چغال په عشق اخته سوی دی، کنې د چغال څه طاقت وو چې پر زمری کښينستلی وای.

دغه وجود(نفس) خو آس دی او د سپريدو دپاره دی، روح سوار دی او د سواری شی بايد د سوار تابع وی، سوار چې هر چيری وغواړی دهغه مخ بايد راوګرځوی لاکن که يو سړی ووينې چې پر آس باندی بې اختياره ناست دی، آس چې هر چيری وغواړی هغه کش کړی نو دغه

سړی پر آس نه دی ناست بلکې آس پر ده ناست دی، همدغه رنګه د چا نفس چې هره ګناه وغواړی په هغه یې وکړی نو د دې څخه معلوم سول چې روح نه دی پر سپور خپله نفس پر روح سپور سوی دی، د روح څخه د سپریدو کار اخیستل کیږی او روح د نفس دښمن په قبضه کی راغلی دی لهٰذا مولانا رومی صاحب فرمایي چې نفس دښمن په مغلوب او تابع کولو سره د روح غلام که، د سپریدو شی د سوار تابع که چې ستا پر اشارو باندی ولاړ سی، چیری چې ته ورته ووایې سترګی کښته که نو سترګی کښته کړی، هر حکم چې ورکړې دهغه خلاف ونه کړی.

کله چې روحانی قوت غالب سی نو ستا نفس به مغلوب سی، بیا چې ورته ووایې د مسجد وخوا ته درځه نو به د مسجد پر خوا روان سی او که یو وخت شوخی وکړی چې ګناه وکه یا د سینما وخوا ته درځه نو قیزه یې راکش که را وې ګرځوه، لاکن دا هغه وخت کیږی کله چې په روح کی طاقت وی او نفس کمزوره وی، لهٰذا که نفس ته د ګناوو ناروا غذا ورنه کړې نو به نفس کمزوره سی کنې ټوله ژوند به ګناوی دربادی کوی.

راته ووایاست آیا د مرګ وروسته نفس یو ګناه دربادی کولای سی؟ نو دا خو شرافت نه سو چې تر څو دی ګناوی کولای سوای ګناوی دی وکړې او چې مړ سوې نو ګناوی دی پریښولې، د مرګ وروسته هیڅوک نه سی تقواداره کیدای ځکه چې د مرګ وروسته اختیار ختم سو او تقوا دغه ده چې په نفس کی د ګناه کولو طاقت وی بیا ګناه ونه کړې نو بیا ته تقواداره یې، بس کومه ورځ چې تا خپل نفس قتل کړی نو هغه ورځ به ته خپله را ژوندی سې او یو جهان به په تا را ژوندی سی، لهٰذا دخدای په محبت کی د مرګ او ژوند نیت وکه چې د ګناوو څخه د ځان ساتلو په تکلیف سره به پر خدای قربانیږم او د عبادت په خوندو سره به ژوندی یم،

دغه پر خدای باندی مرګ او ژوند دی، د حق تعالیٰ وعده ده چې د څه وخت څخه ته د ګناه پریښنولو تکلیف زغمل شروع کړې، پر حرام خواهشاتو باندی عمل ونه کړې، کله چې ښځو ته د کتلو لذت پر ما باندی قربان کړې نو زه به تاته د زړه خوږوالی درکړم او زما خوږوالی به غیر فانی، غیر محدود او بې مثاله وی، د دې برعکس د دنیا خوږوالی فانی هم دی او محدود هم دی، تشویش هم پکښې کی دی او تکلیف هم، پر داسی فانی خوږوالی باندی چیری ژوند ضایع کوې، د دې برعکس د ګناوو په حرام غذا سره نفس طاقت پیدا کوی.

مولانا رومی صاحب فرمایي لکه څنګه چې بعضې ښکاریان د اوسۍ د ښکار دپاره راووتل او د هغو نیت د اوسۍ د ښکار وو لاکن په دا حال کی یودم د زوزانو څخه ځنګلی خنزیر راووتی او ښکاری ته یې خوله ورواچول او هغه یې مړ کړی، همدغه رنګه بعضې خلک دخدای دوستی د حاصلولو دپاره دخدای پر لار روان سول لاکن نفس او شیطان هغه په غیرالله اخته کړه او هغه د ښایسته شکلو په عشق اخته سوه او خدای ته ونه رسیدل، په دغه خاطر د خدای طلبګارانو ته پکار دی چې هر وخت باید هوښیار اوسی، د حسن خاوندانو ته په کتلو سره باید هیڅ وخت خوشحاله نه سی بلکې د لیری څخه دی پناه طلب کړی چې یاالله ما ځنی وساته، کوم زړه ته چې غیرالله راسی هغه زړه بیا دخدای لایق نه پاتیږی. مولانا شاه محمد احمد صاحب فرمایي ؎

**نہ کوئی راہ پاجائے نہ کوئی غیر آجائے**

**حریم دل کا احمد اپنے ہردم پاسباں رہنا**

**ترجمه**: نه یو څوک لار ورته پیدا کړی نه یو غیر ورته راسی، احمده! د زړه هر وخت نګاهبان اوسه

بعضې بې عقلان چې په خپل ګمان کې د خدای طلبګاره دی لاکن نامحرمه ښځې په لیدلو سره خاندی او په زړه کې خوشحالی احساسوی، دغه ناروا خوشحالی احساسونکی ډیر زیات بې عقلان، نمک حرامه او خبیثُ الطبع خلګ دی او هیڅکله خدای ته نه سی رسیدلای ـ

**هم خُدا خواهی وهم دنیای دُون**

**این خیال است و محال است و جنون**

مولانا رومی فرمایي چې ته دخدای طلب هم لرې او د مرداری دنیا حرام لذت اخیستل هم غواړې نو بیا دخدای د حاصلولو ستا خیال فقط جنون او لیونتوب دی، چاته چې د خدای سره صحیح تعلق ورپه نصیب سی هغه چې د لیری څخه د حسن خاوندان ووینی نو ریږد واخلی او خپله لار بدله کړی او وایي

**اِنِّیْ ذَاهِبٌ اِلٰی رَبِّیْ سَیَهْدِیْنِ**

**(سورت صافات، آیت ۹۹)**

بیشکه زه خپل ربّ ته تلونکی یم ژر به ماته لاره راوښیي

لاکن بد قسمته، د نفس تابع او خبیثُ الطبع خلګ د هغه حسن د خاوندانو پر خوا ور روان وی او نفس هغوته دوکه ورکوی چې نه ورته ګورم، د نفس چالونه ډیر خطرناکه وی، سړی داسی راچپه کوی چې هغه په ځان هم نه سی پوه.

په داغه خاطر پیر باید داسی وی کوم چې په نفس هم پوه وی، ډیر ساده سړی به نه وی چې په شی خبر هم نه وی چې څه پیښیږی، په خاصه د حسن او عشق په ټولو حالاتو به ډیر ښه خبر وی لاکن وی به تقواداره، په هر شی به خبر وی لاکن ځان به ځنی ساتی، بیا نو داسی پیر د مجازی عشق د مریضانو علاج کولای سی، دغه چې زه څه درته وایم دا خیالی

قصې نه دی مثلاً ډیر خلک په طیاره کی د کونج پر چوکۍ کښینی چې په تګ راتګ کی زموږ ځنګلی په طیاره کی د کارکونکو ښځو د بدن ځخه ومښلی، د نفس سازش ډیر خطرناکه وی، هغه سړی په پوهیدای سی پر چا چې دحق تعالیٰ فضل وی، د دې نفس داسی فریب او چالونه دی چې حق تعالیٰ د چا حفاظت وکړی بس هغه د خپل نفس په چالو پوهیدای سی.

په داغه خاطر حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایي چې یو دحسن خاوند ته په کتلو سره خپله خولی مه سموه، ږیره مه ږمنځوه، عینکی مه سموه، وریښتان مه سموه، د مخ خوله مه وچوه چې دا ټوله د نفس چالونه دی، پر دې طریقه نفس دهغه حسن د خاوند په نظر کی ستا انتخاب غواړی، په داغه خاطر مولانا رومی صاحب په دغه شعر کی وفرمایل چې خپل نفس مغلوب که، دهغه غلط خواهشات قتل که نو ستا روح به پر نفس باندی غالب سی او تاته به داسی ایمانی ژوند عطا سی چې یو جهان به بیا ستا په صحبت را ژوندی سی لاکن د نفس د شر ځخه څوک ځان ساتلای سی؟ حق تعالیٰ فرمایي

إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓ

(سورت یوسف، آیت ۵۳)

د نفس سرکښ او اَمّاره بِالسُّوء ځخه هم هغه څوک ځان ساتلای سی پر چا چې دخدای د رحمت سایه وی او دخدای رحمت دخدای د دوستانو ځخه حاصلیږی، د چا په تذکرو سره چې رحمت نازلیږی، ملّا علی قاری رحمة الله علیه د مشکوٰة په شرح مرقاة کی لیکلی دی چې

إِنَّ الرَّحْمَةَ تَنْزِلُ عِنْدَ ذِكْرِ الصّٰلِحِيْنَ فَضْلًا عِنْدَ وُجُوْدِهِمْ

د صالحینو په تذکرو سره رحمت نازلیږی نو چیری چې هغه خپله موجود وی هلته به څونه رحمت اوری

په دغه خاطر ځوک چې د اولیاوو سایې ته راسی نو د نفس د شر ځخه به انشاءالله محفوظه سی.

مولانا رومی صاحب فرمایي ـــه

**نفس نتوان کشت اِلّا ظِلّ پیر**
**دامنِ آن نفس کش را سخت گیر**

بې له د پیر د رهبری نفس نه سی فنا کیدای لهٰذا د دغه نفس کُش یعنی دخدای دوست لمن ډیره ټینګه ونیسه

ستاسی د راتګ برکت راته محسوسیږی کنې ما به د کمزوری په خاطر مثنوی شریف نه وای درته ویلې، لاکن ما دغه فکر وکړی چې دونه لوی لوی علماء د شپږ اووه مملکتو ځخه راغلی دی او د مثنوی شریف درس دهغو فرمایش هم دی او په دې به د دې ځای اوسیدونکی هم فایده واخلی، د میلمنو په خاطر خواږه بنه پخیږی نو د کور خلګ هم بنه خواږه وخوری، په داغه خاطر ما مثنوی شریف شروع کړه، د دې پوره خوند به هغه وخت وی کله چې دغه په یاد وساتل سی او په سینو کی وساتل سی "*علم در سینه نه که در سفینه*" خپل علم هغه دی کوم چې په سینه کی وی کنې په کښتی کی چې کتابونه پراته وی او ویل سوی هم وی لاکن په سینه کی چې نه وی نو د کوم کار دی، علم چې په سینه کی نسته نو چاته به یې بیانوې.

دا د بزرګانو اقوال دی، پر علم باندی د یو بل بزرګ قول راپه یاد سو کوم چې ما د خپل پیر ځخه په ځو واری واوریدی، تاسی یې هم په یاد کړی پکار به درسی، شیخ به فرمایل "**یک من علم را ده من عقل باید**" یعنی د یو من علم دپاره لس منه عقل پکار دی چې دغه علم په استعمال

سی او دغه عقل بې له د اولیاوو د صحبت او تربیت څخه نه په نصیب کېږی، د دین فهم ډیر لوی نعمت دی، پر دې باندی یوه قصه درته کوم.

زموږ د شیخ شاه عبدُالغنی صاحب پر لاس باندی د کوچنیوالی یو انډیوال چا چی به زموږ د شیخ سره بازیَ کولې بیعت سو، د بیعت وروسته دستی هغه پوښتنه وکړه چی شیخ صاحب زه درُود لکھّی، درُود تاج، دعا گنجُ العرش وایم دغه ویل صحیح دی که یا ستا څه خیال دی، زه هم هلته موجود وم او زموږ موجوده شیخ مولانا شاه ابرارُالحق صاحب هم موجود وو، زموږ په زړو کی خیال راوګرځیدی چی ګوره اوس به شیخ صاحب څه جواب ورکړی ځکه چی هغه که منع کړی نو بې علمه سړی دی دستی به تور پر ولګوی چی تاسی وهابیان یاست او ولاړ به سی او د دین څخه به محرومه سی او که یې منع نه کړی نو دا هم صحیح نه ده.

زموږ شیخ صاحب هغه ته وفرمایل صاحبه دا راته ووایه چی یو درُود کوم چی د اُمَّت علماوو جوړ کړی وی او بل درُود کوم چی خپله نبی علیه الصلوٰة والسّلام جوړ کړی وی نو په دې دوو کی به کوم یو ښه وی، هغه ورته وویل چی تر نبی علیه الصلوٰة والسّلام ښه درُود د چا کیدای سی، شیخ صاحب ورته وفرمایل په لمانځه کی چی کوم درُود شریف وایې دغه نبی علیه الصلوٰة والسّلام اُمَّت ته عطا کړی دی لهٰذا څونه وخت چی ته د اُمَّت د خلکو جوړ کړی درُود وایې دهغه پر ځای هغونه وخت د نبی علیه الصلوٰة والسّلام عطا کړی درُود شریف وایه، موږ د شیخ صاحب پر دې جواب باندی حیران پاته سولو چی مار هم مړ سو او لښته هم نه سوه ماته.

❁❁❁

# مجلس درسِ مثنوی

## ۲۱د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۲ د دسمبر ۱۹۹۷ء د دوشنبې ورځ د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

**عشقِ من پیدا و دلبر ناپدید    در دو عالم این چنین دلبر کہ دید**

کله چې زه دغه شعر ووایم نو ماته خپل شیخ شاه عبدُالغنی صاحب راپه یاد سی، هغه چې به د شپې تهجد ته را پورته سو نو په دغه شعر سره به دهغه بندګی شروع کیده، د استنجا دپاره به یې بدنۍ اخیستې وه او دغه شعر به یې وایه، داسی به معلومیدل لکه هغه چې هر وخت خدای ته ګوری، آه! هغه د خوند ورځی راپه یادیږی چې د پهولپور په ځنګله کی چیری چې به د شیخ د عشق د نارو ماسوا د هیڅ انسان بږغ نه راتلی، دخدای احسان دی چې ماته یې په پهولپور کی لس کاله د خپل شیخ د خدمت توفیق راکړی، د جون د میاشتی په ګرمی کی چې د نژدې تالاب اوبه به وچی سوې نو په سخته ګرمی کی به ما د یو میل لیری ولې څخه د شیخ صاحب دپاره اوبه راوړلې، د شیخ کالی به هم ما پریمنځل او د شپې پر درې بجې اودس ورتازه کول هم زما پر غاړه وه، بس څه درته ووایم چې څنګه خوند به یې کاوه د شپې د راپورته کیدو وروسته به د شیخ صاحب پر ژبه باندی همدغه شعر وو چې ؎

**عشقِ من پیدا و دلبر ناپدید**

زما عشق خو ښکاره دی چې زه د شپې راپورته کیږم، اودس تازه کوم، په لمانځه کی لاس پر نامه ولاړیم یعنی د بندګانو د عشق اعمال خو ښکاره دی، اودس، لمونځ، روژه تر دې حده چې عاشقان خپل سرونه هم

په جهاد کې قربانوي لاکن د چا دپاره چې د محبت دغه اعمال کیږي هغه محبوب نه معلومیږي، هغه د سترګو څخه پټ دی، پر هغه باندې مونږ ایمان بِالغیب راوړي دي، بې له لیدو پر هغه باندې خوبونه قربانه وو او خپل ځانونه پر قربانه وو ؎

## در دو عالم این چنین دلبر که دید

په دواړو جهانو کې دي یو څوک داسې محبوب خو راښکاره کړې چې هغه ښکاره نه وي او بې له لیدو پر هغه باندې عاشقان خپل سرونه قربانوي، بې له لیدو د چا دپاره چې په نیمه شپه کې په راپورته کیدو سره په ټینګ یخ کې اودس تازه کوي او بې له لیدو د چا ومخته چې په سجده کې سر ایږدي، په دواړو جهانو کې دي یو څوک داسې محبوب خو راښکاره کړې بې له د حق تعالیٰ ماسوا، مولانا شاه محمد احمد صاحب رحمة الله علیه فرمایي ؎

میں اُن کے سِوا کس پہ فدا ہوں یہ بتادے
لا مُجھ کو دِکھا اُن کی طرح کوئی اگر ہے

**ترجمه**: زه دخدای ماسوا بل پر چا باندې قربان سم دغه راته ووایه،
ماته یې راښکاره که دهغه په شان که بل څوک سته

د حق تعالیٰ په شان او دهغه سره برابري کونکی هیڅوک نسته، دهغه ذات **وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ** او **وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ** دی، په دواړو جهانو کې څوک داسې محبوب سته چې بې له لیدو پر چا باندې د بدر په غزا کې اویا اصحابِ کرامو خپل ځانونه قربان کړه او نبی علیه الصلوٰة والسّلام چې کله دهغو د جنازې لمونځ ورکړی نو هره جنازه ګواکې د دې شعر په شان وه ؎

اُن کے کوچہ سے لے چل جنازہ مرا
جان دی میں نے جن کی خوشی کے لیے
بے خودی چاہیئے بندگی کے لیے

**ترجمه**: د هغه محبوب د کوڅې څخه زما جنازه پورته که، د چا د خوشحالی دپاره چې ما ځان قربان کړی، د بندګی دپاره بیخودی پکار ده

نبی علیه الصلوٰة والسّلام به د خپلو اصحابو په جدایي څونه غمګین سوی وی، اسلام تر موږ پوری په آسانی نه دی رارسیدلی، اصحابِ کرامو خپل سرونه قربان کړه، خپله وینه یې توی کړه او تر موږ پوری یې اسلام را ورسوی.

حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه فرمایي چې اسلام نوم دی دخدای سره د عشق چې دخدای عاشقانه عبادت وکړی، د عشق صحیح استعمال پر حق تعالیٰ باندی قربانیدل دی، اصحابِ کرام خو پر خدای باندی قربان سوه او نن زموږ د ایمان دغه حال دی چې د سترګو د حفاظت حکم موږ ته مشکل معلومیږی، آه! هغو ځانونه قربان کړه او موږ دخدای دپاره یو د نظر حفاظت نه سو کولای، د حیوانانو په شان ښځو او لغړزنو هلکوانو ته ګورو او موږ ته دا احساس هم نه دریږی چې پر فانی او مرګ لرونکی لاښو باندی خپل ایمانونه ضایع کوو، څوک چې پر لاښو باندی مری هغه خپله لاشئ وی، ځکه چې که یو شی وای نو پر لاشئ به نه قربانیدای.

هغه وخت بنده ډیر کمتره او ذلیل وی کله چې هغه د خپل ژوند لمحې دخدای په نافرمانی کی کاروی او د فانی لاښو په خاطر خپل خالق او مالک خوابدی کوی، پر غیرالله باندی قربانیدل د بنده بنده جوړیدل دی،

د محتاجو فقیر جوړیدل دی، ځونه لوی جرم دی چې سړی د بنده بنده سی، د حسن د خاوندانو حسن خپله د هغو په اختیار کې نه دی، که یې خوله کږه سوه، فالج پر ولویدی، خولې یې بد بوی شروع کړی یا مړ سو بیا به د زړه خوشحاله کولو دپاره چیری ځې.

زما دوه شعرونه دی په هغه کې ما میر صاحب(دحضرت صاحب د خاص خادم نوم میر صاحب دی) ته خطاب کړی دی، عجبه خبره ده چې د میر صاحب نوم زما په شعرو کې ډیر ښه راغلی ے

**حسینوں کا جغرافیہ میر بدلا کہاں جاؤ گے اپنی تاریخ لے کر**

**یہ عالم نہ ہوگا تو پھر کیا کرو گے زُحل مشتری اور مریخ لے کر**

**ترجمه**: د حسن د خاوندانو جغرافیه بدله سوه میر صاحبه، د خپل عشق په تاریخ به څه کوې، د حسن دنیا چې یې ختمه سی نو بیا به څه کوې، په زُحل مشتری او مریخ سره

د مومن د شان خلاف خبره ده چې هغه خدای هیر کړی. حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایي چې په تهانه بهون(هندوستان) کې یو هلک وو هغه د متهایو عاشق وو، یو چا دهغه څخه پوښتنه وکړه چې ستا نوم څه شی دی، هلک ورته وویل عبدُالرحمٰن متهایي، او د پلار نوم دی؟ هغه ورته وویل محمود خان متهایي، چیری ځې؟ هلک ورته وویل د نیکه کور ته متهایي، په هره خبره کې متهایي ویل دهغه دپاره لازم وه حضرت تهانوی صاحب فرمایي چې د مسلمان هم دغه شان دی چې هر وخت باید خدای یاد کړی که یو نعمت ورته حاصل سو نو وې ویل **اَلْحَمْدُلِلّٰه**، که یې د تعجب خبره ولیدل نو وې ویل **سُبْحَانَ اللّٰه**، که یې یو بد شی ولیدی نو **اَللّٰهُ اَکْبَر**، که یو غم پر راغلی نو **اِنَّالِلّٰهِ وَاِنَّااِلَیْهِ رَاجِعُوْن** ے

## ان سے ملنے کو بہانہ چاہئے

**ترجمه**: دخدای سره د ملاقات بهانه غواړم

شریعت خو موږ سر تر نوکه عاشق جوړوی، پر خدای باندی قربانیدل راښوی چې هر وخت خپل مالک په یاد وساتی. لهٰذا مولانا رومی صاحب فرمايي چې په دواړو جهانو کی دخدای ذات مثل نه لری، دهغه په شان هیڅوک نسته، دهغه په شان محبوب هیڅوک نسته، نو دهغه ذات ماسوا پر فانی حسن باندی ځان قربانول ډیر ظلم او بې عقلی ده، پر دې که د وینو اوښکی توی کړې نو حق یې نه سی ادا کیدای، ځکه چی تا پر چا ژوند ضایع کړی، هغه داسی عاجزه او بې خبره دی چی هغه د خپلو عاشقانو په اوښکو هم نه وی خبر چی یو څوک زموږ دپاره ژاړی.

زما شعر دی ؎

**صلہ عشقِ مجازی کا یہ کیسا ہے ارے توبہ**
**کہ عاشق روتے رہتے ہیں صنم خود سوتا رہتا ہے**

**ترجمه**: د مجازی عشق دا څنګه صله ده اُف توبه، چی عاشق ژړا پسی کوی او معشوق خپل خوبونه کوی

او یو زموږ ربّ دی که د شپې په تنهايي کی یوه اوښکه دهغه په یاد کی راتوی سی نو حق تعالیٰ په هغه خبر وی، په دغه خاطر د محبت لایق فقط دحق تعالیٰ ذات دی او د دې عقلی دلیل دغه دی چی محبوب باید داسی وی چی دهغه مثل او برابری کونکی هیڅوک نه وی او کوم چی هر وخت زموږ سره راسره وی، د دنیا یو محبوب داسی نه سی کیدای کوم چی هر وخت زموږ سره راسره سی، ځکه چی کله به هغه ته خوب ورځی یا به موږ ته خوب راځی نو هغه زموږ څخه بې خبره سو او موږ دهغه څخه او

پر دې طريقه جدايي سره راغله، حق تعالیٰ فقط هغه ذات دی کوم چې هر وخت زموږ سره راسره دی. حق تعالیٰ فرمايي

وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَمَا كُنْتُمْ

(سورت حديد، آيت ۴)

او دغه(الله) ستاسی سره دی هر چيری چې تاسی ياست

ته په خوب کې دهغه څخه بې خبره کيدای سې لاکن حق تعالیٰ ستا څخه بې خبره نه وی، هغه د خوب پر وخت هم تاته ګوری، ستا حفاظت کوی، ستا سره درسره وی او هغه داسی محبوب دی چې دهغه پر حسن او جمال باندی هيڅکله زوال نه راځی او د دنيا د حسن خاوندانو حسن مخ پر زوال دی. حق تعالیٰ فرمايي

كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ

(سورت رحمٰن، آيت ۲۹)

دحق تعالیٰ هر وخت يو نوی شان دی

او د محبت لايق هم هغه څوک کيدای سی کوم چې خپل عاشق ساتلای سی او مجازی معشوقان خو خپل ځان نه سی ساتلای، خپل تور وريښتان د سپينيدو څخه نه سی راګرځولای نو هغه به خپل عاشق څنګه وساتی، په دې خاطر عقلاً او نقلاً د محبت لايق فقط د حق تعالیٰ ذات دی.

۞ ۞ ۞

# مجلس درسِ مثنوی

**۲۳ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۴ د دسمبر ۱۹۹۷ء د چار شنبې ورځ**

**د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه**

د نفس طبیعت د خپل فطرت په حساب فرعونی دی، مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

*نفس فرعون است هین سیرش مکن    تا نه یادش آید آن کفرِ کهن*

نفس د اَمَّارَہ بِالسُّوءِ کیدو په سبب فرعون خصلته دی لهٰذا هغه ډیر مه مړوه، نفس په دوه قسمه خوراک چاغیږی، یو خو نفس ته غذا بیخی ډیره مه ورکوه، په آس باندی دونه خوراک کول چی هغه خپل سوار غوځار کړی دا نادانی ده، بس دونه په وخوره چی هغه په قبضه کی وی، په نفس دونه ډیر خوراک چیښناک مه کوه چی بیا ته پر هغه کنټرول او قبضه نه سې کولای او دوهم خوراک نفس ته په ګناه سره حاصلیږی، جسمانی غذا نفس ته دونه خوند نه ورکوی څونه چی ګناه خوند ورکوی او د هری ګناه وروسته دهغه د ګناه کولو په طاقت کی ډیروالی پیدا سی.

شیطان خو سړی خطاباسی چی بنه ډیری ګناوی وکه بیا د همیشه دپاره تقواداره سه، په ګناوو به نس ډک سی لاکن نفس په ګناوو نه مړیږی، د ګناوو په تقاضو کی نور ډیروالی پیدا سی، ځکه چی ګناه د نفس غذا ده، په خپل غذا سره نفس نور تکړه سی، په داغه خاطر مولانا رومی صاحب فرمایي چی نفس ډیر مه مړوه کنې هغه ته به خپله سابقه ګناه ورپه یاد سی لکه څنګه چی فرعون ته خپل زوړ کفر ورپه یاد سو، کله چی حضرت موسیٰ علیه السّلام فرعون ته د اسلام دعوت ورکړی نو دهغه د کفر زور پر ماتیدو سو او هغه یو څه د اسلام وخوا ته متوجه سو لاکن بدبخته د خپل بې ایمانه وزیر هامان سره صلاح وکړه نو هامان خپل سر

وتکوی او مولانا رومی صاحب فرمايي چې هغه بې ايمانه فرعون ته وويل که ته اسلام راوړې نو اول ما مړ که ځکه چې زه دغه نه سم ليدلای چې آسمان مځکه سی او خدای بنده سی، هامان د فرعون نفس ته د لويي غذا ورکړه چې په هغه د فرعون نفس وپړسيدی، هغه خو د اوله سره په سرکښی، لويي او تکبر کې مبتلا وو، د حضرت موسٰی عليه السّلام د اسلام پر دعوت باندی دهغه د نفس ګرفت يو څه سست سو، د لويي په غذا سره دهغه نفس بيا زمری سو او هغه ته بيا خپل زوړ کفر ورپه ياد سو کوم چې هغه برباد کړی، په داغه خاطر مولانا صاحب فرمايي چې نفس فرعون دی د ګناوو په غذا يې مه مړوه، فرعون خو لويي برباد کړی، که تا د حسن خاوندانو ته وکتل نو ستا نفس ته به د شهوت غذا حاصله سی او په ګناوو کې په اخته کېدو سره به ته برباد سې ځکه چې نفس په ګناوو نه مړيږی.

په دغه خاطر د قيامت په ورځ کله چې حق تعالیٰ دوږخ ته وفرمايي چې **هَلِ امْتَلَأْتِ** آيا ستا نس ډک سو، نو دوږخ به ورته ووايي چې **هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ** اوس خو مي نس نه دی ډک سوی زه نور دوږخيان غواړم. نو مولانا رومی صاحب فرمايي کوم مزاج چې د دوږخ دی هم هغه مزاج د نفس دی، ګناه د دوږخ سبب ده او د سبب او مُسبَّب مزاج يو رنګه وی، لهٰذا څنګه چې د دوږخ نس په ګنهګارانو نه سو ډک نو نفس هم په ګناوو نه مړيږی، د يو لک ګناوو وروسته به هم نفس ووايي چې **هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ** نوری ګناوی راوړه.

تر دې حده که د ټولی دنيا ښايستې ښځی ځوک ورښکاره کړی او فقط يوه ښځه پاته سی نو حضرت تهانوی صاحب فرمايي چې بدنظری کونکی ته په غوږ کې دونه ووايه چې د ټولی دنيا ښايستې ښځی ما تاته درښکاره کړې بس يوه پاته ده نو نفس به ووايي چې هغه هم راښکاره که، دا

د نفس مزاج دی، د نفس علاج به هم هغه وی کوم چې به د دوږخ وی، د مرکز چې کوم علاج وی هم هغه علاج د ښاخ وی، د مرکز او ښاخو علاج یو رنګه وی، نو کله چې دوږخ ووایي **هَلۡ مِنۡ مَّزِیۡدٍ** یاالله! زما نس نه دی ډک سوی او ګنهګاران ټوله ختم سوه نو حق تعالیٰ خو به یو بې ګناه مخلوق دوږخ ته نه وراچوی بلکې **فَيَضَعُ قَدَمَهٗ** خپل قدم به پر کښیږدی، کله چې حق تعالیٰ خپل قدم پر دوږخ کښیږدی نو دوږخ به ووایي**قَطۡ قَطۡ وَفِيۡ رِوَايَةٍ قَطۡ قَطۡ قَطۡ** (بخاری جلد۳ صفحہ۲۹۶) بس بس بس یاالله نس می ډک سو.

علّامه قسطلانی رحمة الله علیه د بُخاری شریف په شرح کی لیکلی دی چې حق تعالیٰ خو د بدن څخه پاک دی هغه به قدم څنګه پر کښیږدی نو فرمايي چې د قدم مطلب د خدای خاص تجلا او خاص نور دی، اوس مولانا رومی صاحب فرمايي چې د ګناوو د تقاضو علاج ګناه کول نه دی، د شهوت د اور علاج شهوت پوره کول نه دی، د ګناوو د خبیث شوق علاج ګناه کول نه دی، دغه په یاد وساتی چې ډیر خلک د ګناه په کولو سره مړه سول لاکن د ګناه کولو خواهش یې ختم نه سو او دهغه نافرمانی په حال کی مرګ ورته راغلی.

لهٰذا د ګناوو څخه د ځان ساتلو علاج فقط دخدای سره تعلق دی چې دخدای نور او تجلا په زړه کی پیدا که، لهٰذا خدای یاد که، د اولیاوو سره واوسیږه، په زړه کی چې نور پیدا سی نو به نفس ډک سی او بیا به دی ګناه کولو ته زړه هم نه غواړی او که دی زړه وهم غوښتی نو په معمولی او سپک کوښښ سره به نفس راوګرځی، بس په زړه کی چې کله نور پیدا سی بیا د شهوت اور مری، مولانا رومی صاحب فرمايي ؎

**نارِ شہوت چہ کُشد؟ نُورِ خُدا**

د مثنوی وزن فاعلاتن فاعلاتن فاعلن دی، د مولانا رومی صاحب کرامت ته وګوری، په دونه کوچنی شعر کی سوال هم دی او جواب هم دی، سوال څه شی دی؟ نارِ شهوت چه کُشد؟ دغه سوال دی په فاعلاتن فاعلاتن کی چی د شهوت نار(اور) کوم شی وژلای سی؟ اوس مصرعه نه ده پوره سوې، د فاعلن ځای پاته دی، اوس د مولانا رومی صاحب کرامت ته وګوری د فاعلن چی کوم ځای وو په هغه کی یې جواب ورکړی نُورِ خُدا یعنی د خدای نور چی زړه ته راسی نو ستا د ګناوو خواهشات به یودم ختم سی ځکه چی د نور مزاج یخ وی او په نار کی تکبر او لوپی وی، د نار الف همیشه ولاړ وی او نور د واو په خاطر عاجزه وی، د چا زړه ته چی نور راسی هغه به واو سی یعنی په هغه کی به د عاجزی شان پیدا سی لکه څنګه چی د میوې ډک ښاخ راکښته سی ـ

**نَهد شاخِ پُر میوه سر بَر زمین**

او په کوم ښاخ کی چی میوه نه وی هغه شخ ولاړ وی، نو د چا په زړه کی چی دخدای محبت نه وی داسی محروم زړونه په تکبر کی مبتلا وی او د چا زړه ته چی حق تعالیٰ د خپل محبت میوه ورکړی په هغه کی عاجزی پیدا سی او د حق تعالیٰ نور چی ستا زړه ته راسی نو ته به یودم جنت احساس کړې او کله چی د جنت خالق او مالک حاصل کړې نو دهغه ومخته بیا جنت څه شی دی، زما شعر دی ـ

**مانا کہ میر گلشنِ جنّت تو دُور ہے**
**عارف ہے دِل میں خالقِ جنّت لئے ہُوئے**

**ترجمه**: صاحبه! ما ومنل چی جنت خو لیری دی، لاکن دخدای دوست په خپل زړه کی د جنت خالق ساتلی دی

که څه هم جنت خو اوس پور دی لاکن دخدای دوستان د جنت خالق نغد حاصل کړی، ملّا علی قاری رحمة الله علیه د مشکوٰة په شرح کی لیکلی دی

**وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ** (سورت رحمٰن، آیت ۴۶)

څوک چی د خپل الله څخه ویریږی هغه ته به الله دوه جنته ورکړی

د دې آیت تفسیر بعضی صوفیاء کرامو دغه کړی دی چی **جَنَّةٌ فِي الدُّنْيَا بِالْحُضُوْرِ مَعَ الْمَوْلٰى (مرقاة شرح مشكوٰة)** د دنیا جنت دغه دی چی دحق تعالیٰ قرب دهغو زه هر وخت مست ساتی، حق تعالیٰ د خپلو ټولو صفاتو او خاص تجلاوو سره دهغو په زړو کی متجلا وی، هغه دخدای په خاص تعلق مشرفه وی، د خواجه مجذوب صاحب شعر دی ے

**پھرتا ہوں دِل میں یار کو مہماں کئے ہُوئے**

**رُوئے زمیں کو کُوچہٗ جاناں کئے ہُوئے**

**ترجمه**: ګرځم په زړه کی می یار میلمه کړی دی، ټوله مځکه می د جانان کوڅه کړې ده

او دوهم جنت څه شی دی **جَنَّةٌ فِي الْعُقْبٰى بِلِقَاءِ الْمَوْلٰى (مرقاة شرح مشكوٰة)** دوهم جنت په آخرت کی ورته حاصلیږی چیری چی دخدای دیدار ورپه نصیب کیږی، دخدای دوستانو ته په دنیا کی د حق تعالیٰ خاص حضوری ورپه نصیب وی چی دهغه په سبب تر دواړو جهانو زیات په خوندو کی اوسیږی ماسوا دحق تعالیٰ د دیداره کوم چی په آخرت کی ورپه نصیب کیږی چی دهغه په دواړو جهانو کی هیڅ مثال نسته، لاکن دحق تعالیٰ د دیدار د نعمت ماسوا د دواړو جهانو تر نعمتو بالا لذت دخدای دوستان په دنیا کی حاصل کړی، زما شعر دی ے

وہ شاہِ دوجہاں جس دِل میں آئے

مزے دونوں جہاں سے بڑھ کے پائے

**ترجمه**: هغه د دواړو جهانو پاچا چې کوم زړه ته راسی، خوندونه تر دواړو جهانو بالا اخلی

او د دې دلیل څه شی دی؟ د دواړو جهانو لذتونه هم حق تعالیٰ پیدا کوی نو د دواړو جهانو د لذتو پیدا کونکی چې کوم زړه ته د خپل خاص تجلا سره راسی دهغه زړه به څه حال وی، ټوله دنیا دهغه په خوند نه سی خبریدای، په مدرسو کی دینی سبقان ویونکی هم نه سی په خبریدای، که څه هم هغه په امتحان کی اول نمبر کامیابه هم سی.

د مولانا رشید احمد گنگوهی رحمة الله علیه څخه چې کله پوښتنه وسوه چې ته حاجی امدادُالله مهاجر مکی رحمة الله علیه ته د مرید کیدو دپاره ولی ورغلې که څه هم ته د بُخاری شریف درس ورکوې، د سمرقند، بُخارا او تاشقند څخه شاگردان د سبقانو دپاره درته را روان دی، په ټوله دنیا کی ستا شهرت دی او حاجی امدادُالله صاحب خو عالم هم نه دی، نو مولانا گنگوهی صاحب ورته وفرمایل چې دخدای د قرب د مټایو کوم فهرست چې ما په مدرسه کی ویلی وو هغه مټایي ماته د خوراک دپاره د حاجی امدادُالله صاحب په صحبت کی حاصل سوه او ورته وې فرمایل چې حاجی امدادُالله صاحب دخدای د قرب ټوله مټایي خوړل که څه هم نومان یې نه وه ورمعلوم او موږ ته یې نومان رامعلوم دی لاکن مسمیٰ یعنی دخدای ذات زموږ سره نسته.

یو شخص د گلاب جامن، گلاب جامن نارې وهی او د گلاب جامن اجزا په ښولو سره هغه اول نمبر کامیابه هم سو لاکن دهغه په خوله کی گلاب جامن نسته نو د نامه په یادولو سره د مسمیٰ حاصلیدل لازم نه دی،

مسمٰی دهغه چا څخه حاصلیږی کوم چی د مسمٰی خاوندان دی او کوم چی د نسبت خاوندان دی، کوم چی دخدای دوستان دی.

زموږ شیخ به فرمایل چی مټایی حاصلیږی د مټایی والا څخه، ټوکران حاصلیږی د ټوکره والا څخه، امرود حاصلیږی د امرود والا څخه، آم حاصلیږی د آم والا څخه او کباب حاصلیږی د کباب والا څخه نو خدای حاصلیږی دخدای د دوستانو څخه، تر اوسه خو د مولانا رومی صاحب د یوې مصرعې شرح وسوه، پوره شعر دغه دی ے

***نارِ شهوت چه کُشد؟ نورِ خُدا نورِ ابراهیم را ساز اوستا***

سینما، فلمو او ښځو ته په کتلو سره به ستا زړه ته آرام نه سی حاصل، په گناه کولو سره به د شهوت اور نه سی مړ، د گناوو څخه د ځان په حفاظت سره، دخدای په یاد سره او دخدای د دوستانو په صحبت سره چی کله زړه ته نور راسی نو هغه به ستا د شهوت اور در مړ کړی او په دا بله مصرعه کی د دې دعوې دلیل هم دی ے

***نورِ ابراهیم را ساز اوستا***

فرمایی اې زما استاذه! وګوری دلته مولانا رومی صاحب موږ ټولو ته استاذ وویل او تعلیم یې راکړی چی په استاذ کی باید داسی شفقت وی چی کله دی هغه د دلجویی دپاره شاګردانو ته هم استاذ ووایی که پلار خپل زوی ته ووایی چی بابا زما خبره ومنه نو زوی باید د شرمه ډوب سی او پر داسی پلار باندی باید قربان سی.

آه! نو مولانا رومی صاحب فرمایی چی اې استاذانو! وګوری د حضرت ابراهیم علیه السّلام نور حاصل کړی چی دهغه د نور په سبب د نمرود اور مړ سوی وو، ستاسی نفس هم تر نمرود په کمه نه دی لهٰذا دحق تعالیٰ نور په زړه کی حاصل کړی انشاءالله بیا به ستاسی د نفس اور

هم مړ سی او تاسی ته به دونه قرار حاصل سی چی بیا هر څوک ستاسی سره کښېنی نو هغه ته به هم قرار حاصل سی، د غلطو غلطو خواهشاتو په خاطر په کوم کسانو کی چی د ناقراری اور بل وی هغه هم د اولیاوو سره پر آرام او قراره سی ـــ

**لحنِ مرغان را اگر واقف شوی　　بر ضمیرِ مرغ کی عارف شوی**

په دغه شعر کی مولانا رومی صاحب الفاظ غلا کونکو ته فرمایي کوم چی د اولیاوو الفاظ په غلا کولو سره خپله پیری مریدی روښانه کوی او پر خلکو باندی دا ښکاره کوی چی وګوری زه څونه لوی بزرګ یم او زما څونه ملفوظات په یاد دی او ددې په ذریعه دنیا ټولوی نو هغه د برتری هیڅ حق نه لری ځکه چی خالی نوم په یادولو سره حق تعالیٰ نه حاصلیږی دهغه سره اسم سته لاکن د مسمّٰی څخه لیری دی همداسی حال دهغه جامعُ الملفوظات دی کوم چی هر وخت د شیخ سره اوسیږی، دهغه خبری لیکی نو ګواکې هغه د متاېو نومان لیکی کله چی عمل او تقوا اختیار کړی، دخدای په لاره کی غم پر ځان یوسی بیا به حق تعالیٰ حاصل کړی.

دغه په یاد وساتی چی د پیر سره د یو چا اوسیدل د دې خبری دلیل نه دی چی دغه سړی دخدای دوست هم سو او د خپل پیر خبری په نقل کولو سره هم دخدای دوستی نه ثابته کیږی، دخدای د دوستی بنیاد پر تقوا باندی دی، څوک چی تقوا نه اختیاروی او حرام خوند چی کوم زړه ته داخل سی هغه زړه بیا دخدای په تجلا سره نه سی روښانه کیدای، فسق او دوستی نه سی جمع کیدای، څوک چی تقواداره نه وی هغه ته بزرګ نه ویل کیږی، مولانا رومی صاحب فرمایي چی ګوره د شیخ الفاظ په لیکلو سره یا په بیانولو سره یا په نقل کولو سره دا نه ثابته کیږی چی ته د نسبت خاوند هم یې، اوس دلیل څنګه ورکوی ـــ

**لحنِ مرغان را اگر واقف شوی**

که تا د ګلستان د مرغانو او چوغکو د آوازو نقل وکړی۔

**بر ضمیرِ مرغ کی عارف شوی**

لاکن دهغه مرغه په زړه کی چی کوم مضمون دی دهغه معرفت تاته چیری حاصلیدای سی؟ د مرغه په وجدان او دهغه په زړه کی چی کوم مفهوم دی په هغه ته نه سې خبریدای۔

**گر بیا موزی صفیر بُلبُلی　　　　تُو چہ دانی کو چہ گوید با گلی**

که تا د بلبل د نارو او ږغ مشق وکړی او هم هغسی نارې دی وهلې خنګه چی د بلبل وی لاکن ته په دې څه خبر یې چی بلبل ګل ته څه خبری کوی؟ بس کوم خلک چی د اولیاوو ظاهری الفاظ په نقل کولو سره پر خلکو باندی د خپلی بزرګی سام اچه وی لاکن د یو بزرګ په رهبری کی دخدای لار نه پیلوی نو هغه څه خبر دی چی دخدای د دوستانو باطن ته کوم نعمت حاصل وی، فقط الفاظ په نقل کولو سره هغوته د اولیاوو د وجدان او د زړه د حالاتو او مقام خبر نه سی کیدای، د اولیاوو ارواح چی دخدای سره کوم پټ او خاص تعلق لری په هغه غیر عارف څه خبریدای سی، خواجه مجذوب صاحب داغه ته فرمایي۔

**ہم تم ہی بس آگاہ ہیں اس ربطِ خفی سے　　　　معلوم کسی اور کو یہ راز نہیں ہے**

**ترجمه**: زه او ته بس خبر یو د زړه په دغه پټ تعلق، معلوم بل چاته دغه راز نه دی

بس الفاظ د اولیاوو پر خوله باندی وی لاکن معنٰی یې په زړه کی وی لهٰذا کوم جعلی پیر او جعلی درویش چی د اولیاوو اقوال او ملفوظات

په نقل کولو سره د دنیا ټولولو دپاره خپل مجلسونه تاوده ساتی هغه به د الفاظو هغه معنیٰ د کومه کړی کوم چې د اولیاوو په زړو کی پټه وی، د دې مثال دغه دی لکه یو څوک چې د خپل محبوب دوست سره خبری کوی نو الفاظ د دې محبت ترجمان دی لاکن کوم محبت چې دهغه په زړه کی دی دهغه ادراک هغه شخص نه سی کولای د چا په زړه کی چې محبت نه وی او که بې محبته شخص د محبت دغه الفاظ په یاد کړی نو دهغه پر خوله خو به الفاظ وی لاکن په زړه کی به یې د محبت هغه کیفیت نه وی کوم چې یو محبت کونکی یې د خپل دوست دپاره لری.

لهٰذا د دنیادارو، بې عقلانو او جعلی پیرانو په شان د اولیاوو توری او الفاظ په غلا کولو سره مخلوق د ځان شوقین مه جوړوه بلکې د اولیاوو صحبت ته په ورتګ سره په زړه کی هغه محبت حاصل که کوم چې د اولیاوو په زړو کی دی بیا به دی الفاظ پر خوله باندی وی او دهغه معنیٰ به دی په زړه کی وی چې نور خلګ به په هغه خبر هم نه وی لاکن په هغه الفاظو کی به داسی نور وی چې نور خلګ به هم په هغه دخدای دوستان سی، مولانا رومی صاحب د اولیاوو په باره کی فرمایی ؎

**شیخ نورانی ز ره آگه کند　　　　نور را با لفظها همره کند**

اولیاء کرام د نور خاوندان وی، د نبی علیه الصلوٰة والسّلام د نقشِ قدم د اتباع په برکت دهغو زړه نورانی سی لهٰذا هغه په خپلو ارشاداتو سره خلګ د سنت په لار هم خبروی او خپل باطنی نور هم د خپلو الفاظو سره ګډ کړی چې دهغه په برکت نورو خلکو ته هم هدایت کیږی او دخدای لار نه چې فقط آسانه سی بلکې خوندوره هم سی.

❁❁❁

# مجلس درسِ مثنوی

۲۴ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۵ د دسمبر ۱۹۹۷ء د جمعې شپه
د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

**نیم جان بستاند و صد جان دهد — انچه در وهمت نیاید آن دهد**

مولانا رومی صاحب فرمایي اې زما ښایسته دخدای طلبګارانو! دخدای په لار کی، د ګناوو په پرېښنولو کی، په تقوا سره په اوسیدو کی، د ښځو ځخه د نظر په حفاظت کی، حرام خواهش په قربانولو کی، هر وخت د روا او ناروا په غم کی بې شکه چې نیم وجود ویلی سی، په دغه تکلیف کی به حق تعالیٰ ډیر تر ډیره ستا نیم وجود ویلی کړی او پر دې چې کوم ارمان په زړه کی پیدا سی پر هغه به نفس درته وواېي چې زه خو د ښځو ځخه د نظر په حفاظت کی مړ سوم، لاکن دغه په یاد وساته چې حق تعالیٰ به د دې نیم وجود په بدل کی سل چنده طاقت درکړی، د یوه ګل په بدل کی هغه د کاینات خالق د خپل قرب ګلستان چاته ورکوی، نیم وجود په ویلی کولو سره سل چنده طاقت عطا کوی او دخپل قرب داسی نعمتونه به درکړی چې ته یې په خپل فکر او ګمان کی هم نه سې راوستلای.

هغه نعمتونه او لذتونه، هغه عیش او خوشحالی ته په فکر کی هم نه سې راوستلای کوم چې د یوه حرام خواهش د قربانولو په بدل کی حق تعالیٰ وخپلو عاشقانو ته ورکوی ځکه چې دحق تعالیٰ ذات بې مثاله دی او انسان هغه په فکر کی راوستلای سی کوم چې مثال ولری، د حق تعالیٰ ذات چې مثال نه لری نو دهغه د قرب لذت او د ایمان خوږوالی هم هیڅوک په خپل وهم او ګمان او د فکر او سوچ په حدودو کی نه سی راوستلای تر څو چې حق تعالیٰ یې چاته ور نه کړی **اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا مِنْهُ** او الله رحمٰن او رحیم دی.

که ستا دپاره یو څوک غم یوسی نو آیا ته به پر هغه مهربانی ونه کړې؟ دخدای په لار کی چی کوم بندګان پر ځان غم یوسی او خپل حرام خواهش پوره نه کړی نو آیا دحق تعالیٰ به د هغو پر زړه مینه رانه سی؟ یقیناً هغوته به دخدای محبت ورپه نصیب سی، لاکن حق تعالیٰ خپله مینه پر زړه ورکوی، پر بدن باندی دهغه تاثیر نه معلومیږی، که دغه مینه پر بدن باندی معلومیدای نو د غیبو پارچه به ښکاره سوې وای او بیا به په دنیا کی هیڅوک هم کافر پاته نه وای، لهٰذا حق تعالیٰ د خپلو عاشقانو زړو ته خپله مینه ورکوی کوم چی دهغو زړه محسوسوی چی دغه وخت موږ ته څونه د ایمان خوږوالی عطا سو.

مولانا جلال الدین رومی صاحب په دغه شعر کی د طریقت یوه لو مسئله او یو ډیر لوی انعام بیان کړی دی چی دحق تعالیٰ په لار کی، تقوا په اختیارولو کی یعنی ګناه د نه کولو په غم کی او خپل حرام خواهشات په قربانولو کی که څه هم مجاهده سخته وی لاکن دخدای دوستی او د ایمان خوږوالی پر داغه مجاهده موقوف دی.

د دې برعکس که څوک ټوله شپه تهجد کوی، ټوله ورځ روژه نیسی، هر کال حج او عمره کوی لاکن که د ښځو او لغړزنو هلکوانو څخه نظر نه ساتی او د ګناوو څخه ځان نه ساتی نو د عبادت سربیره به دغه شخص فاسق وی، د فاسقانو د کتاب څخه به د ده خروج ونه سی او یو شخص فقط فرض، واجب او موکده سنت ادا کوی لاکن یوه لحظه حق تعالیٰ نه خوابدی کوی، د یوه ساه په اندازه دحق تعالیٰ په نافرمانی کی ځان نه مشغوله کوی، ځان قربانولو ته تیار وی، نفس دښمن ته په غضب وی چی د ګناه په پریښولو سره که ماته مرګ هم راسی نو زه به مرګ قبول کړم لاکن حق تعالیٰ به خوابدی نه کړم نو دغه شخص دخدای دوست دی او څوک چی په ژوند

کې ګناه پرېښولو ته تیار نه دی لاکن د مرګ وروسته به داغه خبیث ټوله ګناوی پرېږدی لاکن بیا به هغه ته هیڅ اجر نه سی حاصل ځکه چې اوس هغه ګناه کولای نه سی.

راته ووایاست د مرګ وروسته یو مړی یوې ښځې یا لغړزنی هلک ته کتلای سی؟ که څوک دا وصیت هم وکړی چې زه که مړ سوم نو ما په مسجد کې یا په کعبه شریفه کې کښیږدی اوس به زه تـر قیامته پوری پر حق تعالیٰ قربان یم نو راته ووایاست په دغه وصیت به هغه ته څه فایده ورسیږی؟ ټوله ژوند خو تا نافرمانی پرې نه ښول، بدنظری او غلط کارونه دی کول کله چې لاشئ سوی نو اوس به څه قربان کړې، د لاش معنٰی ده لاشئ، اوس خو ستا وجود هم نسته، ته عدم یې او وجود قربانیږی عدم نه.

حق تعالیٰ غواړی چې ژوند پر ما قربان که، مړ وجود پر هغه نه سی قربانیدای او که څوک وصیت هم وکړی نو مړ وجود به حق تعالیٰ نه کړی قبول، په داغه خاطر درته وایم چې په ژوند کې پر خدای باندی قربان سی، حق تعالیٰ غواړی چې ژوند (یعنی خپل حرام خواهشات) پر ما قربان کړی، لهٰذا څونه چې ډېر طاقت وی هغونه ډېر ثواب حاصلیږی او په خاصه د ځوانی خواهشات پر قربانولو سره به حق تعالیٰ ډېر خوشحاله سی چې د ځوانی او طاقت سربیره پر ما قربان سوی دی.

که یو داسی کمزوره وزګړی وی چې دهغه پښې ریږدی نو راته ووایاست چې دهغه اختری به څنګه وی، پوښتنه وکړی د علماوو څخه، د چا چې څونه طاقت دی پر حق تعالیٰ دی قربان سی کنې چې ډېر کمزوره سې نو ستا قربانی به هم کمزوره سی او ورځ په ورځ موږ مخ پر کمزوری روان یو، ورځ په ورځ موږ سپین ږیری کیږو لهٰذا کمزور وجود د قربانولو

انتظار مه کوه، تکړه وجود پر حق تعالیٰ قربان که، پر کوم حال چې ته یې وخت مه پر تیره وه او په دې کې چې څونه تکلیف وی هغه برداشت که، مولانا رومی صاحب داغه ته فرمايي چې په دغه تکلیف کې حق تعالیٰ نیم وجود ویلی کړی لاکن په بدل کې هغه کریم ذات په سلهاوو طاقتونه عطا کوی، د خپل قرب داسی لذت چاته عطا کوی کوم چې ته اوس په فکر کې هم نه سې راوستلای، د دې برعکس کوم شخص چې د تکلیف څخه ځان کاږی او دخدای پر نافرمانی باندی دلاوره کیږی هغه په فتنه کې مبتلا کړل سی، مولانا رومی صاحب فرمايي ؎

***از شراب قهر چون مستی دهد　　　　نیست هارا صورتِ هستی دهد***

حق تعالیٰ چې پر چا باندی دهغه د نافرمانی او سرکښی په سبب عذاب نازلول غواړی نو په هغه د خپل قهر شراب وڅیښی، حق تعالیٰ چې چاته د قهر او عذاب د شرابو مستی ورکړی نو هغه پر فانی معشوقانو باندی مری، هغه دا وايي چې آه دا څنګه حسن دی، دا څنګه ښایسته مخ دی، جګه پزه یې ده، نازک نازک شونډان یې لکه د ګل ګلابو بلګونه، سترګې خو یې داسی ښایسته دی چې په لیدلو سره به د اوسی سترګې هم وشرمیږی، دغه بدمستی دلیل ده چې دغه سړی دخدای په قهر اخته دی، زما شعر دی ؎

***حسنِ فانی سے ترا آہ یہ شاداں ہونا　　　　یہی دلیل ہے ظالم ترا ناداں ہونا***

**ترجمه**: پر فانی حسن باندی ستا دغه خوشحالی، ظالمه داغه دلیل دی ستا د بې عقلی

دا د قهر دلیل دی، آه! دغه مولانا رومی صاحب دی ډیر لوی شخص دی، دغه شخص د خپلی زمانې سُلطانُ الاولیاء دی فرمايي حق تعالیٰ

چې هر څوک د خپل درباره څخه مردودول غواړی نو هغه د فانی شکلو په عشق اخته کړی ے

**نیست هارا صورتِ هستی دهد**

او بیا هغه پر فانی شکلو باندی مری چې واه څنګه ښایسته شکل دی، فانی شکلونه هغه ته عظیم الشانه په نظر ورځی، باطل حق په نظر ورځی، د دې تقلیبِ ابصار څخه په حدیث شریف کی پناه غوښتل سوې ده او دغه دعا راښول سوې ده چې

**اَللّٰهُمَّ اَرِنَا الْحَقَّ حَقًّا وَّ ارْزُقْنَا اتِّبَاعَهٗ وَاَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلاً وَّارْزُقْنَا اجْتِنَابَهٗ**

**(تفسیر ابن کثیر جلد ا صفحه ۲۹۲)**

یاالله! موږ ته د حق حق کېدل راښکاره کړې او پر هغه باندی د عمل کولو توفیق راکړې او د باطل باطل کېدل راښکاره کړې او دهغه څخه د ځان ساتلو توفیق راکړې

بس اولیاء کرام د دې قهر څخه په امان کی ساتل کیږی، لهٰذا د حسن پر خاوندانو چې دهغو نظر ومښلی نو هغه سترګی کښته کړی ځکه چې د ښکلاوو د نس غلاظتونه دهغو په نظر کی وی چې نس یې ټوله د مرداریو ډک دی او سربېره د سپینو زرو ورغ دی باندی، دحق تعالیٰ نافرمانی تر غلاظت هم بدتره شی ده، نو کله چې ستا پر یوې ښځې باندی نظر ومښلی او په زړه کی دی مستی راسی نو دستی نظر ځنی واړوه او د دې مستی څخه پناه وغواړه چې دا د عذاب مستی ده، دا هغه مستی ده چې دغه آیت پر نازل سو،

**اِنَّهُمْ لَفِیْ سَكْرَتِهِمْ یَعْمَهُوْنَ** (سورت حجر آیت ۷۲)

او هغه(د قومِ لوط خلک) په خپل نشه کی مست کېدله

د مولانا رومی صاحب دا څنګه ښايسته شعر دی، د دې شرح هم د مولانا رومی صاحب په برکت څنګه ښايسته راته عطا کيږی، د لغړزنی هلک سره عشق عذاب دی او د دې دليل دغه دی چې پر کوم هلک باندی ته قربانيدې او ليونی کيدې وروسته چې حسن يې ختم سو، ږيره يې راغله او بريتونه يې هم دونه غټ سوه چې شونډان يې پکښې پټ سوه نو هغه وخت ولی دهغه لغړزنی هلک څخه د حيوان په شان څغلې **حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ۝ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ** (سورت مدثر، آيت ۵۱،۵۲) دغه قصه ما په خپل شعرو کی بيان کړې ده ے

مونچھوں کے زیر سایہ لبِ یار چُھپ گئے

داڑھی کے زیر سایہ وہ رُخسار چُھپ گئے

بالوں کی سفیدی میں زُلفِ یار چُھپ گئے

جتنے تھے یارِ حُسن وہ سب یار چُھپ گئے

**ترجمه**: د بريتو په سايه کی چې د يار شونډان پټ سوله، د ږيری په سايه کی چې د يار هغه باړخوګان پټ سوله، د وريښتانو په سپينوالی کی چې د يار زلفی پټی سوې، نو څونه چې د حسن ياران وه هغه ټوله ياران پټ سوله

دغه شعرونه ما د جامعه اشرفيه لاهور مدرسې پر تخت ويلی وه، لوی لوی علماء ناست وه، الحمدلله ټول علماء مست سول او ويل يې چې عجبه اصلاحی شعرونه دی.

نو د معشوق دغه حال په ليدلو سره د عاشق ټوله مستی ختمه سوه، په دغه خاطر پر حسن باندی ځان قربانونکی بين المللی بې عقلان دی، په قسم درته وايم چې تر دې لوی خبيث نسته کوم چې د يو څو شپو

پر فانی حسن باندی خپل کریم ربّ او خپل خالق او پالونکی خوابدی کوی، دغه شخص طبعی خبیث، نمک حرامه او بې شرفه دی، که په ده کی حیا او شرم وای نو خپل ربّ به یې نه وای خوابدی کړی. عظیم محدث ملّا علی قاری رحمة الله علیه لیکلی دی چې د حیا صفت دغه دی **فَاِنَّ حَقِیْقَةَ الْحَیَاءِ اَنَّ مَوْلَاكَ لَایَرَاكَ حَیْثُ نَهَاكَ** یعنی د حیا حقیقت دغه دی چې ستا ربّ تا د نافرمانی په حال کی ونه وینی نو بیا پوه سه چې دغه بنده د شرم او حیا خاوند دی، نن ته یو بدنظری کونکی ته بې غیرته او بې حیا ووایه نو هغه به مرګ ته تیار سی لاکن دحق تعالیٰ په نیز دغه بې حیا دی ځکه چې حق تعالیٰ خو هر وخت راته ګوری، څوک چې دخدای څخه نه شرمیږی په هغه کی حیا د کومی خوا سته، په دغه خاطر هر وخت ددې خیال وساته چې حق تعالیٰ ماته ګوری، زما پر نظر دهغه نظر دی، زما شعر دی ؎

**میری نظر پہ ان کی نظر پاسباں رہی**
**افسوس اس احساس سے کیوں بے خبر تھے ہم**

**ترجمه**: زما پر نظر دهغه نظر نګاهبانه وو، افسوس د دې احساس څخه زه ولی بې خبره وم

د چا سره چې دغه فکر ورسره وی هغه د قهر په شرابو او د عذاب په مستی انشاءالله نه سی اخته کیدای. بس د نن سبق ختم سو، اوس د مولانا رومی صاحب یوه دعا ده، فرمایی ؎

**غالبی بر جاذبان ای مشتری شاید ار درماندگان را وا خری**

یاالله! ستا په لار کی د نفس سره په مقابله کی زه مغلوبه کیږم، نفس پر ما باندی غالبه سی، په وارو وارو توبه وکاږم بیا توبه راڅخه ماته سی، یاالله! زه کمزوره یم لاکن ته خو کمزوره نه یې، که زوی کمزوره دی نو پلار

خو د طاقت خاوند دی، که بنده کمزوره سی نو اې ربّه! ته خو د طاقت خاوند یې خپل کومک راولیږه، ته غالب یې موږ هم پر خپل نفس غالبه کړې، اې زموږ د وجود خریداره! تا خو په قرآن پاک کی د خپلی خریداری اعلان وکړی

اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰی مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ اَنْفُسَهُمْ (سورت توبه، آیت ۱۱۱)

چی ته زموږ خریدار یې او یاالله! تا دغه نه دی فرمایلی چی ما ستاسی زړونه او ستاسی ارواح رانیولی دی بلکې دغه دی وفرمایل چی ما ستاسی نفس رانیولی دی، ځکه چی کومه سودا تر ټولو خرابه وی او د کوم شی چی څوک رانیونکی نه وی نو دهغه شی مالک هم ناامیده سی چی زما دغه سودا به څوک رانیسی، نو کوم چی کریم وی هغه دغه رانیسی، یاالله! زموږ د زړو او ارواحو په نسبت د نفس سودا تر ټولو خرابه وه، یاالله! ته خو د کریمانو کریم یې تا خو د ډیر کرم په سبب زموږ نفس رانیوی او ته چی یو څوک رانیسې بیا څوک دی چی هغه رانیسی، ته پر ټولو جذب کونکو باندی غالب یې، په دنیا کی چی څونه ښایسته هلکوان او انجونی موږ خپل طرفته کشوی که ته موږ خپل طرفته کش کړې نو بیا دهغو څه طاقت دی چی موږ خپل طرفته کش کړی بلکې موږ که خپله هم هغوته ورنژدې کېدل وغواړو نو نه سو ورنژدې کېدای ځکه چی ستا د جذب د قوت ومخته نفس او شیطان او د ټولی دنیا د ګمراهی طاقتونه هیڅ حقیقت نه لری، بس که ته زموږ د هدایت اراده وکړې نو ستا پر اراده باندی مراد تر لاسه کېدل یقینی او نه تر لاسه کېدل ناممکنه دی، لهٰذا ستا رحمت ته امید لرو چی ته موږ عاجزان رانیسې او زموږ غوندی پاته او په وارو وارو توبه ماتونکی ته په رانیولو سره غالبه کړې، نو بیا د نفس سپی څه طاقت دی چی موږ مغلوبه کړی.

# مجلس درسِ مثنوی

## ۲۵ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۶ د دسمبر ۱۹۹۷ء د جمعې ورځ د سهار پاؤ کم اووه بجې، خانقاه امدادیه اشرفیه

**اتصالی بی تکیُّف بی قیاس    هَست ربُّ النّاس را با جانِ ناس**

د اولیاوو ارواحو ته چی دحق تعالیٰ کوم قرب او نژدیوالی حاصل دی هغه تر عقل بالا او بې قیاسه دی، لهٰذا چاته چی هغه قرب ورپه نصیب دی هم دهغه روح دهغه قرب په خوند پوهیدای سی، بل روح دهغه په خوند نه سی پوهیدلای، کوم چی خواجه مجذوب صاحب داسی تعبیر کړی دی ؎

**ہم تم ہی بس آگاہ ہیں اس ربطِ خفی سے    معلوم کسی اور کو یہ راز نہیں ہے**

**ترجمه**: زه او ته بس خبر یو په دغه پټ تعلق، معلوم بل چاته دغه راز نه دی

تر دې حده چی یو بزرګ هم د بل بزرګ د قرب او کیف په حال ناخبره وی، اجمالاً خو خبر وی چی دغه شخص د نسبت خاوند بزرګ دی لاکن دهغه روح ته چی د قرب کوم مقام، د قرب کوم کیف، د قرب کوم خوند حاصل دی دهغه تفصیلی علم یو او بل ته نه وی، ځکه چی دحق تعالیٰ ذات بې مثاله دی، دهغه هیڅ مثال او همسر نسته، بس کوم زړه ته چی حق تعالیٰ د خپل خاص تجلاوو سره راسی نو هغه زړه ګواکې د بې مثاله ذات خاوند سو لهٰذا حق تعالیٰ هغه ته هم یو بې مثاله شان ورکړی چی په دې کی هغه منفرد وی، په هر بنده کی یو جلا شان د حق تعالیٰ د توحید علامت دی، په دغه خاطر حق تعالیٰ هر بزرګ ته د قرب یو بې مثاله لذت ورکوی.

د حق تعالیٰ ارشاد دی **فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٌ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٍ** **(سورت سجده، آیت ۱۷)** دغه آیت که څه هم د جنت دپاره دی چې هیڅ نفس په دې نه دی خبر چې کوم د سترګو یخوالی به د جنت خاوندانو ته په پټه الله ورکړی، لاکن کوم شخص چې د جنت پر لار روان وی هغه د جنت د یخوالی تاثیر په دنیا کی احساسول شروع کړی ؎

**ترے تصور میں جانِ عالم مجھے یہ راحت پہنچ رہی ہے**

**کہ جیسے مجھ تک نزول کر کے بہارِ جنّت پہنچ رہی ہے**

**ترجمه**: ستا په تصور کی اې د عالم جانانه! ماته دغه آرام رارسیږی، لکه تر ما پورې چې په نزول سره د جنت یخوالی رارسیږی

لکه یو ځوک چې د دریاب پر خوا روان وی نو پر هر قدم باندی هغه ته د اوبو یخوالی په هوا کی احساسیدل شروع سی لهٰذا دا تفسیر نه دی دا د قرآن پاک د لطایفو(رازو) څخه دی چې دلته نکره تحت النفعی واقع ده کوم چې فایده عموم ته ورکوی یعنی هیڅ نفس هم په دې نه دی خبر چې دخدای په لار کی کوم د سترګو یخوالی، اطمینان او د قرب لذت سړی ته عطا کیږی، یو بزرګ هم د بل بزرګ د قرب او حق تعالیٰ ته د نژدیوالی په حقیقت او تفصیلی کیفیت نه وی خبر، ځکه چې هر زړه ته یو بې مثاله او منفرد لذت عطا کیږی، د نکره تحت النفعی څخه دغه خبره ښکاره کیږی.

مولانا رومی رحمة الله علیه فرمایي دخدای د قرب لذت چې کوم زړه ته عطا سی دهغه خوږوالی هم فقط هغه احساسولای سی، لاکن که هغه وغواړی چې دغه لذت بیان کړم نو بیانولای یې نه سی، مولانا رومی صاحب داغه ته فرمایي ؎

**بوی آن دلبر چو پرّان می شود　　　　این زبان ها جُملە حیران می شود**

دهغه حقیقی محبوب خوشبویي چې کله د عرشِ عظیم څخه په نزول سره تر ما پورې راورسیږي نو د ټولې دنیا ژبې دهغه لذت د بیانولو څخه قاصر وي، ځکه چې دحق تعالیٰ ذات غیر محدوده دی نو دهغه د قرب لذت هم غیر محدوده دی او زموږ لغت محدوده دی نو غیر محدود لذت په محدود لغت کې څنګه راتلای سي او دا خو د ارواحو معامله ده چې لذت یې هیڅوک نه سي بیانولای، بدنونه هم داسې لذت حاصلوی کوم چې د الفاظ او لغاتو په حدودو کې نه سي راوستل کیدای، هغه لذت فقط محسوس کیدای سي، ژبه قاصر وي هغه لذت د بیانولو څخه، مثلاً یو شخص کباب خوری او زنګیږی چې واه ډیر خوندور کباب دی، اوس که یو څوک هغه ته ووایي چې وروره دغه راته ووایه چې د دې کباب څنګه خوند دی؟ نو هغه به ورته ووایي چې خوند خو یې زه نه سم دربنولای ته خپله لږ وخوره وې ګوره چې وې خورې بیا به درمعلوم سی.

همدغه رنګه د بِیَاه یعنی واده خوند دی، پر دې باندی یوه ټوکه راپه یاد سوه چې د بیاه معنیٰ زما پر زړه دغه راغله چې بیاه معنیٰ ده بې آه، د بیاه یعنی واده تر مخه سړی د ماندینې دپاره آه آه کول، کله چې یې ماندینه تر لاسه کړه نو اوس بې آه سو، دا د لغاتو تشریح ده.

نو د واده خوند څوک په الفاظو کې نه سی بیانولای لکه څنګه چې یو مشهوره قصه ده چې یوې صحرایي انجلۍ د خپلې واده سوی شریکی څخه پوښتنه وکړه چې اې شریکی! واده څه خوند کوی، نو هغې ورته وویل چې کله ستا واده وسی بیا به تاته درمعلوم سی چې واده څه خوند کوی، نو کله چې د بدن د لذتو دغه حال دی چې هغه په الفاظو کې نه سی بیان کیدای نو د روحانی لذتو به څه حال وی، هغه خو بیخی د الفاظ او

لغاتو په حدودو کی راوستل نامـمکنه دی یعنی جسمـانی لذتونه چی نه سی بیان کیدای او په الفاظ او لغاتو سره هغه نه سی تعبیر کیدای نو روحانی لذتونه څنګه بیان کیدای سی، بس اولیاوو ته چی دخدای کوم قرب حاصل دی هغه خواجه مجذوب صاحب داسی بیان کړی دی ؎

**تم سا کوئی ہمدم کوئی دمساز نہیں ہے          باتیں تو ہیں ہر دم مگر آواز نہیں ہے**

**ترجمه**: ستا په شان ملګری او رازداره څوک نسته، په زړه کی خبری خو هر وخت سته لاکن آواز نسته

او دحق تعالیٰ دغه قرب د ګناوو څخه د ځان ساتلو وروسته او خپل حرام خواهشات په قربانولو سره په نصیب کیږی او دونه عظیم قرب په نصیب کیږی چی مولانا رومی صاحب فرمايي د اولیاوو ارواحو ته چی دخدای کوم قرب حاصل دی هغه په فکر او قیاس کی نه سی راوستل کیدای، فرمايي ؎

**خاصانِ خُدا خُدا نباشند          لیکن ز خُدا جُدا نباشند**

دخدای خاص بندګان خدای نه دی لاکن دخدای څخه جلا هم نه دی، اولیاء کرام خدای منل کفر دی لاکن هغه دخدای څخه لیری بلل هم غلو او بې عقلی ده، اولیاء کرام هیڅکله خدای مه بوله کنې کافر به سې لاکن هغه دخدای څخه لیری هم مه بوله، مولانا رومی صاحب دغه خبره په یو عجبه مثال سره وړاندی کړې ده فرمايي وګوری لمر پر آسمـان باندی دی او دهغه شغلې او روښنايي پر مځکه باندی دی، روښنايي او شغلې خپله لمر نه دی لاکن د لمر څخه جلا هم نه دی.

❁ ❁ ❁

# مجلس درسِ مثنوی

۲۶ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۷ د دسمبر ۱۹۹۷ء د شنبې ورځ
د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

**در تگِ دریا گُهر با سنگ هاست　　　فخرها اندر میانِ ننگ هاست**

د دریاب په تل کې مرغلره په ډبرو کې پټه وی په دغه خاطر که ډبرې کمتره وبولې نو مرغلره هم نه سې تر لاسه کولای، په داغه ډبرو کې ته په مرغلرو پسې وګرځه نو مرغلره به تر لاس کړې، همدغه رنګه که د اولیاوو په لباس کې جعلی پیران په نظر درځی نو دغه بدګمانی مه کوه چې ټوله داغسې وی، هم په دوی کې ته په اولیاوو پسې وګرځه نو انشاءالله اولیاء کرام به پیدا کړې لکه څنګه چې په ډبرو کې مرغلرې پټې دی همداغسې په دې ذلیل او دنیاداره جعلی پیرانو کې هغه دخدای دوستان هم پټ دی کوم چې په ټوله انسانیت کې د فخر لایقان دی۔

**گر گدایان طامع اند و زشت خو　　　در شکم خواران تو صاحب دل بجو**

که فقر کونکی او د پیسو وږی د اولیاوو په جامه کې په نظر درځی نو دا فکر مه کوه چې دا دخدای دوستان دی بلکې د نس دپاره ستومانه کیدونکو په جامه کې هغه د نسبت خاوندان او رښتنی اولیاء کرام هم پټ دی، د چا چې جلا شان دی که ته پسی وګرځې نو به هغه پیدا کړې، تا دخدای دوستان لیدلی نه دی په دغه خاطر بدګمانه یې۔

**شاہ صاحب جو سمجھتا ہے تو بھک منگوں کو**
**تو نے دیکھی ابھی وہ صورتِ شاہانہ نہیں**

**ترجمه**: فقیران چې ته اولیاء بولې، نو تا لیدلی تر اوسه هغه شاهی مخان نه دی

**با چنان رحمت که دارد شاهِ هُش — بی ضرورت از چه گوید نفس کش**

هُش د هوښ مخفف دی، حضرت تهانوی رحمة الله علیه د دې ترجمه سلطانُ العقول یعنی د عقلو پاچا کړې ده، مولانا رومی صاحب فرمایي که ضرورت نه وای نو هغه د عقلو پاچا کوم چی د بې حسابه رحمت مالک دی هغه به بې ضرورته نه وای ویلی چی نفس فنا که او غلط خواهش قربان که یعنی بې ضرورته به یې مجاهده نه وای فرض کړې، مجاهده فرض کول د دې دلیل دی چی په دې کی ډیر رازونه او حکمتونه دی، حق تعالیٰ فرمایي **وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا** (سورت عنکبوت، آیت ۶۹) کوم کسان چی زما په لار کی مجاهده کوی یعنی زما د رضا دپاره تکلیفونه برداشتوی او زما د دین په نصرت کی تکلیفونه وړی او زما پر احکامو باندی په عمل کولو کی پر ځان تکلیفونه زغمی او د کومو خبرو څخه چی ما منع کړی دی دهغه څخه د ځان ساتلو دپاره هر تکلیف وړی، خپل زړه قربان کړی لاکن ما نه خوابدی کوی نو هغوته کوم انعام ورکول کیږی؟ **لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا** دهغو دپاره زه د هدایت بې شمیره لاری خلاصی کړم.

ددې تفسیر علّامه آلوسی دغه کړی دی **اَیْ سُبُلَ السَّیْرِ اِلَیْنَا وَسُبُلَ الْوُصُوْلِ اِلٰی جَنَابِنَا** (روح المعانی جلد۲۱، صفحه۱۴) هغوته سَیر اِلی الله هم ورپه نصیب سی او وُصول اِلی الله هم ورپه نصیب سی یعنی هغه خدای ته هم ورسیږی او بیا تر دې بالا هغه درباریان هم سی یعنی په خاص قرب مشرفه سی، د قرب دغه کیف او د قرب دغه تجلا کوم چی دخدای خاص بندګانو ته عطا کیږی هغه په الفاظو سره نه سی بیان کیدلای.

حق تعالیٰ دې موږ ټولو ته فقط په خپل کرم سره راپه نصیب کړی، آمین، چاته چی دغه خاص قرب حاصل سی هم هغه یې په خوند پوهیږی،

ژبه، لغت او الفاظ دغه خوند د بیانولو څخه حیران او قاصر وی، ما دغه کیف او خوند داسی بیان کړی دی ہے

**گویا زباں تھی بے زباں ہوشِ بیاں نہ تھا**

**آتش تھی شعلہ زن مگر اس میں دھواں نہ تھا**

**ترجمه**: ژبه ګواکې بې زبانه وه د بیان کولو طاقت پکښی نه وو، اور خو پر جوش وو لاکن په هغه کی دود نه وو

**خوشبو تو ہر طرف تھی مگر گُلستاں نہ تھا**

**مفہومِ قُربِ خاص تھا لفظ و بیاں نہ تھا**

**ترجمه**: خوشبويي خو هر طرفته وه لاکن ګلستان نه وو، د خاص قرب مفهوم خو وو الفاظ او بیان نه وو

**اک پھول جاوداں کے سوا گُلستاں نہ تھا**

**ان کے سوا کوئی بھی وہاں راز داں نہ تھا**

**ترجمه**: د یوه ابدی ګل ماسوا ګلستان نه وو، دهغه ماسوا هیڅوک هم هلته رازداره نه وو

**خورشید و ماہ و کہکشاں کچھ بھی وہاں نہ تھا**

**دُنیائے دوں نہ تھی کوئی دیگر جہاں نہ تھا**

**ترجمه**: لمر، سپوږمۍ او ستوری هیڅ هم هلته نه وه، نه دنیا وه نه یو بل جهان وو

**آنکھوں کے دائرے میں جمالِ جہاں نہ تھا**

**کون و مکاں کا سامنے کوئی نشاں نہ تھا**

**ترجمه**: په سترګو کې د دنیا جمال نه وو، ومخته د جهان هیڅ نښان نه وو

**اُس بزم کا اِک عالم ھو نام ہے اخترؔ**
**گویا سوا خدا کے کوئی بھی وہاں نہ تھا**

**ترجمه**: دهغه ځای نوم د هو عالم دی اختره، ګواکې ماسوا دخدای هیڅوک هم هلته نه وو

لهٰذا دخدای په لار کې باید سړی د مجاهدې څخه وارخطا نه سی، ځوک چې د مجاهدې څخه وارخطا سی هغه دخدای وفاداره بنده نه دی، تاسی هم هغه سړی خپل دوست نه جوړوی کوم چې حلوه خوره وی، په حلوه خوړلو کې د ټولو تر مخه وی لاکن کله چې د وفادارۍ او قربانۍ وخت راسی نو په ځغاسته سی، داسی مطلبی او بې وفا شخص ته خپل دوست نه جوړوې کوم چې ستا دپاره هیڅ تکلیف نه وړی او ځوک چې ستا وفاداره وی هم هغه ته خپل دوست جوړوې، بس ځوک چې د ګناه په کولو سره دحق تعالیٰ سره بې وفایې کوی حق تعالیٰ هم داسی کسان خپل دوستان جوړول نه خوښوی.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه لس کاله دغه اشکال درلودی چې حق تعالیٰ خو ارحمُ الرَّاحمین دی او د رحمت تقاضا دا وه چې خپل بندګان یې بې له د نفس د فنا کولو او بې له مجاهدې او تکلیفه خپل دوستان جوړولای سوای نو بیا یې مجاهده ولی فرض کړه په دې حکمت می سر نه خلاصیږی.

او حضرت تهانوی صاحب لس کاله دغه اشکال چاته نه دی ویلی چې زما په اشکال بل سړی ولی په تکلیف سی، بیا د مثنوی په یوه شعر کې د حضرت صاحب دغه اشکال حل سو، هغه شعر دغه دی ـــ

## لیک شیرینی و لذّاتِ مقر
## هست بر اندازهٔ رنجِ سفر

مولانا رومی صاحب فرمايي چې د منزل خوند او آرام د سفر پر تکليفو او زحمتو باندی مشروط دی، په سفر کی چې څونه ډير تکليفونه وی د منزل خوند په هغه اندازه ډير محسوسيږی، حق تعالیٰ مجاهده په فرض کولو سره خپله لار يو څه مشکله کړه چې د تکليفو څخه تر تيريدو وروسته چې کله بندګان جنت ته ورسيږی نو هغوته جنت ډير خوند ورکړی او د دنيا د غمو څخه پر نجات باندی خوشحاله سی او د جنت او د جنت د نعمتو ښه ډير قدر وکړی، که مجاهده فرض نه وای او هيڅ تکليف هم سړی ته نه رسيدلای نو جنت به بيا هغسی خوند نه وای کړی څنګه خوند چې به اوس انشاءالله وکړی.

حضرت ګنګوهی رحمة الله عليه د بُخاری شريف په درس کی وفرمايل د قيامت په ورځ کله چې جنت دا وواي چې ياالله! اوس لا زما نس نه دی ډک سوی يو څو جنتيان نور راکه نو حق تعالیٰ به يو مخلوق پيدا کړی هغه به جنت ته داخل کړی، نو يو شاګرد يې وويل کشکې زه په هغه مخلوق کی وای چې بې له لمانځه او روژې به جنت ته تللی وای، نو حضرت ګنګوهی صاحب ورته وفرمايل بې عقله! هغه کسانو ته به جنت څه خوند ورکړی چا چې نه روژه ونيول، نه يې لمونځ وکړی، نه يې جهاد وکړی، نه يې د ګناه پريښولو غم پر ځان يوړی، نه يې د زړه وينه توی کړه، نه يې د بدن وينه توی کړه، خوند خو به انشاءالله موږ ته راکړی چې د تکليفو وروسته جنت ته ځو. **اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْئَلُكَ الْجَنَّةَ وَ مَا قَرَّبَ اِلَيْهَا وَنَعُوْذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ اِلَيْهَا.**

**ای ز تو کس گشته جانِ ناکسان**

**دستِ فضل تست در جان هارسان**

آه! دا مولانا رومی صاحب دی، په ښکلې ښایسته عنوان سره دعا کوی چې یاالله! ډیر بندګان نالایقه وه ستا په کرم سره لایقان سوه، ستا د مهربانی لاس په وجود کی د ننه پټ دی، بس تا اراده وکړه او نالایقه لایق سو ځکه چې ستا پر اراده باندی مراد نه تر لاسه کیدل نامـمکنه دی۔

**جود می جوید گدایان و ضعاف**

**همچو خوبان آئینه جویند صاف**

د حق تعالیٰ سخاوت او کرم په خپل کمزورو او بې وزلو پسی خپله ګرځی لکه ښکلې چې د حسن خاوندان په پاکه هینداره پسی ګرځی چې زموږ مخ او د پزی نقشه صحیح رامعلومه سی، همدغه رنګه د حق تعالیٰ سخاوت او کرم هم په بې وزلو، محتاجو او ضرورتـمندو پسی ګرځی، زموږ د محتاجی او مسکینی په هینداره کی د حق تعالیٰ سخاوت او کرم لیدل کیږی، موږ دحق تعالیٰ صحیح فقیران جوړ خو سو، حق تعالیٰ خو خپله موږ د ځان کول غواړی، دهغه رحمت خو خپله زموږ په انتظار دی۔

**گر بگرید ور بنالد زار زار**

**اُو نخواهد شد مسلمان هوش دار**

که نفس ښه ډیر وژاړی او فریادونه وکړی نو بیا هم دهغه د شوخی څخه په اطمینان کیږه مه، دهغه څخه هوښیار اوسه، نفس ظالم پوره نه فرمانبرداره کیږی، په لږ وخت کی بیرته ګناه شروع کړی، په دغه خاطر د نفس قیزه په کش ونیسه کنې د نافرمانی سابقه رفتار به بیرته شروع کړی۔

**هر ولی را نوحِ کشتی بان شناس**

**صحبت این خلق را طوفان شناس**

مولانا جلالُ الدین رومی صاحب فرمايي چی اولیاء کرام د حضرت نوح علیه السّلام نائبان وبوله، که د طوفان څخه ځان ساتل غواړې نو د اولیاوو په کښتی کی ناسته خپل سعادت او د ځان حفاظت وبوله، د خلګو سره ناسته او ولاړه، شپه او ورځ په خلګو کی اوسیدل همداغه سیلاب او طوفان دی او په داغه سبب بنده ګناوی کوی ځکه چی د غافلانو سره په اوسیدو کی غفلت پیدا کیږی، په دغه خاطر دخدای د یو دوست په کښتی کی کښینه یعنی دهغه صحبت اختیار که نو د فسق او د ګناوو د سیلاب څخه به وساتل سې ے

**چون شوی دور از حضُورِ اولیاء**

**در حقیقت گشتۀ دور از خُدا**

که ته په بدګمانه کیدو سره د اولیاوو څخه لیری واوسیږې نو ته دخدای د دوست څخه لیری نه سوې بلکې د الله څخه لیری سوې، که ته د خپل شیخ څخه لیری سې نو حق تعالیٰ ته هم نه سې نژدې کیدای. زموږ شیخ مولانا شاه ابرارُالحق صاحب فرمايي چی آیس کریم که د یخچال څخه دباندی راوباسې او کښنې ایږدې نو به اوبه سی، شکل به یې بدل سی او ته به یې ونه پیژنې چی دا یو وخت آیس کریم وو ځکه چی آیس کریم د یخچال څخه لیری سو، یخچال دهغه دپاره د نه ویلی کیدو سبب دی، همدغه رنګه شیخ هم دخدای د محبت یخچال دی، دهغه څخه مه لیری کیږه، که بدنی نژدیوالی نه دی درته حاصل نو لږ تر لږ د خط لیکلو په ذریعه د شیخ سره تعلق وساته ے

طبع ناف آهویست این قوم را
اندرون خون و اندرون شان مشکها

د اولیاوو مزاج د اوسۍ د نافې په مثال دی چې نافه خو ټوله د وینو ډکه ده او په مابین کې یې مشک پټ دی، همدغه رنګه د اولیاوو د بشری تقاضو څخه دوکه مه خوره چې هغه هم د تشناب ضرورت لری، هغه هم د خوړلو چیښلو او خوب محتاجه دی، کله یې ټوخی کیږی، کله د پزی بلغم پاکوی، لهٰذا دهغو وینو او بلغم ته مه ګوره بلکې په هغو کې چې دحق تعالیٰ د تعلق کوم مشک پټ دی دهغه قدر وکه چې دهغه قیمت مځکه او آسمان، لمر او سپوږمۍ او د پاچاهانو تخت او تاج هم نه سی ادا کولای ـ

هین که اسرافیلِ وقت اند اولیاء
مرده را زیشان حیات است و نما

اولیاء کرام د خپلی زمانې اسرافیل وی، د قیامت په ورځ کله چې حضرت اسرافیل علیه السّلام د صور شپیلی پو کړی نو مړی به را ژوندی سی، همدغه رنګه د اولیاوو په خبرو مړه او غافل زړونه راژوندی سی، د چا زړونه چې دخدای څخه غافله دی هغه د اولیاوو په صحبت سره ژوند حاصل کړی او نما په معنٰی کې د ارتقا ده یعنی د اولیاوو صحبت دخدای دوستی د عطا کیدو، دوستی د بقا او دوستی د ارتقا ذریعه ده او وې فرمایل چې د اولیاوو په باره کې تعجب مه کوه چې هغه په دنیا کې د اوسیدو سربیره څنګه هر وخت پر خدای باندی قربان وی؟ د دې جواب ورکوی ـ

آن که بر افلاک رفتارش بود
بر زمین رفتن چه دشوارش بود

ته دغه تعجب کوې چې اولیاء کرام په دنیا کې د اوسیدو سربیره ځنګه پر خدای قربان دی او هر وخت ځنګه د نظر حفاظت کوی او هر وخت ځنګه د ګناوو څخه ځان ساتی، د دې جواب دغه دی چې د چا رفتار پر آسمان باندی دی دهغو دپاره پر مځکه باندی تګ کول څه مشکل دی؟ یعنی اولیاء کرام چې آسمانی اعمال یعنی د نیک اعمالو په برکت آسمان ته ورسیدل یعنی د آسمان د خالق سره چې چاته رابطه او تعلق ورپه نصیب سو نو هغوته پر مځکه باندی د ګناوو څخه ځان ساتل څه مشکل کار دی کوم چې دحق تعالیٰ د تعلق او رابطې دپاره تاوانی دیے

**آن که واقف گشت بر اسرارِ هو**
**سرِ مخلوقان چه بود پیشِ اُو**

چاته چې دحق تعالیٰ د معرفت رازونه او اسرار ورمعلوم سول نو هغوته د مخلوق رازونه څه حیثیت لریے

**سایهٔ رهبر به است از ذکرِ حق**
**یک قناعت بهتر از صدها طبق**

د شیخ د صحبت سایه ستا د تنهایي تر ذکر افضله ده، ځکه چې شیطان هم یوازی ډیر عبادت کړی وو، پر آسمان باندی داسی هیڅ ځای خالی نه وو چیری چې شیطان ظالم سجده نه وه کړې لاکن د مردود کیدو څخه نه سو خلاص ځکه چې د عبادت څخه په هغه کې د عاجزی پر ځای لویي پیدا سوه او د شیخ سایه د لویي څخه د حفاظت ذریعه ده او د لویي څخه حفاظت د مردود کیدو څخه د حفاظت ضمانت دی، ځکه چې لویي دحق تعالیٰ ډیره ناخوښه ده، ابلیس د لویي په خاطر مردود سو، په داغه خاطر کله چې د شیخ صحبت درپه نصیب وی نو هغه وخت په تنهایي کې

ذکر مه کوه، تر دې بنه دی چې ته د شیخ سره کېنینې ځکه چې په ذکر سره به په تا کې یو وخت نشه پیدا سی او ته به ځان بایزید بسطامی او بابا فریدالدین عطار غوندی بزرګ وبولې او په تا کې به لویې پیدا سی، د شیخ سایه به تا د فنا پر مقام وساتی او د فنا مقام دحق تعالیٰ خوښ دیـ

**ناز تقویٰ سے تو اچھا ہے نیازِ رندی**

**جاہِ زاہد سے تو اچھی مری رسوائی ہے**

**ترجمه**: پر تقوا باندی تر ناز خو ښه د عاجزی نشه ده، د پرهیزګار تر لویې خو ښه زما رسوایې ده

په دوهمه مصرعه کې مولانا رومی صاحب فرمایې چې تر ډېرو خواړو یو قناعت ښه دی، وګوری عجبه مثال یې ورکړی فرمایې که ستا ومخته قِسم قِسم وریجی په قِسم قِسم غابو کې پرتې وی لاکن که ته قناعت نه لرې نو به وای وای کوې، په دغه خاطر د ډېرو خواړو په مقابل کې یو قناعت که ته ولرې نو هغه کافی دی، مطلب یې دا دی چې د عبادت پر کثرت باندی تر ناز کولو ښه دی چې د شیخ په صحبت سره په تا کې عاجزی پیدا سی کوم چې تر زرو عبادتو افضل دهـ

**پیر باشد نرد بانِ آسمان**

**تیر پرّان از کہ گردد؟ از کمان**

مولانا رومی صاحب فرمایې چې پیر د آسمان زینه ده، آیا غشی بې له کمانه په هوا کیدای سی؟ غشی که څه هم د لسو لکو روپو وی، که څه هم د زرو، سپینو زرو او غمیانو وی، هغه به پر مځکه پروت وی تر څو چې کمان ته ځان ورنه کړی، شیخ کمان وی، که د شیخ سره تعلق نه لرې نو د علم سرېیره به پر مځکه پاته یې هیڅکله حق تعالیٰ ته نه سی

رسیدای، بعضی خلک وایي چې موږ اصلاح ته ضرورت نه لرو، بس اته کاله په مدرسه کی سبق ویل کافی دی او په علم سره ځوله اصلاح کیږی، که دغه خبره صحیح ده نو آیا د مولانا رشید احمد گنگوهی، مولانا قاسم نانوتوی او مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیهم سره علم کم وو چې دغه حضراتو د یو غیر عالم حاجی امدادُ الله مهاجر مکی رحمة الله علیه صحبت اختیار کړی، بس خپل شهرت مانع دی، د علم غرور ځوک خپل مشر جوړولو ته نه پریږدی لاکن آه! داسی خلک دحق تعالیٰ محبت په خوب هم نه سی لیدلای او د خپل خود خواهی او غرور په سبب همیشه په مثل د بې کمانه غشی پر مځکه پاته وی ؎

**چون گزیدی پیر نازک دل مباش        سُست ریزنده چو آب و گل مباش**

کله چې تا شیخ انتخاب کړی نو بیا نازک طبیعته کیږه مه چې شیخ معمولی غوندی خوشکه درته وکړه نو ستا په زړه کی کینه پیدا سوه او د ځنو په شان پر مځکه باندی مه مبنله بلکې دخدای په لار کی مستعد اوسه ؎

**کار مردان روشنی و گرمی است        کار دونان حیله و بی شرمی است**

دخدای د دوستانو کار په عمل کی مستعد اوسیدل دی، هغه دخدای د رضا دپاره او دهغه د خوابدتیا څخه د حفاظت دپاره ځان قربانولو ته تیار وی، د دې دپاره هغه خپله هم مستعد دی او د نورو دپاره هم د هدایت روښنایي او د عمل کولو سبب دی او د بد بخته خلکو کار پلمې او بهانې کول دی چې صاحبه د نن سبا په جامعه کی د ښځو څخه څنګه نظر وساتو، د سود څخه څنګه ځان وساتو، شرعی پرده څنګه وکړو او داسی نور، که څه هم په داغه جامعه کی اولیاء کرام خپل عمل ښکاره کوی.

❁❁❁

# مجلس درسِ مثنوی

۲۷ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۸ د دسمبر ۱۹۹۷ء د یک شنبې ورځ
د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

**پیش نُورِ آفتابِ خوش مساغ　　　رهنمائی جستن از شمع و چراغ**

مساغ معنٰی رفتار او د آفتاب د لغت ترتیب شاید تاسی فقط زما څخه واوری چې آفتاب په اصل کې آفت آب دی یعنی د اوبو دپاره آفت ځکه چې لمر اوبه وچوی، مولانا رومی صاحب دحق تعالیٰ په موجودی کې وغیرالله ته د زړه ورکونکو مثال ورکوی چې څنګه د ورځې پر دوولس بجې کله چې لمر د خپل رفتار پر عروج باندی وی او ټوله دنیا ته روښنایي ورکوی او ټوله دنیا دهغه په نور روښانه وی هغه وخت چې څوک د شمع یا څراغ څخه روښنایي حاصلول بې عقلی، نادانی او ظلم دی، همدغه رنګه دخدای په موجودی کې ښځو او لغړزنو هلکوانو ته زړه ورکول او دخدای په موجودی کې د غیرالله څخه قرار حاصلول طبعی خباثت، بې غیرتی او ظلم دی، په داغه خاطر زه د

**لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ** (سورت انبیاء، آیت ۸۷)

عاشقانه ترجمه دغه کوم چې یاالله! نسته څوک محبوب ماسوا ستا ځکه چې ته بې عیبه یې، د ټولو عیبو څخه پاک یې او موږ ډیر ظالمان یو چې ستا غوندی پاک او حقیقی محبوب په موجودی کې عیب داره، ناپاکه او فنا کیدونکی لاښو ته زړه ورکوو او ناپاکه عیب داره محبوب جوړه وو ــ

**بی گمان ترکِ ادب باشد زما　　　کُفرِ نعمت باشد و فعلِ هویٰ**

مولانا جلالُ الدین رومی صاحب فرمایي چې د لمر په موجودی کې د شمع او څراغ څخه روښنایي اخیستونکی ډیر بې ادبه دی یعنی د

حق تعالیٰ په موجودی کی پر غیرالله باندی قربانیدل، فانی حسن په لیدلو سره حق تعالیٰ هیرول دا زموږ د طرفه څخه بې ادبی، دخدای ناشکری، د نعمت ناشکری او فعلِ هوا یعنی د نفس خباثت دی ځکه چی د ټوله کاینات ذره ذره دحق تعالیٰ نښانی او دهغه د لازواله جمال شاهدی ورکوی، بس څونه لوی بې عقل او څونه لوی ناشکره دی هغه شخص کوم چی د لمر په موجودی کی شمع لګوی، حق تعالیٰ کوم چی د ټوله کاینات د حسن وخاوندانو ته نمک او حسن ورکوی بیا یې په قبرو کی په فنا کولو سره خاوری کړی، د داسی پاک ربّ په موجودی کی ته پر کومه روان یې، که د حسن خاوندانو ته په زړه ورکولو کی یو خیر وای نو حق تعالیٰ به نه وای منع کړی.

راته ووایاست یو پلار خپل اولادونه د کټی د شی څه راکرځوی؟ نو حق تعالیٰ به خپل بندګان څنګه د کټی د شی څخه راوګرځوی، که د لغړزنو سره لواطت ښه کار وای نو حق تعالیٰ به د لوط پر قوم باندی ډبری نه وای اورولی، زما یو شعر دی چی د علماوو او مدرسینو دپاره ډیر ضروری دی ے

**بچو گندے عمل سے امردوں سے دُور ہو جاؤ**

**اگر یہ فعل اچھا تھا خُدا پتھر نہ برساتا**

**ترجمه**: د غلط عمل(لواطت) څخه ځان وساته د لغړزنو څخه لیری سه، که دا ښه کار وو نو حق تعالیٰ به ډبری نه وای پر اورولی

مولانا رومی صاحب فرمایي چی دخدای ماسوا پر فنا کیدونکی شکلو باندی ځان قربانول او حق تعالیٰ خوابدی کول ډیره ناشکری، نفس پرستی او ظلم دی، لکه څنګه چی لمر د یو چا وړخته وی او هغه پر څراغ باندی قربانیږی ے

**گر خفاشی رفت در کور و کبُود　　　　بازِ سُلطان دیده را باری چہ بُود**

حق تعالیٰ دی د مولانا رومی صاحب قبر د نور څخه ورډک کړی فرمایي شوپرک کوم چي په شپه کي را زړیدلی وی هغه که په تاریکه کي بولی چیښی او غلاظت خوری نو موږ هیڅ تعجب نه پر کوو ځکه چي دهغه خصلت خراب دی، هغه د لمر دښمن دی، هغه ته د لمر سره د دښمنی دغه سزا ورکړل سوې ده چي په شپه کي چپه را زړیدلی وی او په کومه خوله چي خوراک کوی هم په هغه خوله مرداری کوی، که دهغه څخه دغه خبیث حرکتونه کیږی نو هیڅ د تعجب خبره نه ده لاکن ے

**بازِ سلطان دیده را باری چہ بُود**

هغه باز چي پاچا یې لیدلی وی، سترګو یې د پاچا دیدن کړی وی، هر وخت د پاچا پر لاس ناست وی په هغه ظالم څه سوی دی چي هغه هم د شوپرک په شان په مردار لښتیو کي غلاظت خوری یعنی کوم شخص چي د اولیاوو په صحبت کي اوسیږی، الله الله کوی، د چا روح چي دخدای د قرب خوند تر خوله کړی نو په هغه څه سوی دی چي دخدای ماسوا وښځو ته ګوری، لغړزنو ته ګوری، د لمر په موجودی کي پر څراغانو باندی قربانیږی او غیرالله ته زړه په ورکولو سره خدای خوابدی کوی.

دغه ښځو ته د کتلو مرض دونه عام دی چي هیڅ کلی او هیڅ ښار نه دی ځنی خلاص، تعلیم یافته وی که جاهل، ځوان وی که سپین ږیری ټوله په دې اخته دی الّا ماشاءالله، تر دې حده چي بعضی ملایان ځوانانو انجونو ته بې پرده قرآن شریف وایي او دا فکر کوی چي موږ ډیر د ثواب کار کوو، په فرانسه کي یوې انجلی یوه ملا صاحب ته وویل چي ملا صاحب ته چي دا موږ ته ګورې او د **يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ** (سورت نور، آیت ۳۰)

تفسیر راته بیانوې نو ته نه شرمیږې که سبق راته وایې نو پرده وزړوه راته وې وایه، بدنظری لعنتی ناجوړی ده.

دخدای پر نامه زه فریاد درته کوم چې د دې مرض څخه ځان وساتی، د دې کار څخه موږ ټوله باید توبه وکاږو ځکه چې نبی علیه الصلوٰة والسّلام پر هغه شخص باندی لعنت ویلی دی کوم چې د بل چا خور او مور ته ګوری **لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَيْهِ** (مشکوٰة، جلد۲ صفحہ۹۳۶) که څوک لغړزنی هلک ته ګوری نو هغه هم په دې کی شامل دی، ملّا علی قاری رحمة الله علیه د دې حدیث په شرح کی لیکلی دی چې دلته د نظر متعلقات نبی علیه الصلوٰة والسّلام نه دی بیان فرمایلی په خاطر د دې چې هر هغه نظر کوم چې حرام دی هغه په دې کی شامل سی دا د نبوت د کلام بلاغت دی.

مولانا رومی صاحب ښکلی خبره وفرمایل که شوپرک خصلته، دخدای څخه غافله او نافرمانه خلک داسی غلط حرکتونه کوی نو دا څه د تعجب خبره نه ده لاکن دخدای طلبګاره کوم چې دخدای پر لار روان دی هغه دی داسی غلطی نه کوی او په خبیث اعمالو کی په اخته کیدو سره دی دخدای څخه د لیریوالی په عذاب کی ځان نه اخته کوی، په داغه خاطر مولانا رومی صاحب دعا کوی ؎

**یار شب را روز مهجوری مده　　　جانِ قربت دیده را دُوری مده**

یاالله! کوم کسان چې تا د شپې خپل دوستان کړل یعنی د شپې دی د عبادت توفیق ورکړی په هغو د جدایی ورځ مه وینه، کومو ارواحو چې ستا د قرب خوند تر خوله کړی هغوته د ګناوو په سبب د لیروالی عذاب مه ورکوه، ښکلی د درده ډکه دعا ده چې خپل د شپې دوست ته د جدایی ورځ مه ورښکاره کوه یعنی د هری ګناه څخه هغه ته حفاظت ورپه نصیب که او د چا څخه چې ګناه وسی نو هغه ته د ډیری لوړی درجې

توبې توفیق ورکه، هغه ته په خپلو اوښکو کی د زړه وینه د شاملولو توفیق ورکه چی هغه شخص کوم چی د ګناه کولو په سبب ستا څخه د لیریوالی په عذاب اخته سوی وو بیرته ستا د قرب خوند تر خوله کړی، لکه څنګه چی ماهی د اوبو څخه د لیریوالی په خاطر ناقراره سوی وی بیرته اوبو ته په راتګ سره پر قراره سی.

مولانا جلالُ الدین رومی رحمة الله علیه فرمایی څنګه چی شوپرک ته قدرتی د لمر د دښمنی دغه سزا ورکړل سوې ده چی هغه په شپه کی چپه را زړیږی او په کومه خوله چی خوراک کوی هم په هغه خوله مرداری کوی، دهغه د خوړلو او کولو دفتر یو دی، همدغه رنګه کوم خلګ چی د اولیاوو سره دښمنی ساتی او دهغو غیبتونه کوی هغه هم د شوپرک په شان د جهالت، قهر او عذاب په تاریکه کی چپه را زړیږی، په کومه خوله چی هغه دخدای نوم اخلی هم تر هغه خوله د اولیاوو غیبت او د ښکنځلو غلاظت راباسی.

د داسی خلګو دپاره مولانا رومی صاحب یو بل مثال وړاندی کړی دی چی یو دریابی حیوان دی کوم چی په دریابو او سمندرو کی اوسیږی هغه ته دریابی غوا ویل کیږی، دهغه په سینه کی یوه ډیره ګرانه مرغلره وی، د شپې په څنګله کی د دریاب پر غاړه هغه دریابی غوا د خپلی خولې څخه هغه مرغلره راوباسی پر مځکه یې کښیږدی او دهغه مرغلری په روښنایی کی سنبل، ریحان او داسی نور خوشبوداره ګلان او بوټی خوری، په دغه خاطر دهغه مرداری د مشک او عنبر په شان خوشبوداره وی.

په دغه مثال سره مولانا رومی صاحب یو ډیر مهم مضمون بیانوی چی څنګه دهغه دریابی غوا په خوشبوداره غذا خوړلو سره خوشبویی پیدا کیږی همدغه رنګه

**هر که باشد قُوّتِ او نُورِ جلال　　　چون نه زائد از لبش سحرِ حلال**

هغه شخص د چا غذا چې نورِ جلال یعنی ذکر او عبادت وی نو دهغه د شونډانو څخه به سحر حلال یعنی تاثیرناکه کلام ولی نه راوځی

نو تاجران دهغه مرغلری په تلاش کې وی او په منګیانو کې یې خاوری، خوشایې، پروړ او داسې نور شیان اخیستې وی او په درختو کې تیار ناست وی، کله چې هغه دریایې غوا د سمندر پر غاړه خپله مرغلره تر خولې راوباسی او په خوراک پسې یو څه لیری ولاړه سی نو د درختې د سر څخه تاجران پر هغه مرغلره باندی خاوری او داسې نور شیان را واچوی چې په هغه تاریکه جوړه سی، په دې تاریکه کې هغه دریایې غوا وارخطا سی او څو واری د مرغلری پر خوا راسی لاکن ختمی چې ووینی نو ناامیده سی او بیرته وځغلی، د هغې نظر په ختو کې پټه مرغلره د لیدلو څخه قاصر وی، مولانا رومی صاحب فرمایې چې د دغه حیوان په شان ابلیس ملعون هم د حضرت آدم علیه السّلام فقط خاورین وجود ته نظر وکړی او د لویې په خاطر یې د تعظیمی سجدې څخه انکار وکړی او دخدای پر حکم باندی یې اعتراض وکړی چې زه خو د اور څخه جوړ یم او حضرت آدم د خاورو څخه جوړ دی او ځکه چې د اور کره تر خاورو لوړه ده په دغه خاطر اور تر خاورو افضل دی او د لویې په سبب د همیشه دپاره مردود سو او بدبخته دغه ونه لیدل چې د حضرت آدم علیه السّلام په خاورین وجود کې د نه د الٰهی خلافت مرغلره پټه ده.

مولانا رومی صاحب فرمایې همدغه رنګه ډیر نادان، بې عقله او حیوان قسمه خلک د اولیاوو په زړو کې چې دحق تعالیٰ د دوستی او تعلق کومه مرغلره پټه وی هغه د لیدلو څخه قاصر وی او دهغو خاورین وجود په لیدلو سره وایې چې څنګه موږ یو همداغسې دوی هم دی ے

**گفت اینک ما بشر ایشان بشر ما و ایشان بستهٔ خوابیم و خور**

موږ هم انسانان یو دوی هم انسانان دی، څنګه چې موږ د غذا او خوب محتاجه یو دوی هم محتاجه دی، زموږ هم یوه پزه ده او د دوی هم یوه پزه ده، څنګه دوه غوږونه چې زموږ دی هم هغسې د دوی هم دی، لهٰذا هغه اولیاء کرام په خاطر نه راوړی، مولانا رومی صاحب فرمایي د دې بدګمانی او د بصیرت د ړندوالی په خاطر ډیرو خلکو د نبیانو د همسری دعوه وکړه ـ

**همسری با انبیاء برداشتند اولیاء را همچو خود پنداشتند**

هغو کله د انبیاء کرامو سره د برابری دعوه وکړه او کله یې اولیاء کرام د ځان سره برابر وبلل لاکن دغه خلک دهغه دریابي غوا په شان دی په چا کی چی دونه عقل نه وو چې د خاورو په باطن کی پټ قیمتی مرغلره پیدا کړی ـ

**اشقیا را دیدهٔ بینا نبُود نیک و بد در دیده شان یکسان نمود**

بدبخته خلک د زړه د بینایي څخه محرومه وه په دغه خاطر نیک او بد هغوته یو شان په نظر ورغله او هغو د اولیاوو په باطن کی پټه د نبوت د نور او د نسبت د نور مرغلره ونه لیدل.

لهٰذا مولانا رومی صاحب نصیحت کوی چی اې خلکو! تاسی د حیوانانو په شان خالی د اولیاوو وجود ته مه ګوری بلکې دهغو په وجود کی چی کوم زړه دی په هغه کی چی دخدای د دوستی کومه مرغلره ده پر هغه نظر وکړی چی دهغه قیمت مځکه او آسمان هم نه سی ادا کولای، لمر او سپوږمۍ یې هم نه سی ادا کولای، د پاچاهانو تخت او تاج یې هم نه سی ادا کولای، د وریجو او غوښو خوندونه یې هم نه سی ادا کولای، د دنیاوی

معشوقانو عشق او د کاینات د ښکلاوو نمک یې هم نه سی ادا کولای ځکه چې الله **لَامِثْلَ لَهٗ** دی، الله بې مثاله دی لهٰذا دهغه دوستان هم بې مثاله دی.

مولانا رومی صاحب فرمايي چې ته د دې ارزښتناکه مرغلری څخه د حیوان په شان محرومه نه سې کنې ته به د الله د نورانی غذا څخه محرومه سې او وږی به مړ سی یعنی تاته به روحانی مرګ راسی، پر اولیاوو باندی بدګمانی کول د محرومی او بدبختی دروازه ده، د عام مسلمانانو سره چې د ښه ګمان ساتلو حکم دی نو دخدای خاص بندګان کوم چې د نفس د غلاظت څخه پاک سول او د خپل فدا کاری او جانبازی په سبب خدای ته محبوب سول پر هغو باندی بدګمانی کول به څونه لوی جرم او د الٰهی عذاب سبب وی، په دغه خاطر مولانا رومی صاحب فرمايي ؎

**متهم کم کن به دزدی شاه را　　　عیب کم گو بندۂ الله را**

دحق تعالیٰ د خاص بندګانو عیبونه مه بیانوه، زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب فرمايي چې په فارسی کی کم د مطلق نفی دپاره کاریږی د لږ او کمی دپاره نه کاریږی، لهٰذا خپلو عیبو ته ډیر اهمیت ورکه، خپلی ګناوی کوم چې په یقینی درجه کی داخل دی دهغه فکر وکه، ځان ملامت که، توبه او استغفار وکه، د بل چا پر عیب که دی نظر ومښتی نو داغه ګمان وکه چې د ده توبه به زما تر توبه افضله وی او د ده قرب به زما تر قرب اعلٰی وی. د شیخ سعدی شیرازی صاحب پیر شیخ شهاب الدین سهروردی رحمة الله علیه هغه ته دوه نصیحتونه کړی وه چې ؎

**یکی آن که بر غیر بد بین مباش　　　دوم آن که بر خویش خود بین مباش**

یو خو پر چا باندی بد نظر مه اچوه او دوهم پر خپل ځان باندی ښه نظر مه اچوه یعنی نور خلګ بد مه بوله او خپل ځان ښه مه بوله

ښکله ښایسته نصیحت دی سُبحانَ اللّٰه! یعنی خپل فکر وکه چې د قیامت په ورځ به څه راسره کیږی. حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایی خپلی ګناوی د کوړ (جذام) مرض وبوله او د نورو خلکو ګناوی د زکام مرض وبوله، خپلی ګناوی د پانسئ محکمه وبوله او د نورو خلکو ګناوی د ښاروالی جریمه وبوله، که پولیس یو څوک د ښاروالی جریمه کړی نو آیا پر هغه به هغه شخص خاندی پر چا چې د پانسئ محکمه جوړه ده؟ لهٰذا دلته زما یو شعر واوری ؎

**نا مناسب ہے اے دلِ ناداں اک جذامی ہنسے زکامی پر**

**ترجمه**: اې نادانه زړه! دا ښه خبره نه ده، چې یو جذامی پر زکامی باندی وخاندی

که د جذام مریض د زکام پر مریض باندی خاندی چې واه واه ترچې دی کیږی نو خلک به هغه ته وایی چې اې بې عقله! ته د خپل جذام فکر وکه، ستا د جذام خو هیڅ علاج نسته، خپله خو سر تر نوکه شوړیږې او څوک چې دی په زکام کی ولیدی نو پر هغه باندی خاندې.

یوه بله مراقبه واوری، د یو پاچا زوی دی هغه لښتی ته ولویدی او ټوله په مرداریو ولړل سو، وروسته پاچا عسکر ورواستول هغه یې راوکښی وې لمبوی، شاهی لباس یې په واغوستی، عطر یې په ووهل، مچ یې کړی او ورته وې ویل چې زویه داسی تک سړی نه کوی، لاکن کوم خلکو چې هغه په لښتی کی لیدلی وو هغه تر اوسه د پاچا په زوی پسخند وهی لاکن هغه هلک خو په شاهی لباس کی پاچا ته نژدې ناست دی، اوس که څوک دغه شهزاده ته بد ووایی نو پاچا به دهغه پوست ور واړوی، بس پر دې باندی دخدای غضب قیاس کړی چې د خپلو اولیاوو غیبت به دخدای ښونه ناخوښه وی.

په حدیثِ قدسی کی دحق تعالیٰ اعلان دی چی

**مَنْ آذیٰ لِیْ وَلِیًّا فَقَدْ اٰذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ**

**(بخاری جلد۴ صفحہ۱۵۶)**

څوک چی زما ولی ته تکلیف ورکړی زما دهغه سره د جنګ اعلان دی

علماوو لیکلی دی چی دا داسی ګناه ده چی پر دې باندی د خرابی خاتمې اندیښنه سته، دغه خبره مشهوره ده چی په فیل کار ولره لاکن د فیل په چنګوټی کار مه لره کنې فیل به لازمی انتقام درڅخه اخلی. دحق تعالیٰ ذات د اثر اخیستو څخه پاک دی، پر کفر او سرکښی باندی هم په دنیا کی انتقام نه اخلی کنې هیڅ کافر ته به هم یو څاڅکی اوبه نه وای ورکړل سوی، لاکن د خپلو دوستانو پر تکلیف باندی ډیر په غضب سی. مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

**هیچ قومی را خُدا رُسوا نه کرد**

**تا دلِ صاحبدلی نامَش به درد**

هیڅ قوم حق تعالیٰ نه دی رسوا کړی تر څو چی هغه دخدای یو دوست ته ازار نه دی ورکړی

د خپلو دوستانو د ازارولو څخه دی حق تعالیٰ موږ ټوله په خپل امان کی وساتی.

❁❁❁

# مجلس درسِ مثنوی

**۲۸ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۹ د دسمبر ۱۹۹۷ء د دوو شنبې ورځ د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه**

**ای عظیم از ما گناهان عظیم　　　تو توانی عفو کردن در حریم**

مولانا جلالُ الدین رومی صاحب دخدای په دربار کی عرض کوی چی اې عظیمُ الشان مالکه! زموږ لوی لوی ګناوی ستا د غیر محدود عظمتو ومخته هیڅ شی نه دی، د محترم مقام په سبب کماً او کیفاً د حرم شریف ګناه لوی جرم دی لاکن یاالله! که زموږ څخه په کعبه شریفه کی د ننه هم ګناه وسی نو هغه بخښل تاته هیڅ مشکل نه دی ځکه چی زموږ ګناوی که هر څونه لوی سی لاکن ستا تر غیر محدوده رحمت نه سی غټیدلای.

ددې مثال داسی دی لکه یو میږی چی د فیل پر پښه مښتی وی او ژاړی چی محترمه ما تاته ډیر تکلیف درکړی، ما ته پر پښه وخوړلې نو فیل ته به خندا ورسی چی اې نالایقه! زه خو په خبر سوی هم نه یم چی تا څه وخت وخوړلم، کوم نسبت چی د یو میږی د فیل سره دی دحق تعالیٰ د رحمت ومخته زموږ د ګناوو نسبت هغونه هم نه دی ځکه چی دحق تعالیٰ رحمت غیر محدوده دی او زموږ ګناوی که څه هم ډیری دی لاکن محدوده دی لهٰذا ډیر محدود د خپل ډیروالی سربیره د غیر محدود ومخته په اقلیت کی وی، دوهم دغه چی یاالله! زموږ په ګناوو سره تاته هیڅ تاوان ونه رسیدی، زموږ په ګناوو سره موږ ته تاوان را ورسیدی، په دغه خاطر ستا دپاره هغه ګناوی بخښل کوم چی تاته هیڅ تاوانی نه دی څه مشکل کار دی.

لهٰذا هر څونه لو ګناه چی وی دخدای څخه مه ناامیده کیږه، هغه ډیر لوی مالک دی، د سپوږمی او لمر، د بې شمیره ستورو، د شمسی

او قمری نظام مالک دی، موږ بخښنل هغه ته هیڅ مشکل کار نه دی، زما خو دا عقیده ده چې چا یوواری هم په محبت سره د الله نوم واخیستی حق تعالیٰ به هغه دوږخ ته ور وانه چوی، حق تعالیٰ داسی کریم ذات دی چې څوک یوواری خپل مقبول کړی بیا هیڅکله هغه نه مردودوی.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایي کوم شخص چې داسی وایي چې زما ګناوی خو دونه لوی لوی دی حق تعالیٰ به هغه څنګه بخښی نو دغه شخص په ښکاره خو ډیر عاجزه معلومیږی لاکن په حقیقت کی ډیر تکبر کونکی دی ځکه چې خپلی ګناوی دحق تعالیٰ تر رحمت لوی بولی.

مولانا رومی صاحب عرض کوی چې اې هغه پاک ذاته! کوم چې بې مثاله، غیر محدوده او د عظیم شان خاوند دی او د چا د عظمت ومخته چې زموږ د ګناوو د ډیروالی نسبت دونه هم نه دی کوم چې د څاڅکی د سمندر سره او د ذرې د دښت سره دی لهٰذا زموږ لو تر لو ګناه حتیٰ چې په کعبه شریفه کی د ننه هم که موږ کبیره ګناه وکړو نو دغه عظیم جرم بخښنل هم تاته هیڅ مشکل کار نه دی، بس یاالله! ته موږ وبخښنه ؎

منګر اندر زشتی و مکروهیم — که ز پُر زهری چو مار کوهیم

امام محمد رحمة الله علیه فرمایي

اَلْمَکْرُوْهُ هُوَ ضِدُّ الْمَحْبُوْبِ

مکروه د محبوب ضد دی

لهٰذا څوک چې مکروه کار وکړی هغه به څنګه دحق تعالیٰ محبوب جوړیږی، مولانا رومی صاحب دعا کوی چې یاالله! زما نالایقی، بدعملی او ناخوښه خبرو یعنی باطنی رذالت ته نظر مه کوه ځکه چې زه په مثل د غرنی مار زهری یم یعنی د ګناوو او نافرمانیو زهری مادې په ما کی ډکی دی، که

یو شی مانع نه وی او ستا فضل نه وی نو زما نفس به هیڅ ګناه پرینږدی، بس هم ستا په توفیق سره زه د ګناوو څخه په حفاظت کی یم، او د توفیق صفت څه شی دی،

**(۱) تَوْجِيْهُ الْاَسْبَابِ نَحْوَ الْمَطْلُوْبِ الْخَيْرِ:** د خیر اسباب مخته راسی.

**(۲) تَسْهِيْلُ طَرِيْقِ الْخَيْرِ وَتَسْدِيْدُ طَرِيْقِ الشَّرِّ:** د خیر لاری آسانه سی او د شر لاری بندی سی.

**(۳) خَلْقُ الْقُدْرَةِ عَلَى الطَّاعَةِ:** د اطاعت او فرمانبرداری قوت پیدا سی.

دا د شرح تهذیب عبارت دی. نفس د نافرمانی څخه نه سی راګرځیدای تر څو چی هغه ته دغه توفیق حاصل نه سی ځکه چی نفس امّاره بِالسُّوء دی یعنی کثیرُ الامر بِالسُّوء دی، د ګناه ډیر زیات حکم کونکی او پر بدعملی باندی ډیر حریص دی.

علّامه آلوسی رحمة الله علیه په روحُ المَعانی کی د نفس دغه صفت بیان کړی دی چی **اَلنَّفْسُ كُلُّهَا ظُلْمَةٌ وَسِرَاجُهَا التَّوْفِيْقُ** نفس سر تر نوکه ظلمت دی او دهغه څراغ توفیق دی، کله چی توفیق ورپه نصیب سی نو نفس روښانه سی او په مرقاة کی د نفس دغه صفت بیان سوی دی چی **اَلْجَسَدُ كَثِيْفٌ وَالرُّوْحُ لَطِيْفٌ وَالنَّفْسُ بَيْنَهُمَا مُتَوَسِّطَةٌ** بدن کثیف دی، روح لطیف دی او نفس د دې دواړو تر مابین متوسط دی، په نیک اعمالو سره لطیف سی او په بد اعمالو سره کثیف سی.

او د نفس کوم صفت چی حضرت تهانوی رحمة الله علیه بیان کړی دی هغه ډیر ښه او جامع دی حضرت فرمایي چی نفس نوم دی د مرغوباتِ طبعیه غیر شرعیه، د نفس هغه مرغوب شیان کوم چی شریعت اجازه نه ورکوی یعنی د نفس د خوښی هغه خبری چی حق تعالیٰ نه وی په راضی.

د نفس بدخصلتی خو د لَاَمَّارَةٌ بِالسُّوْء څخه ښکاره ده، نفس د خپل فطرت په حساب کثیرُالامر بِالسُّوء دی، د نافرمانیو زهری مادې او د ګناوو سختی تقاضې په ده کی دی که د اِلَّامَارَحِمَ رَبِّیْ یعنی د ربّ د رحمت سایه نه وی نو انسان د نفس د شر څخه نه سی خلاصیدای، په داغه خاطر په دغه شعر کی مولانا رومی صاحب حق تعالیٰ ته د نفس بدخصلتی او خبیث تقاضې په بیانولو سره په اصل کی دحق تعالیٰ څخه د رحمت د سایې خواست کړی دی چی په خپل رحمت سره ما د نفس د شر څخه وساته ے

**در کمالِ زشتیم من منتهی**
**لطف تو در فضل و در فن منتهی**

یاالله! زه د بدعملی په کمال کی انتها ته رسیدلی یم، منتهی فی السوء یم یعنی په بدعملی کی زما مثال نسته او ستا لطف او کرم په مغفرت، بخښښ او عفو کی د غیر محدوده کمال مقام لری ے

**حاجتِ این منتهی زان منتهی**
**تو بر آر ای غیرت سرو سهی**

یاالله! زما دغه نفس کوم چی په بدعملی او رذالت کی انتها ته رسیدلی دی، د دې منتهی فی الرذائل نفس اصلاح ته په خپل بې انتها او غیر محدوده لطف او کرم سره راوکړې ځکه چی ته د سرو سهی خالق یې کوم چی په حسن او ښایست کی ضرب المثل دی، بس د رذیل اخلاقو په سبب زما نفس بدخصلته دی په ښو اخلاقو یې داسی را ښایسته کړې چی سرو سهی هم ورته حیران سی.

# مجلس درسِ مثنوی

**۲۹ د شعبانُ المعظم ۱۴۱۸ھ مطابق ۳۰ د دسمبر ۱۹۹۷ء د سې شنبې ورځ د سهار اووه بجې، خانقاه امدادیه اشرفیه**

**ای مُحبِّ عفو از ما عفو کن　　　ای طبیب رنج ناسور کهن**

مولانا رومی صاحب د حق تعالیٰ په دربار کی عرض کوی چی اې بخښل محبوب عمل ګرځونکې الله! زما ګناوی راوبخښه او اې د باطنی رذالتو طبیبه! زما د زاړه ناسور ټوله امراضو او باطنی رذالتو ته شفاء ورکړې د مولانا رومی صاحب دغه شعر د بخاری شریف د یو حدیث ترجمه ده.

نبی علیه الصلوٰة والسّلام ارشاد فرمایې **اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ** (سنن ابن ماجہ جلد۵ صفحہ ۲۰) د حدیثو په ځنی کتابو کی د **عَفُوٌّ** وروسته د **كَرِيْمٌ** اضافه ده، نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایې یاالله! ته ډیر بخښونکی یې، ملّا علی قاری د **عَفُوٌّ** شرح دغه کړې ده چی **كَثِيْرُالْعَفْوِ** یعنی کوم چی ډیر زیات بخښونکی وی او رحمةٌ للعٰلمین صلّی الله علیه وسلم د ارحمُ الرّاحمین ربّ د رحمت په دریاب کی د جوش پیدا کولو دپاره کریم ورسره اضافه کړی چی زما د اُمَّت نالایقه، نااهله، ګناهګار او خطاکاره بندګان هم وبخښل سی او د اُمَّت یو سړی هم داسی پاته نه سی کوم چی ونه بخښل سی ځکه چی کریم هغه ذات دی کوم چی د خپل کرم څخه نالایقه هم نه کړی محرومه او د بخښنښ لیاقت نه لرونکی هم وبخښی او محدثینو د کریم څلور معناوی بیان کړی دی

**(۱) اَلْمُتَفَضِّلُ عَلَيْنَا بِدُوْنِ الْاِسْتِحْقَاقِ وَالْمِنَّةِ:** کریم هغه دی کوم چی د خپل کرم څخه نالایقه هم نه کړی محرومه، د چا چی حق نه جوړیږی هغه ته یې هم ورکړی.

**(۲) اَلْمُتَفَضِّلُ عَلَيْنَا بِدُوْنِ مَسْئَلَةٍ وَلَاسُؤَالٍ:** کوم چې بې له سواله او بې له غوښتنې پر موږ مهرباني وکړي.

بې شمېره نعمتونه داسې دي کوم چې حق تعالیٰ بې له غوښتنې راکړي دي لکه زموږ ایمان چې فقط د حق تعالیٰ کرم دی، په دې کې زموږ د کوښښ هیڅ دخل نسته، په عالمِ ارواح کې موږ بې ژبې وو، موږ سوال نه وو درته کړی چې یاالله! موږ د مسلمان په کور کې پیدا که لاکن بې له طلبه او بې له سواله تا د مسلمان په کور کې په پیدا کولو سره ایمان راکړی او په مفته دې د جنت ټکټ راکړی، همدغه رنګه هره لمحه بې شمېره فضل او عنایتونه بې له سواله راباندې کوي.

**(۳) اَلْمُتَفَضِّلُ عَلَيْنَا فَوْقَ مَا نَتَمَنّٰى بِهٖ:** یعنې کوم چې زموږ تر خواهشاتو ډېر راکړي، لکه د یو کریم شخص څخه چې یو سړی یو بوتل عسل وغوښتی نو هغه پوره ژی ورکړه، بل چا پوښتنه ځنی وکړه چې هغه خو یو بوتل وغوښتی تا پوره ژی ولې ورکړه، ورته وې ویل چې هغه د خپلې حوصلې په حساب طلب وکړی ما د خپلې حوصلې په حساب ورکړل، د دنیا د کریمانو چې دغه حال دی چاته چې د کرم یوه ذره ورکړل سوې ده نو دهغه اصلي کریم ذات د کرم به څه حال وي ؎

**میرے کریم سے گر قطرہ کسی نے مانگا**

**دریا بہادئے ہیں دُربے بہادئے ہیں**

**ترجمه**: زما د کریم ربّ څخه که چا څاڅکي وغوښتی، نو هغه دریابونه او ولې ورته وبیولې

**(۴) اَلْمُتَفَضِّلُ عَلَيْنَا وَلَايَخَافُ نَفَادَ مَاعِنْدَهٗ:** کریم هغه دی چې موږ ته یې بې انتها راکړي او خپلې خزانې د ختمېدو اندېښنه چې څوک ونه لري،

ځکه چې د غیر محدوده خزانو مالک دی او د خپلو خزانو څخه بې نیازه دی، هم زموږ دپاره هغه خزانې دی.(ترمذی کتاب الدعوات جلد۲ صفحه ۱۹۱)

نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایي یاالله! ته ډیر بخښونکی یې او کریم هم یې، نالایقه او د بخښښ لیاقت نه لرونکی هم وبخښې **تُحِبُّ الْعَفْوَ** او فقط بخښې یې نه بلکې خپل بندګان بخښل تاته ډیر محبوب دی، د **تُحِبُّ الْعَفْوَ** دغه شرح **اَیْ اَنْتَ تُحِبُّ ظُهُوْرَ صِفَةِ الْعَفْوِ عَلٰی عِبَادِكَ** ملّا علی قاری رحمة الله علیه څنګه ښایسته کړې ده چې پر خپلو بندګانو باندی د خپل بخښښ صفت ښکاره کول تاته ډیر محبوب دی یعنی خپل ګناهګاره بندګان د بخښلو عمل تاته ډیر محبوب دی.

تر نبی علیه الصلوٰة والسّلام زیات دحق تعالیٰ د الوهیت او ربوبیت مزاج څوک پیژندلای سی، لهٰذا د خپل اُمَّت د بخښښ دپاره نبی علیه الصلوٰة والسّلام په څنګه څنګه عنوانو سره دحق تعالیٰ صفتونه کوی ځکه چې **ثَنَاءُالْکَرِیْمِ دُعَاءٌ** د کریم صفت کول هغه ته خواست کول دی.

لکه څنګه چې یو کریم ته دا وویل سی چې ته هیڅوک نه محرومه کوې نو د دې معنٰی دا ده چې ماته یې هم راکه، ځکه چې نبی علیه الصلوٰة والسّلام د حق تعالیٰ څخه د اُمَّت دپاره بخښښ غوښتی په دغه خاطر یې دحق تعالیٰ د عفو د صفت واسطه ورکړه چې یاالله! ته ډیر بخښونکی یې او د بخښلو عمل ته خپله محبوب ساتې، لهٰذا د بخښښ عمل د جاری کولو دپاره یو سبب او تحفه خو باید وی، خلک چې پاچاهانو ته ورځی نو د پاچاهانو د طبیعت په حساب سوغات وروړی، ته خو د پاچاهانو پاچا یې، سُلطانُ السلاطین یې، موږ ستا په طبیعت څنګه خبریدای سو ځکه چې موږ حادث او ته قدیم یې، موږ فانی او ته غیر فانی یې دا خو د نبی علیه الصلوٰة والسّلام احسان دی چې موږ ته یې دا راوښول چې دحق تعالیٰ

محبوب عمل پر ځان باندی د جاری کولو لار توبه او پښیمانی ده، لهٰذا موږ گناهگارانو پر خپلو گناوو باندی د پښیمانی او توبې سوغات راوړې تاته حاضر سوی یو او د نبی علیه الصلوٰة والسّلام راښولی درخواست تاته کوو چې **فَاعْفُ عَنِّیْ** موږ گناهکاران په بخښلو سره خپل محبوب عمل پر موږ جاری که، ستا به محبوب عمل سی او زموږ به کار سم سی، لهٰذا نبی علیه الصلوٰة والسّلام فاء تعقیبیه استعمال کړه چې یاالله! په بخښلو کی ځنډ مه کوه موږ ژر وبخښه ځکه چې بخښل خپله تاته محبوب دی۔

**من نگویم کہ طاعتم بپذیر قلمِ عفو بر گناھم کش**

یاالله! زه دغه نه وایم چې ته زما طاعتونه راڅخه قبول که ځکه چې زما هیڅ طاعت د قبلیدو لیاقت نه لری، بس زه دغه غواړم چې ته زما پر گناوو باندی د عفو قلم راتیر کړې او زما جرمونه راوبخښې۔

**کیمیا داری کہ تبدیلش کنی گر چہ جُوی خُون بُوَد نیلش کنی**

مولانا رومی صاحب دعا کوی چې یاالله! که څه هم زما په باطن کی د رذیل اخلاقو د وینو دریاب بهیږی یعنی زما اعمال او اخلاق ډیر خراب دی لاکن ستا رحمت داسی د کیمیا تاثیر لری چې ته زموږ د رذیل اخلاقو د وینو دریاب د ښو اخلاقو د نیل دریاب جوړولای سې یعنی زموږ گناوی په نیکیو سره او زموږ رذالت په فضیلت سره رابدلولای سې، پر داغه مضمون باندی زما یو څو شعرونه دی۔

**ترے دستِ کرم کی کیمیا تاثیر کیا کہئے**
**کسی ذرّہ کو تیرا دم میں خورشید و قمر کرنا**

**ترجمه**: یاالله! ستا د کرم تاثیر زه څه بیان کم، یوه ذره ته یودم د لمر او سپوږمۍ په شان روښانه کولای سې

**جو تیری راہ میں روباہ خصلت سے ہیں پسماندہ**

**تجھے مشکل نہیں ایسوں کو رشکِ شیرِ نر کرنا**

**ترجمه**: څوک چې ستا په لار کې د چغالتوب په سبب پس پاته دي، تاته هیڅ مشکل نه دی چې داسې کسان تـر زمریانو بالا کړې

**تجھے مشکل نہیں مسکیں کو سُلطانِ جہاں کردے**

**کرم سے اپنے اخترؔ کو ترا شمس و قمر کرنا**

**ترجمه**: تاته هیڅ مشکل نه دی چې مسکین د جهان پاچا کړې، او ما په خپل کرم سره د لمر او سپوږمۍ په شان روښانه کړې

**یہی ہے راستہ اپنے گناہوں کی تلافی کا**

**تری سرکار میں بندوں کا ہر دم چشم تر کرنا**

**ترجمه**: همداغه لار د خپلو ګناوو د تلافي ده، چې بندګان باید هر وخت ستا په دربار کې په اوښکو ژاړي

**کیست ابدال؟ آن کہ اُو مبدل شَود خمرش از تبدیلِ یزدان خَل شَود**

مولانا رومي صاحب فرمايي چې ابدال څوک دي؟ د چا چې اخلاق بدل سي، د چا ظاهر او باطن چې د سنت او شريعت تابع سي او د چا د رذيل اخلاقو شراب چې دخدای په فضل او مرضی سره د ښو اخلاقو په سرکه بدل سي، دنیاوي شرابو ته که سرکه ورواچول سي نو هغه سرکه جوړه سي، کوم شراب چې څکل حرام وه، کوم شراب چې په چيښلو سره به خلک ليونيان او بې عقله کيدل اوس سرکه په جوړيدو سره **نِعْمَ الْاِدَامُ** يعنی ډير ښه کتغ جوړ سو کوم چې اوس په خوړلو سره خلک قوت او صحت حاصلوي، همدغه رنګه حق تعالیٰ چې د چا د بدلولو فيصله وکړي

دهغه د ګناوو بدمستی او د ګناوو تقاضې ټوله په ښو اخلاقو بدل سی، تر پرونه چې څوک دخدای څخه غافله وو اوس هغه هر وخت دخدای په یاد کی مست دی او یو مخلوق دهغه څخه دخدای محبت د حاصلولو دپاره په هغه پسې دی او دهغه ژوند د نورو د روحانی ژوند سبب دی.

بس حقیقی ابدال هم هغه دی کوم چې بدل سی، د چا ظاهر او باطن ته چې دخدای د محبت آخری مقام صدیقیت حاصل سی او د دې دلیل به دهغه د خولې دعوې نه وی بلکې دهغه به پر تقوا باندی استقامت وی چې په هیڅ حال کی به هغه دخدای د غلامی څخه نه وځی کنې فقط د خولې په دعوو څه کیږی، یو سړی حضرت تهانوی رحمة الله علیه ته ولیکل چې زموږ په کلی کی یو شخص دی هغه دعوه شروع کړې ده چې زه ابدال یم، حضرت تهانوی صاحب په خندا ورته وفرمایل چې وو هغه ترمخه غوښه وه اوس اب دال (یعنی نخود) سو او وې فرمایل چې دهغه دغه دعوه دلیل ده چې هغه ابدال نه دی ځکه چې څوک ابدال وی هغه نارې نه وهی چې زه ابدال یم، اولیاء کرام خو ځانونه پټوی، خپل اعلانونه نه کوی ؎

**ای خُدا این بنده را رسوا مکن گر بدم من سر من پیدا مکن**

اې خدایه! که زما ګناوی بې شمیره دی نو ستا د ستّاری پرده خو هم غیر محدوده ده، بس زما بې شمیره لاکن محدود ګناوی ته د خپل غیر محدوده ستّاری د پردې په یوه کونج کی راپټی که او ما مه رسوا کوه، که څه هم زه بد یم لاکن زما عیبونه تا د مخلوق څخه پټ ساتلی دی، بس ته همیشه پر ما پرده وساته او زما عیبونه پر مخلوق باندی مه ښکاره کوه مه په دنیا کی مه په آخرت کی، زموږ نیکه پیر شیخُ العَرب وَالعَجم حضرت حاجی امدادُالله مهاجر مکی رحمة الله علیه په کعبه شریفه کی ټوله شپه په سجده کی دغه شعر ویلی او ژړل یې، تر دې حده چې د سهار اذان سو.

# مجلس درسِ مثنوی

۲ د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱ د جنوری ۱۹۹۸ء د جمعې شپه
د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

**سُوی آھوئی بہ صیدی تافتی — خویش را در صید خوکی یافتی**

مولانا رومی صاحب فرمایي چې ته په ناز او لوبي سره د اوسی په ښکار پسی راووتې چې نن زه لازمی د اوسی ښکار کوم لاکن ستا ناز مات سو او یودم تا خپل ځان ولیدی چې یو ځنګلی خنزیر د زوزانو د شا څخه راووتی او تاته یې خوله در واچول او په خپلو غټو غټو غاښو یې ته چیچل شروع کړې، مولانا رومی صاحب فرمایي دغه رنګه بعضی دخدای طلبګاران دخدای محبت او دخدای د تعلق دولت د حاصلولو دپاره د یو شیخ سره تعلق پیدا کړی، په ذکر او عبادت اخته سی چې دخدای قرب حاصل کړی لاکن نفس او شیطان هغه د ځنګلی خنزیر په شان د یو مجازی معشوق په عشق اخته کړی.

شیطان خو نفس ګناه ته آماده کړی ځنی ولاړ سی بیا نفس ځنګلی خنزیر سړی په خوله کی ونیسی او چیچی یې او پر ځای د دې چې سړی خدای ته ورسیږی پر یو فانی لاښ باندی قربان سی یعنی د یوې ښځې یا لغړزنی هلک په عشق کی په اخته کیدو سره د غلاظت پر مقام باندی په ډیر ذلت او بې عزتی سره د خپل ژوند شپې او ورځې په ضایع کولو سره د **خَسِرَ الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةَ** مصداق جوړ سی.

طبعی د نفس مزاج د ټپوس دی یعنی نفس په طبعیت کی ټپوس دی، مردار خوره دی، په ډیر مشکل سره نفس ته پاکی حاصلیږی، ډیره زمانه غواړی چې سړی وخدای ته وژاړی او د خپل شیخ خدمت وکړی

او دهغه دعاوی یوسی، دخدای فضل چې کله وسی بیا نفس ته د مردار خوری څخه نجات ورپه نصیب کیږی او دهغه پوستوب په شاهبازی بدل سی، کله چې دغه تبدیلي راسی د تبدیلي دغه مقام ته مولانا رومی صاحب فرمايي چې د شیخ په دعاوو سره او د طالب پر کوښښ او اراده باندی چې کله دخدای فضل وسی نو بیا دخدای طلبګاره ته د غیرالله څخه نجات ورپه نصیب سی، بیا فرمايي ـــ

**باز سُلطانم گشم نیکو پیم　　　فارغ از مردارم و کرگس نیم**

دغه گشم کشتم وو لاکن د "ت" په خاطر د شعر وزن خرابیدی لهٰذا "ت" یې د شعر د ضرورت په خاطر حذف کړه، فرمايي چې زه د خپل سلطان یعنی د خپل الله شاهباز سوم، دهغه په قرب مشرفه سوم او د خپل یار د قرب لذت زه د پردو څخه بیګانه کړی یم یعنی ما د ټولو ګناوو څخه توبه کښلې ده او د توبې سواری عجبه سواری ده چې پر کښېنستلو سره هر شخص د مځکی څخه د آسمان پر خوا په هوا کیدای سی ـــ

**مرکبِ توبہ عجائب مرکب است　　　تا فلک تازد بہ یک لحظہ ز پست**

مولانا رومی صاحب فرمايي چې د توبې سواری عجبه د برکت سواری ده کوم چې ګناهګاره په یوه لمحه کی د ګناوو د ذلت د ځاه څخه په را ایستلو سره دخدای د قرب دربار ته ورسوی، د ګناهګارانو پر ژړا او فریادو باندی د رحمت په دریاب کی داسی جوش پیدا سی چې د سلو کالو کافر په مسلمان کیدو سره یودم د اولیاوو دپاره د فخر لایق جوړ سی ـــ

**جوش میں آئے جو دریا رحم کا　　　گبرِ صد سالہ ہو فخرِ اولیاء**

**ترجمه**: د رحمت دریاب چې کله پر جوش راسی، د سلو کالو کافر د اولیاوو دپاره د فخر لایق جوړ سی

په حدیثِ قدسی کی حق تعالیٰ فرمایی **لَاَنِیْنُ الْمُذْنِبِیْنَ اَحَبُّ اِلَیَّ مِنْ زَجَلِ الْمُسَبِّحِیْنَ**(روح المعانی،سپاره۳۰) دګناهګارانو ژړا ماته د تسبیح ویونکو تر غښو آوازو ډیره محبوب ده۔

**اے جلیل اشکِ گنہگار کے اِک قطرہ کو ہے فضیلت تری تسبیح کے سو دانوں پر**

**ترجمه**: اې جلیله! د ګناهګار د اوښکو یو څاڅکی، ستا پر سلو دانو تسبیح زیات فضیلت لری

نو مولانا رومی صاحب فرمایي چې د توبه کښلو په برکت زه اوس نیک سوی یم او د حرام عشق او محبت څخه پاک سوم، اې دنیاوالو! زه اوس ځپوس نه یم، اوس زه مردار خوره نه یم، اوس زه دهغه حیٌّ او قیُّوم ذات په اعلٰی قرب مشرفه یم او د ځپوستوب څخه حق تعالیٰ پاک کړم.

د پاچا باز جلا وی هغه د نورو ښکار کوی او تر پاچا یې رسوی، ځپوس دغه نه سی کولای، لهٰذا د باز سره دوستی وکه هغه به تا تر سلطانه ورسوی او که د ځپوس سره دوستی وکړې نو هغه به تا تر یو مرداره ورسوی، په دا خاطر مولانا رومی صاحب فرمایلی دی۔

**یارِ مغلوبان مشو هین ای غوی یارِ غالب جو که تا غالب شوی**

هین معنٰی خبردار او غوی معنٰی نادان، بې عقل او سرکښ یعنی اې بې عقل او نادانه! څوک چې نفس او شیطان ته خپله مغلوبه دی هغه خپل یار مه جوړوه، کوم پیران چې په ښځو پښې چاپی کوی، چرس سکوی، د قمار نمبرونه وایي، پر طبله او ډول باندی قوالی اوری، نه لمونځ کوی نه روژه نو دا خو خپله نفس ته مغلوبه او د نفس او شیطان اجنټان دی، هغو ته ورنژدې کیږه لا مه کنې ته به هم مغلوبه سې لهٰذا داسی کسان خپل دوستان که کوم چې د خپل نفس پر رذالت باندی غالبه سوی

وی، که ته پر خپل نفس باندی غالبیدل غواړې نو د داسی خلګو په صحبت کی واوسیږه کوم چې پر خپل نفس باندی غالبه سوی دی نو د غالب صحبت به تا غالب کړی یعنی دهغو د صحبت په برکت به ته هم پر خپل نفس باندی غالبه سې.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه دغه مضمون په خپل وعظ کی بیان کړی چې یو شخص د پاچا په کور کی مزدور وو، د ښځو خدمت دهغه پر غاړه وو، څو کاله هغه په ښځو کی واوسیدی، دباندی نه دی راوتلی، یوه ورځ په قصر کی مار راووتی نو د پاچا ښځو نارې شروع کړې چې ژر یو نارینه را وغواړی چې مار مړ کړی نو هغه سړی هم نارې شروع کړې چې ژر یو نارینه را وغواړی، ښځو ورته وویل چې ته خو هم نارینه یې نو هغه وویل چې آیا رشتیا زه هم نارینه یم، نو حضرت تهانوی صاحب وفرمایل چې د صحبت دونه تاثیر وی چې د دغه ظالم خپل نرتوب هم هیر سو.

په دغه خاطر په کلی کی اوسیدلو ته ظلم ویل سوی دی، د مشکوٰة شریف حدیث دی **مَنْ سَكَنَ الْبَادِيَةَ جَفَا** **(مشکوٰة، جلد۲ صفحہ ۱۰۹۳)** څوک چې په کلی کی اوسیږی هغه پر ځان ظلم کوی. ځکه چې په کلی کی اکثره مدرسې او دارُالعلوم نه وی او هلته لوی علماء او بزرګان نه اوسیږی، علمی ماحول نه وی، زیات د بې علمو سره اوسیدل وی، هلته د دینی زده کړو او د دینی کارو موقع نه وی په دغه خاطر په ښار کی په اوسیدو کی خیر دی چیری چې لوی لوی علماء موجود وی او هلته د دین د خدمت ډیره موقع وی.

د سورتِ یوسف په تفسیر کی دی چې کله د حضرت یوسف علیه السّلام مور او پلار د کلی څخه ښار ته راغلل نو هغو پر دې باندی دخدای شکر ادا کړی، مفسرینو لیکلی دی چې د ښار ژوند د کلی تر

ژوند د افضل کیدو سبب دغه دی چی په کلی کی د بدن عافیت هم نه وی او د دین پر مختګ هم نه وی، څوک چی لوی بزرګ وی هغه به خپله هم په کلی کی په کراره کراره کمزوره سی ځکه چی د دین نشرولو میدان به نه لری، په کلی کی خو د جماعت د لمانځه لا پابندی نه وی، بس ټوله ورځ خلک خپله بزګری وکړی د شپې چی راسی خپل جلا جلا لمونځونه وکړی بیده سی.

نو په اول شعر کی مولانا رومی صاحب دحق تعالیٰ قدرت او عجب تصرفات په یو مثال سره بیانوی چی په مثل د اوسې د ښکاریانو ځنی دخدای طلبګاران دخدای محبت د حاصلولو دپاره دخدای پر لار روان سی لاکن د ناز او لویې په سبب خپله د نفس ځنګلی خنزیر ښکار سی او د مجازی عشق په عذاب اخته سی او خدای ته ونه رسیږی، په دغه خاطر مولانا رومی صاحب نصیحت کوی چی ناز او نخرې مه کوه، ځان کمتره، ذلیل او کمزوری وبوله او دخدای څخه هر وخت پناه غواړه چی یاالله! په خپل رحمت سره موږ په خپل حفاظت کی واخله او د خپل قرب منزل راپه نصیب که، په یو بل شعر کی مولانا رومی صاحب فرمایې ـه

**تیر سوی راست پرّانیدهٔ          سوی چپ رفته است تیرت دیدهٔ**

دحق تعالیٰ تصرفات او قدرت د بندګانو ناز او لویې د ماتولو دپاره مولانا رومی صاحب په دغه شعر کی دوهم مثال بیانوی چی اې شخصه! تا غشی راسته خوا ته وغورځاوه لاکن تا ولیدی چی ستا هغه غشی چپې خوا ته روان دی، مطلب یې دا دی چی ته دخدای څخه امداد، دعا او زاری نه کوې بلکې پر خپلو کمالاتو باندی ناز کوې، بس اې دخدای طلبګاره! ته پر خپل تدبیر باندی باید ناز ونه کړې، د تدبیر ښه نتیجه دخدای په قبضه کی ده، لهٰذا تا باید دخدای څخه د دعا وروسته غشی غورځولی وای چی

یاالله! زما غشی تر خپل منزله ورسوه یعنی زما تدبیر ته د خپل قرب منزل ورپه نصیب که او د لویي او تکبر څخه حفاظت راپه نصیب که ځکه چي د لویي او تکبر د ناسیت په خاطر کله چي دحق تعالیٰ رحمت او نصرت لیری سی نو د تدبیر تاثیر چپه سی ے

**از قضا سرکنگبین صفرا فزُود　　روغنِ بادام خشکی می نمود**

مولانا رومی صاحب فرمایي چي سکنجبین کوم چي د علاج په اعتبار د صفراء د ختمولو سبب دی هغه دحق تعالیٰ په حکم سره صفراء د ډیریدو سبب جوړ سی ے

**گہ چو کابوسی نماید ماه را　　گہ نماید روضہ قعرِ چاه را**

د ناز او لویي د ناسیت په خاطر د زړه په بصیرت کی فساد پیدا سی په دغه سبب بصارت فاسد سی او بیا داسی شخص حق باطل او باطل حق بلل شروع کړی، د اولیاوو او د مقبول بندګانو روښانه مخان بدبختانو ته ناسی او خراب ورمعلومیږی او د اهلِ باطل مخان هغوته محبوب او روښانه ورمعلومیږی، د دې ابتلا سبب دهغو د باطن کبر او اعراض وی، حق تعالیٰ فرمایي

**بَلۡ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيۡهَا بِكُفۡرِهِمۡ**

**(سورت نسآء، آیت ۱۵۵)**

دهغو د مسلسل کفر او پر کفر باندی د همیشه قایم پاته کیدو د ارادې په خاطر حق تعالیٰ دهغو پر زړو باندی مهر ولګوی او دا ظلم نه دی ځکه چي دهغو نیت د حق قبلولو نه وو په دغه خاطر مهر پر ولګول سو، دا د قهر عذاب دی کوم چي د نبیانو او اولیاوو د سپوږمی په شان مخان خراب وربښکاره کوی او د کفر تاریک ځاه ښایسته باغ وربښکاره کوی، مولانا رومی صاحب په بل شعر کی فرمایي ے

**اشقیا را دیدۂ بینا نبود — نیک و بد در دیده شان یکسان نمود**

د بدبخته خلکو چشمی بصیرت خراب وو او ظاهری بصارت د باطنی بصارت تابع دی، بس د باطنی فساد او قلبی فساد په سبب د هغو په سترګو کی ښه او بد د پیژندلو طاقت نه وو، بد یې ښه او ښه یې بد بلل شروع کړل ؎

**همسری با انبیاء برداشتند — اولیاء را همچو خود پنداشتند**

د خپلی بدبختی او باطنی ړندوالی او د زړه د فساد یعنی تکبر او لویی په سبب هغو د نبیانو برابری شروع کړه او اولیاوو ته یې په سپک نظر وکتل او هغه یې پر ځان قیاس کړه، لکه څنګه چی یو قصه ده چی یو تور حبشی په ځنګله کی هینداره ولیده، په هینداره کی چی حبشی خپل تور مخ، غټ غټ غاښونه او پنډ پنډ شونډان ولیدل نو حبشی هینداری ته ښکنځل وکړه او ورته وې ویل چی بدبخته، بدشکله، ناسی، داسی بدرنګه یې په داغه خاطر خو یو چا په ځنګله کی غورځولی یې که ښایسته وای نو خلکو به په کور کی د نمایش دپاره ایښی وای، دغه حبشی ظالم په دې نه وو خبر چی خرابی په دغه هینداره کی نه وه بلکې دا خو خپله زما د مخ عکس وو.

لهٰذا د بصیرت د داغه ړندوالی په سبب ابوجهل ته د نبی علیه الصلوٰة والسّلام مبارک مخ ډیر بد ورمعلومیدی او د حضرت ابو هریره رضی الله عنه صحیح بصیرت دغه فیصله کول

**كَأَنَّ الشَّمْسَ تَجْرِيْ فِيْ وَجْهِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**

**(ترمذی، جلد ۵ صفحہ ۲۶۴)**

چی ماته د نبی علیه الصلوٰة والسّلام په مبارک مخ کی لمر رفتار کول رامعلومیدی

لهٰذا دحق تعالیٰ څخه باید سړی وبیریږی او د عمل د ناسیت په خاطر کله چې دحق تعالیٰ قهر نازل سی نو دغه رنګه د اولیاوو پیژندنه هم نه کیږی، په خاصه باید دحق تعالیٰ څخه د خپل شیخ محبت او عظمت وغوښتل سی ځکه چې سړی که خپل شیخ ته په سپک نظر وګوری نو داسی شخص هیڅکله فلاح (یعنی د دواړو جهانو کامیابی) نه سی حاصلولای.
ملّا علی قاری رحمة الله علیه فرمایي

مَنِ اعْتَرَضَ عَلٰی شَیْخِهٖ وَنَظَرَ اِلَیْهِ اِحْتِقَارًا فَلَا یُفْلِحُ اَبَدًا

(مـــرقـــاة، جلد ا صفحـــه ۲۲۷)

چا چې پر خپل شیخ باندی اعتراض وکړی او هغه ته یې د حقارت په نظر وکتل نو دغه سړی هیڅکله نه سی کامیابه کیدای

همداسی کله چې یوې ښځی یا هلک ته په کتلو سره په نفس کی د خوشحالی جوش راپورته سی نو دستی دحق تعالیٰ څخه وبیریږه او پوه سه چې دا دهغه څاه تیاره ده کوم چې د تقلیبِ ابصار په خاطر ډیر ښه باغ معلومیږی، د دې څه توبه وکاږه ځکه چې پر ګناه باندی خوشحاله کیدل دا دحق تعالیٰ سره بې وفایي ده.

کله چې نفس د حسن خاوند ته په کتلو سره خوند واخلی یا یو حرام خوشحالی او بدمستی چې په نظر درسی نو سترګی ځنی واړوه او نفس ته د تکلیف یو خبره ورپه یاد که، د دوږخ اور په یاد که، قبر یا د قیامت حاضری په یاد که یا په تنهایي کی پر خپل سر باندی درې واری چیلکی و اوروه چې ته ولی خوشحاله سوې، نفس ته دستی دونه غم ورکه چې وزن او اندازه یې برابره سی او د غم ورکولو یوه بله لار بزرګانو بیان کړې ده ځکه چې بعضی وخت نفس د دوږخ او د قبر په عذاب، د قیامت په حاضری او په داسی نورو خبرو هم تاثیر نه اخلی، نفس لیونی غوندی سی،

لهٰذا نفس ته د غم ورکولو ډیر ښه او مجرب علاج مشایخو بیان کړی دی چې دستی اودس تازه که او اته یا لس رکعته نفل په نفس وکه، بس دغه رکعتونه به تـر ټولو مراقبو درانه وی.

بیا شیطان هم سړی پریږدی چې په ده خو ما بدنظری وکړه او په کوښښ سره می توجه پر واچول، دهغه حسن د خاوند پر مخ باندی می نظر بندی وکړه چې دهغه معمولی غوندی حسن دته ډیر ورمعلوم سو، سره سره بارخوګان می ښه سره ورښکاره کړه چې خلک په لیونیان سی لاکن ده په ژړا توبه وکښل او په توبه کښلو سره یې خطا وبخښل سوه او اته او لس رکعته نفل یې نور پسی وکړه او یو څه صدقه او خیرات یې هم وکړی چې دحق تعالیٰ غضب په سړیږی **اَنَّ الصَّدَقَةَ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ ...... الخ** (ترمذی کتاب الزکوٰة باب ماجآء فی فضل الصدقة) دغه ټوله نیکیانی لا اضافی د ده په اعمال نامه کی ولیکل سوې لهٰذا شیطان وایې چې زما کاروبار خو دلته پوره په تاوان کی روان دی لهٰذا د توبه کونکی تعاقب پریږدی، د شیخ په صلاح سره د ګناه پریښولو دپاره صدقه ورکول ډیره ګټه لری.

یو شخص په یوپی(هندوستان) کی ټکران خرڅول، هغه زما پیر برادر وو، هغه خپله قصه راته وکړه چې ما خپل شیخ مولانا شاه ابرارُالحق صاحب ته وویل چې شیخ صاحب زه ښځو ته د کتلو ډیر سخت عادت لرم او زما د ټکرانو کاروبار دی چیری چې اکثره ښځی د خریداری دپاره راځی او هغه په هر ټکر کی نقص راباسی چې په دې کی دا خرابی ده په هغه کی دا خرابی ده او دهغو سره خبری کول هم وی، نو شیخ صاحب ورته وفرمایل چې خپل نظر کښته که سودا ورکه او هغوته په توجه سره مه ګوره لکه څنګه چې ریل ګاډی روانه وی نو درختو ته خو ګورې لاکن بلګونه یې نه حسابې همدغه رنګه پر ښځو باندی سرسری نظر واچوه چې د حسن

ادراک ونه سی او دهغو د پزو پیمایش مه کوه او سترګی یې مه اندازه کوه چې ځونه غټې دی، وروسته بیا توبه او استغفار هم وکه او که بدنظری درڅخه وسی نو پنځه روپی پر یوه بدنظری باندی صدقه کښیږده او صدقه زما مدرسې ته رااستوه ځکه چې بعضی وخت سړی صدقه هم پر معشوقانو باندی مصرف کړی، کومه ښځه یا لغړزنی هلک چې یې خوښ سی صدقه پر هغه مصرف کړی او د دې شعر په شان سی ؎

**میر کیا سادے ہیں بیمار ہوئے جس کے سبب**

**اُسی عطار کے لڑکے سے دوا لیتے ہیں**

**ترجمه**: صاحب ځونه ساده دی د چا په سبب چې ناجوړه سو، دهغه عطار د هلک څخه دوا اخلی

تاسی وواياست! د بزرګانو نظر تر کوم ځايه ځی، شیخ صاحب دغه فکر وکړی چې داسی نه وی خیرات هم هغوته ورکړی، لهٰذا ورته وې فرمایل چې زما مدرسې ته یې رااستوه، هغه سړی یوه ورځ لس بدنظری وکړې نو پنځوس روپی یې مدرسې ته ورواستولې، سړی دغه فکر وکړی چې پنځوس روپی می سودا کیږی که هغه هم خیرات کړم نو خورم به د کومی خوا، ښځه او کوچنیان به می د لوږی مړه سی لهٰذا هغه پنځه بدنظری کمی کړې بیا یې هم نیمه سودا د لاسه تلل، نو په وریجو او غوښو کی یې کمی راغله او نخود یې خوراک سو، الغرض په کراره کراره دغه عادت ځنی پاته سو، سړی خپله ماته وویل چې درې کاله کیږی یوواری می هم نظر نه دی خراب کړی، دا د شیخ کرامت دی، که ده خپله پر ځان جرمانه ایښې وای نو ګټه به یې نه وای د شیخ په صلاح کی حق تعالیٰ برکت او خاصیت ایښی دی، یوه دوا ته د خپله ځانه وخوره او هغه دوا ته د طبیب په صلاح وخوره فرق به یې وی.

په جنوبی افریقه کی یو عالم ماته وویل چی زه هر وخت په اوداسه اوسیدل غواړم د دې ډیر فضیلت راغلی دی، ما ورته وویل چی هر وخت په اوداسه اوسیدل دهغه د فضیلت خو څه پوښتنه کوې لاکن د اصحابِ کرامو بدنونه ماشاءالله ډیر مضبوط وه، دهغو صحتونه ډیر ښه وه، اوس په دې زمانه کی صحتونه د دې لایق نه دی چی د نس باد تر ډیره راوګرځول سی ځکه چی خدای دی نه کوی که د نس د باد رخ د زړه وخوا ته سی نو د زړه حمله هم پر سړی راتلای سی، لهٰذا هر وخت په اوداسه د اوسیدو کوښښ مه کوه لاکن سترګی هر وخت په اوداسه وساته(یعنی ښځو ته مه ګوره) دا د دې ډیر ښه بدل دی، په دې صلاح هغه عالم ډیر خوشحاله سو که سړی په اوداسه وی او ښځو ته ګوری نو د داسی اوداسه څه فایده.

د یوې غزلچی خبیثی ښځی بیان په اخبارو کی راغلی وو چی زه په اوداسه غزله وایم نو ما دا وویل که یو څوک دغه ووایې چی زه په اوداسه زنا کوم نو آیا د اودس په خاطر به زنا حلاله سی بلکې پر حرام شی باندی بِسم الله ویل یا د حرام کار دپاره اودس کول په دې کی د کفر اندیښنه سته، لهٰذا د سترګو په اودس واوسیږه چی په سترګو یو غلط کار او یو حرام لذت داخل نه کړې نو ګواکې ته په اوداسه یې یعنی د ګناوو څخه پاک یې، د ګناوو څخه ځان ساتل په اوداسه تر اوسیدو افضل دی ے

***چون مُقلِّب بود حق ابصار را　　　او بگر داند دل و افکار را***

مولانا رومی صاحب فرمایې چی د حق تعالیٰ ذات مُقلِّب ابصار هم دی او مُقلِّب قلوب او افکار هم دی یعنی کوم الله چی ستا پر سترګو باندی د تصرف قدرت لری هغه ستا پر زړه هم د تصرف قدرت لری، څوک چی ابصار تبدیلولای سی هغه افکار هم تبدیلولای سی، څوک چی سترګی بدلولای سی هغه زړه هم بدلولای سی، څوک چی نظر بدلولای سی هغه

ستا د فکر قوت، عقاید او افکار هم بدلولای سی، لهٰذا دحق تعالیٰ د تصرفاتو څخه وبیرېږه او د استقامت دپاره توبه او استغفار کوه.

کنې داسی نه وی چې د یو ګناه په عذاب کی د ځاه د پای تاریکه تاته باغ معلومه سی او د سپوږمۍ په شان مخ تاته بدشکله په نظر درسی لکه څنګه چې د سرکښی، کفر او دښمنی په سزا کی د ابوجهل ړوند بصیرت ته د نبوت مقام په نظر ورنه غلی او خبیث ته د نبی علیه الصلوٰة والسّلام مبارک مخ نَعُوذبالله بد ورمعلومیدی او د عشق او محبت په سبب دحضرت ابو هریره رضی الله عنه بصیرت ځکه چې صحیح وو په دغه خاطر هغه ته د نبی علیه الصلوٰة والسّلام پر مخ مبارک باندی لمر رفتار کول په نظر ورتلی، د دواړو د نظر په فیصلو کی څونه زبردسته فرق سو، لهٰذا په کثرت سره دغه دعا باید وکړل سی چې

**اَللّٰهُمَّ اَرِنَا الْحَقَّ حَقًّا وَّارْزُقْنَا اتِّبَاعَهٗ وَاَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلًا وَّارْزُقْنَا اجْتِنَابَهٗ**

**(تفسیر ابن کثیر، جلد ۱ صفحہ ۲۹۲)**

یاالله موږ ته د حق حق کیدل راښکاره کړې او دهغه د اتباع توفیق راکړې او د باطل باطل کیدل راښکاره کړې او دهغه څخه د ځان ساتلو توفیق راکړې

همدغه رنګه کله چې د یو ګناه په عذاب کی پر زړه او نظر باندی دخدای قهر وسی نو د ځاه د پای تاریکه یعنی فانی شکلونه او د ګناوو مقامونه او شرمګاوی سړی ته تر سلطنت هم افضله معلومیږی، د فکر قوت یې فلج سی او په هیڅ شی یې سر نه خلاصیږی چې دا زه څه کوم، د داغه تقلیب ابصار او قلوب نتیجه ده چې ځنی بدبخته او د قسمت محرومه خلک عین دین غیر دین په بللو سره پیری مریدی بې عقلی بولی او حال دا چې خپله د آخری درجې بې عقلان دی ځکه چې دهغو خبره که

صحیح ومنل سی نو دا لازمیږی چې تا د څلورو سره سلسلو لوی لوی علماء بې عقلان وبلل.

د جاهل او قبر پرسته پیرانو څخه بې شکه چې احتیاط واجب دی لاکن د حق اولیاوو سره مرید کېدل بې عقلی بلل د زرو کالو ټولو اولیاوو او علماوو په شان کی بې ادبی ده، دغه شخص ګواکې امام غزالی، مولانا رومی، جنید بغدادی، شیخ عبدُالقادر جیلانی، شاه ولی الله محدث دهلوی، مولانا رشید احمد ګنګوهی، مولانا قاسم نانوتوی، مولانا تهانوی او زموږ ټوله مشایخ رحمة الله علیهم اجمعین بې عقلان بولی ځکه چې د بیعت او مریدی دغه سلسله د څوارلس سوه کالو څخه را روانه ده.

دغه ټوله مشایخ د پیری مریدی د لاری څخه دخدای دوستان سوی دی، کوم خلک چې د طریقت مخالفین دی زه دهغو څخه دغه پوښتنه کوم چې تاسی که د دې بزرګانو پر نقشِ قدم باندی تګ نه کوی او عملاً چې تاسی دوی پر حق نه بولی او د دوی په شان د اولیاوو سره تعلق نه کوی نو بیا جامعه قاسمیه، جامعه رشیدیه، جامعه اشرفیه او داسی نور نومان ولی د خپلو مدرسو دپاره کاروی، د پیسو ټولولو دپاره د دې بزرګانو نومان کاروی، د چا پر نومانو چې پیسې ټولوی او خپلی مدرسې چلوی هم دهغو د نقشِ قدم مخالفت کوی، لهٰذا هر سړی چې د اولیاوو د لاری مخالفت کوی هغه هم د قهر په یو عذاب اخته دی ځکه چې **صِرَاطِ مُنْعَمْ عَلَيْهِمْ** یعنی هم دخدای د عاشقانو لار مستند ده، نور ټوله لاری د ګمراهی وخوا ته ځی، زما د یو دوست شعر دی او ښکلی ښایسته شعر دی، فرمایي ؎

**مُستند رستے وہی مانے گئے — جِن سے ہو کر تیرے دیوانے گئے**

**لوٹ آئے جتنے فرزانے گئے — تا بہ منزل صرف دیوانے گئے**

**ترجمه**: مستند لاری هم هغه منل سوی دی، پر کومو چی دخدای عاشقان تللی دی، بیرته راغله ځونه چی د عقل خاوندان تللی دی، تر منزله فقط عاشقان رسیدلی دی

**آہ کو نسبت ہے کچھ عُشّاق سے       آہ نکلی اور پہچانے گئے**

**ترجمه**: آه تعلق لری د عاشقانو سره، آه یې تر خوله راووتل او وپیژندل سوه

**از شرابِ قھر چون مستی دھی       نیست ھا را صُورتِ ھستی دھی**

مولانا رومی صاحب فرمایي یاالله! کله چی ته پر یو چا باندی دهغه د ګناوو په سبب عذاب نازلول غواړې نو (د ښځو او لغړزنو هلکوانو) فانی شکلونه هغه ته ډیر عظیمُ الشانه معلومیږی او د داسی شخص خاورین وجود د خاورو پر فانی شکلو باندی خاوری سی او فانی بدنونه په قبرو کی په بې نوم او نښانه کیدو سره د عاشقانو دپاره د ارمان او پښیمانی او د ژوند سرمایه د ضایع کیدو سبب جوړ سی، زما یو شعر دی ـــ

**کسی خاک پہ مت کر خاک اپنی زندگانی کو       جوانی کر فدا اس پر دیا جس نے جوانی کو**

**ترجمه**: پر یو خاورین وجود باندی خپل ژوند مه خاوری کوه، ځوانی پر هغه چا قربان که چا چی ځوانی درکړې ده

**گر زِ صُورت بگذری ای دوستان**

**گلستان است گلستان است گلستان**

مولانا رومی صاحب فرمایي اې دخدای طلبګارانو! که تاسی د صورت پرستی څخه نجات حاصل کړی نو ستاسی په روح کی به هر وخت دحق تعالیٰ د قرب ګلستان معلومیږی.

د ګناه څخه ځغستنا دا **فَفِرُّوٓا اِلَى اللهِ**(سورت ذاريات،آيت ۵۰) ده د دې تفسير علّامه آلوسی په تفسير روحُ المَعَانی کی داسی کړی دی چی **اَیْ فَفِرُّوٓا عَمَّا سِوَی اللهِ اِلَى اللهِ** يعنی د غيرالله څخه وځغله د الله وطرفته، **فَفِرُّوٓا اِلَى اللهِ** په نازلولو سره حق تعالیٰ خپلو عاشقانو ته دوه لذتونه ورکړی دی، يو د فرار الی الله لذت او دوهم د قرار مع الله لذت يعنی د غيرالله څخه د فرار لذت او د الله وطرفته د راتلو د قرار لذت او په فرار الی الله کی حق تعالیٰ يو خاص لذت ايښی دی لکه څنګه چی يو کوچنی کله د پردو او دښمنانو څخه ځان راخلاص کړی او د پلار پر خوا ورځغلی نو دغه فرار هغه ته يو خوند ورکوی چی زه پلار ته نژدې کيږم او کله چی د پلار غيږی ته ورسی نو هغه ته يو بل خوند حاصل سی يعنی د پلار د غيږی د قرار لذت.

دحق تعالیٰ د هری نافرمانی څخه ځان ساتل، د ګناوو څخه ليری کيدل، د ښځو څخه نظر ساتل دا د الله وطرفته فرار دی، د فرار په سر او ابتدا کی زړه ته قرار او آرام راشروع سی ځکه چی حق تعالیٰ دا وينی چی زما بنده د غيرالله څخه ځغلی نو هغه وخت دحق تعالیٰ د رحمت باران پر شروع سی، هم د دې نوم د غيرالله څخه د ځغاستی د فرار لذت دی او کله چی يې د غيرالله څخه وځغستل نو حق تعالیٰ ته ورسيدی که څه هم نفلی عبادت ونه کړی لاکن حق تعالیٰ ته ورنژدې سو ځکه چی د ګناوو څخه د ليری کيدو وروسته د قرار لذت خپله چاته حاصليږی او د ايمان خوږوالی زړه ته داخل سی او دا دخدای د عاشقانو دپاره اختر دی کوم چی په هره زمانه کی هغوته ورپه نصيب وی، د دنيادارو اختر خو په کال کی يوواری وی چی هغوته حلوا ورپه نصيب کيږی او دهغو حلوا معدې ته ځی چی بدن خو طاقت په پيدا کوی لاکن دغه حلوا په بدن کی مرداری جوړه سی او د اولياوو په باطنی حلوا سره په رګ رګ کی د انوارو درياب بهيږی.

په دغه خاطر د اولیاوو په باطنی اختر پسی د دنیادارو ظاهری اختر نه سی رسیدای او د دواړو په خوندو کی هیڅ نسبت او مقابله نسته، د دې نوم د غیرالله څخه د لیری کیدو او الله ته د نژدې کیدو د قرار لذت دی، بس حق تعالیٰ خپلو عاشقانو ته د فرار لذت هم ورکوی او د قرار لذت هم ورکوی او همدا اوس اوس یو عظیم علم راته عطا سو چی فرار دوه قسمه دی، یو طبعی فرار دی او دوهم شرعی فرار دی، کله چی معشوق بوډا سی هغه وخت چی څوک دهغه څخه لیری سی نو دا طبعی فرار دی او په دې فرار کی کافران هم شامل دی، یو عیسایي او یهودی هم سپین سری او سپین ږیری ته نه ګوری، پر دې باندی زما شعر دی ؎

**میر کا معشوق جب بُڈھا ہوا بھاگ نکلے میر بُڈھے حسن سے**

**ترجمه**: د صاحب معشوق چی کله بوډا سو، نو هغه د زاړه حسن څخه وځغستل

لاکن دخدای د دوستانو دا مقام نه دی چی معشوق یا معشوقه بوډا سوه نو دهغو څخه یې ځان وکښی، دغه ځغستا څه کمال لری، اوس خو به هندو او یهودی هم ځان ځنی وکاږی، کوم شی چی په کافر او مومن کی مشترک وی هغه د مومن اعزازی شان نه سی کیدای، د مومن اعزازی شان دغه دی چی حسن پر شباب وی او په طبیعت کی یې سخت شوق او خواهش وی چی دغه ښځی ته وګوره، مچه ځنی واخله، ګناه وکه خو مومن هغه وخت دخدای د بیری څخه ځنی لیری سی، د حسن د شباب څخه هغه صرفِ نظر کوی، د دې نوم شرعی فرار دی.

او په **فَفِرُّوٓا اِلَى اللّٰهِ** کی د داغه فرار حکم دی او شرعی فرار درې قسمه دی، په سترګو یې لغړزنو هلکوانو او ښځو ته ونه کتل، د سخت خواهش سربیره یې د سترګو حفاظت وکړی یعنی خپلی سترګی یې د

حسن د خاوندانو څخه وساتلې نو د دې نوم عینی یعنی د سترګو فرار دی، د دې وروسته یې د زړه حفاظت هم وکړی یعنی په زړه کې یې غلط غلط خیالونه را ونه ګرځول او قصداً یې دهغه حسن د خاوند فکر ونه کړی نو د دې نوم قلبی یعنی د زړه فرار دی، د دې وروسته ځنی لیری هم سو، د حسن د خاوندانو څخه یې خپل وجود هم لیری کړی، د ګناوو د اسبابو څخه لیری سو په خاطر د دې که د حسن خاوند ته نژدې وم نو تر څه وخته به ځان وساتم یو وخت نه یو وخت به می سترګی پر پورته سی، تر دې حده چې په ګناهِ کبیره کی د اخته کیدو خطر موجود دی، په دغه خاطر یې وجود د ګناوو د اسبابو څخه لیری کړی نو د دې نوم قالبی یعنی بدنی فرار دی، د شرعی فرار دغه درې قسمه شاید چې تاسی په یو کتاب کی ووینی، د مفسرینو چې هر څونه عربی تفسیرونه موجود دی د دې آیت تفسیر وګوری، زه د حق تعالیٰ رحمت ته امید لرم چې حق تعالیٰ زه په دغه علم کی په دې زمانه کی خاص کړی یم او شاید چې دغه خبره تاسی یو ځای واوری او د شاید لفظ دعوه د ماتولو دپاره وایم چې دعوه ونه سی او زه دغه تفسیر نه بولم بلکې دا د قرآن پاک لطایف(رازونه) دی.

او دلته د دې خبری وضاحت ضروری دی چې د **فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ** مطلب فقط د حسن د خاوندانو څخه ځغستل نه دی بلکې د حق تعالیٰ د هری نافرمانی څخه ځغستل دی لاکن ځکه چې په دې زمانه د حسن پرستی ناجوړی عام ده او د دې مرض وبا راغلې ده او کله چې وبا راغلې وی نو د زکام پر علاج باندی ډیره توجه نه کیږی ځکه چې د زکام مرض خو څو کاله هم چلیدای سی لاکن د وبا مریض دستی مړ سی.

د دې زمانې خطرناکه مرض همدغه حسن پرستی، بدنظری او مجازی عشق دی، په دغه خاطر زه دغه ډیر بیانوم لاکن د دې دغه مطلب

نه دی چې فقط د حسن د خاوندانو څخه ځان وساته او ښه د سود کاروبار وکه، رشوت واخله، سودی کارونه وکه، ښه تلویزیون، فلمونه او سینما وګوره بلکې د **فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ** معنٰی دا ده چې د حق تعالیٰ د هری نافرمانی څخه وځغله، هر څونه سودی کارونه چې دی د هغو ټولو څخه ځغستل او حلال پیدا کول او د حلال روزی دپاره خدای ته شپه او ورځ ژړل او کله چې حلال پیدا سی نو حرام دستی پریښول دا ټوله په **فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ** کی داخل دی.

همدغه رنګه د خاندان په هغو ښادیو او مجلسو کی شرکت نه کول چیری چې عکسونه اخیستل کیږی، فلمونه جوړیږی، نامحرمه ښځی او نارینه یو ځای ډوډی خوری، چیری چې ساز، طبله او غزلی شروع وی او دحق تعالیٰ فرمانونه پاش پاش کیږی، په داسی مجلسو کی شرکت نه کول او دحق تعالیٰ د ټولو نافرمانیو څخه ځغستل په **فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ** کی داخل دی، الغرض هر هغه عمل او هر هغه فکر چې خدای په خوابدی کیږی دهغه څخه ځغستل او جمله نافرمانی پریښول ټوله په دغه فرار کی داخل دی، هره ګناه پریښول دخدای طرفته ځغستل دی او دخدای طرفته قرار نیول دی ــ

**اَلْغِیَاث از ابتلایت اَلْغِیَاث**
**شُد ذکور از ابتلایت چون اُناث**

یاالله! زه تاته فریاد کوم چې ته په خپل رحمت سره زما څخه امتحان مه اخله، زه ستا د امتحان څخه پناه غواړم، لوی لوی نارینه کله چې ستا په امتحان اخته سوه نو هغه ښځی ثابت سول یعنی ناکامه سول ــ

**یَا غَیَاثَ الْمُسْتَغِیْثِیْنَ اهْدِنَا**
**لَا افْتِخَارَ بِالْعُلُوْمِ وَالْغِنَاء**

اې د فریاد کونکو فریاد اوریدونکې! اې د ټول جهان فریاد اوریدونکې! ماته د خپلی رضا او خوشحالی لار رابنکاره کړې او پر هغه لاره ما روان کړې، زه پر خپل علم باندی هیڅ فخر نه کوم او د خپل علم په خاطر ستا د رحمت څخه هیڅ استغنا نه کوم یعنی تا چی ماته کوم علم راکړی دی زه پر هغه نه فخر کوم او نه دهغه علم په خاطر ستا د کرم څخه مستغنی کیدای سم، ځکه چی ستا فضل که شامل نه وی نو د سړی په علم او عمل کی فاصلې پیدا سی او د علم سربیره سړی بدعمله پاته وی او د کبر او عناد څخه مغلوبه وی او حق نه قبلوی او د حرص، طمع او لویی په خاطر د حقایقو څخه اعراض کوی، په دغه خاطر ته خپل رحمت او خپل هدایت زما د هر نَفَس سره راشامل کړې او ما خپل نفس ته په لاس مه ورکوې، زما علم ما ستا د نافرمانی د لارو څخه د راګرځولو دپاره کافی نه دی لهٰذا زما هر نَفَس ستا د رحمت او ستا د نصرت محتاجه دی.

که د حق تعالیٰ فضل نه وی او که حق تعالیٰ موږ د خپل هدایت دپاره قبول نه کړی نو د هیچا اصلاح نه سی کیدای او د نفس اصلاح پر درو خبرو باندی موقوف ده، بې له درو خبرو هیڅوک نه سی پاکیدای، په دنیا کی چی کله د هدایت تر ټولو لوی لمر د نبی علیه الصلوٰة والسّلام مبارک ذات خپله موجود وو، تر ده مبارک بالا د هدایت مرکز څوک کیدای سی، هغه وخت حق تعالیٰ د اصحابو دپاره وفرمایل

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ (سورت نور، آیت ۲۱)

اې اصحابو! که پر تاسی باندی د الله فضل او دهغه رحمت نه وای نو په تاسی کی هیڅوک نه سوای پاکیدلای لاکن الله چی څوک وغواړی هغه پاک کړی

حق تعالیٰ دلته توحید قایم وساتی چی زما د نبی څخه خدای مه جوړوی، د هدایت په معامله کی تاسی د نبوت د فیض سربیره زما د مشیت محتاجه یاست، د هدایت دپاره فقط د نبوت فیض کافی نه دی بلکې زما مشیت هم ضروری دی ځکه چی زما نبی ته خو ابُو جهل هم وکته، ابُو لهب هم وکته لاکن هغوته ولی هدایت ونه سو، که د نبی دپاره هدایت لازم وای نو ابُو جهل به هم کافر پاته نه وای ابُو لهب به هم کافر پاته نه وای لاکن ځکه چی زما مشیت نه وو په دغه خاطر د نبی علیه الصلوٰة والسّلام د نبوت د انوارو سربیره دغه بدبختانو ته هدایت ونه سو، نو معلوم سول چی په درو شیانو سره هدایت حاصلیږی (۱) دخدای فضل (۲) دخدای رحمت (۳) دخدای مشیت، لهٰذا موږ ټولو ته پکار دی چی دوه رکعته نفل د حاجت په نیت وکړو او دغه خواست وکړو چی یاالله! خپل هغه خاص فضل او هغه رحمت او مشیت راته عطا که پر کوم چی تا په قرآن پاک کی د نفس د پاکوالی بنیاد ایښی دی، په دغه عنوان سره خواست خو وکړی کوم چی زه دربنوم.

په چا کی چی یو صلاحیت موجود وی که دهغه څخه کار وانه خیستل سی نو هغه صلاحیت په کراره کراره ختم سی، زموږ په طبابت کی هم دغه خبره سته که یو شخص خپل لاس یو کال یوې خوا ته پورته ونیسی او کښته یې نه کړی نو لاس به یې شخ پاته سی، د کښته کولو قوت به یې ختم سی او لاس به یې فلج سی.

همدغه رنګه کوم خلک چی خپل د نظر د حفاظت قوت نه کاروی کوم چی حق تعالیٰ هغوته ورکړی دی نو په سزا کی دهغو دغه طاقت د فلج کیدو اندیښنه سته، په خاطر د دې چی تا زما عطا کړی طاقت او قوت ولی کار نه کړی او زما په لار کی چی ما تاته د نفس د حرام لذت څخه د ځان ساتلو او د حرام کار څخه د ځان راګرځولو کوم طاقت او قوت درکړی

وو هغه تا کار نه کړی، د داسی خلکو دپاره بیره سته داسی نه وی چی مسلسله د بدنظری کولو په عذاب کی دهغو د ګناوو څخه د ځان ساتلو پر صلاحیت باندی فالج ولویږی او بې له دخدای د دوستی په فاسقانه حال کی مرګ ورته راسی، لهٰذا نعمت باید کار سی که یا ؟

که ته یو چاته موټر ورکړې او هغه یې هیڅکله ونه چلوی بس په ګاراج کی ولاړ وی نو ته به موټر بیرته ځنی واخلې که یا ؟ نو حق تعالیٰ چی موږ ته د ګناوو څخه د ځان ساتلو کوم قوت راکړی دی د قوت هغه نعمت باید کار سی، دهغه نوم تقوا ده او تقوا د دې نعمت شکر دی.

که حق تعالیٰ د نظر د حفاظت او د ګناوو څخه د حفاظت قوت نه وای راکړی نو به یې تقوا نه وای فرض کړې ځکه چی پر کمزوره سړی باندی دهغه تر قوت ډیر بار ایښول ظلم دی او حق تعالیٰ د ظلم څخه پاک دی، حق تعالیٰ اول موږ ته د ګناه څخه د ځان ساتلو قوت راکړی دی بیا یې تقوا فرض کړې ده او د قوت د موجودی دلیل دغه دی مثلاً یو دوکاندار دی او یوه ښځه پر لاری راروانه ده، د دوکاندار بې له ارادې پر هغه ښځی باندی نظر ومښتی، شیطان د هغې پر مخ جادو وکړه یعنی معمولی حسن یې ډیر زیات ورښکاره کړی، د دوکاندار اراده سوه چی دغه ښځی ته ښه ډیر وګوره وروسته به توبه وکاږې، په دا حال کی یو غل راغلی او هغه دوکاندار ته توپنچه ورښکاره کړه نو دوکاندار به غله ته څه ووایې چی توپنچه مه راښکاره کوه نن زه لیونی سوی یم زه لازمی دغه ښځی ته ګورم، ته خپل کار وکه زه به خپل کار وکړم، ووایاست غل به ویشتلو ته پریږدی ؟

اې وروره! دوکاندار به ځنی په ځغاسته سی، د ځان د بیری څخه یې عاشقی هیره سوه، یا که یې په هغه وخت کی په دوکان کی مار راووتی او ښځی ورته وویل چی اې دوکانداره! هغه دی مار.

نو آیا هغه وخت به دوکاندار دغه ورته وای چې ؎

**ترے جلووں کے آگے ہمتِ شرح و بیاں رکھ دی**

**زبان بے نگہ رکھ دی نگاہِ بے زباں رکھ دی**

**ترجمه**: ستا د حسن د تجلا ومخته می د ګویایي قوت ختم سو، ژبه می د خبرو طاقت نه لری سترګې می د دید طاقت نه لری

او که به هغه د دوکان څخه په ځغاسته سی، دغه به یې په یاد هم نه وی چې دهغه ښځې خخه می پیسې اخیستې، د ځان په باره کی ته د یو مخلوق مار څخه وبیریدې، دا ټوله مثالونه بیانوم چې زموږ ایمان ځونه کمزوره دی او موږ د کومی درجې بې غیرته او کم اصله یو چې د یو مار او د یو غله د توپنچې څخه بیریږو او د ځان د حفاظت دپاره ټوله عاشقی هیره کړو او د کوم ذات څخه چې باید بیریدلی وای دهغه څخه نه بیریږو، هغه الله د چا په لاس کی چې زموږ مرګ او ژوند او زموږ آرام او قرار دی، د چا په لاس کی چې د جنت او دوږخ فیصله ده دهغه ذات څخه موږ بې خوفه یو، لهٰذا دخدای پر نامه قربان سی، دهغه د خوابدتیا څخه وبیریږی او دهغه په محبت کی ګناوی پریږدی کنې د قیامت په ورځ به څه جواب ورکوی؟

بس د نن مضمون ختم سو او د آخری شعر ترجمه وسوه، په ټوله دنیا کی نن سبا زما همدغه یو مضمون دی چې ته د لیلاوو څخه ځان وساته نو مولیٰ به درته حاصل سی او خوندونه به هم حاصل کړې، داسی نه چې دا مضمون خشک دی، څوک چې د لیلاوو څخه ځان ساتی حق تعالیٰ دهغه د زړه د خوشحالی ذمه قبلوی، همدغه د ایمان خوږوالی دی چې ستا زړه به د خوږوالی ډک سی او ستا زړه به د ایمان خوږوالی احساس کړی او ښځو ته کتل خو یو عذاب دی او زړه په هغه وخت ناقراره سی نو د ښځو

د عذاب څخه ځان وساته او دخدای د قرب په لذت سره مستی حاصل که، د لیلاوو وجود د مستی لیاقت نه لری او نه هغه د نږدې اوسیدو لایقانی دی که څه هم هر ځای چې وی، که په مفته هم په لاس درځی نو مه ورته ګوره. حضرت تهانوی رحمة الله علیه وفرمایل چې یو سړی ماته رانجه راکړه نو حضرت تهانوی صاحب هغه ته وفرمایل چې د دې رانجه اجزاء راوښوه چې زه د خپل خاندانی طبیب سره صلاح وکړم چې په دغه سترګی توری کړم که یا، نو هغه شخص ورته په قهر سو چې زه خو تاته په مفته رانجه درکوم او ته نازونه او نخرې کوې، نو حضرت تهانوی صاحب ورته وفرمایل چې ستا رانجه خو په مفته دی لاکن زما سترګی په مفته نه دی. همدغه رنګه که ګناه په مفته درته حاصل سی نو داسی ووایه چې دغه ګناه خو په مفته ده لاکن زما ایمان په مفته نه دی.

کوم مضمون چې زه نن سبا بیانوم وَالله! قسم اخلم که پر هغه باندی عمل وسی نو انشاءالله د لمر او سپوږمی روښنایی به تاسی ته بې قدره سی او د ټولی دنیا د لیلاوو حسن به درته بې خونده سی بلکې دهغو د نس مرداری به ستاسی په نظر کی سی او د دواړو جهانو لذت به انشاءالله په یوه الله کی حاصل کړی کله چې هغه ربّ خپله تجلا په زړه کی وکړی کوم چې د دواړو جهانو د لذتو خالق دی، زما شعر دی ؎

**وہ شاہِ دوجہاں جس دل میں آئے**

**مزے دونوں جہاں سے بڑھ کے پائے**

**ترجمه**: هغه د دواړو جهانو پاچا چې کوم زړه ته راسی، خوندونه تر دواړو جهانو بالا اخلی

بس سبق ختم سو، دغه بیان معمولی مه بولی، دغه بیان موږ او تاسی ربّ ته نږدې کونکی دی او د لیلاوو څخه موږ لیری کونکی دی، بس

اراده وکړی، د قرآن پاک آیت دی **يُرِيدُونَ وَجْهَهٗ** (*سورت کهف، آیت* **۲۸**) یعنی خدای هغه چاته حاصلیږی څوک چې خدای د راضی کولو اراده وکړی او که د لیلاوو اراده وکړې نو فانی لاښونه به حاصل کړې او سوټی به هم دربا‌ندی اوری، کوم چې زه داسی بیانوم چې چا لیلاوی د ځان کولو کوښښ وکړی دهغه پر سر چپلکی و اوریدلې، څوک چې د حسن پر خاوندانو باندی مری دهغو پر سر چپلکی اوری او څوک چې پر خدای باندی مری احتراماً دهغو چپلکی پورته کیږی.

بس خدای ته خواست وکړی، په دغه میاشت کی د عرش ملایکی د روژه دارانو پر دعاوو باندی آمین وایې، یاالله! موږ ټولو ته د اولیاوو ژوند راپه نصیب کړې، د خپلو دوستانو ژوند راپه نصیب کړې، یاالله! په ګناوو کی موږ سپین ږیری سوو، وریښتان مو سپین سوه، زموږ پر حال باندی رحم وکړې، یوه ساه هم موږ تا خوابدی نه کړو، هره ساه پر تا قربان کړو، موږ ټولو ته داسی توفیق راکړې او د دواړو جهانو اطمینان، آرام او قرار راپه نصیب کړې، یاالله! هر غم او تکلیف په عافیت رابدل کړې او د جمله حاسدانو او دښمنانانو شر مغلوب کړې او ظالمان پر خپل ظلم باندی پښیمانه کړې او د مظلومانو څخه د بخښنی غوښتلو دپاره هغه ناقراره کړې.

او یاالله! زموږ ژوند (د فرمانبرداری په سبب) د پاچاهانو دپاره فخر او د لمر او لیلاوو دپاره فخر، د دواړو جهانو د نعمتو دپاره فخر جوړ کړې ځکه چې هم ته نعمت عطا کونکی او د دواړو جهانو د نعمتو حاصل یې، یاالله! که ته موږ ته حاصل سې نو ته زموږ دپاره د دواړو جهانو لذت یې، یاالله! په خپل رحمت سره موږ ټولو ته خپل خاص قرب راپه نصیب کړې او څه چې موږ درڅخه ونه غوښتل هغه هم راپه نصیب کړې، بې له غوښتلو دواړه جهانونه راپه نصیب کړې. آمین یاربَّ العالمین.

# مجلس درسِ مثنوی

**۴ د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۳ د جنوری ۱۹۹۸ء د شنبې ورځ**

**د سهار اووه بجې، خانقاه امدادیه اشرفیه**

د نن په شعرو کی د معرفت عظیم الشانه مضمون دی، که دغه مضمون په نظر کی وی نو په لمانځه، تلاوت او سجده کی به خوند ډیر سی چې د څونه عظیم الشانه مالک په پښنو کی زما سر دی، د څونه عظیم الشانه مالک ومخته زه لاس تړلی ولاړ یم او څونه عظیم الشانه مالک ته دهغه کلام وایم ؎

**گر تو ماه و مهر را گوئی خِفا**

**گر تو قدِّ سرو را گوئی دوتا**

حضرت مولانا جلالُ الدین رومی رحمة الله علیه فرمایي چې د دغه سپوږمی او لمر روښنایي د حق تعالیٰ د نور په مقابل کی هیڅ شی نه ده ځکه چې د نور صفت دا دی چې **ظَاهِرٌ لِنَفْسِهٖ** کوم چې د خپل ذاته ښخه ښکاره وی، لمر او سپوږمی د خپل ذاته ښخه ښکاره نه دی، د هغو نور خو د حق تعالیٰ معمولی غوندی عطا ده او بیا دواړه ډوب هم سی او د حق تعالیٰ نور هیڅکله نه ډوبیږی او د قیامت په ورځ به لمر او سپوږمی فنا سی.

حق تعالیٰ فرمایي **إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ** (سورت تکویر، آیت ۱) بس د دوی دغه روښنایي هم عارضی ده، لهٰذا دحق تعالیٰ د نور په مقابل کی د دوی روښنایي څه حقیقت لری، د دې ماسوا د لمر او سپوږمی روښنایي فانی هم ده او محدوده هم ده او دحق تعالیٰ نور غیر فانی او غیر محدوده دی او فانی او محدود شی د خپل کثرت سربیره د غیر فانی او غیر محدود ومخته په

اقلیت کی وی، په دغه خاطر مولانا رومی رحمة الله علیه فرمايي یاالله! که ته لمر او سپوږمۍ ته په حقارت سره د خِفا پيغور ورکړې چې اې بې نورو! په تاسی کی هیڅ روښنايي نسته، تاسی پټ یاست، پر تاسی باندی د نور اطلاق هم نه کیږی، تاسی خو **ظَاهِرٌ لِنَفْسِهٖ** هم نه یاست نو **مُظْهِرٌلِغَيْرِهٖ** څنګه کیدای سی، زما په عطا سره تاسی روښانه یاست او کاینات روښانه کوی او هره ورځ تاسی په ډوبولو سره ستاسی د حقارت او بې وزلی تماشا ټوله کاینات ته ورښکاره کړم چې تاسی بې نوره سی او کاینات ته د روښنايي ورکولو لایق هم نه سی پاته، بس اې لمر او سپوږمۍ! ستاسی حادث او فانی نور زما د قدیم واجبُ الوجُود نور په مقابل کی خِفا او بې حقیقته دی.

او یاالله! که ته د سرو(چنار) درختی ته (کوم چې شاعران د مجازی محبوبانو قد په تشبیه کوی) وفرمايې چې اې د سرو درختی! په تا کی کوږوالی، عیب او خم سته ځکه چې د قد دغه ښایستوالی ستا ذاتی صفت نه دی زما عطا ده او زما د جمال او غیر فانی ازلی حسن ومخته هغه هیڅ حقیقت نه لری ـــ

**گر تو کان و بحر را گوئی فقیر**

**گر تو چرخ و عرش را گوئی حقیر**

که ته د سرو او سپینو زرو کانونو ته او د لعلونو، غمیانو او معدنو ذخیرو ته او بحرِ حامل او سواحلِ جواهر یعنی اې خدایه! که ته د سرو او سپینو زرو کانو ته او د قیمتی غمیانو خزانو او د معدنو ذخیرو ته او د دریاب پر غاړه پټ د کروړهاو کروړهاو روپو مرغلرو ته وفرمايې چې تاسی ټوله محتاجه او فقیران یاست، که څه هم تاسی ټوله داسی غنی یاست چې نور خلګ هم غنی کړی لاکن ځکه چې د غنا دغه صفت ستاسی ذاتی نه دی زما

عطا ده لهٰذا تاسی فقیران، محتاجه، بې ارزښته او بې حقیقته یاست او که ته عرشِ عظیم غوندی عظیم مخلوق ته کوم چې اووه سره آسمانونه په خپل غیږ کې اخیستی دی وفرمایې چې اې آسمانو! او اې عرش او چوکۍ! تاسی ټوله کمتره مخلوق یاست ـــ

**آن به نسبت با کمالِ تو رواست**

**ملک و اقبال و غناها مر تو راست**

نو خپلو مخلوقاتو ته په دغه تعبیراتو سره خطاب کول ستا د کمالاتو په حساب تاته زیب درکوی ځکه چې ملک او سلطنت او خوش نصیبی او غنا ستا دپاره خاص ده بل هیچاته زیبا نه ده، ځکه چې ستا ذات قدیم او واجبُ الوجُود دی او مخلوق حادث او فانی دی ـــ

**نیست زُرْغِبًّا وظیفه عاشقان**

**سخت مستسقی ست جانِ صادقان**

د مولانا رومی صاحب دغه شعر په اصل کې د یو حدیث شریف شرح او توضیح ده، حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي

**كُنْتُ اَلْزَمَ لِصُحْبَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**

زه خو به د نبی علیه الصلوٰة والسّلام سره هر وخت مبنتی وم

او نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایي چې **زُرْغِبًّا تَزْدَدْ حُبًّا** (**کنز العمال جلد۹ صفحه ۱۷۸**) په ناغه کولو سره ملاقات کوه په دې محبت ډیریږی، نو د اصحابی عمل خو په ښکاره د دې حدیث شریف خلاف معلومیږی، لاکن که مسلسله صحبت روا نه وای نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام به حضرت ابو هریره رضی الله عنه منع کړی وای چې ته هر وخت زما سره مه اوسیږه، د

نبی علیه الصلوٰة والسّلام نه منع کول دلیل دی چې د اصحابی عمل صحیح وو لاکن مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه فرمایي چې په دغه دواړو حدیثو کی موافقت نه سره کیدی، د دې جواب او د دې حدیث شرح ماته د مثنوی شریف په دغه شعر کی حاصل سوه، مولانا رومی صاحب فرمایي؎

**نیست زُرْغِبًّا وظیفه عاشقان**
**سخت مستسقی ست جانِ صادقان**

په ناغه کولو سره ملاقات کول دا د عاشقانو وظیفه نه ده، د **زُرْغِبًّا تَزْدَدْ حُبًّا** حکم د خپلوانو او دوستانو دپاره دی مثلاً د خسرګنی کره ډیر مه اوسیږه کنې خوابنې او خسر به دی وایي چې دغه بې حیا زوم د کومی خوا راپه نصیب سو، هر وخت چې ګورې راته پروت وی، د خپلوانو کره هره ورځ مه ورځه، هلته چې ورسرې نو ډیر مه پاتیږه کنې په محبت کی به کمی سره راسی.

لاکن کوم چې دخدای عاشقان دی په ناغه کولو سره د ملاقات حکم دهغو دپاره نه دی ځکه چې دهغو روح دحق تعالیٰ سخته تنده لری، هغه بې له د اولیاوو د ملاقات څخه هیڅ ځای نه سی پر قراره کیدای، که ماهیانو ته وویل سی چې اوبو ته په ناغه کولو سره ورځی نو هغه به مړه سی، حضرت ابو هریره رضی الله عنه د نبوت د دریاب ماهی وو، هغه ناغه نه سوای کولای، مولانا رومی صاحب فرمایي؎

**نیست زُرْغِبًّا وظیفه ماهیان**
**زانکه بی دریا ندارند انسِ جان**

په ناغه کولو سره ملاقات کول د ماهیانو کار نه دی ځکه چې هغه بې اوبو ژوندی نه سی پاتیدای، بې اوبو هغه د ځانه بیزاره سی.

زموږ د میر صاحب قصه ده(د حضرت صاحب د خاص خادم نوم میر صاحب دی) کله چې ده ماته راتګ شروع کړی نو د سهار د لمانځه وروسته به راتلی او د شپې به تلی، ما ورته وویل چې دریمه ورځ راته راځه.

لاکن یوه ورځ وروسته ناقراره سو او داسې تاثیر پر وسو چې د بس څخه د راکښته کېدو وروسته یې زما د کور پر خوا ځغستا شروع کړه، پر لارې یو سپین ږیری را روان وو هغه چې میر صاحب په ځغستا ولیدی نو یوې خوا ته سو، اتفاقاً میر صاحب هم هغې خوا ته سو، سپین ږیری دستې دا بلې خوا ته سو نو میر صاحب هم په تلوار کې هغې خوا ته سو، هغه بیچاره دا فکر وکړی چې یا به دی زما سره ټکر سی زما پښتې او هډوکې به مات سی یا دی پر ما حمله خو نه کوی نو په زوره یې ناره کړه چې وای مړ سوم، میر صاحب بخښنه په غوښتلو سره په خندا ځغستل، میر صاحب راته وویل چې ستا جدایي تر برداشت وتلې وه او زړه می غوښتی چې ژر تر ژره ملاقات وسی.

لهٰذا مولانا جلالُ الدین رومی رحمة الله علیه په داغه خاطر وفرمایل چې په ناغه کولو سره د ملاقات حکم د عاشقانو دپاره نه دی ځکه چې بې له خپل محبوبه دهغو ژوند ناقراره دی لکه څنګه چې د ماهیانو دپاره دا ناممکنه ده چې د اوبو سره هغه په ناغه کولو سره ملاقات وکړی ځکه چې اوبه دهغو ژوند دی، بې له اوبو هغه ژوندی نه سی پاتېدای، مولانا شاه محمد احمد صاحب داغه ته فرمایي ؎

**ترا ذکر ہے مری زندگی ترا بھولنا مری موت ہے**

**ترجمه**: ستا ذکر زما ژوند دی، تا هیرول زما مرګ دی

په داغه خاطر د حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه مین روح د **زُرْغِبًّا** یعنی ناغه کولو تاب نه سوای راوړلای، هم په دغه سبب به همیشه د نبی علیه الصلوٰة والسّلام پر چوکاټ باندی پروت وو.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه لس کاله یو اشکال درلودی لاکن د حضرت تهانوی صاحب حوصلې ته وګوری چی لس کاله یې پر هیچا باندی ښکاره نه کړی چی زه په دغه اشکال اخته یم، په خاطر د دې چی په ویلو سره بل سړی ولی په اشکال کی واچوم، کمال دی چی لس کاله یې خپل اشکال پټ کړی وو، وروسته هغه اشکال په مثنوی شریف سره حل سو، اشکال دغه وو چی حق تعالیٰ ارحمُ الرّاحمین دی په خپل رحمت سره بې له مجاهدې د ټولو نفس پر ولی الله جوړولو باندی قدرت لری لاکن بیا یې هم مجاهده ولی فرض کړه چی هر وخت د نظر حفاظت وکه، دغه وکه هغه مه کوه، خپله لار یې ولی دونه سخته کړه، د دې جواب مولانا رومی صاحب په مثنوی شریف کی ورکړی دی چی ؎

**لیک شیرینی و لذّاتِ مقر**
**هست بر اندازهٔ رنجِ سفر**

د حضرت تهانوی رحمة الله علیه د لسو کالو اشکال دغه شعر ورحل کړی، مولانا رومی صاحب فرمایي چی د منزل خوند، شیرینی، لطف او د آرام ادراک د سفر پر تکلیفو او مصیبتو باندی موقوف دی، سفر چی څونه په تکلیف وی د منزل خوند په هغه اندازه ډیر محسوسیږی، په دغه خاطر حق تعالیٰ خپله لار یو څه سخته کړه او خپل بندګان یې لږ تر مجاهده تیر کړه چی هغوته جنت ډیر خوند ورکړی او جنت ته د داخلیدو وروسته ووایي **اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ** ټول صفتونه د الله دپاره دی چا چی

موږ ته د حزن او غم څخه نجات راکړی، لهٰذا که **حُزَنْ** نه وی نو **اَذْهَبَ** به د څه شي وی؟ که جنتیان په دنیا کی تر **حُزَنْ** نه وای تیر سوی نو هغو به **اَذْهَبَ** څنګه ویلای، لهٰذا د جنت خوند او لطف به په داغه مجاهدو سره وی.

مولانا ګنګوهی رحمة الله علیه خپل د بخاری شریف په درس کی وفرمایل چی د قیامت په ورځ کله چی ټوله دوږخیان دوږخ ته ورواچول سی نو حق تعالیٰ به د دوږخ څخه پوښتنه وکړی **هَلِ امْتَلَئْتِ** آیا ستا نس ډک سو؟ نو دوږخ به ورته ووایې چی یاالله! زما نس نه دی ډک سوی، نو حق تعالیٰ به پر دوږخ باندی خپل قدم کښیږدی **اَلْمُرَادُ بِالْقَدَمِ التَّجَلِّيَاتُ الْخَاصَّةُ** یعنی خاص تجلا به پر نازل کړی چی دوږخ به پر آرامه سی، همدغه رنګه جنت به هم ووایې چی یاالله! زما نس نه دی ډک سوی نو حق تعالیٰ به یو مخلوق پیدا کړی هغه به جنت ته ورواچوی ځکه چی دا انعام دی او انعام ورکول د کرم ظهور دی او د دوږخ پر سوال باندی به یو نوی مخلوق په پیدا کولو سره دوږخ ته ور وانه چوی ځکه چی دحق تعالیٰ د رحمت او عدل خلاف ده چی یو بې ګناه مخلوق په پیدا کولو سره په اور کی وسوځی، دحق تعالیٰ ذات خو د ظلم څخه پاک دی لهٰذا هلته یې دوږخ په خپل نور سوړ کړی او دهغه نس ډک سو او دلته یې یو مخلوق په پیدا کولو سره هغه جنت ته ورواچوی، نو په درس کی یوه شاګرد وویل چی کشکې زه په هغه مخلوق کی وای چی نه روژه، نه لمونځ، نه حج، نه زکوٰة، نه د ګناه څخه ځان ساتل، نه د نظر حفاظت او په مفته جنت حاصل که.

نو حضرت ګنګوهی صاحب هغه ته وفرمایل چی اې بې عقله! هغه نوی مخلوق ته به جنت څه خوند ورکړی، خوند خو به موږ او تاسی

ته راکړی چې د تکلیفو وروسته به جنت ته ځو، چا چې نه روژه ونیول، نه یې لمونځ وکړی، نه یې غم یوړی، نه یې تکلیف برداشت کړی، نه یې جهاد وکړی، نه یې وینه توی کړه، نه یې حرام خواهشات قربان کړه نو هغه به خوند څه پیژنی چې خوند څه شی دی ځکه چې د آرام خوند د تکلیفو وروسته وی، څوک چې تکلیفونه پر ځان وړی هغوته دا احساس کیږی چې آرام او قرار څه شی دی.

لهٰذا حضرت گنگوهی صاحب هغه شاګرد ته وفرمایل چې انشاءالله موږ او تاسی ته چې به جنت کوم خوند راکړی هغه خوند به هغه نوی مخلوق ته ورنه کړی کوم چې به حق تعالیٰ پیدا کړی او جنت ته به یې ورواچوی.

الحمدُلله دغه وخت د روژې مبارکی په برکت عجبه علوم بیان سوه، حق تعالیٰ دې قبول کړی او تر قیامته پوری دې صدقهٔ جاریه وګرځوی آمین.

یاالله! تا چې فقط په خپل فضل سره ماته د خپل محبت کوم درد راکړی دی او دغه درد د نشرولو دپاره چې تا ماته د دې درد ترجمانی کونکې ژبه راکړې ده او په خپل کرم سره چې تا د دې درد کوم قدردانه اوریدونکی راکړی دی یاالله! زما فریادونه زما زړه ته او د ټولو اوریدونکو وزړو ته داخل کړې او یاالله! زما یو فریاد هم مه را ضایع کوې او په ټول جهان کی زما فریادونه او زما د زړه درد تر قیامته پوری د نشرولو اسباب پیدا کړې او د قبولیت شرف ورکړې. آمین یاربّ العَالمین

# مجلس درسِ مثنوی

## ۷ د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۶ د جنوری ۱۹۹۸ء د سې شنبې ورځ د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

**کودکی از حُسن شد مولای خلق          بعد پیری شد خرف رسوای خلق**

مولانا رومی صاحب فرمايي هغه لغړزنی هلک کوم چې د ښایست په خاطر مولائې خلق دی یعنی سردار شمارل کیږی چې راځه راځه پاچا! د حسن خاونده! د ښایستو وریښتانو خاونده! یعنی هر طرف دهغه عزتونه کیږی لاکن کله چې سپین ږیری سی نو ځوک پوښتنه هم نه پر کوی او په مخلوق کی ذلیل او رسوا سی، کوم هلک چې به خلکو په غیږ کی ګرځوی، دهغه سره به یې رقصونه کول او دهغه رقص ته به ناست وه اوس هر سړی هغه ذلیله کوی، کوم چې مولائې خلق وو، د حسن د زوال وروسته هغه رسوائې خلق سو، په دې خاطر د فانی حسن عارضی ښایست ډیره لو دوکه ده.

ډپټی نذیر احمد ادیب تیر سوی دی هغه د علی ګړه(هندوستان) د فاکولتې د یو هلک قصه لیکلې ده چیری چې زموږ میر صاحب(دحضرت صاحب خادم) هم سبق ویلی دی چې د دې فاکولتې یو هلک ډیر ښایسته وو، هلکوان خو دهغه په فکر کی وه چې وه لاکن استاذان هم دهغه په فکر کی وه، دغه حسن عجبه ظالم شی دی، که په زړه کی دخدای بیره نه وی نو ښایسته شاګرد استاد سی.

نو ټوله استاذان په هغه هلک پسی لیونیان وه، چا به شیرینی ورته راوړل، چا کبابونه ورته راوړل، تحفې ورکول کیدلې، هر وخت به دهغه په خدمت اخته وه لاکن پای یې څه شی سو؟ دوه درې کاله وروسته چې دهغه هلک پر باړخوګانو باندی وریښتان راغله او وریښتان هم داسی پر

راغله چې تر پزې پورې يې باړخوګان پټ سوه او ټوله بدن يې وريښتانو واخيستی، پر اوږو، پر څټ، پر سينه باندې، په بغل کې، پر هر ځای يې وريښتان راغله او بريتونه يې هم غټ سوه، پر دې زما شعر دی ؎

**مونچھوں کے زیرِ سایہ لبِ یار چھپ گئے**

**ترجمه**: د بريتو په سايه کې د يار شونډان پټ سوه

يعنې د يار کوم شونډان چې به خلکو زيښنل اوس پر هغه باندې غټ غټ بريتونه راغله، په تاريکه کې چې يې خوله وروره نو غټ غټ بريتونه په خوله کې ورغله، نو ټوله خوندونه يې بې خونده سوه او ؎

**داڑھی کے زیر سایہ وہ رخسار چھپ گئے**

**ترجمه**: د ږيرې په سايه کې هغه باړخوګان پټ سوه

هغه باړخوګان اوس معلوميږي هم نه پر کومو چې به خلک ليونيان وه او هر وخت به يې پوښتنه پر کول چې ستا څه حال دی، د دې وروسته د حسن زوال نور ډير سو نو ؎

**بالوں کی سفیدی میں زُلفِ یار چھپ گئے**

**جتنے تھے یارِ حسن وہ سب یار چھپ گئے**

**ترجمه**: د وريښتانو په سپينوالی کې د يار زلفې پټې سوې، نو څونه چې د حسن ياران وه هغه ټوله ياران پټ سوه

يعنې کله چې د بريتو په سايه کې د يار شونډان پټ سوه او د ږيرې په سايه کې دهغه باړخوګان پټ سوه او د وريښتانو په سپينوالی کې د يار زلفې پټې سوې نو څونه چې د حسن ياران وه هغه ټوله ياران هم ورک سوه يعنې هغو مخ ځنې واړوی او ځنې وې ځغستل، پر دې باندې زما شعر دی ؎

**شکل بگڑی تو بھاگ نکلے دوست　　　جن کو پہلے غزل سنائے ہیں**

**ترجمه**: دهغه شکل چې خراب سو نو تا ځنی وځغسته اشنایه، چاته چې دی تر مخه غزلی ویلې

دا د مجازی عاشقانو بې وفایي، خود غرضی او نفس پرستی ده، نو کله چې د فاکولتې د هغه هلک حسن ختم سو او دهغه ټوله عاشقان ځنی ولاړه نو دلته هغه ادیب یو شعر لیکلی دی کوم چې ډیر د عبرت دی ؎

**گیا حُسن خوبانِ دل خواه کا　　　ہمیشہ رہے نام اللہ کا**

**ترجمه**: بنایست ختم د حسن د خاوند سو، پاته همیشه نوم د الله سو

فقط د الله نوم، د الله د نامه لذت او د الله نور به همیشه پاته وی، د چا تر خولې چې یوواری د الله نوم راووتی دهغه نور به تر قیامته پوری دهغه پر روح پاته وی، مولانا رومی صاحب داغه ته فرمایي ؎

**رنگِ طاعت رنگِ تقویٰ رنگِ دین　　　تا ابد باقی بُود بر عابدین**

د حق تعالیٰ د اطاعت، تقوا او دین نور د عبادت کونکو پر ارواح همیشه پاته وی، د دې ماسوا هر شی فانی دی **کُلُّ شَیْءٍ مَا خَلَااللهِ بَاطِلٌ** حسن هم فانی دی او د حسن د خاوندانو سره عشق هم فانی دی لهٰذا مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

**عشق با مرده نباشد پائیدار　　　عشق را با حیّ و با قیّوم دار**

د دې فانی لاښو سره عشق پایداره نه وی، په دغه خاطر دهغه حیٌّ و قیّوم ذات سره محبت وکه کوم چې فنا نه لری، د مړو او دهغه حیٌّ و قیُّوم ذات عشق نه سی سره جمع کیدای، په داغه خاطر زموږ بزرګانو د لغړزنو څخه سخت احتیاط کړی دی.

نواب قیصر صاحب راته وویل چې زه او مولانا شاه ابرارُالحق صاحب به د حضرت تهانوی صاحب خانقاه تهانه بهون ته ورتللو، هغه وخت زموږ زیری او بریتونه نه وه راغلی، نو موږ دواړو ته په خانقاه کی شپه د تیرولو اجازه نه وه یعنی هر څونه لغړزنی هلکوان چې به وه نو د داسی هلکوانو دپاره د حضرت تهانوی صاحب دا حکم وو او د شپې به دا اعلان کیدی چې د کومو هلکوانو ږیری نه دی راغلی هغه دی ژر خانقاه خالی کړی، خانقاه ته نږدې یو کور په کرایه نیول سوی وو داسی ټوله هلکوان به په هغه کی اوسیدل او یو سپین ږیری دخدای دوست پر هغو نیګران وو کوم چې مهتمم الاطفال وو، دا زموږ د بزرګانو احتیاط وو.

د دې برعکس د سنت او شریعت خلاف چې کوم خانقاوی دی هغه په اصل کی خانقاوی نه دی خواه مخا دی او دهغو پیران شاه صاحبان نه دی سیاه صاحبان دی چې د لغړزنو هلکوانو غټ غټ وریښتان، سترګی توری کړی دهغو څخه نعتونه اوری، که څه هم داسی هلکوانو ته کتل او دهغو څخه نعتونه اوریدل همداغسی حرام دی څنګه چې یوې نامحرمه ښځی ته کتل او دهغې څخه نعتونه او عارفانه کلام اوریدل حرام دی. علّامه شامی رحمة الله علیه لیکلی دی چې

اَلْاَمْرَدُ الْحَسَنُ الَّذِیْ طَرَّ شَارِبُهٗ وَلَمْ تَنْبُتْ لِحْیَتُهٗ فَحُکْمُهٗ کَحُکْمِ الْمَرْأَةِ لَایَجُوْزُ النَّظَرُ مِنْ فَرْقِهٖ اِلٰی قَدَمِهٖ

یعنی د لغړزنی حکم په مثال د ښځی دی هغه ته د سر څخه تر پښو پوری کتل حرام دی

لهٰذا موږ چې هر څونه دخدای شکر ادا کړو کم دی چې حق تعالیٰ د ربښتنی اولیاوو سره تعلق راپه نصیب کړی کنې معلومه نه ده چې زموږ به

څه حال وای، آه! یوواری دحضرت تهانوی رحمة الله علیه وراره مولانا شبیر علی صاحب یو لغړزنی هلک د خانقاه بالا خانې ته واستوی چیری چی حضرت تهانوی صاحب په اوداسه بیانُ القرآن تفسیر لیکی، حضرت تهانوی صاحب یوه لحظه هم هلته پاته نه سو سمدستی لاندی راکښته سو او وې فرمایل چی مولوی شبیر علی د چا چی ږیره او بریتونه نه وی راغلی داسی هلکوان زما تنهایې ته مه رالیږه، پر نفس هیڅ باور نسته او وې فرمایل کوم خلک چی ما حکیمُ الْاُمت او مُجَدّدُالمِلت بولی هغه دی زما د دغه عمل څخه سبق واخلی چی کوم سړی هغه خپل مشر بولی هغه چی پر خپل نفس باور نه کوی او د ګناوو د اسبابو څخه احتیاط کوی نو خپله هغوته څونه احتیاط پکار دی ے

**بھروسہ کچھ نہیں اس نفسِ امّارہ کا اے زاہد**
**فرشتہ بھی یہ ہو جائے تو اس سے بد گماں رہنا**

**ترجمه**: پر نفسِ امّاره باندی هیڅ باور نسته اې زاهده!، د ملایکی په شان چی هم سی نو دهغه څه بدګمانه اوسه

**همچو امرد کز خدا نامش دهند**
**تا بدان سالوس در دامش کنند**

مولانا رومی صاحب فرمایی چی ځنی خبیث الطبع خلګ لغړزنی هلکوانو ته خدایی حسن وایی چی ته خو د حسن ملایکه او دحسن خدای معلومیږې چی په دغه صفت او چاپلوسی هغه هلک د خپل مکر او دوکې په جال کی ونیسی، دا زه نه وایم دا مولانا رومی رحمة الله علیه فرمایی کوم چی اته سوه کاله تر مخه تیر سوی دی، هغه دخدای طلبګارانو ته سبق ورښوی چی پام کوی د نفس څخه هوښیار اوسی، نفس داسی چاپلوسی او صفتونه

کوی چې هغه معشوق په خپل جال کې راولي، سالوس معنٰی د دوکې دپاره د یو چا چاپلوسی او صفت کول.

پر دې باندې یوه قصه واورې کوم چې زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب راته کړې وه چې یو پوسته خانې والا د یو سړي سره جنګ وکړی، نو هغه سړي داسې کسات ځنې واخیسې چې د هر ځای شخه به هغه پوسته خانې والا تیریدی نو هغه سړي به په زوره نارې شروع کړې چې ایسته سې سرکاری سړی را روان دی او خپله به هم یوې خوا ته سو او که به یو وخت هغه سړی په موټر کې روان وو نو موټر به یې یوې خوا ته ودروی او د موټر شخه به راکښته سو او په ولاړې به یې سلامې ورته وکړه چې اې وروڼو! وګورې سرکاری خطونه روان دی، دغه سرکاری سړی دی، د ده ډیر احترام وکړی، پوسته خانې والا دغه فکر شروع کړی چې زه خو ډیر لوی شی یم، یوه ورځ سرمامور را روان وو نو پوسته خانې والا دهغه شخه هم اکرام طلب کړی او دهغه د موټر ومخته یې خپل باسکل ودروی او په بد مخ او بې ادبې یې ورته وویل چې ته نه وینې چې سرکاری خطونه روان دی زما لار راکرځوې، بس سرمامور داسې وهل ورکړل چې طبیعت یې سم سو.

نو بعضې خلک د ډیر اکرام وروسته خلک ډبوی، همدغه رنګه نفسی خلک د معشوقانو صفتونه او چاپلوسی کوی چې هغه په خپل دام کې راولي او خپل کار سم کړی، د مولانا رومی صاحب مقصد دخدای طلبګارانو ته پاملرنه کول دی چې تاسې که د دې شکلو او مخانو په عشق اخته سواست نو تاسې په دې پوه سی چې څوک د کاینات په لیلاوو اخته سو هغه د کاینات د مولٰی شخه محرومه سو او آخر پای د معشوقانو حسن هم پاته نه سو، لهٰذا نه یې دنیا تر لاسه کړه نه یې آخرت ـــه

نہ خُدا ہی ملا نہ وصال صنم نہ اِدھر کے رہے نہ اُدھر کے رہے

**ترجمه**: نه مې خدای حاصل کړی نه مې محبوب تر لاسه کړی، نه د دې خوا سوم نه د هغې خوا سوم

مولانا رومې صاحب د سر خلاصولو دپاره يو مثال وړاندې کوی چې يو سړی په درياب کې د سپوږمۍ عکس وليدی او دا فکر يې وکړی چې نن خو سپوږمۍ اوبو ته راکښته سوې ده راځه چې وې نيسو ځکه چې آسمان ته تګ خو مشکل وو اوس خو سپوږمۍ مځکې ته راکښته سوې ده راځه چې دا ونيسو، کله چې هغه اوبو ته ورداخل سو نو تر ښنو لاندې يې خاورې چې سره وښوريدې نو اوبه خړې سوې او د سپوږمۍ عکس د اوبو څخه ورک سو او سړی د اصلي سپوږمۍ څخه هم محرومه سو بلکې د سپوږمۍ څخه نور ليرې سو، مولانا رومې صاحب نصيحت کوی چې د دې حسن د خاوندانو څخه ليرې واوسيږه نو ته به خدای حاصل کړې کنې څوک چې په عکس پسې وځغلې هغه به د اصل څخه هم محرومه سي او کله چې د معشوقانو حسن ختم سي نو د ځوانی خرمستې او شوخې هم ختمه سي او دهغو عاشقان هم خپل لاسونه مږی چې افسوس په دوی چې موږ کومې وريجې او غورمې، شيرينې او داسې نور شيان وخوړل هغه ټوله بيکاره ولاړه.

د دې برعکس د تقوا خاوندان چې سپين ږيری هم سي لاکن دهغو د زړو مستې حق تعالیٰ باقې ورساتې ځکه چې د هغو ځوانی پر حق تعالیٰ قربان سوې ده، هغو د خپل ځوانۍ خواهشات دخدای سره جمع کړل او کوم شې چې دخدای سره جمع سو هغه باقې پاته سو، لهٰذا په سپين ږيروالی کې هم د تقوا د خاوندانو پر روح باندې ځوانې پاته وی، هغوته ذکر داسې خوند ورکوی چې د ټول جهان لذتونه دهغه خوند ومخته هيڅ هم نه وی، حق تعالیٰ

فرمایي **مَا عِنۡدَكُمۡ يَنۡفَدُ وَمَا عِنۡدَ اللّٰهِ بَاقٍ** (سورت نحل، آیت۹۶) هر څه چې ستاسې سره دي هغه فنا کېدونکي دي او څه چې د الله سره دي هغه باقي پاته کېدونکي دي.

لهٰذا هر څه چې تا د خپل نفس پر خواهش باندې قربان کړه او د ژوند ځواني او تور وربښتان چې تا د حسن د خاوندانو پر باړخوګانو باندې قربان کړه نو تا ټوله فنا کړه او دا ټوله **مَا عِنۡدَكُمۡ يَنۡفَدُ** سول، نه تور وربښتان پاتېږي، نه سپین باړخوګان پاتېږي، د تلاښ سربېره به یې هم نه کړې پیدا چې ځواني څه سوه، یو سپین ږيرې پر ملا کړوپ روان وو، په سپین ږیروالي کې ملا کړوپه سي، نو یو ځوان د پسخنده پوښتنه ځنې وکړه چې مشره کړوپ کړوپ روان یې په څه شي پسې ګرځې؟ نو هغه ورته وویل زه په خپله ځواني پسې ګرځم.

بس څوک چې د فنا کېدونکو پر حسن باندې مرې او د پیغمبر د لارې خلاف خپل ژوند تېروي د هغو همدغه حال وي چې هغوته نه دنیا په لاس ورځي نه آخرت او داسې شخص خو دخدای دوست کېدای هم نه سي ځکه چې دخدای دوستي پر تقوا باندې ده او معشوقانو ته زړه ورکول فسق دي او فسق او تقوا نه سي جمع کېدای، دا د ضدینو اجتماع ده کوم چې ناممکنه ده، مخته مولانا رومي صاحب فرمایي ؎

**چون به بدنامی بر آید ریش اُو　　　دیو را ننگ آید از تفتیشِ اُو**

کوم بنایسته هلک چې مجازي عاشقانو د حسن خدای بلی او دهغه صفتونه او چاپلوسي یې کول او پر هغه باندې یې پیسې په مصرفولو سره هغه د شهوت او فسق په دام کې نیوی، یو څو شپې وروسته چې هغه هلک د ږیرې او بریتو خاوند سي نو بیا شیطان هم دهغه خیریت نه پوښتي

او دهغه عاشقان د فرار لاره اختیار کړی او که یو ځای یې ووینی نو ځنی په ځغاسته سی۔

**چون رود نور و شود پیدا دُخان بفسرد عشقِ مجازی آن زمان**

مولانا رومی صاحب فرمایي بیره او بریتونه په راتللو سره چی د کوم هلک پر مخ دود ښکاره سی او د مخ حسن یې ختم سی نو هغه وخت د عشق بازار سوړ سی او داسی سوړ سی چی بیا هیڅکله نه سی تود، په داغه خاطر مولانا رومی صاحب نصیحت کوی چی۔

**عشق با مرده نباشد پائیدار عشق را با حیّ و با قیّوم دار**

د فنا کیدونکو سره عشق پایداره نه وی ځکه چی یو ورځ به هغوته مرګ راسی یا به یې د مرګ تر مخه حسن داسی ختم سی چی بیا به دی هغوته د کتلو زړه هم نه غواړی، لهٰذا محبت فقط دهغه حقیقی ژوندی ذات سره وکه کوم چی د همیشه څخه ژوندی دی او همیشه به ژوندی وی او د چا د ژوند د فیض څخه چی د ټوله کاینات ژوند قایم دی او کوم چی قیُّوم هم دی چی د خپله ذاته څخه قایم دی، د هیچا محتاجه نه دی او ټوله کاینات یې په خپل قدرت سره په قبضه کی ساتلی دی، بس فقط هغه حیُّ او قیُّوم ذات د محبت لایق دی ځکه چی فنا کیدونکی خپله یو ورځ مړه کیږی نو هغه نورو ته څنګه ژوند ورکولای سی او څوک چی خپله پر ځان پام نه سی کولای هغه به پر نورو څه پام وکړی.

**نافِ ما بر مهرِ خود ببریده اند عشق خود در جانِ ما کاریده اند**

کله چی کوچنی پیدا سی نو د کوچنی په نامه کی یو جلا رګ وی کوم چی د مور د نس سره مښتی وی چی لړمون بلل کیږی دایی هغه لړمون پرې کړی، دا د دې دلیل دی چی د کوچنی رابطه د مور د نس سره ختمه

سوه او کوچنی اوس دنیا ته راغلی او هغه ته یو جلا وجود عطا سو، مولانا رومی صاحب داغه ته فرمایي چې حق تعالیٰ د خپل محبت پر شرط باندی زموږ لږمون یعنی نو راپیرې کړی دی، بر مهرِ خود یعنی د خپل محبت پر شرط باندی، دلته د بر معنیٰ شرط دی یعنی حق تعالیٰ د خپل محبت پر شرط باندی موږ ته وجود راکړی دی چې ځې خو دنیا ته لاکن زما د محبت پابنده اوسه، پر دغه شرط باندی زه تا دنیا ته لیږم چې ته به د پردو نه کیږې، نه به د نفس کیږې، نه به د شیطان کیږې، زما یې زما به اوسې ؎

**نہیں ہوں کسی کا تو کیوں ہوں کسی کا　　اُنہیں کا اُنہیں کا ہوا جا رہا ہوں**

**ترجمه**: نه یم زه د چا نو ولی سم د چا، دهغه یم دهغه یم فقط دهغه کیږم

او زموږ شیخ به دغه شعر ویلی ؎

**نہ کبھی تھے بادہ پرست ہم نہ ہمیں یہ ذوقِ شراب ہے**
**لب یار چوسے تھے خواب میں وہی ذوقِ مستیِ خواب ہے**

**ترجمه**: نه یو وخت شرابي وم نه زه د شرابو شوق لرم، د یار شونډان می زبیښلی وه په خوب کی دا هغه د خوب مستی ده

بیا به زموږ شیخ د دې شعر معنیٰ راته وکړه چې کله حق تعالیٰ په عالمِ ازل کی خپله تجلا ارواحو ته ورښکاره کړه او سوال یې ځنی وکړی چې **اَلَسۡتُ بِرَبِّکُمۡ** آیا زه ستاسی ربّ نه یم؟ نو په دې کی یې د خپل ربوبیت تجلا ښکاره کړه او د خپل محبت زخم یې پر زړه ولګوی، دا هغه لګیدلی زخم دی چې نن هم د الله نوم په اوریدلو سره د کافر زړه ولړزیږی او سړی چې هر څونه فاسق وی لاکن د الله نوم په اوریدلو سره هغه فکر ته مجبوره سی چې آه! شاید دغه نوم ما یو وخت اوریدلی دی، خپل د محبت

زخم په لګولو سره یې موږ دنیا ته رالیږلی یو، دخدای محبت زموږ د ارواحو فطری شوق دی، خواجه مجذوب صاحب داغه ته فرمایي ے

دل ازل سے تھا کوئی آج کا شیدائی ہے

تھی جو اِک چوٹ پرانی وہ اُبھر آئی ہے

**ترجمه**: زړه د ازل څخه شیدا وو د نن څخه نه دی، یو زخم زوړ پر لګیدلی وو چې نن بیرته راپورته سو

کله چې یخ باد وچلیږی نو زوړ زخم درد شروع کړی، دخدای د محبت دغه یخ بادونه د اولیاوو په مجلسو کی حاصلیږی د جامع صغیر روایت دی نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایي چې

**اِنَّ لِرَبِّكُمْ فِيْ اَيَّامِ دَهْرِكُمْ نَفَحَاتٍ فَتَعَرَّضُوْا لَهٗ لَعَلَّهٗ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ نَفْحَةٌ مِّنْهَا فَلَا تَشْقَوْنَ بَعْدَهَا اَبَدًا** (جامع صغیر جلد ۱، صفحہ ۹۵)

اې زما د اُمَّت خلکو! ستاسی د زمانې په شپو او ورځو کی دحق تعالیٰ د قرب بادونه چلیږی، د جذب تجلیات نازلیږی، تاسی په هغه پسی وګرځی، شاید تاسی په هغه کی یوه تجلا، د کرم یو شمال حاصل کړی چې دهغه تاثیر دا دی چې بیا تاسی هیڅکله بدبخت او بدنصیبه نه سی کیدای

په دغه حدیث شریف کی دحق تعالیٰ د قرب د هواوو او د قرب د تجلاوو د نازلیدو زمانه او وخت ښوول سوی دی لاکن د بُخاری شریف په یوه حدیث کی د دې ځای هم ښوول سوی دی چې دا چیری نازلیږی

**هُمُ الْجُلَسَاءُ لَا يَشْقٰى جَلِيْسُهُمْ**

(بخاری جلد ۲، باب فضل ذکر اللّٰہ تعالیٰ)

دغه اولیاء داسی همنشینه دی چې دهغو مجلسی هیڅکله بدبخت او بدنصیبه نه سی پاته کیدای

دواړه حديثونه په يو ځای کولو سره يو عظيم علم راته عطا سو چې د زمانې په شپه او ورځ کی چې د جذب کوم تجليات نازليږی کوم چې بدبختی په خوشبختی بدله کړی دهغو منزل او د حاصليدو ځای د اولياوو مجلسونه دی ځکه چې د اولياوو مجلسی او همنشينه بدبخته نه سی پاته کيدای نو معلوم سول چې د دې قرب د تجلاوو د نازليدو ځای د اولياوو مجلسونه دی لهٰذا څوک چې د اولياوو سره کښيني نو د جذب يوه تجلا به پر هغه هم ولويږی او هغه به د هميشه دپاره خوشبخته سی او د محبت زوړ زخم کوم چې په عالمِ ازل کی د **اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ** په فرمايلو سره حق تعالیٰ لګولی وو هغه به بيا راپورته سی او هغه به مستقله دحق تعالیٰ د محبت درد حاصل کړی.

دواړه حديثونه په يو ځای کولو سره چې کوم عظيم علم حق تعالیٰ راته عطا کړی په هغه می زړه مست دی، د جامع صغير د روايت څخه معلوم سول چې د دې دنيا شپې او ورځې د جذب د تجلاوو زمانه ده چې په داغه شپو او ورځو کی چې چاته هغه تجليات حاصل سی دهغه وروسته څوک شقی او بدبخته نه سی پاته کيدای، ددغه حديث شريف څخه د جذب د تجلاوو، د قرب د تجلاوو او د کرم د تجلاوو زمانه خو معلومه سوه لاکن په زړه کی به دغه سوال راپيدا کيدی چې دغه تجليات حاصليږی چيری؟ د بُخاری شريف د حديث **لَايَشْقٰى جَلِيْسُهُمْ** څخه حق تعالیٰ دستی په زړه کی دغه خبره راواچول چې د اولياوو مجلسونه هغه ځای دی چيری چې دغه تجليات نازليږی کوم چې د حاصليدو وروسته شقاوت په سعادت او بدبختی په نيک بختی بدله سی، الحمدُلله د جذب د تجلاوو وخت او ځای دواړه په حديث سره مدلل سوه **فَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ**.

حق تعالیٰ په خپل کرم سره عجبه علوم راباندی بيانوی او دا ستاسی برکتونه دی، د دې مياشتی برکتونه دی او زما دهغو بزرګانو برکتونه دی د

چا سره چې ما یو عمر تیر کړی او داسی عمر می ورسره تیر کړی چې ما په ځنګله کی لس کاله د سهار د لمانځه څخه د غرمې تر یوې بجې هیڅ شی نه دی خوړلی ځکه چې زموږ شیخ سهار چای نه چیښلې نو ما څنګه چیښلی وای، زه به شرمیدم چې شیخ خو چای نه چیښی او ماته د کوره څخه چای راسی، زما چای به د اشراق او څاښت لمونځ او ذکر او تلاوت وو، د غرمې تر یوې بجې به د خوراک یوه دانه زما نس ته نه تلل، ډیر زیات به وږی کیدم لاکن څه درته ووایم چې د شیخ صحبت به ماته څونه خوند راکاوه، تر ننه هغه خوند په زړه کی راته محسوسیږی، حق تعالیٰ دې قبول کړی.

بس څه درته ووایم عجبه معامله وه، هلته نه تشناب وو، نه غسل خانه وه، ځنګله ته به د استنجا دپاره تلم او تقریباً د یوه میل لیری څخه به ما د شیخ دپاره اوبه راوړلې ځکه چې زموږ شیخ د ځاه په اوبو اودس نه تازه کاوه فرمایل به یې چې هندوانې د دې ځاه څخه اوبه وړی او ځاه ته خپلی څلواغې وراچوی که څه هم اودس په تازه کول روا دی لاکن زما زړه یې نه قبلوی، لهٰذا په ګرمی او لمر کی به می هره ورځ د یوه میل لیری ولې څخه د شیخ صاحب دپاره اوبه راوړلې، دحق تعالیٰ د رحمت څخه امید دی چې ؎

**آہ جائے گی نہ میری رائیگاں　　　تجھ سے ہے فریاد اے ربِّ جہاں**

**ترجمه**: نه به سی ضایع زما فریادونه، تاته کوم زاری اې د جهانو ربّه

د اولیاوو خدمت حق تعالیٰ نه ضایع کوی، د خپل محبوب بندګانو خدمت او دهغو محبت حق تعالیٰ نه ضایع کوی. مولانا شاه ابرارُالحق صاحب کوم چې اوس زما شیخ دی هغه په سعودی کی ماته وفرمایل په ټوله دنیا کی چې دا ستا نوم اخیستل کیږی او ستا څخه چې د دین کوم کار

اخیستل کیږی دا ټوله د خپل شیخ شاه عبدُالغنی پهولپوری رحمة الله علیه د خدمت برکت دی او خپل سکه ورور اسرارُالحق صاحب ته کوم چې په حیدرآباد کی اوسیدی وفرمایل په کتابو کی چې ما دغه ویلی وه چې په اولو وختو کی به خلک پر خپل شیخ باندی څنګه قربانیدل او په څونه تکلیف او محبت سره به دهغو په خدمت اخته وه دا په کتابو کی خو ما ویل لاکن په خپل ژوند کی ما نه وه لیدلی لاکن په محمد اختر کی ما هغه د کتابو ویل سوی ولیده، دا زموږ د شیخ ورور ماته وویل چې مولانا ابرارُالحق صاحب ستا په باره داسی ویل، په دې زه دونه خوشحاله یم که د هفتِ اقلیم سلطنت هم قربان کړم نو حق یې نه سی ادا کیدای.

یوواری د شپې پر یوولس بجې د شیخ کلی پهولپور(هندوستان) ته ورغلم، هلته رامعلوم سول چې زموږ شیخ او مولانا شاه ابرارُالحق صاحب دواړه د اعظم ګړه کلی ته تللی دی کوم چې دهغه ځای څخه دیرش ځلویښت میله لیری وو، زه په پهولپور کی بیده نه سوم که څه هم د بیدیدو ځای وو، سیده اسټیشن ته راغلم او هلته ناست وم، پر دوې درې بجې ریل ګاډی راغله په هغه کی د تهجد پر وخت اعظم ګړه ته ورسیدم.

شیخ صاحب بیده وو، زموږ د شیخ دا معمول وو چې په خوب کی به یې پر لږ لږ وخت باندی الله الله ویل، نیم ساعت یا شل دقیقې وروسته به یې سترګی خلاصی سوې، داسی خوب یې نه وو چې په هغه کی تسلسل وی، هر نیم ساعت وروسته چې به یې سترګی خلاصی سوې نو الله الله به یې وویل بیا به بیده سو، ګواکې د الله ذکر زموږ د شیخ غذا او د ژوند بنیاد وو، بس شیخ صاحب چې څنګه الله الله وویل نو ما ورته وویل السّلامُ علیکم ورحمةُ الله، راته وې فرمایل وعلیکمُ السّلام ورحمةُ الله وبرکاته او په حیرانتیا یې راته وویل چې ته دا وخت څنګه

راغلې؟ اوس خو شپه ده سهار سوی لا نه دی، ما ورته وویل چې ستا په تلاش کې پهولپور ته ولاړم هلته چې می ته نه کړې پیدا نه نو زما څخه خوب ولاړی او په ریل ګاډی کې دلته راغلم، بیا ما دغه شعر ورته وویلی ے

**صبا به لُطف بگو آن غزالِ رعنا را      که سر به کوه و بیابان تو دادهٔ ما را**

اې هوا ! هغه اوسی ته کوم چې په ځغستا کې پورته پورته غورځی په غوږ کې دغه ووایه چې زما سر دی د غرو په لمن کې او په ځنګلو کې راوجنګوی او ته ماته حاصل نه سوې، بس دغه د اوریدلو وروسته پر شیخ صاحب باندی یو کیفیت راغلی او مولانا شاه ابرارُالحق صاحب ته یې په غوږ کې یو څه وویل، مولانا ابرارُالحق صاحب د سهار د لمانځه وروسته ماته وفرمایل چې نور ته د شیخ صاحب څخه مه جلا کیږه، ته د شیخ سره واوسیږه او د شیخ خبری د ځانه سره لیکه، ستا د کور مصرف به زه درته را استوم، زما خوشحالی خو انتها نه درلوده، کله چې شیخ صاحب زما څخه پوښتنه وکړه چې په دې باره کې ستا څه خیال دی؟ نو ما ورته وویل چې ړوند سترګې غواړی او وړی ډوډی غواړی.

مولانا شاه ابرارُالحق صاحب څو کاله ماته شپیته روپۍ د میاشتی را استولې، زموږ د شیخ کرامت وو چې د کور ټوله کارونه به په کیدل، زما ښځې مځکی درلودې غنم مو د خپله کوره وه لاکن بیا هم چای، شیدې، بوره او د داسی نورو شیانو دپاره شپیته روپۍ په هغه وخت کې ډیری وې، دهغه وخت څخه مولانا شاه ابرارُالحق صاحب پر ما خاص مهربانه وو که څه هم هغه وخت زما شیخ نه وو، زموږ د شیخ سره یې د اصلاح دپاره تعلق درلودی، زما سره به داسی اوسیدی لکه د یوه پیر مریدان چې یو او موږ دواړو به د شیخ صاحب څخه د لرګو جنګ هم زده کوی شیخ صاحب به واری راباندی وکړی موږ به راګرځوی او کله به موږ واری پر وکړی نو

شیخ صاحب به زموږ واری راګرځوی او شیخ به دغه رابنول چی واری باید داسی راوګرځول سی او داسی باید واری وسی. مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

**راهِ لذّت از درون دان نز بُرون　　اَبلهی دان جُستن قصر و حصون**

مولانا صاحب فرمايي چی د لذت لار دننه ده دباندی نه ده یعنی لذت پر خارجی اسبابو باندی نه دی ولاړ بلکې په زړه اړه لری، که په زړه کی قرار سته نو د لذت او قرار خارجی اسباب که نه وی بیا به هم زړه مست وی، د زړه آرام او قرار هیڅوک نه سی اخیستلای او که په زړه کی ناآرامی ده نو د آرام په اسبابو کی، د لذت او عیش په اسبابو کی به هغه ناقراره وی، په دغه خاطر مولانا رومی صاحب فرمايي چی د قرار دپاره پر قلا او قصر یعنی پر خارجی اسبابو باندی تکیه کول بې عقلی ده ځکه چی زړه ته که په خارجی اسبابو لذت راهم غلی نو به عارضی وی.

وګوری پنځه لاری دی چی زړه دهغه څخه لذت حاصلوی، زړه د دباندی څخه د لذت حاصلولو دپاره د حواسِ خمسه د پنځو لارو محتاجه دی په ښه آواز یې شعر واوریدی نو د غوږ په اوریدلو سره زړه خوشحاله سو نو دغه لذت د سامعه د لاری څخه حاصل سو، همدغه رنګه په کتلو سره چی کوم خوند واخیستل سو هغه د قوتِ باصره څخه واخیستل سو او ښه ښه خواړه په خوړلو سره چی کوم خوند حاصل سو هغه د قوتِ ذایقه څخه حاصل سو، په پزه یې عطر بوی کړه نو دغه خوند د قوتِ شامّه څخه حاصل سو، په لمسولو سره یو شی خوند وکړی نو دا د قوتِ لامسه څخه حاصل سو، ټول لذتونه کوم چی زړه ته راځی زړه د دې ټولو لذتو دپاره باصره، سامعه، شامّه، لامسه، ذایقه د دې پنځو لارو محتاجه دی، دا ټول لذتونه په زړه کی جمع کیږی لهٰذا زړه ګودام دی لاکن مولانا رومی صاحب

فرمايي چې د خارج څخه د لذت حاصلولو مثال د هغې قلا په شان دی کومې ته چې د دباندی څخه د خوړو اوبو پنځه ولې رارواني وی او د قلا خلګ دهغه په لذت مست وی لاکن يوه ورځ چې د دښمن فوج پر راسی او قلا په محاصره کولو سره د ولو لاری بندی کړی، هغه وخت به د قلا خلګ د اوبو په يوه يوه څاڅکی پسی مړه سی.

مولانا رومی صاحب فرمايي د انسان بدن هم يوه قلا ده چې دغه قلا ته د حواسِ خمسه د پنځو ولو څخه لذتونه ورکول کيږی، يوه واله باصره ده يعنی د سترګو په ديد سره لذت حاصليږی، يوه واله سامعه ده يعنی د غوږو په اوريدلو سره زړه ته لذت ورکول کيږی، يوه واله ذايقه ده يعنی د ژبی په څکلو سره زړه خوند اخلی، يوه واله شامّه ده يعنی د پزی په بويولو سره لذت حاصليږی او يوه واله لامسه ده يعنی د لاس په لمسولو سره باطن ته لذت داخليږی لاکن کله چې مرګ راسی نو سترګی، غوږونه، پزه، ژبه او لاس د دې په ذريعه چې کوم لذتونه حاصليدل هغه ټوله لاری ختمی کړی، مولانا رومی صاحب فرمايي ــه

**قاطعُ الاسباب لشکر هاى مرگ　　　همچو دى آيد بقطع شاخ و برگ**

يوه ورځ د مرګ لښکر د خوند ټوله اسباب د ختمولو دپاره راورسيږی او د ژوند د باغ چې کوم ښاخ او بلګونه دی هغه په پرې کولو سره د وجود پسرلی په خزان بدل کړی، بس هغه محروم وجود کوم چې د دباندی څخه په راتلونکو خوندو کی غرق وو او چا چې حق تعالیٰ په راضی کولو سره په خپل باطن کی دخدای د تعلق لازواله دولت حاصل نه کړی د مرګ پر وخت دهغه ټوله خوندونه ختم سی، هغه وخت فانی لذتونه هغه ته هيڅ ګټه نه سی وررسولای، د مرګ وروسته تر ښايسته لا ښايسته مخ چاته چې په کتلو سره به يې حرام خوند اخيستی هغه يې مخ ته دی لاکن

اوس سترګی د دید څخه قاصر دی، پر ژبه یې کباب پروت دی لاکن ژبه د لذت د ادراکه څخه قاصر ده، کوچنیان په غوږ کی پلاره پلاره ورته وایي لاکن غوږونه اوس د اوریدلو څخه قاصر دی، پزه د عود، عنبر او شمامه عطر د بویولو څخه معذوره ده، د لکهاوو روپو نوټونه کوم چی به یې په حسابولو سره خوند اخیستی اوس یې پر لاس پراته دی لاکن قوتِ لامسه فلج ده، د بدن قلا ته چی د حواسِ خمسه د لارو څخه د خوندو کومی ولې را روانی وې مرګ هغه بندی کړې لهٰذا بدن اوس د خوند د ادراکه څخه قاصر دی، د اکبر اِلٰه آبادی شعر دی ؎

**قضا کے سامنے بے کار ہوتے ہیں حواس اکبرؔ**
**کھلی ہوتی ہیں گو آنکھیں مگر بینا نہیں ہوتیں**

**ترجمه**: د اجل وړاندې حواس بیکاره سی اکبره، که څه هم سترګی خلاصی وی خو د دید طاقت پکښې نه وی

او زما شعر دی ؎

**اگر قضا باہوش کو بے ہوش کر گئی　　　ہنگامۂ حیات کو خاموش کر گئی**

**ترجمه**: اجل راغلی پر سد سړی یې بې سده کړی، د ژوند شور ما شور یې ختم کړی

مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

**آن زمان یک چاهِ شوری اندرون　　　به ز صد جیحونِ شیرین از بُرون**

بس که دغه شخص د باصره، شامّه، ذایقه، سامعه او لامسه د لارو څخه باطن ته د داخلیدو په فانی خوندو کی یودم غرق نه وای او په خپل ژوند کی یې دحق تعالیٰ د محبت او اطاعت یوه تروه چینه هم په خپل زړه کی کیندلې وای یعنی د فرمانبرداری او اطاعت لږ غوندی کوښښ یې هم

کړی وای نو دغه معمولی او ذره غوندی کوښښ چی د دې مثال د عبدیت د نقصان په سبب د تروو اوبو د چینې دی نو د اطاعت دغه تروه چینه به د مرګ پر وخت د فانی لذتو تر هغه ډیرو خوږو ولو ښه وای کوم چی د پنځو حواسو په ذریعه د دباندی څخه د بدن قلا ته را روانی وې.

بس کله چی دخدای د محبت یوه تروه چینه هم د فایدې څخه خالی نه ده نو موږ ولی په دغه ژوند کی د حق تعالیٰ د محبت غیر محدوده او لازواله واله په خپل زړه کی حاصل نه کړو او د اولیاء صدیقین تر آخری سرحده پوری د رسیدو فریادونه ولی وخدای ته ونه وکړو، ځکه چی دغه ژوند یوواری راکړل سوی دی دوهم واری بیا نه راکول کیږی نو چی دوهم واری ژوند نه راکول کیږی نو دخدای د دوستی تر ټولو آخری مقام ته د رسیدو دپاره ولی ځان نه کړو قربان، د دې طریقه څه شی ده؟

د پنځو حواسو چی کومی پنځه لاری حق تعالیٰ موږ ته راکړی دی دهغو څخه فقط حلال خوندونه حاصل کړو او د حرام خوند یوه ذره وزړه ته داخل نه کړو، بس که چا پر خپلو پنځو سره حواسو باندی د تقوا چوکیدار مقرره کړی او هغه یوه لحظه هم حق تعالیٰ په خوابدی کولو سره حرام خوند زړه ته نه پریږدی نو دهغه پر زړه به د تقوا په نور او د مجاهدې په غم سره د تجلاوو نزول هم مسلسله کیږی.

دغه عظیم علم حق تعالیٰ ماته په دغه الفاظو سره پر زړه راکړی چی پر داسی زړه باندی کوم چی په مجاهده کولو سره زما غم وړی، یوه لمحه او یوه ساه هم ما نه خوابدی کوی او زما د خوابدتیا د لارو څخه خپل زړه ته یوه اعشاریه خوشحالی داخلیدو ته نه پریږدی، زبردسته چوکیداری پر کوی، حرام خواهشات قربانوی او زخم پر ځان وړی نو پر داسی زړه باندی الٰهی تجلات وَافِره مُتَواتِره بازِغه نازلیږی، په وافره کی تعداد دی او په

بازغه کې کیفیت دی یعنی ډیر خاص او قوی تجلا او متواتره یعنی مسلسله پر نازلیږی او دا مسلسله ولی پر نازلیږی؟ ځکه چې دهغه شخص مجاهده مسلسله وی په دغه خاطر تجلا هم مسلسله پر اوری، په داغه خاطر په حدیث شریف کې دی **اِتَّقِ الْمَحَارِمَ تَکُنْ اَعْبَدَ النَّاسِ (مشکٰوۃ جلد۳ صفحه ۱۴۳۰)** ته د حرام څخه ځان وساته تر ټولو لوی عبادت ګزاره به سې.

ځکه چې د عبادت کونکو عبادت تر یو محدود وخته پوری وی، حق تعالیٰ د خوشحاله کولو په عبادت کې هغه تر یو محدود وخته پوری مشغوله کیدای سی مثلاً نفل، ذکر او تلاوت تر یو محدود وخته پوری کولای سی لاکن څوک چې په تقوا سره اوسیږی، د ګناوو څخه ځان ساتی نو هغه هر وخت په عبادت کې دی، دهغه هره دقیقه، هره سانیه، هره ساه حق تعالیٰ د نه خوابدی کولو په عبادت مشغوله ده، په دغه خاطر تقواداره شخص څلیرویشت ساعته عبادت ګزاره دی ځکه چې هغه څلیرویشت ساعته حق تعالیٰ د نه خوابدی کولو په عبادت اخته دی، د زړه، وجود او سترګو په ذریعه هغه یوه لمحه حق تعالیٰ نه خوابدی کوی، په داغه خاطر په دغه لوړ حدیث شریف کې تقواداره شخص ته تر ټولو لوی عبادت ګزاره ویل سوی دی او که یو وخت خطا ځنی وسی نو تر څه وخته چې په توبه او استغفار سره او د اوښکو په تویولو سره حق تعالیٰ راضی نه کړی هغه ته قرار نه ورځی.

مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه فرمایي چې په تقوا سره اوسیدل هغونه آسانه دی څونه چې په اوداسه اوسیدل دی، اودس که مات سی نو بیرته اودس تازه که، همدغه رنګه که تقوا یو وخت ماته سی نو په توبه کښلو سره بیرته تقواداره سه، بس شرط دغه دی چې د توبه کښلو پر وخت به توبه د ماتولو نیت نه وی، ټینګ عزم به وی چې بیا هیڅکله دغه

ګناه نه کوم، که وسوسه درپیدا سی چې ته بیا دغه ګناه کوې نو وسوسه اعتبار نه لری، وسوسه توبه او د عزم ماتولو سبب نه ده، پر دې سربیره بالفرض که بیا هم یو وخت د نفس څخه د مغلوبیدو په خاطر توبه ماته سوه نو په دې اوله توبه نه باطله کیږی هغه انشاءالله قبوله ده، دوهم واری بیا توبه وکاږه او بیا عزم وکه چې هیڅکله بیا توبه نه ماتوم او هیڅکله بیا دغه ګناه نه کوم.

نو ما دغه درته وویل چې په زړه کی دخدای د محبت لازوال او غیر محدوده دریاب د حاصلولو یعنی د اولیاء صدیقین تر آخری سرحده پوری د رسیدو لار دغه ده چې د پنځو سره حواسو څخه د حرام خوند یوه ذره داخلیدو ته مه پریږدی او اراده وکړی چې د اولیاء صدیقین آخری سرحد ته د رسیدلو وروسته به مرو او دعا هم وکړی چې یاالله! موږ ټوله د اولیاء صدیقین آخری سرحد ته ورسوه، زموږ آل اولاد هم ورسوه، حاضر او غیر حاضر دوستان هم ورسوه، اوس سوال دغه پیدا کیږی چې اولیاء صدیقین څوک دی؟ نو علّامه آلوسی د صدیق درې صفتونه بیان کړی دی چې

۱) **اَلَّذِیْ لَا یَخَالِفُ قَالُهٗ حَالَهٗ:** د چا قال او حال چې یو وی یعنی زړه او ژبه یې سره یو وی. پر دې باندی زما شعر دی کوم چې په لندن کی جوړ سو کله چې یو عالم راته وویل چې ستا په بیان کی زبردسته درد راته احساس سو نو ما ورته وویل ؎

*اس طرح دردِ دل بھی تھا میرے بیاں کے ساتھ*
*جیسے کہ میرا دل بھی تھا میری زباں کے ساتھ*

**ترجمه**: دغه رنګه د زړه درد هم وو زما د بیان سره، لکه زما زړه چې هم وو زما د ژبه سره

په یو ملک کی خلګو راته وویل چې ستا بیان ډیر شیرین وو نو ما ورته وویل ے

**اس درجہ حلاوت ہے مرے طرزِ بیاں میں**

**خود میری زباں اپنی زباں چوس رہی ہے**

**ترجمه**: په دې درجه شیرینی ده زما په بیان کی، چې زما ژبه خپله ژبه زبیښی

تاسی وواياست که یو څوک خوږو ماچو ته ډیره بوره ور واچوی نو دهغه ژبه په خوږوالی خیشته سی که یا؟ د خوږوالی په خاطر سړی خپله ژبه زبیښل شروع کړی، حق تعالیٰ زما د بزرګانو په صدقه زما په خبرو کی داسی خوږوالی ایښی دی چې زه خپله په مست سم او دا زما کمال نه دی فقط دحق تعالیٰ عطا ده، د بزرګانو د دعاوو صدقه ده.

بس د صدیق اول صفت دغه دی چې دهغه قال او حال(یعنی خبره او عمل) یو وی، د چا زړه چې دهغه د ژبې سره ورسره وی یعنی ژبه دهغه د زړه ترجمان وی، دهغه په خبرو، حال او ژبه کی فاصلې نه وی(یعنی څه چې وایی پر هغه عمل هم کوی) او د صدیق دوهم صفت دغه دی

**(۲) اَلَّذِیۡ لَایَتَغَیَّرُ بَاطِنُہٗ مِنۡ ظَاهِرِهٖ:** د چا باطن چې د ظاهر څخه اثر وانه خلی ے

**جہاں جاتے ہیں ہم تیرا فسانہ چھیڑ دیتے ہیں**

**کوئی محفل ہو تیرا رنگِ محفل دیکھ لیتے ہیں**

**ترجمه**: هر چیری چې ولاړ سم هلته ستا خبری شروع کړم، هر مجلس چې وی زه په هغه کی ستا مجلس جوړ کړم

دخدای شکر دی چې لندن، اټلانټا، شکاګو، ډیټرایټ، بفیلو، ټورنټو او ایډمنټن هر چیری چې زه ولاړم الحمدُلله د بزرګانو د دعاوو په صدقه زما همدغه حال وو کوم چې تاسی دلته وینی، د ژوند هره لمحه پر خدای باندی د قربانولو خواست او توفیق غواړم د ځان د پاره هم، د اولادو دپاره هم او د دوستانو دپاره هم او د ژوند یوه لمحه خپل ربّ په خوابدی کولو سره پر حرام خوشحالی حاصلولو باندی بندیز لګول غواړم یعنی سخته پابندی پر لګول غواړم او هم د دغه کوښښ دپاره زما په ټوله دنیا کی سفر دی، او د صدیق دریم صفت دی

**(۳) اَلَّذِیْ یَبْذِلُ الْکَوْنَیْنِ فِیْ رِضَا مَحْبُوْبِهٖ:** صدیق هغه دی کوم چې دواړه جهانونه پر خدای قربان کړی.

دنیا قربانول خو صحیح ده لاکن آخرت څنګه پر قربان کړو؟ یعنی د جنت په طمع نیک عمل مه کوه بلکې دحق تعالیٰ د خوشحالی دپاره نیک عمل وکه، جنت په دوهمه درجه کی کښیږده، د دې خبری دلیل د حدیث شریف دغه دعا ده

**اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ رِضَاكَ وَالْجَنَّةَ** (روح المعانی جلد ۷ صفحه ۷۳)

د نبی علیه الصلوٰة والسّلام جنت وروسته غوښتل د دې دلیل دی چې اې دخدای عاشقانو! اول دحق تعالیٰ د خوشحالی دپاره روږه او لمونځ وکړی جنت په دوهمه درجه کی ونیسی او چې ګناوی پریږدی نو اول یې دحق تعالیٰ د خوابدتیا د بیری څخه پریږدی، د دې دلیل دغه دی

**وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ سَخَطِكَ وَالنَّارِ** (روح المعانی جلد ۷ صفحه ۷۳)

یاالله! اول زه ستا د خوابدتیا څخه پناه غواړم د دوږخ څخه وروسته، نبی علیه الصلوٰة والسّلام دوږخ په دوهمه درجه کی ونیوی ځکه چې یاالله! ستا خوابدتیا تر دوږخ په کمه نه ده، نبی علیه الصلوٰة والسّلام په

دغه دعا کی اُمَّت ته تعلیم ورکړی چی یاالله! تا خوابدی کول او په ګناه کولو سره حرام خوشحالی اخیستل او د حسن د خاوندانو حرام نمک ځکل دا ستا د خوابدتیا سبب دی په دغه خاطر موږ ستا د خوابدتیا څخه ځان ساتل غواړو، موږ پر داسی خوشحالی باندی لعنت وایو ؎

**ہم ایسی لذتوں کو قابلِ لعنت سمجھتے ہیں**

**کہ جن سے رب مرا اے دوستو ناراض ہوتا ہے**

**ترجمه**: موږ داسی لذتونه د لعنت وړ بولو، په کومو چی اې دوستانو زموږ رب ناراضه کیږی

دحق تعالیٰ د خوابدتیا څخه د ځان ژغورلو دپاره ځان قربانول زموږ خوشبختی ده، موږ پر حق تعالیٰ باندی د قربانیدو دپاره پیدا سوی یو، پر دې باندی زما دوه شعرونه دی ؎

**ہے روحِ بندگی بس اُن کی مرضی پر فدا ہونا**

**یہی مقصودِ ہستی ہے یہی منشائے عالم ہے**

**خوشی پر ان کی جینا اور مرنا ہی محبت ہے**

**نہ کچھ پروائے بدنامی نہ کچھ پروائے عالم ہے**

**ترجمه**: دخدای پر مرضی باندی قربانیدل دا د بندګی روح ده، هم دغه زموږ د وجود مقصد دی هم دغه د دنیا مقصد دی، دخدای پر خوشحالی باندی ژوند او مرګ هم دغه محبت دی، په دې کی مه د بدنامی پروا کوه مه د دنیا پروا کوه

ډیر تر ډیره به د حسن خاوندانو ته د نه کتلو په سبب زړه په تکلیف سی او که زړه درته ووایي چی ته د حسن خاوندانو ته په نه کتلو

سره ماته تکلیف راکوې نو زړه ته ووایه چې اې زړه! ته څه شی یې زه خو ځان قربانولو ته تیار یم ـ

**نہ چھیڑ اے نکہتِ بادِ بہاری راہ لگ اپنی**

**تجھے اٹھکھیلیاں سوجھی ہیں ہم بیزار بیٹھے ہیں**

**ترجمه**: ما مه په عذابوه اې د پسرلی خوشبوداره هوا خپله لار دی واخله، ته بازۍ کوې زه بیزاره ناست یم

دغه لوړ شعر به زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب راته ویلی، نن دهغه خبری راپه یادیږی، د شیخ په یاد کې زما شعر دی ـ

**لُطف تو چون یاد می آید مرا　　　بوی تو جانم بجوید در سرا**

کله چې ستا لطف او مهربانی ماته راپه یاد سی نو زما وجود دلیونیانو په شان په دې جهان کی په تا پسی ګرځی

د صدیق درې صفته خو تاسی واوریده او څلورم صفت حق تعالیٰ په خپل فضل او کرم او د بزرګانو د دعاوو او دهغو په برکت ماته عطا کړی، د کوم فضل د لاری چې علّامه آلوسی ته درې صفته عطا سول دهغه فضل د لاری که ماته هم عطا سی نو د تعجب څه خبره ده، هغه څلورم صفت دغه دی چې کوم بنده خپله هره ساه پر خدای باندی قربان کړی او یوه ساه هم خدای په خوابدی کولو سره حرام خوشحالی وانه خلی دا هم صدیق دی. حق تعالیٰ دی په خپل کرم سره دغه مقام موږ ټولو ته راپه نصیب کړی او د اولیاء صدیقین تر آخری سرحده پوری دی فقط په خپل کرم سره موږ ټوله ورسوی، که څه هم زموږ زړونه د دې لایقان نه دی لاکن یاالله! ته خو لایق یې او موږ نالایقان پر لایق جوړولو باندی هم قدرت لرې لهٰذا پر موږ نالایقانو باندی خپل د کرم تیز باران و اوروه، آمین.

# مجلس درسِ مثنوی

۹ د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۸ د جنوری ۱۹۹۸ء د جمعې شپه
د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

**تشنگان گر آب جویند از جهان — آب هم جوید به عالم تشنگان**

مولانا جلال‌ُ الدین رومی صاحب فرمايي که تږی خلک په دنیا کی په اوبو پسی ګرځی نو ـــ

**آب هم جوید به عالم تشنگان**

اوبه هم په خپلو تږو پسی ګرځی، ووایاست ښکلی ښایسته شعر دی، د دې شعر څخه خونه محبت څڅيږی او سړی ته خونه امید وړپیدا کیږی که موږ د خپل شیخ سره محبت وکړو نو شیخ به خپله په موږ پسی ګرځی او شیخ به هم زموږ سره محبت وکړی.

زه چی به د یو څو دقیقو دپاره یو ځای ولاړم نو شیخ به پوښتنه راپسی کول چی حکیم اختر څه سو؟ واه! عجبه خوند به یې کاوه چی شیخ په مرید پسی ګرځی، خلک معشوق جوړیدل غواړی.

مولانا رومی صاحب فرمايي چی عاشق جوړ سه معشوقی پریږده کنې پیمایش به ورکوې چی غاړه دی خونه اوږده ده، سینه دی خونه برداره ده، پزه خو دی پیته نه ده، سترګی دی ښکلی دی یعنی ستا په هره خوبایي کی نقص راوتلای سی چی تا لمونځ صحیح ونه کړی، روژه دی صحیح ونه نیول، ته دحق تعالیٰ د شان په حساب بندګی نه سې کولای او په عاشق جوړیدو کی هیڅ ناپ تول نسته، پزه چی دی هر څنګه وی، سترګی چی دی هر څنګه وی، که څه هم بد رنګه یې بس ستا عشق به خام نه وی، د عاشقانو هیڅ پیمایش نه وی، سر تر نوکه په عیب کی د پټیدو سربیره هم

ته دحق تعالیٰ سره محبت کولای سې او دغه ویلای سې چې یاالله! په ما کې هیڅ خوبايي نسته لاکن زه ستا سره محبت کوم، حق تعالیٰ ستا محبت نه ردوی، مولانا رومی صاحب هم دغه ته وفرمایل که تږی خلک په اوبو پسې ګرځي چې اوبه چیری دی نو اوبه هم په خپلو تږو پسې ګرځي.

وګوری د نبی علیه الصلوٰة والسّلام سره چا تر ټولو زیات محبت وکړی؟ حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه، کله چې هغه د اُحد په غزا کې د نبی علیه الصلوٰة والسّلام وینه مبارک ولیده نو صدیقِ اکبر توره را وایستل او مخ پر کافرانو سو او اعلان یې وکړی چې نن به یا صدیق شهید سی یا به یو کافر هم پرې نږدم زه د نبی وینه نه سم لیدای دا زما تر برداشت وتلې ده چې زه د خپل نبی وینه ووینم، نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام دستی هغه ونیوی او وې فرمایل **شِمْ سَيْفَكَ** اې صدیقه! خپله توره پوښ ته واچوه **لَاتُفْجِعْنَا بِنَفْسِكَ** (کنز العمال، جلد۵، صفحہ۶۴) په خپل شهادت سره ماته د جدایي غم مه راکوه، د دې څخه معلوم سول چې پیغمبر د صدیق د ژوند عاشق وی، ځکه چې صدیق د نبوت د کار تکمیل کوی په دغه خاطر د صدیق ژوند تر شهید افضل دی **مِنَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ** (سورت نسآء، آیت۶۹) د قرآن پاک دغه ترتیب دا راښوی چې د صدیقینو درجه تر شهیدانو لوړه ده.

نو مولانا رومی صاحب فرمایي چې اوبه هم خپل په تږو پسې ګرځي د دې خبری قرآنی دلیل **يُحِبُّهُمْ** دی حق تعالیٰ فرمایي چې زه دخپلو بندګانو سره محبت کوم، د دې وروسته یې وفرمایل **وَيُحِبُّوْنَهٗ** زما بندګان هم زما سره محبت کوی **قَدَّمَ اللهُ تَعَالىٰ مَحَبَّتَهٗ عَلىٰ مَحَبَّةِ عِبَادِهٖ لِيَعْلَمُوْا اَنَّهُمْ يُحِبُّوْنَ رَبَّهُمْ بِفَيْضَانِ مَحَبَّةِ رَبِّهِمْ** حق تعالیٰ خپل محبت د بندګانو د محبت تر مخه بیان

کړی چې زما بندګان په دې پوه سی چې دهغو زما سره کوم محبت دی هغه زما د محبت فیض دی. خلګ وایې چې تصوف چیری دی؟ زه وایم چې ټوله قرآن پاک او ټوله حدیثونه تصوف دی، تصوف د محبت نوم دی او په قرآن پاک او حدیث پاک کی محبت او محبت دی، د تصوف منکرین په اصل کی هغه خلګ دی کوم چې محبت نه لری، تکبر هغه د اولیاوو د صحبتو څخه لیری ساتلی دی چې په دغه لار کی به ځان فنا کوې، یو څوک به خپل مشر ټاکې، لهٰذا تکبر هغه راګرځوی چې موږ لوی پاته اوسو او خلګ موږ ته سلامونه وکړی، که د اولیاوو ومخته هغو خپل ځانونه فنا کړی وای نو مخلوق به هم دهغو سره د زړه محبت کولای، د مخلوق په زړو کی به حق تعالیٰ دهغو عزت وراچولی وای، نو په **يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗ** کی حق تعالیٰ دغه راوښول چې څوک زما سره محبت کوی هغه دی ناز نه کوی ځکه چې همدا زما د محبت برکت دی او اولیاء کرام ځکه چې د حق د صفاتو عکس وی، مُتَخَلِّق باخلاقِ الله وی، د رحمت د ظهور واسطه وی لهٰذا هغه اول د بندګانو سره محبت کوی چې دهغه په برکت مریدان دهغه سره محبت کوی.

یو سړی خپل شیخ ته وویل چې زه ستا سره ډیر زیات محبت کوم، شیخ ورته وفرمایل چې دا زما د محبت برکت دی، هغه ورته وویل یا! زه ستا سره ډیر محبت کوم، نو شیخ ورته وفرمایل چې ښه! او شیخ خپله توجه ځنی ایسته کړه، شپږ میاشتی هغه شخص شیخ ته نه راغلی، که څه هم هره ورځ راتلی، شیخ بیرته توجه پر وکړه او په محبت سره یې هغه یاد کړی نو هغه بیرته راغلی، شیخ ورته وفرمایل چې ستا محبت څه سو، شپږ میاشتی چیری وې؟ هغه مرید پښیمانه سو او ورته وې ویل چې شیخ صاحب اوس یقین راته حاصل سو چې زما محبت ستا د محبت فیض او برکت دی ــه

## وہی چاہتے ہیں میں کیا چاہتا ہوں

**ترجمه**: هغه محبت راسره کوی زه څه محبت ورسره کوم

او دغه لوړ آیت د مرتد خلکو په مقابله کی دی چی دغه مرتد بې وفا خلک دی، په هغو کی محبت نسته، اوس به دهغو په مقابله کی **فَسَوْفَ يَأْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ** زه یو قوم د عاشقانو پیدا کړم، څنګه قوم؟ **يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗ** دا هغه قوم دی چی زه به محبت ورسره کوم او هغه به زما سره محبت کوی، معلوم سول چی د عاشقانو وجود دخدای د طرفه څخه د **فَسَوْفَ يَأْتِي** ظهور دی، د دې سلسله به تر قیامته پوری وی ځکه چی په **اِتْيَانٌ** کی **سَوْفَ** دی لاکن د دې تسلسل نه دی مات، لهٰذا څوک چی د خپل شیخ عاشق وی نو پوه سه چی دا د **فَسَوْفَ يَأْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ** یو فرد دی، په دغه خاطر یې **بِقَوْمٍ** نازل کړی **بِأَقْوَامٍ** یې نه دی نازل کړی چی موږ به ډیر قومونه نازل کړو بلکې مفرد یې په نازلولو سره دا راوښول چی د ټولی دنیا عاشقان یو قوم دی.

لهٰذا موږ ټوله یو قوم یو که څه هم څوک پنجابی دی، څوک بنګالی دی، څوک هندوستانی دی، څوک فارسی دی، څوک عربی دی، په لکهاوو ژبی دی لاکن دخدای عاشقانو ته حق تعالیٰ یو قوم وفرمایل، وګوری دلته څونه خلک راټول دی، دغه د برطانیې دی په انګریزی به هاؤ آر یو وایی، دغه د جنوبی افریقې دی ستا خیریت به په کَیم چَهو پوښتی او د بنګله دیش خلک به پوښتنه وکړی چی کَیمَن آچهی او پښتون به وایی چی پخیر راغلې او فارسی بان به وایی چی مزاج شما چه طور است او عربی به وایی کَیفَ حَالُکَ لاکن دا ټوله یو قوم دی، معلوم سول چی قومیت په ژبو سره نه جوړیږی، معلوم سول چی قومیت په سیمو او علاقو سره نه

جوړیږی، معلوم سول چی قومیت په رنګ او شکل او د ژبی او رنګ په اختلاف سره نه جوړیږی، قومیت په **يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗ** جوړیږی، دخدای په عاشقانو سره جوړیږی، د چا سره چی حق تعالیٰ محبت کوی او څوک چی دحق تعالیٰ سره محبت کوی، لهٰذا په ټوله دنیا کی چی هر څوک دخدای عاشق وی هغه زموږ د قوم دی او څوک چی دخدای عاشق نه دی هغه زموږ نه دی، هغه زموږ د قوم نه دی که څه هم زموږ د ملک وی، که څه هم زموږ نژدې خپل ولی نه وی، که څه هم زموږ د وینی، زموږ د ژبی، زموږ د ولایت، زموږ د سیمی او زموږ د وطن ولی نه وی لاکن هغه زموږ د قوم نه دی ځکه چی دخدای عاشق نه دی، د **يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗ** فرد نه دی، زموږ قوم دخدای په عاشقانو جوړیږی.

ټوله دنیا په دغه قوم نه ده خبره، دا هغه قوم دی کوم چی د کاینات خالق نازل کړی دی، اې روس او امریکا! تاسی څه خبر یاست چی قوم څه شی دی؟ پیدا کونکی ذات خبر دی، چا چی موږ ټوله پیدا کړی یو دهغه رابښولی قومیت معتبره دی او که ستاسی جوړ کړی قومیت، ستاسی قومیت خو د رنګ، نسل، وطن، قوم او ژبی پر اختلاف باندی جوړیږی چی نتیجه یې نفرت او دښمنی ده او دخدای د عاشقانو د قوم امتیازی شان **يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗ** دی چی حق تعالیٰ دهغو سره محبت کوی او هغه دخدای سره محبت کوی، هم دغه سبب دی چی دخدای په عاشقانو کی هیڅکله شخړی نه پیښیږی، یو عاشق بل عاشق په لیدلو سره مست سی ؎

**یوں تو ہوتی ہے رقابت لازماً عشّاق میں　　عشق مولیٰ ہے مگر اس تہمتِ بد سے بری**

**ترجمه**: داسی خو دښمنی لازمی وی په مجازی عاشقانو کی، لاکن دخدای عشق د دې تهمت څخه خلاص دی

ځکه چې د یوه قوم کیدو په احساس سره په محبت کې په خپله اضافه راځي، هر سړی د خپل قوم سره محبت کوی، د دې آیت نزول د ټولې دنیا په عاشقانو کې د محبت د اضافه کیدو ضامن دی، ځکه چې دغه علم چې موږ د یوه قوم یو او داسې قوم یو چې حق تعالیٰ محبت راسره کوی او کوم چې دحق تعالیٰ سره محبت کوی نو هر سړی خپل قوم محبوب بولی، د کوم اولادو تعلق چې د خپل پلاره سره قوی وی هغه یو د بله سره محبت کوی او د پلاره سره چې تعلق کمزوره وی نو یو د بله سره جنګونه کیږی، کوم کسان چې دخدای د محبت څخه محرومه دی هم هغه په خپل مابین کې جنګونه کوی او د چا پر زړو او وجود چې دخدای محبت غالبه دی هغه یو پر بل قربانیږی.

د مثنوی شریف د دې شعر په شرح کې حق تعالیٰ نن یو عظیم علم راته عطا کړی چې هر څونه مرتد خلګ چې دی هغه بې وفا دی، هغه د محبت خاوندان نه دی، هغو تنده نه درلوده کنې اوبو به خپله هغه پیدا کړی وای، که دهغو په زړو کې د محبت تنده وای نو دخدای رحمت به هغه خپله طلب کړی وای او د خپل کرم په غیږ کې به یې اخیستی وای، حق تعالیٰ خپل عاشقان نه محرومه کوی ځکه چې عاشق هم د خپل محبوب دروازه نه پریږدی، خواجه صاحب دغه حقیقت په خپل شعر کې بیان کړی دی ـــ

**میں ہوں اور حشر تک اس دَر کی جبیں سائی ہے**

**ترجمه**: زه به تر قیامته پورې پر دغه دروازه باندی تندی مږم

جبیں معنٰی تندی یعنی زما تندی به دحق تعالیٰ پر دروازه باندی مږل کیږی، که تر قیامته پورې حق تعالیٰ ماته ژوند راکړی نو زه بې وفا او لیری کیدونکی نه یم، دحق تعالیٰ پر دروازه به تر قیامته پورې زما تندی پروت وی ـــ

## سرِ زاہد نہیں یہ سر سرِ سودائی ہے

**ترجمه**: دغه سر د زاهد نه دی دا د سودايي سر دی

یعنی دا د عاشق سر دی د خشک زاهد سر نه دی چی دخدای دروازه پریږدی او وځغلی، که د محبت خاوندان هم بې وفا وای نو د مرتد خلګو په مقابل کی به دغه آیت نه وای نازل سوی، که د محبت خاوندان هم بې وفا وای نو نعُوذُ بالله د مرتد مقابله به د مرتد سره سوې وای که څه هم مقابله خو د ضد سره کیږی، لکه د دوه منه پهلوان په مقابله کی چی څلور منه پهلوان راوستل کیږی، بس په دې آیت کی د مرتد خلګو مقابله د وفاداره خلګو سره وسوه.

نو معلوم سول چی دا وفاداره قوم دی کوم چی به هیڅکله نه سی مرتد، د بې وفايي د کُلّی مشکِّک کامله افراد یعنی د مرتدو په مقابل کی د وفاداری د کُلّی مشکِّک کامله افراد یعنی د محبت خاوندان راوستل کیږی، لهٰذا دوی به هیڅکله بې وفا نه سی، په دنیا کی د دې قوم چی هر څونه خلګ وی هغه به هیڅکله مرتد او بې وفا نه سی، دحق تعالیٰ دروازه به پرې نږدی او د شیخ څخه به هیڅکله لیری نه سی، د شیخ څخه لیری کیدونکی خلګ هم هغه وی په چا کی چی محبت نه وی، د نبی څخه لیری کیدونکی چی وه هغه د اوله سره بې وفا وه، شیخ د رسول نائب وی، د چا په زړه کی چی دحق تعالیٰ محبت وی هم دهغه په زړه کی د شیخ محبت وی، د چا په زړه کی چی دحق تعالیٰ محبت نه وی د اولیاوو سره هم دهغه محبت نه وی او د چا په زړه کی چی د اولیاوو محبت نه وی حق تعالیٰ هم دهغه سره محبت نه کوی.

دخدای د محبوب بندګانو په صدقه دحق تعالیٰ عنایت او محبت په نصیب کیږی، چا چی پر نبی باندی ایمان رانه وړی آیا حق تعالیٰ دهغو

سره محبت وکړی؟ آیا د ابُوجهل سره حق تعالیٰ محبت وکړی؟ آیا د ابُولهب سره حق تعالیٰ محبت وکړی؟ د نبی سره د دښمنی په سبب پر هغو باندی غضب نازل سو او چا چی د نبی سره محبت وکړی هغه دحق تعالیٰ په محبت سربلند سول.

معلوم سول چی څوک د خپل شیخ او مرشد سره محبت کوی دحق تعالیٰ محبت او عنایت هغه ته ورپه نصیب سی او څوک چی د اولیاوو سره محبت نه کوی هغه دحق تعالیٰ د عنایاتو څخه محروم پاته وی او په دې کی د ښه خاتمې زیری هم دی چی د محبت د خاوندانو خاتمه به پر ایمان باندی کیږی په خاطر د دې حق تعالیٰ چی د چا سره محبت وکړی او څوک چی دحق تعالیٰ سره محبت وکړی نو آیا دهغه خاتمه به خرابه کیږی؟ په داغه خاطر حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایي چی د محبت د خاوندانو په صحبتو کی واوسیږه چی دهغو په برکت ستا په زړه کی هم دخدای محبت پیدا سی کوم چی د ښه خاتمې ضامن دی ـــ

**سیرِ زاهد هر مهی یک روزه دار سیرِ عارف هر دمی تا تختِ شاه**

خشک زاهدان داسی خلکو ته ویل کیږی کوم چی عبادتونه خو ډیر کوی لاکن د دین فهم نه لری ځکه چی هغه دخدای د یو دوست څخه دخدای محبت نه زده کوی په دغه خاطر د عبادتو سربیره هغه د ګناوو څخه د ځان ساتلو کوښښ نه کوی، په دغه سبب د عبادتو سربیره هغه د عبادت د برکتو څخه محرومه وی.

مولانا رومی صاحب فرمایي چی خشک زاهدان د ډیرو عبادتو سربیره په یوه میاشت کی د یوې ورځی لار وهی او عارفان عاشقان په هره ساه کی عرشِ عظیم ته رسیږی په سبب دحق تعالیٰ د محبت او د دین د فهم او د زړه حرام خواهشات د قربانولو په برکت، په داغه خاطر درته وایم

چې دخدای د یو دوست څخه دخدای محبت زده کړی نو ستاسی یوه سجده به د لکهاوو سجدو په اندازه سی، ستاسی دوه رکعته به د یو لکو رکعتو په اندازه سی، یوه عمره به د یو لکو عمرو په اندازه سی انشاءالله، کله چې دخدای د محبت درد چاته حاصل سی نو بیا کعبه شریفه بل رنګه په نظر ورځی، کنې د کور خاوند چې څوک نه پیژنی نو په کور کی به هغه ته څه په لاس ورسی، په کعبه شریفه کی خلګ بدنظری کوی، څوک ښځو ته ګوری، څوک لغړزنو هلکوانو ته ګوری، څوک د یخچال رانیولو تحقیق بیانوی چې ما نن فلانی یخچال رانیوی، د غیرالله خبری په بیت الله کی شروع وی ځکه چې په خپلو ملکو کی یې زړه د غیرالله څخه نه وی خالی کړی، د زړه د سترګو آپریشن یې نه وی کړی نو په کعبه شریفه کی هم هغوته حق تعالیٰ نه سی حاصل.

په داغه خاطر یو بزرګ خپل مرید ته وویل کوم چې نفلی حج ته روان وو چې فرض حج خو دی ادا کړی اوس چیری په نفلی حج پسی ځې، اول دخدای محبت زده که، د کعبې د خاوند سره شناخت پیدا که بیا به په کعبه شریفه کی ته د کعبې خاوند وویني او دغه شعر یې ووایه ؎

**ای قوم به حج رفته کجائید کجائید**

**معشوق همین جاست بیائید بیائید**

د حضرت تهانوی رحمة الله علیه په بیان کی دغه شعر دی چې هغه دخدای دوست دغه ورته وویل چې اې خلګو! تاسی چیری په نفلی حج پسی روان یاست معشوق یعنی دحق تعالیٰ ذات خو زما سره دی تاسی چیری روان یاست دلته راسی، دلته راسی، په کعبه شریفه کی تاسی ته حق تعالیٰ نه سی حاصلیدای، دحق تعالیٰ ذات د اولیاوو څخه حاصلیږی، اول زما څخه دخدای ذات حاصل کړی، دخدای محبت زده کړی بیا نفلی حج یا عمرې ته

ولاړ سی نو بیا به تاسی ته کعبه شریفه خوند درکړی، بیا به تاسی په کعبه شریفه کی دخدای تجلیات ووینی، مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

**حج کردن زیارتِ خانه بود        حجِ ربُّ البیت مردانه بود**

عام خلک خو د بیت الله طواف کوی لاکن دخدای خاص بندګان د ربُّ البیت طواف کوی، هغوته په بیت الله کی حق تعالیٰ په نظر ورځی، هغه دخدای خاص تجلیات احساسوی.

په دغه خاطر دخدای د یو دوست سره څلویښت شپې واوسیږه، دهغه سره څلویښت شپې تیری که بیا وګوره چی په تصوف او پیری مریدی کی څه شی حاصلیږی کنې خالی د رسمی پیری مریدی خوند نسته، هګۍ که د چرګی سره مریده سی لاکن یوویشت شپې د چرګی په وزرو کی تیری نه کړی نو وواياست په هګۍ کی به چیچی پیدا سی؟ هګۍ به بې جانه پاته وی، ډیر مریدان داسی دی چی د پیر سره بیعت سول لاکن دهغو په صحبت کی ونه اوسیدل نو بې جانه پاته سول، د نسبت خاوندان نه سول، دا د حضرت تهانوی صاحب خبره درته بیانوم.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایي هګۍ چی یوویشت شپې مسلسله د چرګی په وزرو کی واوسیږی نو په هغه کی به چیچی پیدا سی بیا به چیچی خپله د هګۍ پوستکی مات کړی، یوویشت ورځی وروسته به چیچی ته د چرګی د احسان ضرورت نه وی چی محترمی چرګی زما پوستکی خو را مات که ځکه چی زه د هګۍ څخه دباندی راوتل غواړم، هغه به یې خپله په مشوکه مات کړی او د دې شعر په مثال به دباندی راووځی ؎

**کھینچی جو ایک آہ تو زنداں نہیں رہا        مارا جو ایک ہاتھ گریباں نہیں رہا**

**ترجمه**: آه چی می کش کړه نو زندان پاته نه سو، یو لاس چی می وواهه نو ګریوان پاته نه سو

دغه رنګه د شیخ په خدمت کی مسلسله ځلوینښت شپې واوسیږه بیا به وګورې په روح کی به دی داسی قوت پیدا سی چی د غیرالله تعلقات به خپله مات کړې، بیا به د شیخ ضرورت هم نه وی لاکن ټوله عمر به ته د شیخ احسان منونکی یې ځکه چی دهغه په برکت ایمانی ژوند درته عطا سوی دی که شیخ نه وای نو به بې جانه پاته وای.

په انسان کی چی کوم صلاحیت وی هغه د شیخ په برکت ښکاره کیږی مثلاً د چرګی تر وزرو لاندی درې قسمه هګۍ کښښښول سوې، یوه د چرګی، یوه د کوتری، یوه د ایلۍ، نو د دې هګیو څخه به درې قسمه شخصیتونه راووځی، د چرګی د هګۍ څخه به د چرګی چیچی پیدا سی، د کوتری د هګۍ څخه به د کوتری او د ایلۍ د هګۍ څخه به د ایلۍ چیچی پیدا سی، کوتره به په هوا کیږی او ایلۍ به په اوبو کی ګرځی، چرګه به هم حیرانه سی چی دا خو زما په وزرو سره پیدا سوی دی لاکن یوه په هوا ده او بله په اوبو کی ګرځی، چرګه په اوبو کی نه سی ګرځیدای لاکن ایلۍ به ټوله عمر د چرګی احسان منی چی د چرګی په برکت زما وجود دی، همدغه رنګه د حاجی امدادُالله صاحب د صحبت د وزرو څخه مُجَدّد(حضرت تهانویؒ) پیدا سو لاکن حضرت تهانوی صاحب به همیشه فرمایل چی دحاجی امدادُالله صاحب د چپلکو صدقه ده، دحضرت تهانوی صاحب تخلص آه وو فرمایي ؎

خودی جب تک رہی اُس کو نہ پایا      جب اُس کو ڈھونڈ پایا خود عدم تھے

تمہاری کیا حقیقت تھی میاں آہؔ      یہ سب اِمداد کے لُطف و کرم تھے

**ترجمه**: تر څو چی ما ځان یو شی بلی نو خدای می نه کړی حاصل، خدای چی می حاصل کړی نو زه فنا وم، ستا څه حقیقت وو صاحبه آه، دا ټوله د امداد لطف او مهربانی وه

د چرګې د وزرو په مثال سره حضرت تهانوی صاحب د اولیاوو د صحبتو اهمیت ثابته کړی، پر چرګې باندې یوه ټوکه راپه یاد سوه کوم چې مفتی محمود حسن ګنګوهی صاحب په کان پور(هندوستان) کې زموږ شیخ ته کړې وه چې یو سړی چرګه اخیستې روان وو، نو یو چا ورته وویل چې اې چرګې والا! چرګه خرڅوې، د هندوستان په یوپی ژبه که یو چاته "چرګې والا" یا "د چرګې" وویل سی نو دا ښکنځل دی، نو هغه شخص پوه سو چې ده ماته ښکنځل وکړه لهٰذا هغه په جواب کې ورته وویل چې زه د دې چرګې مالک نه یم د مالک څخه به یې پوښتنه وکړم چې یو "د چرګې" خریدار دی هغه د دې نرخ پوښتلی دی، دغه رنګه "د چرګې" په ویلو سره هغه په خپل فکر کې د ښکنځلو کسات واخیستی، زموږ بزرګان خوش طبیعته وه، دغه رنګه ټوکې به یې کولې.

نو په دغه شعر کې مولانا رومی صاحب وفرمایل چې هم د اولیاوو په صحبتو سره دحق تعالیٰ معرفت په نصیب کیږی او بې له د اولیاوو د صحبتو څخه هیڅوک عارف بِاللّٰه نه سی کیدای، د غیر عارف د عبادتو تعداد ډیر او کیفیت یې لږ وی، غیر عارف په خپل عبادتو سره په یوه میاشت کې د یوې ورځې لار وهی او دخدای عاشق په هره ساه کې خدای ته رسیږی، دهغه د عبادتو تعداد لږ لاکن کیفیت یې ډیر وی.

دا مولانا رومی صاحب دی، فکر وکړی د ده به څه مقام وو چې فرمایي د عارفانو هره ساه دخدای سره تیریږی، یوه لحظه هغه دخدای څخه نه غافله کیږی، په اُمَّت کې حق تعالیٰ دغه شخص د یو منفرد انداز پیدا کړی دی او زموږ شیخ به فرمایل چې مولانا جلال الدین رومی صاحب ډیر قدرمن شخص دی.

***آزمودم عقلِ دور اندیش را بعد ازین دیوانه سازم خویش را***

مولانا رومی صاحب فرمایي ما عقل ډیر امتحان کړی، د عقل مطلب دلته ناقص عقل دی یعنی د عشق څخه پاک عقل، د عشق د نعمت څخه محرومه عقل، لهٰذا ما ناقص او د عشق څخه پاک عقل ډیر امتحان کړی لاکن حق تعالیٰ نه سو راته حاصل، ما ډیر کوښښ وکړی چې په عقل سره خدای حاصل کړم لاکن ناقص عقل دخدای په لار کی کامیابه نه سو، په دغه خاطر ما ځان د خدای عاشق کړی یعنی د عشق خوند می د عقل تر خوله کړی نو عقل کامل سو او زما کار سم سو، عقل ته چې کله د عشق تیل ورکړل سی بیا عقل ځغلی، کنې سړی په دې خبر وی چې لموڅ باید وسی لاکن بې لمانځه ناست وی، خبر وی چې ښځو تو باید ونه کتل سی لاکن د لیونیانو په شان ورته ګوری لاکن کله چې عشق د عقل امام سی او عقل د عشق فرمانبرداره سی نو بیا حق تعالیٰ ته رسیږی، بې له دخدای عاشق او مجنون کیدو کار نه سمیږی.

**عاشقم من بر فنِ دیوانگی　　　　سیرم از فرهنگ و از فرزانگی**

مولانا رومی صاحب فرمایي دحق تعالیٰ د مجنون کیدو چې کوم کسب دی زه پر هغه عاشق یم او زه په ناقص او خام عقل ډیر زیات موړ سوی یم، اوس زه دخدای عاشق جوړیدل غواړم او څوک چې دخدای عاشق سی هغه بیا پر غیرالله باندی نه عاشق کیږی، پر یوه وخت باندی شپه او ورځ نه سی سره یوځای کیدای، پر یوه وخت باندی د عطرو خوشبویي او مرداری نه سی سره جمع کیدای، یا به شپه وی یا به ورځ وی یا به خوشبویي وی یا به بدبویي وی یا به زړه په الٰهی تجلاوو روښانه وی یا به په هغه کی د غیرالله تاریکه وی، دا نامـمکنه ده چې په زړه کی غیرالله وی او هغه زړه بیا دخدای په خاص تجلاوو هم مشرفه سی، مړی او ژوندی یو ځای نه سی اوسیدای، حق تعالیٰ خو حقیقی ژوندی دی، په کوم زړه کی

چې مړی اوسیږی او مړی پکښې پراته وی او د فنا کیدونکو ښځو او لغړزنو محبت وی داسی زړه ته به هغه حقیقی ژوندی څنګه راځی.

که په یوه خونه کې مړی پراته وی نو ته په داسی کور کې اوسیدل نه خوښوې نو هغه حقیقی ژوندی ذات به داسی زړه ته دخپل خاص تجلاوو سره څنګه راسی، د اولیاوو سره د اوسیدو مقصد دا دی چې د ښځو او لغړزنو حرام نمک څکل پریږده، د دغه حرام نمک څخه توبه وکاږه، که د اولیاوو سره د اوسیدو سربیره هم څوک حرام نمک څکل نه پریږدی، د حسن خاوندانو او نامحرمو ته ګوری او د خپل ناقص عقل خبره منی چې دغه نمک که ما پریښوی نو ژوند به می څنګه تیریږی لهٰذا لږ تر لږ یوه ذره د حرام حسن نمک کله کله څکه نو په ښه غوږ یې واوری چې دا هیڅکله خدای نه سی حاصلولای.

حق تعالیٰ هغه وخت حاصلیږی چې زړه او سترګو ته کامله تقوا ورپه نصیب سی او د زړه حس دونه حساس سی چې د حسن د نمک ابتدا او شروعات درک کړی چې د حرام نمک یوه ذره زما زړه ته داخل سوه لکه څنګه چې د برق تار شاټ وی نو په برقی پیچکش کې روښنایي ښکاره سی او دا معلوم سی چې د دغه ځای څخه تار شارټ دی، همدغه رنګه د چا زړه چې حق تعالیٰ په خپل رحمت سره دونه حساس کړی چې د حرام نمک یوه ذره که ورته راسی نو دستی دهغه د زړه په حس کې روښنایي ښکاره سی او د برق د شارټیدو اثرات شروع سی او هغه ته دستی د توبې توفیق حاصل سی چې یاالله ما وبخښه زما زړه ته دونه حرام خوشحالی راغله او زه د دې خوشحالی څخه کوم چې ستا د خوابدتیا د لاری راغله بخښنه غواړم نو بیا پوه سه چې په دغه بنده کې حیا او شرافت پیدا سو او دخدای عاشق سو، د عاشقی کسب یې زده سو او د ناقص او خام عقل

د غلامی څخه آزاد سو او که دغه خبره نه ده حاصل نو د شیخ خانقاه ته تګ راتګ ټوله بیکاره دی، زما دغه خبره واوری کنې د قیامت په ورځ به جواب ورکوی چې شپه او ورځ تا همدغه خبری اوریدلې بیا دی عمل ولی په ونه کړی.

زموږ شیخ به فرمایل د قیامت په ورځ کله چې حق تعالیٰ پوښتنه راڅخه وکړی چې ما تاته مولانا اشرف علی تهانوی صاحب غوندی شیخ درکړی وو نو تا د دې څه شکر ادا کړی نو شیخ به په ژړا سو چې آه! زه به څه جواب ورکوم، آه! دا هغه خلک دی کوم چې پر خپل شیخ باندی قربان سوه او د شیخ پر یوه یوه فرمان باندی به یې ځان قربانوی دهغو داسی بیره وه چې موږ د شیخ قدر ونه کړی او زموږ څه حال دی چې د ښکاره نافرمانی وروسته هم هیڅ غم نه کوو.

د خپل شیخ د رفاقت معنیٰ **كُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ** (سورت توبه آیت ۱۱۹) ده او د دې تفسیر **خَالِطُوهُمْ لِتَكُونُوا مِثْلَهُمْ** (روح المعانی جلد ۶ صفحه ۵۲) دی، د شیخ پر دسترخوان باندی وریجی غوښی او یخی اوبه د چیښلو نوم رفاقت نه دی، د شیخ رفاقت او ملګرتیا دغه ده چې ته بس دهغه په شان سه څنګه چې هغه د ګناوو څخه ځان ساتی ته هم هغسی ځان ځنی وساته، څنګه چې هغه د حسن د خاوندانو څخه د نظر حفاظت کوی ته یې هم وکه، دهغه فریاد ستا فریاد سی، ستا سترګی هم دهغه د سترګو په شان اوښکی تویوی نو بیا پوه سه چې ته د شیخ عاشق او دخدای طلبګاره یې او دخدای د عاشقی کسب ستا زده سو.

**رو رو ای جان زُود زنجیری بیار　　　بار دیگر آمدم دیوانه وار**

مولانا رومی صاحب فرمایي اې زما ګرانه! ژر ولاړ سه، ژر ولاړ سه او دخدای د محبت زنځیر راوړه اوس زه لیونی کیږم او لیونیان په زنځیرانو

تړل کیږی لهٰذا د محبت په دغه زنځیر ما وتړه، تر دې مبارک بل هیڅ زنځیر نسته کوم چې ما دخدای حضور ته لاس او پښې تړلی ورولی، تر اوسه چې هر څه وسوه هغه وسوه اوس زه د لیونیانو په شان بیا پر خدای قربانیږم.

**غیر آن زنجیرِ زلفِ دلبرم گر دو صد زنجیر آری بردَرم**

مولانا رومی صاحب فرمایي اې دنیاوالو! که دخدای د محبت زنځیر راوړی نو زه به خپله په هغه کی ځان ګرفتاره کړم، زه خپله په هغه ځان تړم بلکې په تړلو کی به ستاسی سره کومک هم وکړم او په زړه کی به خوشحالی احساس کړم چې چیری زما دغه قسمت چې زه د شریعت په زنځیر کی او پر سنت باندی د عمل کولو په زنځیر کی ګرفتاره کیږم، زنجیرِ زلف دلبرم معنیٰ زما د دلبر د زلفانو زنځیر یعنی پر سنت باندی د عمل کولو، پر شریعت باندی د عمل کولو، دحق تعالیٰ د محبت د دستور او احکامو او قانون زنځیر، اې دنیاوالو! دخدای د محبت د زنځیر ماسوا که دوه سوه زنځیران هم راوړی نو زه به هغه وشکوم. د غیرالله زنځیر د ماتولو او د محبت، سنت او شریعت په زنځیر کی د ځان تړلو طریقه څه شی ده (پر دې ځای باندی حضرت صاحب خپل خادم ته وفرمایل) میر صاحب دغه مضمون ولیکه بلکې کمپیوټری کتابت یې ور وکه او دغه مضمون ډیر په حفاظت سره وساته او تاسی هم په پوره توجه او اهمیت سره دغه مضمون واوری چې کله مو پر یوې نامحرمه ښځی یا لغړزنی هلک باندی نظر ومښلی او ذره غوندی حرام نمک زړه ته راسی او ستا حس درته ووایي چې یوه ذره راغله نو نظر ځنی ایسته که او دستی توبه وکاږه.

زه دا نه وایم چې ګناه نه کیږی زه دغه وایم چې په توبه کولو کی دی ځنډ نه کیږی چې د خطاکاره کیدو سربیره موږ باعطا واوسیږو، ګوری موږ

د خطا څه خو ځان نه سو ساتلای کنې موږ به ملایکې سوی وای بس د **اِسۡتَغۡفِرُوۡا** پر حکم چې عمل وسی دا هم لوی نعمت دی، حق تعالیٰ فرمایې **اِسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّكُمۡ** (سورت نوح، آیت۱۰) د خپل ربّ څخه معافي وغواړه، د دې څه معلوم سول چې خطاوی به زموږ څخه کیږی په داغه خاطر خو د بخښې غوښتلو حکم راکوی، ملایکو ته یې ولی نه دی فرمایلی چې بخښنه وغواړی؟ په خاطر د دې چې دهغو څه خطاوی نه کیږی، د معصوم مخلوق دپاره دا حکم نه دی، دا حکم د ګنهګارانو دپاره دی چې کله ګناه درڅخه وسی او د پوره کوښښ سربیره تقوا درڅخه ماته سی نو ژړا شروع که، د دې انعام به څه شی وی؟ **اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيۡنَ** (سورت بقره، آیت۲۲۲) حق تعالیٰ به دی نه صرف وبخښی بلکې خپل محبوب به دی هم وګرځوی.

زه د خطاکاری سربیره د عطا کیدو نسخه درښوم چې د ګناوو د حرام خوندو د راتللو پر ابتدا او شروعاتو باندی پاملرنه وسی چې یاالله ما وبخښنه دغه یوه ذره خوشحالی چې زما زړه ته راغله دا ستا د خوابدتیا د لاری څخه راغلې ده بس داسی خوشحالی زه د ځان دپاره لعنتی خوشحالی بولم، په کومه خوشحالی چې ته خوابدی سې زه داسی خوشحالی ته طلاق ورکوم او لعنت پر وایم، ته ما وبخښنه او دخدای څخه قوت هم طلب که چې یاالله داسی قوت او توفیق راکړې چې د حرام خوشحالی پر ابتدا باندی ماته پاملرنه وسی، زما د زړه تـرازو د لرګو تللو تـرازو جوړ نه سی چې پر هغه باندی پاؤ نیم پاؤ کښیږدې نو پر معلومیږی هم نه، زما د زړه د ایمـان تـرازو د سرو زرو تـرازو راجوړ کړې چې ذره غوندی مچ هم پر کښینی نو وښوریږی.

زرګران وایې کله چې موږ سره زر تلو نو موږ ساه هم نه اخلو ځکه چې په ساه هم تـرازو وښوریږی، زموږ د زړو تـرازو دی حق تعالیٰ په خپل

رحمت سره دونه راحساس کړی چې د حرام خوشحالی یوه ذره که ورته راسی نو هغه وښوړیږی او دستی د توبې توفیق راته حاصل سی، نو بیا وګوره د ژوند خوند، بیا د ژوند لطف ته وګوره، څوک چې پر خدای قربان سو هغه د ژوند خوند حاصل کړی او څوک چې پر خپلو خواهشاتو قربان سو هغه دوږخی ژوند د دنیا څخه د ځانه سره یووړی، بس د چا د زړه ترازو چې د سرو زرو سو نو پوه سه چې هغه دخدای د محبت په زنځیر وتړل سو او هغه به د غیرالله هر زنځیر پرې کړی.

**سرنگونم هین رها کن پای من فهم کو در جملهٔ اجزای من**

مولانا رومی صاحب فرمایي اې دنیاوالو! ما خپل سر کښته کړی، اوس زما پښو ته آزادی ورکړی او زما د پښو زنځیر را پرې کړی، اوس زه ځان لیونی کول غواړم او د غیرالله د تعلقاتو څخه آزادی غواړم، اوس ماته نصیحت مه کوی چې داسی که وسوه نو به څه شی وسی، زما د بدن په غړو کی اوس د فکر صلاحیت نسته، د دنیا د بیری څخه اوس زه حق تعالیٰ نه سم پریښولای که څه هم ماته مرګ راسی، اوس زه خدای راضی کوم او یوه ساه به هم دهغه نافرمانی ونه کړم.

زما زړه ته چې حق تعالیٰ د دې شعر کومه تشریح عطا کړه هغه شاید تاسی هیڅ ځای وانه وری او هغه دا ده چې کله حیوان خپل د غاړی تناؤ پرې کول غواړی نو سر کښته کړی، چا چې حیوانان پاللی دی هغه خبر دی چې د غاړی تناؤ د پرې کولو دپاره حیوان خپل سر کښته کړی، دا علامت دی چې نور هغه د قید څخه عاجزه سو، دهغه هوښ او حواس اوس په قبضه کی نه دی او تناؤ په پرې کولو سره ځغستل غواړی، په سر کښته کولو سره طاقت پیدا سی، نو مولانا رومی صاحب فرمایي اې دنیاوالو! اوس ما هم سر کښته کړی، اوس زه د بل شی هوښ نه لرم، اوس زه د دنیا

د تعلقاتو تناؤ پرې کوم، د دنيا زنځيرانو زه تر ډيره وتړلم، اوس به زه لازماً دغه زنځيران پرې کوم او لازماً به دخدای دوست کيږم.

**جامه پوشان را نظر بر گازر است          روح عريان را تجلی زيور است**

د لباس د عاشقانو نظر پر دوبيانو باندی وی چی کوم دوبی ډير ښه روښانه کالی پريولی او د اولياوو د روح زيور دخدای تجلا ده، دخدای په تجلاوو سره دهغو روح روښانه ده، لباس خو پر بدن باندی وی لاکن د روح لباس دخدای تجليات وی، اولياء کرام خپل روح په روښانه کولو اخته دی او عام خلک خپل لباس په ښايسته کولو اخته دی او روح روښانه کول څه شی دی؟ **طَهَارَةُ الْاَسْرَارِ مِنْ دَنَسِ الْاَغْيَارِ** (روح المعانی جلد١١ صفحہ ٢٦) يعنی د غيرالله د مرداری څخه خپل باطن پاکول. د حسن د خاوندانو څخه د نظر په حفاظت سره او د ګناوو څخه د ځان په ساتلو سره روح روښانه کيږی بيا حق تعالیٰ د خپل خاص تجلاوو سره په هغه کی متجلا سی، دغه الٰهی تجليات د روح زيور دی ؎

**اُڑا دیتا ہوں اب بھی تار تارِ ہست و بود اصغرؔ**
**لباسِ زُہد و تقویٰ میں بھی عریانی نہیں جاتی**

**ترجمه**: اوس هم زه خپل ژوند تار تار کړم اې اصغره!، د زهد او تقوا په لباس کی هم لڅوالی نه ځی

بس اوس نو دعا وکړی، ياالله! موږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راکړې، ياالله! زموږ ظاهر هم راپاک کړې او زموږ باطن هم د غيرالله د مرداری څخه راپاک کړې او زموږ ارواح په خپل خاص تجلاوو سره را روښانه کړې، آمين.

# مجلس درسِ مثنوی

۱۱ د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۰ د جنوری ۱۹۹۸ء د سهار پاؤ کم اووه بجې، خانقاه امدادیه اشرفیه

**تا بدانی هر که را یزدان بخواند　　　از همه کارِ جهان بی کار ماند**

مولانا رومی صاحب فرمايي اې دنیاوالو! یقین وکړی حق تعالیٰ چې يو څوک د ځان کړی او د خپل محبت د خاص درد او د خپل آه او فریادو او د خپل عشق د تعلیم دپاره یو څوک منتخب کړی نو څه کوی ــ

**از همه کارِ جهان بی کار ماند**

هغه د دنیا د هر کاره څخه بیکاره کړی، په خپل کار کی یې د اخته کولو وروسته د ټولی دنیا د کارو څخه بیکاره کړی، د دې معنیٰ زموږ په ژبه دا ده چې لاس او پښې ورماتی کړی او ورته ووایې چې دلته ناست اوسه ځه مه، زه تا د دې لایق هم نه پریږدم چې ته زما د دروازې څخه وځغلې، دا مطلب يې نه دی چې رشتیاګو دهغه لاس او پښې ورماتی کړی، دا خو متل دی مطلب یې دا دی چې محبت ته یې مجبوره کړی، په هیڅ کار کی دهغه زړه نه لګیږی ماسوا دحق تعالیٰ د کارو.

په دغه ډله کی مولانا جلالُ الدین رومی، شمسُ الدین تبریزی، بابا فریدُالدین عطار، سلطان نظامُ الدین اولیاء، سلطان نجمُ الدین کُبریٰ، حافظ شیرازی، سعدی شیرازی او داسی نور په زرهاوو نومان دی ــ

**راه ده آلودگان را اَلعَجَل　　　در فراتِ عفو عینِ مُغتَسَل**

مولانا رومی صاحب فرمایي کوم بندګان چې په ګناوو اخته دی او د لاری څخه بې لاری سوی دی، ته یې هیر کړی یې یاالله! ته هغه مه

هیروه، هغه بیرته پر لار برابر که، پر لار یې روان هم که او تر منزله یې هم ورسوه، ځکه چې بې له ستا د جذب او بې له ستا د کومک څخه هیڅوک تاته نه سی در رسیدای، موږ خو د ګناه کولو په سبب ستا د محبت په امتحان کی ناکامه سولو مثلاً حق تعالیٰ ځنی شکلو ته نمک او حسن ورکړی او پابندی یې هم ولګول چې دوی ته مه ګوری، نامحرمه ښځو او لغړزنو ته په کتلو سره په زړه کی خواهش مه ورته کوی، په تکلیف کیږی مه، احتیاط وکړی.

حق تعالیٰ د نظر د حفاظت حکم نازل کړی، په دې کی څه حکمت دی؟ د دغه حسن د خاوندانو په سبب یعنی د دوی څخه د سترګو، زړه او بدن لیریوالی په اختیارولو سره موږ ته حق تعالیٰ راپه نصیب کیږی ځکه چې د حسن خاوندان که نه وای نو هغوته به د کتلو تقاضا هم نه پیدا کیدای او نه به پر هغه تقاضې باندی د عمل نه کولو غم وای او غم چې نه وای نو خدای هم نه سوای راته حاصلیدای، په دغه خاطر د حسن د خاوندانو وجود بیکاره مه بولی، دغه د حسن د خاوندانو وجود دحق تعالیٰ د حاصلولو سبب دی لاکن په شرط د تقوا او احتیاط، هغه څنګه؟ کله چې ستا دهغو وطرفته تقاضا وسی نو ځان ځنی راوګرځوه، غم پر ځان یوسه لاکن هغوته هیڅکله مه ګوره، که شیطان درته ووایي چې په نه کتلو سره به مړ سې، نو دغه جواب ورکه ؎

**نہیں ناخوش کریں گے رب کو اے دل تیرے کہنے سے**
**اگر یہ جان جاتی ہے خوشی سے جان دے دیں گے**

**ترجمه**: اې زړه! ستا په ویلو سره ربّ نه خوابدی کوم، که مرګ راته راځی نو په خوشحالی مرګ ته تیار یم

او دوهم شعر څه شی دی ؎

نہ دیکھیں گے نہ دیکھیں گے اُنہیں ہر گز نہ دیکھیں گے

کہ جن کو دیکھنے سے رب مرا ناراض ہوتا ہے

**ترجمه**: نه ګورو نه ګورو هغه چاته به هيڅکله ونه ګورو، چاته چې په کتلو سره زموږ ربّ ناراضه کيږي

اوس به شيطان ووايي که تا ورته کتلی وای نو ډير خوند به يې کړی وای، د دې جواب په دريم شعر کې ورکوم، دا ټوله زما شعرونه دی ـ

ہم ایسی لذتوں کو قابلِ لعنت سمجھتے ہیں

کہ جن کو دیکھنے سے رب مرا ناراض ہوتا ہے

**ترجمه**: موږ داسی لذتونه د لعنت وړ بولو، چاته چې په کتلو سره زموږ ربّ ناراضه کيږي

ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي

لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَيْهِ

(مشکوٰۃ کتاب النکاح، باب النظر الی المخطوبۃ)

حق تعالیٰ پر حرام نظر کونکی باندی هم لعنت فرمايي او څوک چې د حرام نظر دپاره ځان مخته کړی پر هغه باندی هم لعنت فرمايي

يعنی پر کتونکی باندی هم لعنت اوری او ځان ښکاره کونکی باندی هم لعنت اوری، کومې ښځې چې بې پرده ګرځي پر هغو باندی هم لعنت اوری او څوک چې ورته ګوری پر هغو باندی هم لعنت اوری نو دوه لعنته به سره جمع سی يو د کتونکی لعنت او دوهم د ځان ښکاره کونکی لعنت، کوم چې د نن سبا په ژبه لعنت پلس(جمع) لعنت بلل کيږی، بس څه درته ووايم مجبوراً د انګريزی الفاظ وايم کنې خلک نه پوهيږی.

بعضی خلک وایي که فقط د روژې، لمانځه، حج او تلاوت حکم وای او دغه د ګناوو څخه د ځان ساتلو حکم نه وای نو به ډیره آسانی جوړه سوې وای، د دې جواب دغه دی چې راته ووایاست آیا د یو چا په کور کی د برق روښنایي بې له مثبت او منفی تارو وی؟ مثبت او منفی دواړه تارونه وی، حق تعالیٰ د روژې، لمانځه او تلاوت حکم په راکولو سره موږ ته خپل مثبت تار راکړی او د ګناوو څخه یې د ځان ساتلو حکم په راکولو سره منفی تار راکړی چې زما د بندګانو په زړو کی زما د محبت څراغان ولګیږی، څراغان داسی نه بلیږی، څوک چې اور ورته بل کړی بیا څراغان بلیږی یعنی کله چې خپل حرام خواهشاتو ته اور ورواچول سی او کله چې خپل حرام خواهشات پر خدای قربان سی بیا دخدای د محبت څراغ روښانه کیږی.

د مثبت او منفی دواړو تارو ضرورت دی او منفی تار تر مثبت تار هم مهم دی ځکه چې ضروری عبادتونه فرض، واجب او مؤکده سنتونه خو ډیر لږ دی لاکن د ګناه نه کولو موقع ډیری زیاتی دی، په دې زمانه کی ځکه چې بې پردګی او عریانی ډیره ده په دغه خاطر بس د نظر حفاظت وکه نو بیا به دی د ایمان خوږوالی هم ډیر وی لاکن په دې کی خپل زړه وینی کول غواړی، د خواهش په دغه قربانی سره حق تعالیٰ حاصلیږی، په دغه خاطر د ګناه نه کولو عبادت ډیر لوی عبادت دی.

په داغه سبب د ګناوو څخه ځان ساتونکی ته په حدیث شریف کی **اَعۡبَدَالنَّاس** یعنی تر ټولو لوی عبادت ګزاره ویل سوی دی، د حرامو څخه ځان راګرځول د لَااِلٰه تکمیل دی، په داغه خاطر یې په کلمه کی اول لَااِلٰه بیان کړه چې اول غیرالله د زړه څخه وباسه بیا الله درته حاصلیږی، لَااِلٰه د زړه څخه وباسه بیا ټوله جهان په اِلَّاالله ډک دی. زموږ د شیخ شاه

عبدُالغنی صاحب ښخه په نیو ټاؤن مدرسه کی د مولانا محمد یوسف بنوری رحمة الله علیه په موجودی کی دغه سوال وسو چی اول استغفار وکړو او که اول درود شریف ووایو؟ حضرت ورته وفرمایل چی د مولانا ګنګوهی رحمة الله علیه ښخه یو چا همدغه سوال کړی وو نو مولانا ګنګوهی رحمة الله علیه ورته وفرمایل چی ته اول د عود عطر وهې او که اول لمبیږې، اول انسان لمبیږی بیا پاک کالی اغوندی نو استغفار کول روح پریولل دی بیا وروسته د درود شریف عطر وواهه، **أُولَٰئِكَ آبَائِي فَجِئْنِي بِمِثْلِهِمْ**.

دغه رنګه کله چی زړه په ګناوو ولړل سی نو اول هغه پاک که بیا به دحق تعالیٰ نور درته حاصل سی، مولانا رومی صاحب په دغه شعر کی همداغه فرمایلی دی چی یاالله! کوم خلک چی په ګناوو ولړل سوه ته هغوته د توبې توفیق ورکه یعنی یاالله! د کوم بندګانو وجود چی په ګناوو ولړل سو نو ژر هغوته لار ورکه، د ښه شی لار ے

**در فراتِ عفو عینِ مُغتَسل**

ته هغه د فرات دریاب ته داخل که، دلته د فرات مطلب د مصر دریاب نه دی بلکې دحق تعالیٰ د رحمت خاص دریاب دی کوم چی عین مُغتسل دی یعنی خپل د رحمت په خاص دریاب کی هغوته د لمبیدو اجازه ورکه، مطلب یې دغه سو چی کوم خلک په ګناوو ولړل سوه ته هغوته د توبې توفیق ورکه او هغه د خپل رحمت په اوبو ولمبوه او ستا د لاری ښخه ورک خلګو ته لار وربنکاره که او د خپلی رضا او خوشحالی تر منزله یې هم ورسوه.

**از دُعا نبود مرادِ عاشقان**
**جز سخن گفتن بآن شیرین دهان**

په دعا کولو سره د عاشقانو مراد دغه وی چې زما حاجت پوره سی لاکن مولانا صاحب فرمايي چې دهغو يو بل ډير ښايسته نيت وی چې په دغه بهانه دخدای سره د خبرو موقع راته حاصليږی، د عاشقانو د دعاوو څخه مراد فقط ضرورت پوره کيدل نه وی بلکې يو مقصد يې بل هم وی ے

## جز سخن گفتن بآن شيرين دهان

چې دحق تعالیٰ سره د کلام او خبرو شرف راته حاصل سی، د عاشقانو څخه د دې خوند وپوښتی چې د خپل محبوب سره خبری کول څونه خوند کوی، کله چې هغه یاالله یاالله وايي نو حق تعالیٰ هم څونه په خوشحاله کيږی **اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُلِحِّيْنَ فِي الدُّعَاءِ** (مشکوٰة المصابيح، جلد۷، صفحه۲۹۳) کله چې بنده په زاری دعا کوی نو د حق تعالیٰ دهغه د دعا د يوه يوه لفظ سره محبت وی لاکن بيا هم د ځنی خاص بندګانو دعاوی په ځنډ قبليږی چې هغه تر ډيرو ورځو پوری داغه رنګه خواستونه وکړی ځکه چې دهغو زاری کول حق تعالیٰ ته محبوب وی، هر شخص خپل محبوب شی تر ډيره پوری د ځانه سره ساتل غواړی که يا؟ مولانا رومی صاحب په دغه لوړ حديث د سر خلاصولو دپاره دوه مثالونه بيان کړی دی چې کله کله د دعاوو په قبليدو کی چې ځنډ راسی نو د دې سبب دهغه بنده محبوبيت دی، دا فکر مه کوی چې دغه بنده حق تعالیٰ ته قدر نه لری په دغه سبب يې دعا په ځنډ قبليږی.

مولانا صاحب د دې دغه مثال بيان کړی چې کله کارغه کاغ کاغ وکړی نو سړی ژر ډوډی ورواچوی چې ژر په هوا سی او که بلبل نارې وهی نو هغه قفس ته واچوی او داسی يو بل مثال يې هم بيان کړی که يوه سپين سرې ښځه فقر ته راسی نو سړی هغې ته ژر فقر ورکړی، د سلو کالو سپين سرې چې ملا يې کړوپه وی، باړخوګان يې ننوتلی وی، کالی

یې ټوله خیرن، بد بوی یې ځی نو سړی ورته وایی چې اې سپین سری! دغه پیسې واخله ژر ولاړه سه او که یوه ځوانه فقیره راغله، مولانا رومی صاحب په دې خبره مسئله نه بیانوی مثال ورکوی، د انسان فطرت بیانوی چې دخدای بیره که په زړه کی نه وی نو به هغې ته وایی چې ودریږه توده توده ډوډی درته راوړم، شیطان یې پر ښټ سپور سی ځکه چې شیطان کله پر ښټ سپور سی بیا د معشوقانو دپاره ډوډی راوړل کیږی، بیا ورته وایی چې ودریږه اوس کباب در تودوم بیا ورته وایی چې ودریږه اوس حلوا تودیږی، په دغه بهانه هغه تر ډیره دروی، داسی عمل کول روا خو نه دی لاکن مثال ورکول خو یې روا دی، دغه مثال په دې ورکوی چې د خلکو سر په خلاص سی.

په حرام عشق کی مبتلا خلکو ته مولانا رومی صاحب دخدای محبت ور زده کوی یعنی کوم بندګان چې خدای ته محبوب دی کله کله هغوته حق تعالیٰ په ځنډ شی ورکوی دغه رنګه یې پر خپل دروازه باندی مبتی ساتی چې تر ډیره وخته ماته خواستونه وکړی، د مومن دعا، ژړا او فریادونه حق تعالیٰ محبوب ساتی، خواجه صاحب فرمایی ؎

**اُمید نہ بر آنا اُمید بر آنا ہے　　　اک عرضِ مسلسل کا کیا خوب بہانہ ہے**

**ترجمه**: دعا نه قبلیدل دعا قبلیدل دی، د مسلسل خواست کولو ښنګه ښه بهانه ده

**اَلغَیَاث　از　ابتلایت　اَلغَیَاث**

**شد ذکور از ابتلایت چون اُناث**

یاالله! موږ پناه غواړو ستا د آزمایښت او ستا د امتحان ښخه ځکه چې موږ ستا د امتحان لایقان نه یو، یاالله که ته پر امتحان اخیستلو باندی

راسې نو شاید چې یو څوک کامیابه سی، کله چې تا امتحان واخیستی نو لوی لوی نارینه ښځې ثابت سوې، په دغه خاطر دخدای څخه پناه طلب که هیڅکله ناز مه کوه چې زه داسی یم او هغسی یم، دخدای په حضور کې په ژړا او زاری سره دخدای لار پیلیږی ـ

## فهم و خاطر تیز کردن نیست راه

خپل فکر او عقل په تیزولو سره دخدای لار نه پیلیږی ـ

## جز شکسته می نه گیرد فضلِ شاه

خپل نفس ختم که، مکمل فنا سه چې یاالله زه هیڅ نه یم، دونه فنا سه چې د فنا کیدو احساس هم نه سی درپیدا همدغه ته فَنَاءُ الفَنَا ویل کیږی لکه څنګه چې یو څوک بیده وی او هغه ته دا احساس وی چې زه بیده یم نو هغه بیده نه دی، بیده هغه څوک دی چې په خوب کې غرق سی او د بیدیدو احساس یې هم نه سی پاته، دغه رنګه فنا هغه ده چې دغه احساس هم نه سی پاته چې ما خپل ځان فنا کړی، کامل فنا دغه ده چې سړی ته د فنا کیدو احساس هم نه وی، ځان هیڅ ونه بولی، زړه مات سی، دخدای فضل پر مات سوی زړو باندی اوری او دغه فنا د شیخ په صحبت او دهغه په تربیت سره په نصیب کیږی.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایي که شیخ خوشکه درته وکړی نو دغه فکر وکه چې زما څه حیثیت دی، هیڅ حیثیت می نه دی، زما حیثیت په دې نه سو خراب، نور ډیر سو، د شیخ په خوشکی سره عزت نور ډیر سی او وې فرمایل چې د تکبر خاوند خپل ځان یو شی بولی او هغه د شیخ په خوشکی خوابدی سی او وې فرمایل چې اوس خپل ځان څه د عزت لایق بولې تر څو چې د قیامت فیصله ونه سی همداغه فکر وکه

چې یاالله زه د هیڅ عزت لایق نه یم او زه به د ډیرې تجربې خبره درته وکړم شیخ چې چاته خوشکې وکړی دهغه کوړوالی سم سی او کوم شیخ چې د خوشکې پر خبره باندې مرید ته خوشکه ونه کړی نو هغه شیخ نه دی خاین دی، کله چې موټر کوړوالی پیدا کړی نو مستری به خپل کسب ښکاره کړی او چکوش به ورته کش کړی چې د موټر کوړوالی سم سی.

څنګه چې په چکوش د موټر کوړوالی سمیږی دغه رنګه د شیخ په خوشکې د نفس کوړوالی سمیږی دخدای شکر دی چې ما د خپل شیخ شاه عبدُالغنی صاحب ډیرې خوشکې وړې دی چې تا دغه کار داسې ولې وکړی، دغه بدنۍ دی دلته ولې کښیښنول، نن تا غنم تر ژرندې وایستل په هغه دی اوربشې ولې نه دی ګډ کړی، نو یو ورځ ما ورته وویل چې شیخ صاحب دغه د لیرې لیرې ځایو څخه چې تاته خلګ راځی، سر یې کښته کړی په مراقبه کې ناست وی، دوې شپې درسره تیرې کړی ولاړ سی، ته هغه ډیر نازوې او زه چې شپه او ورځ درسره یم ته ماته خوشکې کوې نو دغه خلګ خو ماته ډیر په ګټه کې رامعلومیږی کوم چې کله کله راځی ځکه چې دوې شپې مراقبه کول آسانه دی چې سر زړولی کښینه.

نو شیخ صاحب راته وفرمایل څوک چې د شیخ خوشکې وړی هغه لعل جوړ سی، ما داسې داسې خوشکې وړې دی چې څوک دهغه فکر هم نه سی کولای لاکن ما دخدای دپاره ټوله برداشت کړه، نن دهغه برکت وینم چې د څونې دنیا خلګ ماته ناست دی، آیا ما یو اعلان نشر کړی وو؟ ما یو څوک راغوښتی وه؟ وګوری دلته د څونه مملکتو خلګ ناست دی؟ زه د حق تعالیٰ شکر ادا کوم.

چا چې دخدای دپاره د خپلو مشرانو نازونه یووړه نو دهغه ناز وړونکی بیا حق تعالیٰ پیدا کوی، دغه خبره ملّا علی قاری رحمة الله علیه د

مشکوٰة شریف په حدیث سره ثابته کړې ده چې **مَا اَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخًا.... الخ** کوم ځوان چې د خپلو مشرانو عزت وکړی حق تعالیٰ به هغه ته داسی هیبت ورکړی چې خلګ به بیا دهغه عزت کوی.

ملّا علی قاری رحمة الله علیه د دې حدیث په شرح کی لیکلی دی چې هغه ته به دوه نعمتونه ورکړل سی یو به یې عمر ډیر سی او دوهم ادب ناکه کشران به هغه ته ورپه نصیب سی او چا چې د خپلو مشرانو سره بې ادبی وکړه دهغه کشران به بیا دهغه سره بې ادبی وکړی. زه دخدای شکر ادا کوم، دخدای احسان او فضل دی چې زما سره محبت کونکی حق تعالیٰ په ټوله دنیا کی پیدا کړه، پر چا چې د اولیاوو د محبت نظر لویدلی دی نو مخلوق هم دهغه سره محبت کوی دا تجربه ده لاکن په خلګو کی د محبوب کیدو دپاره د اولیاوو سره محبت مه کوی، د اولیاوو سره محبت دخدای دپاره وکړی او یوه خاص خبره دغه ده چې دخدای عطا د خپل یو عمل او مجاهدې ثمره مه بولی چې ما د بزرګانو دونه خدمت وکړی دهغه په بدل کی حق تعالیٰ دغه نعمت راکړی، دا عین ناشکری ده بلکې دغه فکر وکړی چې دخدای د کرم سبب دهغه کرم دی، دخدای د رحمت سبب دهغه رحمت دی، دخدای د عطا سبب دهغه عطا ده ځکه چې زموږ هیڅ عمل د دې لایق نه دی چې قبول سی بس د قبلیدو دپاره زاری کوی.

بس دعا وکړی چې حق تعالیٰ د عمل کولو توفیق راکړی، یاالله! په خپل رحمت سره موږ ټولو ته داسی ایمان، یقین او محبت راپه نصیب کړې چې زموږ د ژوند هره ساه پر تا قربان سی او یوه ساه هم موږ تا په خوابدی کولو سره حرام لذت وانه خلو، یاالله! موږ، زموږ آل اولاد، زموږ دوستان او دهغو خاندان موږ ټوله په خپل رحمت سره د اولیاء صدیقین تر آخری سرحده ورسوې، یاالله! موږ پناه غواړو چې یوه ساه تا په خوابدی کولو سره

ستا حرامه کړې خوشحالی واخلو، یاالله! د داسی بې حیایې او بې غیرتی شخه زموږ ارواح راپاک کړې.

یاالله! هر وخت هره ساه پر تا باندی د قربانولو توفیق راکړې، یوه ساه هم ستا د خوابدتیا شخه پناه غواړو او د دنیا او آخرت ټوله خیرونه موږ ته راپه نصیب کړې او د جمله حاسدانو او د شر د خاوندانو او زموږ چې هر څونه دښمنان دی د ټولو دښمنی په خاورو ورګډه کړې، یاالله! په خپل رحمت سره هغه پښیمانه هم کړې، یاالله! موږ ټولو ته خپل دونه ډیر محبت او د خپل طرفه شخه (پر دښمنانو باندی داسی) دلیل راکړې چې هر څونه حاسدان دی هغه پښیمانه سی او د توبه کولو توفیق ورکړې او د بخښنی غوښتلو توفیق هم ورکړې، آمین یاربّ العالمین.

۞۞۞

# مجلس درسِ مثنوی

۱۲د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۱د جنوری ۱۹۹۸ء د یک شنبې ورځ
د سهار شپږ نیمی بجې، خانقاه امدادیه اشرفیه

**شهوتِ دُنیا مثال گلخن است — که ازو حمامِ تقویٰ روشن است**

حق تعالیٰ ارشاد فرمايي چې ما انسان د ماء دافق څخه پیدا کړی، دافق معنٰی غورځیدونکی، د چا په منی کی چې دونه طاقت وی چې په غورځیدو سره راووځی نو دهغه اولاد کیږی او کوم منی چې په بهیدلو سره راووځی او د اوبو په شان نری سی نو د داسی خلکو اولاد نه کیږی، د انسان ماده چې د غورځیدو ده نو که په هغه کی شهوت پیدا کیږی نو څه د تعجب خبره نه ده ځکه چې دهغه د تخلیق په ماده کی او د پیدایښت په بنیاد کی غورځیدل دی، دا دهغه فطرت دی، بس د شهوت طوفان او د ګناوو تقاضې دهغه په فطرت کی شامل دی نو اوس باید هغه څه وکړی؟

دخدای د بیری څخه دی دهغه څه ځان راوګرځوی او په کوښښ سره دی د ګناوو پر تقاضو باندی عمل نه کوی ځکه چې د ګناه تقاضا که نه وی نو تقوا ثابته کیدای نه سی، د تقوا وجود هم هغه وخت وی کله چې د ګناه تقاضا پیدا سی او بیا ته ځان ځنی راوګرځوې، په دې راګرځولو کی چې پر زړه د غم کومه لړزه راسی په هغه د تقوا نور پیدا کیږی، د شهوت نار یعنی اور په راګرځولو سره د تقوا نور پیدا کیږی، د شهوت نار چې کښیکښل سی نو نور جوړ سی، د نور واو کښته وی او نار ولاړ وی، په نار کی الف دی لهٰذا د شهوت نار کښته که او هغه په قبضه کی راوله بیا به په داغه د تقوا نور پیدا سی.

که په یو چا کی غلط خواهشات او د ګناوو تقاضې نه وی نو هغه تقواداره کیدای هم نه سی لاکن بې عقله خلګ د دې تقاضو څخه وارخطا

سی حتٰی چې ځنې نادانه مریدان هم دا فکر کوی چې زما د مریدی دونه شپې وسوې، الله الله هم کوم لاکن د ګناوو تقاضې می نه ختمیږی داسی رامعلومیږی لکه د شیخ څخه چې ماته هیڅ فیض نه دی حاصل سوی، دا ډیر نادانه مرید دی، کوم صوفی چې د ګناوو د تقاضو څخه وارخطا کیږی هغه د شیخ څخه هیڅ نه دی زده کړی، ځکه چې په یو چا کی د ګناه خواهش پیدا کیدل ګناه نه ده بلکې پر هغه خواهش باندی عمل کول ګناه ده، پر خواهش باندی د عمل نه کولو په سبب پر زړه چې کوم غم راسی پر هغه غم خو حق تعالیٰ حاصلیږی، ته ولی دخدای د قرب اسباب د لیریوالی اسباب بولې، که بوټی نه وی نو اور به څنګه بلیږی؟

مولانا رومی صاحب په دغه شعر کی همداغه فرمایي چې د ګناوو خواهشات د تقوا دپاره بوټی دی، د تقوا حمام تود هم د ګناوو خواهشات دخدای د بیری په اور کی په سوځلو سره وی، هم په دغه اور سره د تقوا نور پیدا کیږی، دغه خواهشات د تقوا بوټی او اسباب دی، څوک چې دغه ختمول غواړی هغه بې عقل دی، په دغه خاطر د ګناوو د خواهشاتو پر ډیروالی باندی باید سړی وارخطا نه سی، د چا په زړه کی چې خواهشات ډیر دی پوه سه چې هغه ته حق تعالیٰ بوټی ډیری ورکړی دی او د بوټو ډیروالی نعمت دی ځکه چې ډیری بوټی وسوځې نو نور به هم ډیر پیدا سی، په نفس کی چې څونه ډیری تقاضې وی هغونه به پر تقاضو باندی د عمل نه کولو په سبب تکلیف ډیر وی او څونه چې تکلیف ډیر وی هم هغونه ډیر او قوی به د تقوا نور پیدا سی.

لهٰذا د ګناوو تقاضې هیڅ تاوانی نه دی بلکې هغه وسوځه نو داغه تقاضې دخدای د قرب او پر مختګ سبب دی، دحق تعالیٰ د محبت او تقوا وریجی د ګناوو د تقاضو په بوټو پخیږی، په دغه خاطر دا خواهش مه کوه

چې دغه بوټي ختمې سي، که بوټي نه وي نو وریجې به څنګه پخیږي، څوک چې د ګناوو په خواهشاتو وارخطا کیږي هغه په اصل کې چغال دی، غل دی، د قوت نه کارولو غل دی، د ګناوو د خواهشاتو څخه په دغه خاطر وارخطا کیږي چې دهغه څخه د ځان راګرځولو دپاره خپل قوت نه کاروي، د خواهشاتو څخه ځان راوګرځوه بیا وګوره چې څونه نور درته حاصلیږي، یودم به داسې پرواز درته عطا سي چې لوی لوی عبادت ګزاره به هغه مقام ته نه سي رسیدای، ستا د روح پرواز به یودم مخ پر لوړه ولاړ سي.

تاسې خبر یاست کله چې طیاره مخ پر پورته کیدو وي نو څونه تیل مصرفیږي؟ هغه وخت دوه درې زره ګیلنه تیل مصرفیږي، نو کوم سړی چې دحق تعالیٰ وطرف ته الوتل غواړي دهغه ډیر تیل پکار دی، حق تعالیٰ اسباب پیدا کړه، ښایسته شکلونه یې پیدا کړه، دحسن خاوندان یې پیدا کړه چې زما بندګان د ګناه څخه ځان په ساتلو سره پر زړه باندې غم یوسي او په داغه غم سره زه هغوته تیل او د پرواز طاقت ورکړم، دا قاعده کلیه ده چې"اَلـمُشَاهده بِقدرِ الـمُجَاهده" دخدای په لار کې چې څوک څونه غم پر ځان یوسي هغونه به لوړ دهغه پرواز وي.

په داغه خاطر شاه ولی الله محدث دهلوی رحمة الله علیه فرمایي چې نربنځوکی ته دخدای خاص دوستي نه سي حاصلیدای ځکه چې په هغه کې د ګناوو خواهشات نه وي، عام دوستي به ورته حاصله سي او جنت ته به هم ولاړ سي لاکن خاص دوستي او خاص قرب کوم چې اولیاء صدیقینو ته عطا کیږي هغه وهغه چاته ورکول کیږي د چا په نفس کې چې خواهشات وي خو پر هغه عمل نه کوي او غم پر ځان وړي همداغه **كَفُّ النَّفْسِ عَنِ الْهَوىٰ** دی، همداغه خواهشات او شهوت مولانا رومی صاحب په دغه شعر

کې بوټې بللی دی کوم چې په سوځلو سره یعنی پر هغو باندی په عمل نه کولو سره د تقوا څراغ روښانه وی.

**آن چنانش اُنس و مستی داد حق　　　　که نه زندان یادش آمد نه غسق**

د مولانا رومی صاحب د دې شعر خلاصه دغه ده چې دحق تعالیٰ د لاری په غم مه وارخطا کیږه، دحق تعالیٰ د لاری غم دونه قیمتی دی چې د ټولی دنیا تـر خوشحالیو قیمتی دی، څونه چې منزل قیمتی وی نو دهغه منزل د لاری تکلیف هم هغونه قیمتی وی او هغه احساسیږی هم نه، دحق تعالیٰ د قرب منزل دونه قیمتی دی چې په دنیا کې تـر هغه قیمتی بل هیڅ منزل نسته نو دحق تعالیٰ د لاری غم به څونه قیمتی وی، دهغه د لاری زوزان به څونه قیمتی وی.

زلیخا حضرت یوسف علیه السّلام ته د ګناه دعوت ورکړی او ورته وې ویل که زما خواهش راپوره نه کړې نو زه به تا بندی خانې ته واچوم زه د پاچا ماندینه یم، نو حضرت یوسف علیه السّلام هیڅ ورته ونه ویل بلکې وخدای ته متوجې سو او خپل ربّ ته یې خواست وکړی چې **رَبِّ السِّجۡنُ اَحَبُّ اِلَیَّ....الخ** په دې آیت کې اشاره ده چې په داسی وخت کې خدای ته متوجه سه، کله چې تا پر مځکه باندی خلک په تکلیف کړی نو آسمـان والا ته فریاد وکه، د مځکی جاذبان چې دی کش کړی نو آسمان والا جاذب ته ناره ور وکه د چا د جذب کولو قوت چې تـر ټولو لوی دی او حضرت یوسف علیه السّلام چې کوم اعلان کړی وو ته هم هغه اعلان وکه چې

**رَبِّ السِّجۡنُ اَحَبُّ اِلَیَّ مِمَّا یَدۡعُوۡنَنِیۡۤ اِلَیۡهِ** (سورت یوسف، آیت ۳۳)

اې زما پالونکې! ستا د لاری قیدخانه ماته محبوب ده تـر هغه ګناه د کومی ګناه وخوا ته چې دغه د مصر د پاچا ماندینه ما وربولی او ما بیروی

که ګناه ونه کړې نو زه به تا قیدخانې ته واچوم لاکن یاالله! ستا تر خوابدتیا ماته قیدخانه احب ده، ستا د قرب د خوند ومحته د ټولی دنیا رنج او غمونه هیڅ هم نه دی، ستا د لاری غم د ټولی دنیا تر خوشحالیو ماته محبوب دی، ستا د لاری قیدخانه او د قیدخانې غم ماته فقط محبوب نه دی بلکې احب دی تر هغه خبیث عمل چې دغه ښځې ما وربولی.

دلته د جمع صیغه **یَدۡعُوۡنَ** ولی نازل سوه که څه هم بلونکې یوه ښځه وه یعنی فقط زلیخا د ګناه دعوت ورکړی، نو حضرت تهانوی رحمة الله علیه په بیانُ القرآن تفسیر کی لیکلی دی چې حق تعالیٰ د جمع صیغه په دغه خاطر نازل کړه ځکه چې د مصر ښځو سفارش ورته کړی وو چې اې یوسفه! د زلیخا خواهش ورپوره که، لهٰذا په ګناه کی کومک کول، همکاری کول او سفارش کول هغونه جرم دی څونه چې د مجرم جرم دی، په داغه خاطر رشوت ورکونکی هغونه مجرم دی څونه چې رشوت اخیستونکی مجرم دی او دغه آیت دحق تعالیٰ د محبوبیت د شان هم دلیل دی چې حق تعالیٰ داسی محبوب دی د چا د لاری قیدخانې چې احب وی نو دهغه د لاری ګلستان به څنګه وی.

دغه جمله چې کله حق تعالیٰ راته عطا کړه نو زما د ژبې پر لذت باندی د ندوه(هندوستان) علماء مست سول او راته وې ویل چې عجبه استدلال دی او د ژبې عجبه شیرینی ده، د چا د لاری قیدخانې چې محبوب نه احب دی نو دهغه د لاری ګلستان به څنګه وی، د چا د لاری تریخوالی چې محبوب دی نو دهغه لاری خوږوالی به څنګه وی، د چا د لاری غم او تکلیفونه چې احب دی نو دهغه د نامه د خوند به څه حال وی.

ځکه چې حق تعالیٰ بې مثاله دی نو دهغه د نامه خوند هم بې مثاله دی کوم چې به په جنت کی هم نه وی، په خاصه د ښځو او لغړزنو

څخه د نظر د حفاظت پر غم چې د ایمان د خوږوالی کومه وعده ده هغه د ایمان خوږوالی په داغه دنیا کی ورکول کیږی هغه به په جنت کی هم نه وی، ځکه چې په جنت کی به د نظر د حفاظت حکم ختم سی، هلته به شریعت نه وی، هلته به ټوله د ملایکو په شان پاک سی نو هغه خوند په دنیا کی واخلی، د نظر په حفاظت سره د ایمان هغه خوږوالی واخلی، دحق تعالیٰ د پاک نامه لذت او مستی او د ایمان خوږوالی کوم چې یوسف علیه السّلام ته عطا سو هغه مولانا رومی صاحب په دغه شعر کی بیانوی چې ؎

**آن چنانش اُنس و مستی داد حق        که نه زندان یادش آمد نه غسق**

د مصر د ښځو د ګناه پر دعوت باندی د انکار او دحق تعالیٰ د نافرمانی څخه د ځان ساتلو په خاطر کله چې حضرت یوسف علیه السّلام قیدخانې ته واچول سو نو حق تعالیٰ هغه ته داسی مستی ورکړه چې دهغه نه قیدخانه په یاد سوه نه یې د قیدخانې تاریکه په یاد سوه، دهغه پر وجود باندی حق تعالیٰ د خپل محبت داسی خاص فیض واچوی چې هغه ته د قیدخانې احساس هم ونه سو، دا دحق تعالیٰ شان دی.

مولانا صاحب په دې کی موږ ته دغه سبق راکوی چې د ګناوو عارضی خوند پریښول د غم قیدخانه ده، که موږ اراده وکړو او د کوښښ څخه کار واخلو چې ګناه نه کوو او د ګناه نه کولو غم پر ځان وړو او د غم دغه قیدخانه تـر خپل زړه او ځان محبوب بولو لاکن حق تعالیٰ په خوابدی کولو سره ناروا خوشحالی زړه ته نه راولو، د غیرالله د شکل او حسن څخه به د حفاظت دپاره ځان قربان کړو نو انشاءالله د نبی علیه الصلوٰة والسّلام په صدقه نـن هم حق تعالیٰ هغه مستی پر عطا کولو باندی قدرت لری چې د غم احساس به هم نه وی او داسی مستی به درته عطا سی چې دهغه نشه به هیڅکله لیری نه سی، مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

**خاصه کان خمری که از خُم نبی ست　　　　مستی او دائمی نی یک شبی ست**

د نبی علیه الصلوٰة والسّلام د محبت او معرفت د منګی څخه، د سنت او شریعت د منګی څخه چې کوم شراب عطا کیږی دهغه نشه ابدی وی کوم چې هیڅکله نه لیری کیږی، د دنیاوی شرابو مستی خو په یوه شپه لیری سی لاکن دخدای د محبت دغه نشه په تورو هم نه لیری کیږی، د نظر پر حفاظت باندی د ایمان د خوږوالی چې کومه وعده ده چې ته د سترګو خوږوالی پر ما قربان که زه به د زړه خوږوالی تاته درکړم، ته د نظر حلاوت پر ما قربان که زه به د بصیرت حلاوت تاته درکړم.

دا د علّامه ابن جوزی رحمة الله علیه الفاظ دی کوم چې ډیر لوی عالم او بزرګ تیر سوی دی هغه فرمایي چې حق تعالیٰ زموږ څخه د سترګو خوږوالی غوښتی دی چې حرام نظر مه اچوه، د حسن خاوندانو ته مه ګوره نو حق تعالیٰ به تاته د زړه خوږوالی درکړی، د سترګو خوند یې واخیستی او زړه یې مست کړی، حق تعالیٰ ناروا مستی په حرام بللو سره زموږ زړه را مست کړی، د زړه مستی، حلاله مستی او دخدای عطا کړل سوې مستی او هغه مستی په کوم چې حق تعالیٰ خوشحاله دی، هغه دخدای د لاری غم په زغملو سره په نصیب کیږی او د نظر د حفاظت غم په زغملو سره او د حسن د خاوندانو څخه د لیری اوسیدو پر غم باندی حاصلیږی.

پر دې باندی زما یو شعر دی کوم چې په اوریدلو سره یو لوی عالم راته وویل چې ستا دغه شعر ډیر بنایسته دی، هغه کوم شعر دی؎

**میرے ایّام غم بھی عید رہے　　　　ان سے کچھ فاصلے مفید رہے**

**ترجمه**: زما د غم ورځې را باندی اختر سوې، د حسن د خاوندانو څخه یو څه فاصله راته ګټمند سول

دخدای د بیری څخه چې څوک د نظر حفاظت وکړی نو دهغه په زړه کې غم پیدا سی او د غم په خاطر دستی زړه ته د ایمان خوږوالی عطا سی دا د حدیث الفاظ دی **مَنْ تَرَکَهَا مَخَافَتِیْ یَجِدُ حَلَاوَتَهٗ فِیْ قَلْبِهٖ (کنز العمال جلد۵ صفحه۳۲۸)** دا ایمانی حلوا ده، هم په داغه دخدای د عاشقانو هر وخت اختر دی، عام خلګ خو په کال کی یو اختر کوی او د اختر په شپو کی هغوته حلوه رسیږی لاکن دخدای عاشقان او دهغو خادمان د بې پردګی او عریانی په دې زمانه کی هر وخت د نظر حفاظت کوی په دغه خاطر هغوته هر وخت ایمانی حلوا ورپه نصیب کیږی، په دغه سبب دهغو هر وخت اختر دی، که یې په ورځ کی سل واری د نظر حفاظت وکړی نو سل واری دهغو اختر سو ځکه چې سل واری ایمانی حلوا ورپه نصیب سوه، د دې خوند زړه احساسوی، په دنیا کی داسی اختر دخدای د عاشقانو ماسوا هیچا ته نه دی ورپه نصیب، په دغه خاطر په خاصه د نورو مملکتو علماوو ته دغه وایم چې د لندن ایرپورټ وی که د نیویارک ایرپوټ وی او که د جرمنی ایرپورټ د نظر د حفاظت د غم څخه مه په تکلیفیږی، دغه فکر وکړی چې دا د ایمانی حلوا قدرتی انتظام دی، نن د ایمان خوږوالی دغه دولت پر ایرپورټو باندی، پر سړکانو باندی او په بازارو کی تقسیمیږی، پر دې ځایو باندی د نظر حفاظت وکړی او په ایمانی حلوا سره مست سی، دغه غم پر سر او سترګو کښیږدی.

حضرت تهانویؒ فرمایې چې د نظر په حفاظت سره خو نفس ته غم رسیږی لاکن په هغه وخت په روح کی هغونه نور پیدا سی، څونه غم چې ستا زړه ته ورسیدی هغونه نور به دی زړه ته داخل سی مثلاً که پر نفس باندی یو کیلو غم تیر سو نو دستی به یو کیلو نور هم په روح کی پیدا سی، دغه د ایمان خوږوالی، دی د دې خوند ما په دغه مصرعه کی بیان کړی ؎

## مرے ایّامِ غم بھی عید رہے

**ترجمه**: زما د غم ورځې را باندې اختر سوې

او په دوهمه مصرعه کې د حسن د خاوندانو څه د ځان لیرې ساتلو فایده بیان سوې ده ـــ

## اُن سے کچھ فاصلے مُفید رہے

**ترجمه**: د حسن د خاوندانو څخه یو څه فاصله راته ګټمند سول

د حسن د خاوندانو څخه لیریوالی راته ګټمند سو، په سبب د دې چې د ایمان خوږوالی راپه نصیب سو، د غټو موټرانو پر شا باندې لیکلې وي فاصله وساتی چې ټکر ونه سي او د تیلو پر پمپ باندې لیکلې وي چې (No smoking please) او عرب لیکي چې **مَمْنُوْعُ التَّدْخِيْن** او زموږ په ژبه لیکلې وي چې دلته سیګریټ سکول منع دی چې د تیلو پمپ اور وانه خلي نو آیا د ایمان خاوندان دغه ته ضرورت نه لري چې د حسن د لمبو څخه ځان لیرې وساتي چې د ایمان پمپ یې اور وانه خلي.

آیا د دنیا د تیلو قیمت تر ایمان ډیر دی؟ دغه حسن ایمان ته داسې اور اچوي څنګه چې بخرکه تیلو ته، لهٰذا دغه د اور په شان سرو سرو باڼخوګانو ته مه ګوري، خواجه مجذوب صاحب فرمایي ـــ

**دیکھ ان آتشیں رُخوں کو نہ دیکھ ان کی جانب نہ آنکھ اُٹھا زنہار**
**دور ہی سے یہ کہہ الٰہی خیر وَقِنَا رَبَّنَا عَذَابَ النَّار**

**ترجمه**: دغه د اور په شان باڼخوګانو ته مه ګوره، دهغو پر خوا سترګې پورته نه کړې خبردار، د لیرې څخه ووایه الٰهی خیر، **وَقِنَارَبَّنَاعَذَابَ النَّار**

د نامحرمه ښځو او لغړزنو هلکوانو سره سره باړخوګان د دوږخ د اور سکروټې دی، یاالله موږ د دوږخ د اور څخه وساته ځکه چې د دوی باړخوګان هم سره دی او د دوږخ اور هم سور دی، لهٰذا دغه سره باړخوګان تر سره اوره رسونکی دی، په دغه خاطر خواجه صاحب فرمایي چې دوی ته مه ګوره او پناه طلب که.

کوم خلک چې د نظر حفاظت نه کوی نو دهغو د ټول عمر حج او عمرې، د تبلیغ او خانقاوو څلویښت شپې، ذکر اذکار، تلاوت او د شپې د تهجد سجدې ټوله ضایع سی ځکه چې د عبادت نور د ګناوو تیاره وخوری خلک وایي چې وروره نه می څه ورکړه نه می څه واخیسته فقط ښځی ته می وکتل او ته دونه نارې راباندی وهې، اې وروره! موږ نارې نه وهو په قرآن شریف کی دحق تعالیٰ حکم دی **يَغُضُّوا مِنْ اَبْصَارِهِمْ** (سورت نور، آیت ۳۰) اې د ایمان خاوندانو! خپلی سترګی کښته کړی.

که په بدنظری کی تاوان نه وای نو آیا الله پاک به منع کړی وای؟ آیا یو پلار به خپل زوی د ګټې د شی څخه راوګرځوی؟ الله پاک خو ارحَمُ الرّاحمین دی ارحمُ الرّاحمین به موږ د ګټې د شی څخه راوګرځوی؟ که په دې کی تاوان نه وای نو الله پاک نه منع کول، دحق تعالیٰ منع کول دلیل دی چې په دې کی سراسر تاوان دی او نبی علیه الصلوٰة والسّلام رحمةٌ للعٰلمین دی که بدنظری دګټې شی وای نو به یې دغه نه وای فرمایلی چې **زِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ** (مسلم جلد ۱ صفحه ۶۵) بدنظری کول د سترګو زنا ده.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایي چې د بدنظری کولو وروسته د ایمان خوږوالی سلب سی او بیا عبادت هم خوند نه کوی، تلاوت به کوی لاکن تلاوت به یې بې خونده وی ځکه چې په دماغ کی یې هغه د حسن خاوند وی، سجده به کوی لاکن سر به یې دخدای په حضور کی نه وی.

یو بدنظری کونکی راته وویل چې ما په تلویزیون کی لځ فلم ولیدی او دغه کتونکی سید وو هغه راته وویل چې شپږ میاشتی سوی دی لاکن کله چې زه سجده کوم نو د فلم د هغه لځی ښځی د شرم پر ځای باندی زما سر وی **سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى** په خوله وایم لاکن سر می د شرم پر ځای پروت وی ځکه چې زما د دماغ څخه دهغه ښځی فکر هیڅ وخت نه وځی.

راته وواياست شیطان بدنظری په کولو سره سجده پر کوم ځای په وکړه، کوم سر چې دخدای په حضور مشرفه کیدی هغه یې پر څونه غلیظ ځای ذلیله کړی، بس تاسی اوس خپله فیصله وکړی چې دخدای په لار کی په لږ غوندی تکلیف سره هغه کیف او مستی ښه ده کوم چې حق تعالیٰ نبیانو او اولیاوو ته ورکوی چې دهغه وروسته د غم د قیدخانې تکلیفونه هم خوندور سی او که دخدای د قهر او عذاب هغه لعنتی مستی ښه ده چې دهغه وروسته ناآرامی، ناقراری او دخدای په عذاب کی اخته کیدل په نصیب کیږی او د داسی سړی زړه هم لعنتی سی کله چې سترګی لعنتی کار وکړی نو زړه به د کومی خوا جنتی وی.

عمل په وکړی بیا وګوری، دغه لار خالی د علم نه ده، دا خالی د معلوماتو لار نه ده، عمل په وکړی وې ګوری، که زه یو لک واری صفتونه درته وکړم چې د چرګ یخنی وچیښی ډیر طاقت لری او یو څوک د چرګ یخنی د جوړولو طریقه هم بیان کړی او ټوله خلګ هغه وهم لیکی لاکن چاته به فایده ورنه کړی، څوک چې یخنی وچیښی فایده به هغه حاصل کړی، د خپل شیخ خبری په لیکلو سره کار نه سمیږی، دخدای د نامه غم پر ځان یوسه بیا وګوره چې څه درته حاصلیږی؟ د اولیاوو د مجاهدو او تکلیفو صفتونه کوه لاکن خپله غم پر ځان مه وړه کله چې وخت راسی نو چغال سې او د لیونیانو په شان ښځو ته کتل شروع کړې، هغه وخت دا معلومیږی هم

نه چې دغه سړی یو وخت الله الله کوی، یو وخت د بزرګانو په صحبتو کی ناست وو لهٰذا د دې فانی حسن په خاطر د پیغمبر خلاف کارونه مه کوه.

د بې غیرتی یو حد وی، د چا وریښتان چې سپین سوی دی هغه خو باید ډیر هوښیار سی، په هینداره کی خپل ږیری ته وګوره او خپل نفس ته وو ایه چې اې نفس بې غیرته! ته په ګناوو کی سپین ږیری سوې دغه راته وو ایه چې آیا ستا سره د حرام خوندو یو څه ذخیره سته؟ آیا د حرام خوند یوه ذره هم ستا سره پاته ده؟ حرام خوند حلال اطمینان هم ختم کړی، لهٰذا ژر د ولی الله جوړیدو ډیره لو نسخه دربښوم چې فرض، واجب او مؤکده سنت ادا کړی او د نظر په حفاظت سره، د ګناوو څخه د ځان په ساتلو سره د خپل زړه وینی توی کړی دا د ولی الله جوړیدو ډیره مختصر لار ده، داغه ته یو شاعر وایې ؎

**آؤ دیارِ دار سے ہو کر گزر چلیں    سنتے ہیں اُس طرف سے مسافت رہے گی کم**

**ترجمه**: راځه چې د دار پر خوا را تیر سو، دا اورو چې هغه لار ډیره مختصر ده

یعنی خپل نفسی خواهشات پانسی که نو ته به ډیر ژر خدای حاصل کړې او ستا د زړه د خوشحالی به هغه حال وی چې ټوله دنیا به ستا د زړه په هغه حال خبره هم نه وی، د یو لک حج او عمرو ثواب سر پر سترګو لاکن د یوه نظر د حفاظت قرب ته نه سی رسیدای.

په داغه خاطر زه وایم چې څوک په دې زمانه کی د نظر حفاظت وکړی هغه به دخدای دوست سی، بس فرض، واجب او مؤکده سنت دی نه پریږدی ځکه چې فرض واجب او مؤکده سنت زموږ د ایمان او اسلام بنیاد دی، بنیاد چې نه وی نو رنګ او روغن به پر څه شی کوې؟ د نظر د حفاظت په روغنو به ستا ایمان روښانه سی، په دغه غم به ته په نور کی

غرق سې او په زړه کې به دی دخدای د محبت دونه درد پیدا سی او ستا د کباب سوی زړه څخه به داسی خوشبویي پورته سی چی ستا په ذریعه به په لکهاوو انسانان دخدای دوستان سی.

لهٰذا دغه په یاد وساته چې کله دی یو لغړزنی هلک مخته راسی نو دهغه د سپین ږیروالی خیال وکه او سترګی پټی که، دغه فکر وکه چی عمر یې نوی(۹۰) کاله سو او ملا یې کړوپه سوه، پر سترګو یې دوولس نمبره عینکی دی او که ښځه ده نو خیال وکه چی ځګر یې یو فټ لاندی راځړیدلی دی، غاښونه یې ټوله وتلی دی او بوی یې جلا ځی، ټوله وریښتان یې سپین سوی دی، د سر چوټیګان یې ختلی دی بس د زړې خرې د لکۍ په شان لږ وریښتان پاته دی، دا مراقبه ده.

دغه د فکر قوت حق تعالیٰ موږ ته ولی راکړی دی؟ په خاطر د دې چی زما بندګان یې زما په فرمانبرداری کی کار کړی، داسی نه چی د ښځو او لغړزنو په خیال سره خپل د فکر قوت پلید کړی، بس د چا ځوانی چی تا په فتنه کی مبتلا کړی دستی د هغه زوړوالی په خیال کی راوله لاکن د نظر د حفاظت وروسته دا خیال وکه، داسی نه وی چی په بدنظری سره ستا د فکر سیوچ خراب سی او داسی ظلمت درباندی سپور سی چی د نس غلاظتونه یې په نظر در هم نه سی او د ږیری او خولی سربیره ته د غلاظت او شرم په ځایو اخته سې او د ذلت او ستومانی وانتها ته ورسیږې.

نظر د ابلیس غشی دی په زهرو کی وهل سوی، که چا یو لک حجونه او عمرې وکړې لاکن پر یوې ښځې باندی یې نظر واچوی نو د ثواب هغه ټوله خزانه یې ختمه کړه، په دغه خاطر تر نفلی حج او عمرو تقوا زیاته زده کړی، دحق تعالیٰ د دوستی بنیاد پر تقوا باندی دی پر نفلی حج

او عمره باندی نه دی او تقوا د اولیاوو په خدمت سره حاصلیږی، ګټه لږ وکه لاکن دهغه حفاظت وکه چې غل یې درڅخه یو نه سی نو داسی شخص مالداره دی او یو شخص ډیره ګټه وکړه لاکن د خپل مال حفاظت یې ونه کړی او غلو ځنی یوړی نو هغه مفلس، مسکین او د زکوٰة مستحق دی.

بس فرض، واجب او مؤکده سنت چې څوک ادا کړی که څه هم هغه هیڅ نفل او وظیفه ونه کړی لاکن هغه یوه لحظه حق تعالیٰ خوابدی نه کړی نو دا دخدای دوست دی، دخدای د دوستی دونه آسانه لار به چیری پیدا کړې چې کار مه کوه، حرام کار مه کوه، په کوم کار چې خدای خوابدی کیږی هغه مه کوه، دخدای خپګان پر ځان مه روا کوه، د حرام خوندو سره زړه مه لګوه، دخدای پر نامه داسی قربان سه چې د حرام خوشحالی او حرام خوند سره ستا زړه ونه لګیږی، خپل مالک ته هر وخت نظر وکه، خدای هیرول دا دلیل دی چې دغه شخص په خاورو(دنیا) اخته دی او د خاورو په شیانو مست دی.

بس د خاورین شیانو غم مه خوره، دخدای غم پر سر او سترګو کښیږده، د دې غم څخه ځان مه کاږه ځکه چې دا چغالتوب دی کوم چې حضرت عمر رضی الله عنه بیان کړی دی **وَلَا يَرُوْغُ رَوْغَانَ الثَّعَالِبِ** دخدای نارینه دخدای د لاری څخه د چغالانو په شان ځان نه کاږی، هغه دخدای د لاری غم پر سر او سترګو ایږدی، حق تعالیٰ دغه غم د قسمت وخاوندانو ته ورکوی، دغه غم خوشبخته خلګو ته ورپه نصیب کیږی، خپلو دوستانو ته حق تعالیٰ دغه غم ورکوی او د نافرمانی حرام خوندونه دښمنانو ته ورکول کیږی، ځنی خلک وایي چې یهودیان او عیسویان ډیر په خوندو کی دی هغوته حق تعالیٰ دونه دنیا ورکړې ده او ملایان بیچارګان د مسجد وسترنجیو ته ناست دی، تهجد کوی، خدای یادوی، د نظر د حفاظت غم زغمی او د

حسن دخاوندانو د ګناه دعوت په ردولو سره د خپلو خواهشاتو وینه چیښي، زه وایم کوم خلکو چې حق تعالیٰ خوشحاله کړی دی او د حرام خوشحالیو څخه یې ځان په راګرځولو سره غم پر ځان وړی دی نو دهغو زړه خدای ورخوشحاله کړی دی ځکه چې هغه مالک ارحمُ الراحمین دی دا نامـمکنه ده چې یو بنده خدای خوشحاله کړی او خدای هغه خوشحاله نه کړی، دا نامـمکنه ده چې یو زوی خو خپل پلار خوشحاله کړی او پلار هغه خوشحاله نه کړی د مخلوق چې دغه حال دی نو دخدای به څنګه شان وی.

د دې دلیل دغه دی چې د اولیاوو سره کښینه وې ګوره، که ته ناآرامه زړه هغوته ورسې نو آرام او قرار د حاصلولو وروسته به ولاړ سې، په یخچال کی چې دغه خاصیت کیدای سی چې په هغه کی تود بوتل کښیږدې نو هغه یې یخ کړی نو د اولیاوو په زړو کی به دغه تاثیر نه وی چې ناآرامه زړه هغوته راسی او هغه پر قراره سی؟ د دې برعکس کوم ظالـمانو چې د نافرمانی په حرام خوشحالیو سره خپل نفس خوشحاله کړی دی او په بدنظری سره یې په خپل زړه کی حرام خوندونه ذخیره کړی دی دهغو د زړو ناآرامی دهغو سره په ناسته کی مشاهده که، که ته هم نه سوې ناآرامه نو بیا ووایه، پر دې باندی زما یو شعر واوری کوم چې د دې اشکال جواب دی او کوم چې د مولانا رومی صاحب د دغه شعر ډیره ښه شرح هم ده ـــ

**دُشمنوں کو عیشِ آب و گل دیا　　　دوستوں کو اپنا دردِ دل دیا**

**ترجمه**: دښمنانو ته یې د اوبو او خاورو عیاشی ورکړې ده، دوستانو ته یې د خپل محبت درد ورکړی دی

کافرانو ته یې آب و ګل یعنی د اوبو او خاورو کباب، د خاورو وریجی، د خاورو ښځی او عیاشی ورکړې ده چې څونه کولای سی وې کړی لاکن خپلو دوستانو ته یې د خپل محبت درد ورکړی دی، دښمنانو ته

يې آب و ګل او دوستانو ته يې د محبت درد ورکړی دی لاکن په دواړو کی څه فرق دی؟ ؎

**اُن کو ساحل پر بھی طغیانی ملی　　　ہم کو طوفانوں میں بھی ساحل دیا**

**ترجمه**: هغه د اوبو پر غاړه هم په عذاب دی، موږ دی په طوفانو کی هم پر آرامه کړی يو

کافران په ايرکنډيشنانو کی ځانونه وژنی او اولياء کرام د غمو په طوفانو کی پر آرامه دی ځکه چی دهغو زړو ته سکينه حاصل ده په دغه خاطر هيڅ دخدای دوست يو وخت ځان نه دی وژلی، په تاريخ کی د دې هيڅ مثال نسته چی دخدای يو دوست دی ځان وژلی وی دخدای دوست خو ليری خبره ده دهغو خادمانو هم يو وخت ځان نه دی وژلی.

بس په آخر کی خپل نفس ته هم او ستاسی ټولو نفسو ته هم وايم چی په حديث شريف کی د مومن دغه شان بيان سوی دی چی هغه د يوه سوری څخه دوهم واری نه چيچل کيږی، د حسن د خاوندانو څخه، د بدنظری څخه او د ګناه څخه چی تا ناآرامی ليدلې ده نو دغه ناآرامی پيدا کونکی سوری ته دوهم واری لاس مه وراچوه، دغه د حسن خاوندان ټوله خاوری دی، پر خاورو باندی نقش او نګار سوی دی، پر خاورو باندی رنګ او روغن سوی دی، خاورو ته دی ډير وکتل اوس د مځکی او آسمان د خالق سره زړه ولګوه، دهغه د لاری غم يوسه بيا وګوره، که دی د دواړو جهانو تر لذتو ډير خوند په زړه کی حاصل نه کړی نو بيا ووايه چی تا څه ويل.

هغه مالک کريم ذات دی کوم چی د يوه ګل په بدل کی ګلستان چاته ورکوی، ته د خپلی خوشحالی يو ګل پر هغه قربان که نو هغه به د خپل قرب ګلستان درباندی و اوروی، لهٰذا دخدای د قرب دولت جذب

که او وخت مه تیروه کنې یوه ورځ به د عمل کولو وخت ختم سی، سترګی چې پټې سی او د زړه حرکت بند سی په هغه ورځ به ته هیڅ نه سې کولای، که اوس نه وی نو بیا پر هغه د قربانیدو وخت څه محال راځی، آیا یو یقین او ذمه سته چې تر څه وخته به ته ژوندی یې ؎

نہ جانے بُلالے پیا کسی گھڑی          تو رہ جائے تکتی کھڑی کی کھڑی

**ترجمه**: معلومه نه ده چې څه وخت دی جانان طلب کړی، او ته هک پک حیران پاته سې

همچو فرخی میلِ اُو سُوی سما          منتظر بنهاده دیده بر هوا

مولانا رومی صاحب فرمایي د یوه مرغه چیچی کوم چې نن پیدا سوی دی، دهغه وزرونه لا تر اوسه نه دی راغلی فقط بازوګان لری، اوس په هوا کیدای نه سی لاکن دهغه نظر د آسمان پر خوا وی، ځکه چې په مستقبل کی دهغه په قسمت کی په هوا کیدل دی په دغه خاطر هغه آسمان ته ګوری او څونه حیوانان چې دی هغه لاندی ګوری، غوایي او داسی نور حیوانان چې پیدا سی نو هغه مځکی ته ګوری او کله چې زاړه سی بیا هم مځکی ته ګوری ځکه چې دهغو په قسمت کی پرواز نسته.

نو مولانا صاحب فرمایي چې ته حیوان کیږه مه چې هر وخت د خاورو په شیانو پسی ګرځې، هر وخت د حسن په خاوندانو پسی ګرځې، د خاورو پر وجود قربانیږې، د مځکی په شیانو مستیدل او خدای هیرول د دې دلیل دی چې دغه شخص د خاورو په شیانو اخته دی.

د چا په قسمت کی چې دخدای وطرفته پرواز لیکلی وی هغه د مځکی پر سر د اوسیدو سربیره پر مځکه نه اوسیږی، دهغه نظر په مثل د مرغه پر آسمان باندی لګیدلی وی، هغه هر وخت په انتظار وی چې څه وخت موقع راته پیدا سی او څه وخت زه دخدای وطرفته په هوا سم، د بدن

په لحاظ هغه پر مځکه معلومیږی لاکن د روح په لحاظ هغه هر وخت پر عرشِ عظیم باندی وی.

مولانا رومی صاحب فرمایي ـ

**ظِلّ او اندر زمین چون کوهِ قاف روحِ او سیمرغ بس عالی طواف**

د اولیاوو وجود په مثل د غره پر مځکه معلومیږی لاکن دهغو ارواح هر وخت د عرشِ عظیم طواف کوی، هغه هر وخت په خاص قرب مشرفه وی، هیڅ وخت هغه دخدای څخه نه غافله کیږی ـ

**خامش اند و نعرۀ تکرارِ شان می رود تا یار و تختِ یارِ شان**

اولیاء کرام چپ ناست وی لاکن دهغو په باطن کی د عشق نارې تر عرشِ عظیم او د عرشِ عظیم تر مالکه رسیږی، پر داغه حقیقت باندی زما شعرونه دی ـ

**زمین پر ہیں مگر کیا رابطہ ہے عرشِ اعظم سے**
**نہیں آتے نظر لیکن پرِ پرواز آہوں کے**
**وہ سب کے ساتھ رہ کر بھی خدا کے ساتھ رہتے ہیں**
**مگر کچھ اہلِ دل ہی آشنا ہیں ایسے رازوں کے**

**ترجمه**: هغه پر مځکه دی مګر څنګه رابطه یې د عرشِ عظیم سره ده، لاکن د فریادو وزرونه یې نه معلومیږی، هغه د ټولو سره د اوسیدو سربیره دخدای سره اوسیږی، لاکن فقط دخدای دوستان په داسی رازو خبر دی

د دې برعکس کوم خلک چی په مثل د حیوانانو دی هغه خدای په هیرولو سره د مځکی په شیانو او د حسن د خاوندانو په حرام لذتو او حرام خوشحالیو مست دی، د فانی لاښو پر بد بویي باندی مست کیدونکی

څه خبر دی چې دهغه حقیقي ذات په پاک نامه کې څه خوشبويي، څه لذت او څه نشه سته چې په هغه د اولیاوو ارواح کوم چې په معنٰی د شهبازانو ده هره لحظه داسې مست دی چې دهغو مستی، کیف او خوشحالی د بیانولو څخه د ټوله جهان لغت عاجزه دی ـ

وہ کرگس جو کسی مردہ پہ ہوتا ہے فدا اخترؔ
وہ کیاجانے کہ کیا رُتبے ہیں ان کے شاہبازوں کے
جدھر دیکھو فدا ہے عشقِ فانی حسنِ فانی پر
فدا اللہ پر ہیں قلب و جاں اللہ والوں کے

**ترجمه**: هغه ټپوس کوم چې پر یو فنا کیدونکې باندی قربانیږی، هغه څه خبر دی چې دخدای د شهبازانو څه رتبې دی، هر چیری چې ګورې فانی عشق پر فانی حسن باندی قربان دی، د اولیاوو زړه او وجود پر خدای باندی قربان دی

لهٰذا دحق تعالیٰ پر خوا د الوتلو کوښښ وکه چاته چې ورتګ دی او چاته چې یوه ورځ مخ ورښکاره کول دی، بس یوه لحظه هغه مه خوابدی کوه، که یو وخت ګناه درڅخه وسی نو په ژړا توبه وکاږه، یودم دحق تعالیٰ پر خوا د الوتلو یعنی د ولی الله جوړیدو تر دې آسانه نسخه بله نسته، خانقاه هم د داغه شی نوم دی ـ

یہ وہ چمن ہے جہاں طائرانِ بے پر و بال
بسوئے عرش بیک دم اڑائے جاتے ہیں

**ترجمه**: دا هغه ګلستان دی چیری چې بې وزرو مرغان، یودم د عرش پر خوا په هوا کیږی

**ما اگر قلاش وگر دیوانہ ایم　　　مستِ آن ساقی و آن پیمانہ ایم**

قلاش غریب، مسکین او تنګدست ته ویل کیږی، مولانا رومی صاحب فرمايي که څه هم زه قلاش، مسکین او خالی لاس یم لاکن دهغه اَلَست ساقی(حق تعالیٰ) د مجت په شرابو مست یم او دهغه د محبت پر پیمانه باندی قربان یم چا چې په ازل کی **اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ** په ویلو سره د خپل محبت زخم پر زړو باندی لګولی وو او د خپل محبت شراب یې په ارواحو چیښلی وه دا هغه لګیدلی زخم دی او دهغه محبت د شرابو مستی ده چې بې له لیدو بندګان پر حق تعالیٰ باندی قربانیږی، خواجه مجذوب صاحب داغه ته فرمايي ؎

**دل ازل سے تھا کوئی آج کا شیدائی ہے**
**تھی جو اِک چوٹ پرانی وہ اُبھر آئی ہے**

**ترجمه**: زړه د ازل څخه شیدا وو د نن څه خو نه دی، یو زخم چې زوړ پر لګیدلی وو هغه راپورته سو

او زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب به پر دې ځای باندی دغه شعر هم ویلی ؎

**نہ کبھی تھے بادہ پرست ہم نہ ہمیں یہ ذوقِ شراب ہے**
**لبِ یار چوسے تھے خواب میں وہی ذوقِ مستیٔ خواب ہے**

**ترجمه**: نه می یو وخت شراب چیښل نه زه د شرابو شوق لرم، د یار شونډان می زبیښلی وه په خوب کی دا هغه د خوب مستی ده

یعنی د پیدایښت پر وخت حق تعالیٰ **اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ** په ویلو سره زموږ ارواحو ته د خپل ربوبیت تجلا ورښکاره کړه او زموږ په خمیر کی یې

د خپل محبت تخم کښنيښنوی يعنی زموږ پر زړو باندی يې د خپل محبت چاپ ولګوی بيا يې موږ دې دنيا ته راوليږلو چې دنيا ته خو تاسی ځی لاکن ما مه هيروی ے

**کہیں کون ومکاں میں جو نہ رکھی جاسکی اے دل**
**غضب دیکھا وہ چنگاری میری مٹی میں شامل کی**

**ترجمه**: په ټوله جهان کی چی هيڅ چيری ځای نه سوه اې زړه، غضب می دا وليدی چی هغه بڅرکه يې زما په خاورو کی کښنيښنول

دا دهغه زخم تاثير دی چی نن موږ دخدای په محبت کی مستان يو، دخدای په نامه کی چی کوم شيرينی، کيف او مستی ده د دواړو جهانو خوندونه دهغه ومخته هيڅ هم نه دی، چاته چی دخدای د نامه دغه خوږوالی وريه نصيب سو دهغه څخه پوښتنه وکړی چی دخدای په نامه کی څنګه خوند دی، که دخدای په محبت کی خوند نه وای نو د نبيانو سرونه به نه پر قربانيدای او نبی عليه الصلوٰة والسّلام به نه وای فرمايلی چی **ثُمَّ اُقْتَلُ ثُمَّ اُحْيَا ثُمَّ اُقْتَلُ ثُمَّ اُحْيَا ثُمَّ اُقْتَلُ** (*کنزالعمال جلد۵صفحہ۱۱۸*) ياالله! زه دغه محبوب ساتم چی ستا په لار کی ووژل سم بيا راژوندی سم بيا ووژل سم بيا راژوندی سم بيا ووژل سم، مولانا رومی صاحب فرمايي ے

**صد هزاران سر به پولی آن زمان　　عشقِ خونين چون کند زه بر کمان**

دحق تعالیٰ ذات دونه شيرين دی چی کله دهغه عشق پر جوش راسی نو په زرهاوو سرونه د يوې پيسې په عوض خرڅ سی ے

**جہاں وہ پاؤں رکھتا ہے وہاں پر سر برستے ہیں**

**ترجمه**: چيری چی هغه پښه ايږدی هلته سرونه اوری

لاکن دنیاداره خلک دخدای د نامه لذت او دهغه د محبت خوند د پیژندلو څخه قاصر دی، دخدای عاشقان کوم چې په ښکاره مفلس او خالی لاس معلومیږی په خپلو سینو کی یې داسی دولت اخیستی دی چی دهغو د قرب لذت د دنیادارو تر عقل، فکر او ادراک بالا دی بلکې دخدای سره د هر عاشق د تعلق رنګ جلا دی، د هر عاشق فریاد جلا دی، هر ولی ته جلا شان حاصل دی، لهٰذا یو ولی هم د بل ولی د باطن په لذت او دهغه د قرب په خوند ناخبره وی، اجمالی یو د بل په تعلق خو خبر وی لاکن باطن ته چې د قرب کوم لذت حاصل وی هغه یو پر بل پټ وی ځکه چې حق تعالیٰ خپل د محبت خوند هر چاته جلا جلا ورکوی او یو د بل څخه یې پټ ورکوی.

په قرآن پاک کی ارشاد دی

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِیَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْیُنٍ

(سورت سجده، آیت ۱۷)

نکره تحت النفی ده کوم چې فایده عموم ته ورکوی یعنی هیڅوک نه دی خبر کوم د سترګو یخوالی چې موږ په پټه وخپلو بندګانو ته عطا کوو. د دې یو مثال حق تعالیٰ ماته عطا کړی لکه څنګه چې مور خپل کوچنی ته شیدې ورکوی نو د شیدو پر بوتل باندی ټوکر راوګرځوی چې نور اولادونه یې نظر نه کړی همدغه رنګه حق تعالیٰ هم خپل محبوب بندګانو ته د خپل قرب لذت په پټه ورکوی چې نور بندګان یې نظر نه کړی، یو بزرګ بل بزرګ نظر نه کړی، په دغه خاطر د یو بزرګ د باطنی لذتو علم بل بزرګ هم نه لری، د بنده او معبود تر مابین دغه پټ تعلق او رابطه یو راز وی کوم چې پر بل بنده باندی پټ وی، کوم چې خواجه مجذوب صاحب داسی بیان کړی دی ؎

**ہم تم ہی بس آگاہ ہیں اس ربطِ خفی سے ‌ ‌ ‌ ‌ معلوم کسی اور کو یہ راز نہیں ہے**

**ترجمه**: زه او ته بس خبر یو د زړه په دغه پټ تعلق، معلوم بل چاته دغه راز نه دی

لاکن د دنیادارو خلکو په دې خبرو سر نه خلاصیږی، هغه خو به موږ لیونیان بولی چې وګوری دغه ملایانو او د پیری خاوندانو ته خدای یې لیدلی نه دی او پر خدای قربانیږی، د دې جواب مولانا رومی صاحب ورکوی ؎

**تن بجان جنبد نمی بینی تو جان ‌ ‌ ‌ ‌ لیک از جنبیدنِ تن جان بدان**

بدن د روح په سبب حرکت کوی لاکن ته روح نه وینې او د بدن حرکت په لیدلو سره ته بې له لیدو د روح وجود تسلیموې، که بې له لیدو د یو شی تسلیمول د عقل خلاف دی نو بې له لیدو د روح وجود هم مه تسلیموه.

په مکتب کی یو کافر استاذ یوه هلک ته وویل چې کوم شی موږ وینو هغه تسلیموو او بې له لیدو د یو شی وجود منل بې عقلی ده لهٰذا کوم خلک چې بې له لیدو دخدای وجود تسلیموی هغه بې عقلان دی، هغه هلک د یو بزرګ زوی وو هغه ورته وویل چې استاذ صاحب دا ته څنګه خبره کوې که زه ستا خبره صحیح ومنم نو زه به تا بې عقل بولم ځکه چې ستا عقل خو زه نه وینم، استاذ حیران پاته سو.

یو سړی حضرت تهانوی رحمة الله علیه ته وویل چې موږ دخدای سره څنګه محبت وکړو ځکه چې خدای خو نه معلومیږی، حضرت صاحب ورته وفرمایل چې ته د خپل روح سره محبت کوې او که یا؟ که یو غل ستا ژوند د اخیستلو دپاره راسی نو ته به دهغه سره جنګ وکړې او که به په آسانی ورته ووایې چې دغه روح درته حاضر ده ما مړ که؟ هغه ورته وویل

یا صاحبه! د روح د حفاظت دپاره به ځان قربانولو ته تیار سم، حضرت صاحب ورته وفرمایل چې یو وخت دی روح لیدلی دی؟ هغه ورته وویل چې هیڅکله می نه دی لیدلی نو حضرت صاحب ورته وفرمایل څنګه چې بې له لیدو د روح سره محبت کوې نو بې له لیدو دخدای سره محبت ولی نه سې کولای.

حق تعالیٰ زموږ بدن ته روح په عطا کولو سره د ایمان بالغیب یو دلیل خپله په موږ کی ایښی دی چې څنګه پر خپل روح باندی ایمان بالغیب راوړې او بې له لیدو روح تسلیموې او دهغه سره دونه محبت کوې چې د روح د حفاظت دپاره ځان قربانوې همدغه رنګه بې له لیدو پر خدای باندی ایمان راوړل او دخدای سره محبت کول څه مشکل دی، په موږ کی دغه دلیل په ایښولو سره حق تعالیٰ د ایمان بالغیب پارچه آسانه کړه او د انکار ګنجایش یې نه دی پرې ایښی، اکبر الٰه آبادی څنګه ښه ویلی دی ؎

**مری ہستی ہے خود شاہد وجودِ ذاتِ باری کی**
**دلیل ایسی ہے یہ جو عمر بھر رد ہو نہیں سکتی**

**ترجمه**: زما وجود خپله دحق تعالیٰ پر وجود باندی شاهد دی، دا داسی دلیل دی کوم چې ټوله عمر نه سی رد کیدای

مولانا رومی صاحب فرمایي د روح ماسوا د ایمان بالغیب دپاره حق تعالیٰ په دنیا کی نوری هم ډیری منظرې، مثالونه او نمونې پیدا کړی دی چې دهغه پټ وجود ته بې له لیدو فقط دهغه په نښانیو او علامتو تسلیموې او داسی یې تسلیموې چې دهغه څخه انکار کول د عقل خلاف او بې عقلی بولې، اوس نو د مولانا رومی صاحب ځنی منظرې او د ایمان بالغیب په باره کی دلایل واوری، فرمایي ؎

**خاک را بيني به بالا ای علیل　　　　باد را نی جز به تعریف و دلیل**

دوړی په هوا کی په لیدلو سره ته د باد وجود بې له لیدلو تسلیموې او د باد پر وجود باندی عقلی دلیل جوړ کړې چی خاوری د خپل مرکز یعنی د کره ارض څخه بې له باده نه سی په هوا کیدای، د خاورو په هوا کیدل د باد پر وجود دلالت کوی لاکن که څوک دغه ووایي چی ماته باد راښکاره که، نو ته پر دې قدرت نه لرې بلکې اعتراض کونکی ته به دغه ووایې چی د عقل څخه کار واخله نښانی او علامتونه د باد پر وجود دلالت کوی، مولانا رومی صاحب فرمایي چی د عقلی دلیل دپاره به ته زما دغه شعر ورته وړاندی کړې ــ

**پس یقین در عقل هر داننده است　　　　این که با جنبیده جنباننده است**

مولانا صاحب فرمایي هر عقلمند په دغه شی خبر دی چی د هر متحرک شی یو محرک دی یعنی هر حرکت کونکی شی ته یو حرکت ورکونکی سته کوم چی د پردې تر شا هغه ته حرکت ورکوی ځکه چی هیڅ شی خپله حرکت نه سی کولای، لهٰذا هر چیری چی یو شی په حرکت کی ووینې دا دلیل دی چی یو څوک هغه ته حرکت ورکونکی سته.

بس څنګه چی خاوری په هوا په حرکت کی په لیدلو سره ته بې له لیدو یقین وکړې چی خاورو ته حرکت ورکونکی شی باد دی همدغه رنګه روح چی بدن ته حرکت ورکونکی دی ته په بدن کی دهغه د موجودی او په خارج کی مځکه او آسمان، لمر، سپوږمی او ستوری، سمندر او دریاب د هوا تبدیلی، په لکهاوو ټن اوبه شرق، غرب، شمال او جنوب ته وړونکی باد الغرض د ټوله کاینات حرکت دلیل دی چی د دې چلونکی دحق تعالیٰ ذات دی د چا پر وجود چی بې له لیدو ایمان راوړل عقلاً

ثابت سول، د دې وروسته مولانا رومی صاحب د ایمان بالغیب په ثبوت کې یو بل دلیل وړاندې کوي چې ـــ

**تیر پیدا بین و ناپیدا کمان      جان ها پیدا و پنهان جانِ جان**

همدغه رنګه په هوا کې غشی وویني او کمان په نظر نه درځي لاکن بې له لیدو ته د کمان وجود تسلیموې ځکه چې عقل دا فیصله کوي چې غشی په کمان غورځول کیږي بې له کمانه خپله نه سي په هوا کیدای، همدغه رنګه د بدن په حرکت سره د روح وجود خو ښکاره دی ځکه چې هم د روح په سبب د بدن حرکت دی، که روح نه وي نو بدن حرکت نه سي کولای لاکن په روح کې دننه د روح جانان پټ دی د چا په برکت چې په روح کې ژوند دی، لهٰذا د روح موجودی د روح د پیدا کونکي پر پټ وجود باندې دلالت کوي، کله چې د روح د خالق حکم وسي نو روح د بدن څخه ووځي او بدن بې جانه سي، مولانا رومی صاحب د ایمان بالغیب یو بل مثال ورکوي چې ـــ

**بُوی گل دیدی که آنجا گل نبود      جوش مل دیدی که آنجا مل نبود**

اې خلکو! آیا تاسی یو داسې ځای د ګل خوشبویي بوی کړې ده چیرې چې ګل نه وي او د شرابو جوش مو یو داسې ځای لیدلی دی چیرې چې شراب نه وي، بس تاسي د ګل په خوشبویي سره د ګل پر وجود باندې بې له لیدو دلیل جوړ کړی او یو څوک د شرابو په نشه کې په لیدلو سره د شرابو پر وجود باندې بې له لیدو یقین وکړي.

مولانا رومی صاحب فرمایي د دې مثالو ماسوا په دنیا کې نورې هم بې شمیره منظرې سته چیرې چې بې له لیدو فقط په علامتو سره ته دهغه وجود تسلیم کړې مثلاً داسې وایې چې دخدای په ذات قسم دی نن

زما زړه ډیر خوشحالی دی او کله وایې چې دخدای په ذات قسم دی نن زه ډیر په قهر کی یم، کله وایې چې دخدای په ذات قسم دی نن زما زړه ډیر غمجن دی او کله وایې چې نن ماته پر پلانی سړی ډیر رحم راځی، قسمونه اخلې لاکن دا راته ووایه چې آیا یو وخت یو چا خوشحالی لیدلې ده چې دا څنګه شی وی، شنه وی که ژړه وی او غم څنګه وی او یو وخت یو چا قهر لیدلی دی چې په کوم شکل وی، بې له لیدو فقط په علامتو سره دهغو پر وجود یقین کوې، د مخ په خندا سره د زړه د خوشحالی او د مخ په افسردګی او د سترګو په اوښکو سره د غم وجود تسلیموې.

همدغه رنګه دحق تعالیٰ پر وجود باندی ستا بدن خپله شاهد دی او د کاینات ذره ذره، بلګ بلګ، مځکه، آسمان، لمر، سپوږمۍ، دریابونه، غرونه، ستوری، د هوا تبدیلیدل، د باد تصرف یعنی د هوا په کره کی غیبی تصرف چې د زرهاوو میل په رفتار یوې خوا ته چلیدونکې هوا یودم بلی خوا ته کیدل او په کروړهاو ټن اوبه د باد پر اوږو باندی په هوا کی دریدل او د موسم د پوهانو د اندازو پر خلاف د اوریځو داسی ځای اوریدل چیری چې د باران امکان هم نه وی آیا دا ټوله نښانۍ او علامتونه دحق تعالیٰ پر وجود باندی دلالت نه کوی.

مولانا صاحب فرمایي اې په دنیا کی د زرهاوو پټو شیانو پر وجود باندی فقط دهغو د نښانیو او علامتو په خاطر ایمان بالغیب راوړنکو! پر خدای باندی د ایمان راوړلو پر وخت ستاسی عقل چیری ولاړ سی، که څه هم په ټوله کاینات کی دهغه علامتونه داسی روښانه دی لکه پر لمر باندی چې دهغه رڼا دلیل ده، فرمایي ؎

خود نباشد آفتابی را دلیل
جز که نورِ آفتابِ مستطیل

مولانا صاحب فرمايي پر آسمان باندی د روښانه لمر پر وجود باندی خپله دهغه رڼا دليل ده ؎

**آفتاب آمد دليل آفتاب گر دليلت بايد از وی رو متاب**

د لمر راختل خپله دهغه پر وجود باندی دليل دی، که يو نادانه د لمر د وجود انکار کوی او دليل غواړی نو دهغه مخ د لمر وخوا ته که او ورته ووايه چې اوس د لمر څخه مخ ولی اړه يې.

مولانا رومی صاحب فرمايي حق تعالیٰ زموږ په وجود کی دننه او په ټوله کاينات کی خپلی دونه نښانۍ ايښی دی کوم چې د لمر په شان روښانه دی چې سبا د قيامت په ورځ څوک دغه ونه وايي چې ياالله پر تا باندی ايمان بالغيب راوړل ډير مشکل وو. دغه د مثنوی شريف علوم دی چې د ټولی دنيا علماء وجد پر کوی، د دې وروسته مولانا رومی صاحب فرمايي ؎

**گر تو او را می نه بينی در نظر فهم کن اما به اظهارِ اثر**

که په دې دنيا کی ته حق تعالیٰ په خپلو سترګو نه وينې لاکن دهغه مخلوقات او نښانۍ په ليدلو سره ته دحق تعالیٰ پر وجود باندی استدلال کولای سې چې دهغه جوړ کړی شيان، نښانۍ او علامتونه په ټوله دنيا کی پاشلی دی، د کاينات يوه يوه ذره، د سمندرو يو يو څاڅکی، د درختو يو يو بلګ دحق تعالیٰ د وجود خبر ورکوی، په داغه خاطر د ايمانوالو شان حق تعالیٰ په قرآن پاک کی **يَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ** (سورت آل عمران، آيت ۱۹۱) بيان کړی دی چې زما خاص بندګان په آسمانو او مځکو کی فکر کوی، په دې کاينات کی موږ حق تعالیٰ نه سو ليدلای ځکه چې دغه کاينات محدود دی او د حق تعالیٰ ذات غير محدود دی او غير

محدود په محدود شی کی څنګه راتلای سی، که حق تعالیٰ په دې کاینات کی خپل ذات ښکاره کړی نو ټوله کاینات به فنا سی ځکه چی د دې کاینات تخلیق په ماده سره سوی دی او په ماده کی د الٰهی تجلاوو د دید برداشت نسته. په داغه خاطر نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایی

**تَفَكَّرُوْا فِيْ خَلْقِ اللهِ وَلَا تَتَفَكَّرُوْا فِيْ اللهِ فَإِنَّكُمْ لَمْ تَقْدِرُوْا قَدْرَهٗ**

**(کنز العمال، جلد ۲، صفحہ ۱۱)**

دحق تعالیٰ په مخلوقاتو کی فکر وکه دحق تعالیٰ په ذات کی فکر مه کوه ځکه چی ته دهغه اندازه نه سې کولای

ځکه چی ستا محدود عقل هغه غیر محدود ذات د اندازه کولو څخه قاصر دی، په محدود فهم کی د غیر محدود ذات ادراک ناممکنه دی، بس دحق تعالیٰ په مخلوقاتو کی فکر وکه ځکه چی ته هم مخلوق یې او دغه کاینات هم مخلوق دی او د مخلوق فکر تر مخلوقه پوری کیدای سی چی د کاینات عجایب په لیدلو سره او په هغو کی په فکر سره ته دخدای معرفت حاصلولای سې، حق تعالیٰ د خپل پیژندنی دپاره دغه عالم پیدا کړی دی.

زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب به فرمایل چی عالم د عَلَم څخه دی چی معنٰی یې نښانی ده، بس ټوله عالم دحق تعالیٰ نښانی ده، د دې کاینات په ذره ذره کی حق تعالیٰ خپلی نښانۍ وغوړولې چی ته زما په نښانۍ سره ما حاصل کړې، مولانا اصغر ګونډوی داغه ته فرمایی ؎

**میرے سوالِ وصل پہ پیہم سُکوت ہے**
**بکھرادئے ہیں کچھ مہہ و انجم جواب میں**

**ترجمه**: زما د ملاقات پر سوال باندی مسلسله چپ دی، په جواب کی یې سپوږمۍ او ستوری راته وغوړول

دغه دنیا د امتحان ځای دی په دغه خاطر یې خپلې نښانې ښکاره کړې او دهغه نښانیو په پرده کې یې خپل ځان پټ کړی چې امتحان پاته وی او د عقل خاوندان او د نظر خاوندان دغه نښانې په لیدلو سره پر ما باندی قربان سی.

مولانا اصغر ګونډوی فرمایي ے

ردائے لالہ و گل پردہ مہہ و انجم

جہاں جہاں وہ چھپے ہیں عجیب عالم ہے

**ترجمه**: د ګل او ګلانو څادر د سپوږمۍ او لمر پرده، هر هر ځای هغه پټ دی عجبه عالم دی

په دنیا کې حق تعالیٰ زموږ څخه ایمان بالغیب غواړی، مولانا رومی صاحب حکایتاً دحق تعالیٰ د طرفه څخه فرمایي ے

یُومِنُون بِالغَیب می باید مرا

تا بہ بستم روزنِ فانی سرا

اې زما بندګانو! زه ستاسی څخه ایمان بالغیب غواړم لهٰذا په دې فانی دنیا کې ما هیڅ سوری او تاخچه داسی نه ده جوړه کړې چې ته په هغه کې ما ونه وینې.

زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب به فرمایل چې په دې دنیا کې په ایمان بالغیب او په نیک اعمالو سره زموږ سترګې جوړیږی او کله چې سترګې جوړیږی نو پر سترګو باندی پټۍ وتړل سی، په سترګو هیڅ نه لیدل کیږی، په آخرت کې به دغه پټۍ ایسته سی او سترګې به خلاصی سی او هلته به حق تعالیٰ په دغه سترګو کې د الٰهی تجلاوو د دید صلاحیت پیدا

کړی او شیخ به دغه هم فرمایل چې د احسان په حدیث کې دی **اَنْ تَعْبُدَاللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ..الخ** (بخاری جلد۱، صفحه۱۹) دحق تعالیٰ داسی عبادت وکه ګواکې ته حق تعالیٰ ته ګورې، نو فرمایل یې چې په دې دنیا کې به **كَاَنَّكَ** وی ځکه چې دلته سترګی جوړیږی په جنت کې به د **كَاَنَّكَ** د کاف پټې ایسته سی هلته به په **اَنَّكَ** سره ګورې.

مولانا رومی صاحب فرمايي که په دې دنیا کې د غیبو پرده ایسته سوی وای نو غیبی کارونه په لیدلو سره به د کاروبار نظام ګډ وډ سوی وای او بیا به امتحان هم پاته نه وای نو د ایمان خاوندانو ته به انعام او سرکښانو ته به سزا پر څه شی ورکول کیدای، د ایمان بالغیب ځنی حکمتونه حق تعالیٰ د انسان عقل ته عطا کړه لاکن د پوره حکمت علم فقط دحق تعالیٰ سره دی.

❁❁❁

# مجلس درسِ مثنوی

۱۳ د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۲ د جنوری ۱۹۹۸ء د دوشنبې ورځ
د سهار شپږ نیمی بجې، خانقاه امدادیه اشرفیه

**گر بهر زخمی تو پُر کینه شوی — پس چرا بی صیقل آئینه شوی**

مولانا رومی صاحب فرمایي که د شیخ پر هره خوشکه باندی ته پُر کینه سوې یعنی د کینې ډک سوې چې شیخ خو ډیر سخت دی، هر وخت چې ګورې خوشکی کوی، نو دغه واوره شیخ چاته ناحقه خوشکی نه کوی، اول هغه دا ګوری چې په مرید کی کوم مرض سته بیا دهغه مرض په حساب خوشکه ورته کوی، زما په ژبه کی حق تعالیٰ داسی لذت ایښی دی چې الحمدُلله زما په بیان کی څوک ستومانه کیږی نه، دا دحق تعالیٰ رحمت دی چې زما په بیان کی یې خوند ایښی دی، نو شیخ اول د ګناه مرض ته ګوری بیا دهغه په حساب خوشکه کوی او وروسته مرهم بیا هم پر ایږدی، کوم چې زخم لګوی هم هغه مرهم پر ایږدی ؎

**درد از یار است و درمان نیز هم — دل فدای اُو شد و جان نیز هم**

زما زړه او وجود دی پر شیخ قربان سی کوم چې زخم لګوی هغه یې بیا علاج هم کوی ځکه چې د شیخ خوشکه دخدای دپاره وی چې مرید ګناه پریږدی، د ډاکټر آپریشن فاسد مواد د ختمولو دپاره وی، کنې د هر بزرګ په زړه کی د خپلو مریدانو اکرام وی، کله چې دخدای دوستان چاته خوشکه وکړی نو وروسته دهغه دپاره دعاوی هم ډیری کوی او دهغه دلجویي هم کوی چې د نورو خلکو په زړو کی دهغه مرید عزت ډیر سی، لکه څنګه چې حضرت تهانوی رحمة الله علیه کله خواجه صاحب ته خوشکه وکړه نو په دا بله ورځ سهار یې خواجه صاحب ته وفرمایل چې ته به زما

سره هوا خوری ته ولاړ سي، که څه هم حضرت تهانوی صاحب به د هوا خوری دپاره هیڅوک د ځانه سره نه بیوی، دا د خواجه صاحب خاص اکرام وو، نو مولانا رومی صاحب فرمایي که ته د شیخ په خوشکه د کینې ډک سې نو بې له صفایي به ستا زړه څنګه هینداره کېږی ے

**آئینہ بنتا ہے رگڑے لاکھ جب کھاتا ہے دل**

**کچھ نہ پوچھو دل بڑی مشکل سے بن پاتا ہے دل**

**ترجمه**: زړه هینداره جوړیږی کله چی په لکهاوو تکلیفونه پر تیر سی، پوښتنه مه کوه زړه په ډیر مشکل سره په صحیح معنٰی زړه جوړیږی

**خوش سلامت ما بہ ساحل باز بر　　　ای رسیده دستِ تو در بحر و بر**

چیری چی دریاب او سمندر ختمیږی هغه ځای ته ساحل ویل کیږی یعنی غاړه، مولانا رومی صاحب دعا کوی چی یاالله! موږ په سلامتیا سره تر ساحله ورسوه یعنی خپل په لار کی د نفس او شیطان د طوفان څخه زموږ کښتۍ په عافیت او سلامتیا سره تر غاړی پوری ورسوه چی زموږ خاتمه پر ایمان باندی وسی او چی زموږ د ایمان او تقوا کښتۍ تر منزله ورسیږی او چی ته راڅخه راضی سې ے

**ای رسیده دستِ تو در بحر و بر**

او دغه دوهمه مصرعه د علت او سبب دپاره ده چی دغه فریاد زه تاته ولی کوم؟ ځکه چی پر وچه باندی هم ستا حکومت دی او دریاب او سمندر هم ستا تر قدرت لاندی دی، په عربی کی یَد د قدرت دپاره کاریږی لکه **بِيَدِهِ الْمُلْكُ** ځکه چی د طاقت استعمال په لاسو ډیر کیږی په دغه خاطر په عربی ژبه کی طاقت او قدرت په یَد سره هم تعبیر کیږی، مولانا رومی صاحب خواست کوی چی یاالله! ستا قدرت پر وچه او

سمندر هر ځای باندی دی، پر وچه باندی هم ته موږ سلامت ساتلای سې او په دریاب کی غرقه سوې کښتی هم د اوبو تر غاړی رسولای سې، بحر و بر ستا په قدرت کی دی، دنیا پر دوو حصو تقسیم ده، مخلوق یا به د سمندر وی یا به د وچی وی، اوس که څوک دغه ووایي چی غرنی مخلوق خو هم سته نو غرونه هم په وچه کی داخل دی، بس پر وچه او لنده باندی ستا حکومت دی په دغه خاطر په دواړو ځایو کی موږ په عافیت کی وساته.

**کاهلم چون آفریدی ای ملی — روزیم ده هم ز راه کاهلی**

یاالله! تا چی زه کاهل یعنی کمزوره پیدا کړی یم چی د دنیا په کارو کی زما زړه نه لګیږی نو ماته روزی هم د آسانه لاری راکه ـــ

**هرکه را پا هست جوید روزئی — هر که را پا نیست کن دل سوزئی**

مولانا رومی صاحب فرمایي چاته چی حق تعالیٰ پښې ورکړی دی، قوت او طاقت یې ورکړی دی هغه دی په روزی پسی وګرځی او څوک چی بې لاس او بې پښې دی هغه دی په ژړا او فریادو کی خپل زړه وسوځی.

**چون زمین را پا نباشد جُودِ تو — اَبر را راند به سوی اُودِ تو**

یاالله! تا چی مځکی ته پښې نه دی ورکړی نو ستا سخاوت او کرم اوریځ په تابع کولو سره هغه ځای ته ورلیږی چی ورسی پر هغه تږی مځکه باندی باران و اوروی.

**طفل را چو پا نباشد مادرش — آید و ریزد وظیفه بر سرش**

د شیدو کوچنی چی پر پښو نه وی ولاړ سوی، په خپلو پښو مور ته نه سی ورتلای نو ستا کرم د مور په زړه کی د مینی او شفقت جوش

پیدا کړی او مور خپله کوچنی ته راسی او دهغه خوراک ورته را ورسوی یعنی هغه ته شیدې ورکړی.

**روزئ خواهم بناګه بې تَعَب            که نه دارم من ز کوشش جز طلب**

یاالله! زه ستا څخه دهغه کوچنی په شان روزی غواړم کوم چې یودم بې خیاله او بې تکلیفه غیبی حاصله سی ځکه چې زه کمزوره او بې لاس او بې پښې یم، د خواری لایق نه یم په دغه خاطر یې زه ستا څخه غواړم او په دعا او طلب کی د زړه څخه زاری او فریادونه درته کوم.

لاکن د دې شعرو دغه مطلب نه دی چې مولانا رومی صاحب موږ ته د دنیا څخه د کاهلی او بیکاره کیدو درس راکوی، د مولانا رومی صاحب مطلب دا دی چې اولیاء کرام د تفویض، توکل او فنا پر لوړ مقام باندی وی او د دنیا طلب د نه لرلو په سبب خلګ هغه کاهلان بولی، لکه څنګه چې ځنی دنیاداره هم کاهلان وی، په ښکاره خو دواړه په یوه رنګ معلومیږی لاکن د دنیادارو په کاهلی کی او د اولیاوو په کاهلی کی د مځکی او آسمان فرق دی، حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایي چې د دنیادارو کاهلی د آرام خوښولو په سبب وی او د اولیاوو کاهلی د دنیا په اسبابو کی د زړه نه لګیدو په خاطر وی، د دې سبب تفویض او توکل او خپلی ارادې دخدای په مرضی کی فنا کول دی، مولانا رومی صاحب داغه ته فرمایي ے

**کاهلی را کرده اند ایشان سَنَد            کارِ ایشان را چون یزدان می کند**

اولیاوو پر تفویض او توکل باندی کوم چې په ښکاره کاهلی معلومیږی په دغه خاطر خپله تکیه کړې ده چې دهغو کارونه حق تعالیٰ ورجوړ کړی څنګه چې حق تعالیٰ خپله ارشاد فرمایي **وَمَنۡ یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجۡعَلۡ لَّهٗ مِنۡ اَمۡرِهٖ یُسۡرًا** (سورت طلاق، آیت ۴) څوک چې تقوا اختیار کړی الله

دهغه په کارو کی آسانی ورجوړه کړی **وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ** (سورت طلاق،آیت ۴) او هغه ته د داسی ځایه څخه رزق ورکوی د کوم ځایه څخه چی دهغه ګمان هم نه وی.

**کارِ دُنیا را ز کل کاهل تراند**

**در رهِ عقبیٰ ز مه گو می برند**

اوس نو مولانا رومی صاحب د دنیادارو او د اولیاوو د کاهلی فرق بیانوی چی په دې د دنیادارو د کاهلی خرابوالی او د اولیاوو د کاهلی ښه والی ثابتوی چی اولیاء کرام د دنیا په کارو کی خو سست معلومیږی لاکن د آخرت کارو ته هغه داسی آماده او تیار دی چی د خپل رفتار په لحاظ تر سپوږمی هم مخته سی یعنی دحق تعالیٰ احکام د پوره کولو دپاره او د ګناوو څخه د ځان ساتلو دپاره دهغو د آمادګی او جانبازی فکر هم دنیاداره نه سی کولای او ځکه چی دنیاداره د آخرت د اعمالو اهمیت نه لری په دغه خاطر په دنیا کی د نه اخته کیدو په سبب هغه اولیاء کرام کاهلان بولی.

د اعمالو بیخ او بنیاد په اصل کی پر یقین باندی دی، دنیاداره ځکه چی پر دنیا باندی یقین لری په دغه خاطر هغه د دنیا کارو ته آماده او تیار دی، څه وجه ده چی یو شخص د خپلی فابریکې او کارخانې دپاره ټوله شپه ویښ وی، دغه تکلیف هغه ته آسانه دی لاکن دوه رکعته لمونځ کول پر هغه درانه دی او اولیاء کرام ځکه چی پر آخرت باندی یقین لری په دغه خاطر دغه یقین هغه د آخرت په اعمالو کی اخته ساتی او د دنیا په کارو کی یې اخته کیدو ته نه پریږدی ځکه چی د دنیا د حقارت او فنا یقین هر وخت دهغو په فکر کی وی په دغه خاطر دنیاداره پر هغو باندی د کاهلی تور لګوی، لاکن د مرګ پر وخت به د دواړو د اعمالو پای ښکاره سی چی ځوک مخ پر کامیابی دی او ځوک د ناکامی څاه ته لویږی ــه

**فَسَوْفَ تَرٰی اِذَا انْکَشَفَ الْغُبَارُ      اَفَرَسٌ تَحْتَ رِجْلِكَ اَمْ حِمَارُ**

**ترجمه**: ډیر ژر به دغه وويني کله چې دوړی کښېنته سی چې ته پر آس باندی ناست يې او که پر خره

هغه وخت به د آخرت د خاوندانو د خوشحالی او د دنیادارو د غم هیڅ انتها نه وی، بس د آخرت خاوند یعنی تقواداره سه، دحق تعالیٰ وعده ده چې تاته به روزی **مِنْ حَیْثُ لَایَحْتَسِبُ** درکول کيږی یعنی د داسی ځای څخه به روزی درکړل سی چې ستا فکر او ګمان به هم نه وی، د دې دپاره نه د پارلمان د ممبری په ټاکنو کی حصه اخیستل ضروری ده او نه د زکوٰة کمیټی مشرتوب د حاصلولو کوښښ ضروری دی چې دا ټوله دنیاداری ده.

په داغه خاطر زه وایم چې د هر چا خپلی خپلی طريقې دی چاته چې هر چیری فايده په نظر ورځی هغه دی هغې خواته ولاړ سی لاکن زموږ د بزرګانو چې کومه طریقه ده هغه دونه حساس ده چې دهغه سره سیاست نه سی جمع کيدای، په داغه خاطر دلته لیکلی دی چې د خانقاه او مدرسې په حدودو کی سیاسی خبری منع دی، که د چا د سیاسی طریقو سره زړه لګیږی او دهغه زړه دا منی او هغه په دې پوهيږی چې په سیاست کی زما دپاره ګټه هم ده او ضروری هم دی نو هغه دی زما سره د ورور ګلوی تعلق وساتی لاکن د شیخ او شاګردی تعلق دی نه راسره ساتی ځکه چې زموږ بزرګانو دا منع کړی دی چې موږ د سیاسی خلکو څه سو.

لهٰذا یوه لار اختیار که، په یوه وخت کی څوک پر دوو مسلکو باندی نه سی تلای، یوه پښه په یوه کښتی کی بله پښه په بله کښتی کی مه ایږده کنې انجام يې ښکاره دی، په کوم مسلک چې ستا سر خلاص سی پر هغه ولاړ سه، که دی د سیاسی خلکو سره زړه لګیږی نو هلته ورسه او که خالص د اولیاوو پر لار یعنی د تربیې او اصلاح او د نفس د تزکیې

پر شعبه باندی یقین لرې نو دلته راسه او بیا هلته مه ورځه او د دې ډلې نوم د عشق او محبت خاوندان دی، په دې ډله کې جلالُ الدین رومی، شمس تبریزی، جنید بغدادی، بابا فریدُالدین عطار، خواجه معینُ الدین چشتی اجمیری، شیخ عبدُالقادر جیلانی، شهابُ الدین سهروردی، شیخ بهاؤالدین نقشبندی او نور په زرهاوو اولیاء کرام دی، دا د عاشقانو ډله ده، د دې ډلې نوم ما عاشقِ عشق و مستی ناواقفِ انتظامِ بستی ایښی دی.

که دی د دنیاوی نظام سره زړه لګیږی نو هلته ورسه لاکن که دخدای محبت زده کول غواړې نو اولیاوو ته راسه لاکن بیا به تاته د دنیاداره خلګو چوکۍ د راکشولو دپاره په انتخاباتو کې د حصه اخیستلو اجازه نه وی ځکه چې زموږ د بزرګانو طریقه دغه ده چې موږ به د سیاسی خلګو تربیت خو کوو لاکن دهغو چوکۍ د اخیستلو کوښښ به نه کوو، بیا خو هغه زموږ خبری اوری او که چې موږ دهغو چوکۍ راکش کړو نو بیا هغه ښکنځل کوی، کوم ملا ته چې ښکنځل وسی نو بیا دهغه څخه څوک قرآن او حدیث زده کوی؟ چوکۍ راکشول جلا شی دی او د چوکۍ د خاوندانو تربیت کول جلا شی دی.

د حضرت تهانوی رحمة الله علیه دستور دغه وو چې د حکومت تر خلګو پوری دین ور ورسوه او څونه چې کولای سې دهغو تربیت وکه لاکن که ته دهغو مقابله وکړې او بیرغ په لاس کې دهغو چوکۍ د اخیستلو کوښښ وکړې نو هغه بیا تا مولوی صاحب نه بولی بلکې مولی صاحب به دی بولی، ستا بې عزتی او رسوایي به کوی، تر دې حده چې وهل کټل وسی او دا اوریدلې خبره نه ده مشاهدات دی، په اخبارو کې دا لیدل کیږی چې ملا صاحب پولیسانو نیولی دی کشوی یې، سوټی ورکول کیږی، په لرګو وهل کیږی.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمايي په اسلام کې يا جهاد دی يا صبر دی، که قوت لرې او قوت هم هغه کوم چې شريعت قوت بولي نو جهاد وکه او که قوت نه لرې نو صبر وکه، دغه سوځې خوړل، جلوس رااېستل، نارې وهل، د نه خوړلو هړتال کول، بندی خانې ته تلل دا دين نه دی، دا خو د يهود او نصاریٰ جوړې کړې طريقې دی، کنې تاسی ووایاست ترمخه هم ډير ظالم پاچاهان تير سوی دی لاکن يو مثال راکړی چې يو اصحابي يا تابعي يا تبع تابعي يا په تيرو بزرګانو کې يو چا د لوږې هړتال کړی وی يا يې جلوس رااېستلی وی يا يې په نارو کې سوځې خوړلې وی، دا ټوله د خارجيانو طريقې دی او تعجب پر دغه دی چې کوم خلک ځان د خارجيانو دښمنان بولي هغه دغه طريقې په عملي کولو سره د خارجيانو اتباع کوی او د دين احکام تر نظر اړوی.

په داغه خاطر د عيسويانو يو مشهوره پادری ويلي وه چې کوم خلک په سياسي ډلو کې دی دهغو څخه موږ ته هيڅ خطر نسته ځکه چې د خپل مقصد دپاره هغه زموږ پر طريقو باندی عمل کوی او د حضرت تهانوی رحمة الله علیه په باره کې هغه وويل چې زموږ اصلي دښمن دغه سړی دی چې د يو لوی لا لوی مصلحت په خاطر د خپل دين تر کوچني لا کوچني حکم نه اوړی.

الغرض کوم عالم چې په سياست اخته سی دهغه څخه د دين کار نه اخيستل کيږی ځکه چې خلک دا ويني چې ملا صاحب سوځې خوری او نارې وهي نو دهغو د زړو څخه د داسی عالم احترام ووځی، کله چې د عالم ناقدری وسی نو بيا څوک دهغه څخه دين زده کوی، د دې ماسوا ډير خلک يې د چوکۍ په خاطر مخالفه سی او بيا هيڅکله دهغه څخه دين نه زده کوی، په دغه خاطر بزرګانو ليکلي دی چې څوک د شيخ پر منصب

باندی وی هغه باید د خلکو تر مابین فیصلې هم ونه کړی ځکه چې فیصله به د یوه په حق کی وی او د بل به خلاف وی او د چا چې خلاف وی هغه به هیڅکله ستا څخه دین نه کړی زده، نه به په تا اصلاح وکړی، نه به په تا تربیت وکړی، زموږ د بزرګانو دغه لار ده، دغه لار د تقوا ده او هغه لار د تقوا نه ده چیری چې هیڅ پرده نسته، عکسونه هم واخله، لوی لوی اعلانونه نشر که چې پلانی ملا صاحب په ډیره په انتخاباتو کی حصه اخلی او پلانی ملاصاحب د نامحرمه ښځو سره پر سیاسی مسائلو باندی خبری کوی، لاکن که د یو چا هغه رنګ خوښ دی نو زه یې نه راګرځوم لاکن بیا دی هغه زما سره تعلق نه ساتی ځکه چې زموږ دغه لار ډیره حساس ده، دخدای د محبت مضمون دونه حساس او دونه پراخه دی چې دغه مضمون د چنده کولو سره هم نه سی جمع کیدای که یو شیخ د بیان وروسته په مسجد کی ووایې چې محترمو! زه مدرسه لرم تاسی پیسې راوباسی نو بیا دوهم واری خلک دهغه بیان هم نه اوری او د بیان ټوله تاثیر به یې ختم سی، بس که دخدای دوستی غواړې نو د اولیاوو پر لاره به ځې ځکه چې ــــ

مُستند رستے وہی مانے گئے  جِن سے ہو کر تیرے دیوانے گئے
لوٹ آئے جتنے فرزانے گئے  تا بہ منزل صرف دیوانے گئے

**ترجمه**: مستند لاری هم هغه منل سوی دی، پر کومو چې ستا عاشقان تللی دی، بیرته راغله څونه چې د عقل خاوندان تللی دی، تر منزله فقط عاشقان رسیدلی دی

آہ کو نسبت ہے کچھ عُشّاق سے  آہ نکلی اور پہچانے گئے

**ترجمه**: آه د عاشقانو سره تعلق لری، آه یې تر خوله را ووته او هغه وپیژندل سوه

پاته سوه د نس مسئله نو مولانا رومی صاحب فرمایي کوم ذات چې نس جوړولای سی هغه ډوډی هم راکولای سی، کوم ذات چې سر جوړولای سی هغه خولۍ هم راکولای سی، نس جوړول ګران کار دی که ډوډی ورکول او سر جوړول ګران کار دی که خولۍ ورکول، شیخ سعدی صاحب داغه ته وفرمایل ے

**به نادان آنچنان روزی رساند          که دانا اندر ان حیران بماند**

دحق تعالیٰ قدرت نادانه بندګانو ته داسی رزق ورکوی چې لوی لوی د عقل خاوندان حیران ورته پاته وی

مولانا رومی د یو مجذوب قصه لیکلې ده چې هغه به هم دغه دعا کول چې یاالله! ماته بې تکلیفه روزی راکه او چې یو شی به یې تر لاسه نه سو نو یو څه خواری به یې هم وکښل چې شاید دخدای داغسی خوښه ده چې د خواری کښلو وروسته روزی راکوی، لاکن خواستونه به یې کول، درې کاله وروسته یو ورځ یوه غوا دهغه کور ته راننوته، نو مجذوب وویل چې بس نن زما روزی راورسیدل، ډیر ساده سړی وو، زړه ته یې دا ولویده چې زما د درو کالو دعا نن قبوله سوه، بس دستی یې دروازه بنده کړه او غوا یې حلاله کړه او غوښی یې پر دیوال راوځړولې او هره ورځ به یې لږ لږ خوړلې.

غوا چې د چا وه هغه د غوا په تلاښ کی یوه ورځ د ده کور ته راغلی، هغه ولیدل چې د غوا غوښی راځړیږی او مجذوب یې پر آرامه خوری، سړی پوښتنه ځنی وکړه چې دغه غوا د چا وه؟ مجذوب ورته وویل زه څه خبر یم، ما خو د درو کالو څخه دعا کول چې یاالله! ماته خپل پر کور روزی راکه نو دغه غوا خپله راغله، د غوا خاوند دعوه پر وکړه، قاضی دا وکتل چې مجذوب ساده سړی دی غلا نه سی کولای داسی معلومیږی چې

دخدای د ده سره یو خاص معامله ده، قاضی د تحقیق دپاره جاسوسان پر ولګول چې معلومات وکړی چې پر دغه غوا باندی د مجذوب یو شرعی حق خو نه وو، په تحقیق کی دغه معلوم سول چې د مجذوب د نیکه حق د دغه سړی نیکه وهلی وو، غوا په اصل کی د مجذوب د نیکه مراث وه.

مولانا رومی صاحب فرمایي حق تعالیٰ خپل ساده بندګانو ته دغه رنګه روزی ورکوی لاکن دا شرعی مسئله نه ده، مجذوب ساده سړی وو، مکلفه نه وو دغه رنګه حق تعالیٰ خپل حق ورکړی لاکن د هر چا دپاره دا روا نه دی چې بې له شرعی دلیله د بل چا غوا حلاله کړی یعنی د بل چا شی واخلی او خپل نفس ته دوکه ورکړی چې په دې کی به زما د پلار او نیکه حصه وی، د عقل او فهم د خاوندانو دپاره احکام جلا دی او د ساده مجذوبانو دپاره احکام جلا دی ے

**موسیا آدابِ دانا دیگر اند سوخته جانِ روانا دیگر اند**

مولانا رومی صاحب د حضرت موسیٰ علیه السّلام او شپون په قصه کی دحق تعالیٰ د طرفه څخه حکایتاً فرمایي چې اې موسیٰ! د عقل او فهم د خاوندانو دپاره ادب جلا دی او زما ساده بندګان کوم چې مجذوبه سوی دی دهغو ادب جلا دی. زموږ شیخ به فرمایل چې مجذوبانو ته د عام عقل په نسبت لږ غوندی کم عقل ورکول کیږی چې په دې هغه د احکامو مُکلف پاته نه سی، که څه هم هغه دخدای مقبول وی، عام خلګو ته د غیر مُکلف خلګو نقل کول روا نه دی بلکې هغوته خو د شریعت د احکامو اتباع کول ضروری ده.

څکه چې نن سبا دلته د بنګله دیش میلمانه راغلی دی او ماهیان د بنګله دیش د خلګو مجبوب غذا ده نو ما فکر وکړی چې د دوی په خاطر یو ماهی والا شعر درته وړاندی کړم څکه چې دوی میلمانه دی او د میلمه

عزت باید وسی، زموږ د شیخ شاه عبدُالغنی صاحب هم دغه شعر ډیر خوښ وو ے

**دائم اندر آب کارِ ماهی است　　　مار را با اُو کجا همراهی است**

هر وخت په اوبو کی اوسیدل د ماهیانو کار دی، هر وخت دخدای دوست اوسیدل، هر وخت دخدای پر مرضی باندی تلل، هر وخت پر خدای باندی خپل خواهشات قربانول دا دخدای د دوستانو کار دی، اوبه چی هر څونه یخی وی تاسی به هیڅ وخت د یوه ماهی ټوخی نه وی اوریدلی، اوبه یخی وی که تودې ماهی به په اوبو کی وی، مار ته دغه مقام چیری حاصلیدای سی چی هغه د ماهیانو سره برابری وکړی او هر وخت په اوبو کی واوسیږی، مار لږ وخت خو به په اوبو کی واوسیږی لاکن بیرته به وچی ته راسی خپل بدن به وچ کړی، ځکه چی په مار کی زهر دی او په ماهیانو کی زهر نسته، د مولانا رومی صاحب اشاره دا ده چی ستا زړه چی دخدای په لار کی نه لګیږی د دې سبب دغه دی چی په تا کی د ګناوو زهر موجود دی، ته په مثال د مار یې.

مولانا رومی صاحب فرمایي ته د ګناوو او رذیل اخلاقو د زهرو خلته وکاږه او ماهیتوب زده که، د ماهیانو اخلاق زده که یعنی د اولیاوو اخلاق زده که بیا به تاته دخدای د قرب د دریاب ماسوا هیڅ ځای خوند درنه کړی، بیا به دی دخدای د محبت د کاروبار ماسوا په هیڅ شی کی زړه نه لګیږی، لاکن په مار کی خپله ماهیتوب نه سی راتلای، غافل او نافرمانه زړه خپله دخدای دوست نه سی کیدای دا زده کیدل غواړی، هم هغه څوک ولی الله کیږی کوم چی تر ډیره وخته پوری دخدای د یو دوست په صحبت کی واوسیږی او دخدای محبت زده کړی، که څه هم لس کاله ته مدرسه ووایې، که څه هم لس کاله په تبلیغ کی تیر کړې، که څه هم کله کله د یو

بزرګ صحبت ته ورځې لاکن حق تعالیٰ نه سې حاصلولای تر څو چې یو زمانه مسلسله دخدای د یو دوست په صحبت کې تیره نه کړې.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمايي لکه څنګه چې هګۍ یوویشت شپې مسلسله د چرګۍ تر وزرو لاندې ګرمی اخلی بیا په هغه کې چیچیان پیدا سی همدغه رنګه په ژوند کې یوواری لږ تر لږ څلویښت شپې مسلسله دخدای د یو دوست په صحبت کې د اصلاح په نیت تیری که انشاءالله ایمانی ژوند او دخدای د دوستانو نسبت به درپه نصیب سی، لاکن څنګه چې د هګۍ دپاره د چرګۍ تر وزرو لاندې یوویشت شپې مسلسله تیرول ضروری دی، که چرګه یودم بل ښار ته ولاړه سی نو هګۍ به هم ورسره ځی کنې د چرګۍ او هګۍ په مابین کې به لیریوالی راسی او په هګۍ کې به چیچیان نه سی پیدا.

معلوم سول چې په صحبت کې تسلسل ضروری دی همدغه رنګه لږ تر لږ څلویښت شپې د یو شیخ سره تیری که لاکن شرط دغه دی چې ستا نیت به د اصلاح وی او د اصلاح اراده به دی وی، **يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ** (سورت کهف، آیت ۲۸) یعنی حق تعالیٰ به ستا مراد وی، که حق تعالیٰ د چا مراد وی نو به ضرور ورته حاصل سی او حق تعالیٰ چې مراد وی نو **اِذَاثَبَتَ الشَّيْئُ ثَبَتَ بِلَوَازِمِهٖ** هر شی د خپل لوازم سره ثابت کیږی کله چې حق تعالیٰ مراد وی نو سړی به دحق تعالیٰ د خوشحالی دپاره ځان قربانولو ته تیار وی او د حرام لذتو څخه به د خپل زړه او وجود حفاظت کوی او بد پرهیزی به نه کوی.

کله چې د مریض ټینګه اراده سی چې زه به شفا حاصلوم نو ډاکټر چې د کوم شیانو پرهیز ورکړی هغه به هیڅکله ونه خوری، که یې د کولمو تاؤ کیږی او اسهال پر اسهال یې کیږی او ډاکټر ورته وویل چې ته به

ترخه شیان، پښې، کباب او داسې نور شیان نه خورې نو مریض که د کباب او دا نورو شیانو عاشق هم دی لاکن که صحت دهغه مراد دی نو به دا ټوله شیان پریږدی **مَالَهٗ وَمَا عَلَيْهِ** د ټولو څخه به ځان راوګرځوی، همدغسی کله چې دخدای طلب وی نو بیا سړی بد پرهیزی نه کوی او د ګناوو څخه د ځان ساتلو دپاره هر تکلیف وړی، د دې په برکت مار خصلته سړی هم ماهی جوړ سی او هر وخت دحق تعالیٰ د قرب په دریاب کی غرق وی، مولانا رومی صاحب د اولیاوو په باره کی فرمایي چې ـ

## ماهیانِ قعرِ دریای جلال

دغه اولیاء کرام دحق تعالیٰ د قرب د دریاب د تل ماهیان دی، کوم ماهیان چې د اوبو پر لوړه سطح باندی وی هغه د لمر د ګرمی څخه په تکلیف سی او کوم چې د دریاب په تل کی وی هغه د لمر د ګرمی څخه محفوظه وی، همدغه رنګه دخدای خاص بندګان د عبادت، ذکر، تلاوت او د ګناوو څخه د ځان ساتلو په برکت په نور کی غرق وی او د ګناوو د ګرمی څخه محفوظه وی، د دې برعکس جعلی پیران کوم چې په حقیقت کی ماران دی لاکن په ښکاره یې د ځانه ماهیان جوړ کړی دی هغه هر وخت د قرب په دریاب کی نه سی اوسیدلای، یو څه وخت مریدانو ته د ورښکاره کولو دپاره او دهغو څخه د پیسې کښلو دپاره دهغو مخته الله الله وکړی لاکن کله چې یوازی سی نو تاش شروع کړی، چرس شروع کړی ـ

## چون بخلوت می روند آن کار دیگر می کنند

دهغو مثال د مار په شان دی کوم چې یو څه وخت په اوبو کی ماهیتوب ښکاره کړی بیا په وار خطایي سره د اوبو څخه راووځی او پر وچه باندی خپل بدن وچ کړی.

# مجلس درسِ مثنوی

۱۴د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۳د جنوری ۱۹۹۸ء د سې شنبې ورځ
د سهار شپږ نیمی بجې، خانقاه امدادیه اشرفیه

**گر مرادت را مذاق شکر است　　　نامرادی هم مرادِ دلبر است**

مولانا رومی صاحب فرمایي ستا په مراد کی که څه هم خوږوالی، خوند او لذت د بورې په شان دی او هغه مراد او خواهش ستا دپاره د بورې په شان خوږ دی لاکن حق تعالیٰ چې تاته مراد درنه کړی نو دا د حق تعالیٰ مراد دی او حق تعالیٰ ستا دلبر او محبوب دی او د محبوب پر مراد باندی باید عاشق خپل مراد قربان کړی لهٰذا دحق تعالیٰ پر رضا باندی راضی اوسه او ښکه چې دی هغه وساتی هغسی واوسیږه، که حق تعالیٰ مراد درنه کړی نو پر هغه راضی اوسه.

حق تعالیٰ چې تاته مراد درنه کړی نو که څه هم ستا مراد پوره نه سو لاکن دخدای مراد خو پوره سو، بس دخدای مراد ښه دی که ستا مراد نو بیا ته دخدای په مراد ولی نه یې خوشحاله، کوم چې عَلیم او خبیر دی، ستا په طبیعت خبر دی، که خدای ستا مراد درپوره کړی وای نو ته به په خپل مراد کی مست وای او خدای به دی یاد کړی هم نه وای، نه به دی د دین کار کولای سوای، نه به د دعوت الی الله دپاره تلای سوای، نه به دی یو ځای بیان کولای سوای.

زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب وفرمایل چې یو بزرګ وو هغه د بې مرادی پر مقام باندی وو، هغه بزرګ دخدای مراد وو، کله چې حق تعالیٰ یو څوک د ځان کړی نو بیا یې د بل چا کیدو ته نه پریږدی، د هغه په هره اراده کی خلل وراچوی چې زه ستا مراد نه درپوره کوم ځکه چې

ته داسی بې عقل یې چې ته بیا ما پرېږدې په خپله قصه اخته کیږې، نو هغه بزرګ کوم چې د بې مرادی پر مقام باندی وو هغه ته یو سړی وویل چې محترمه! ته زما د کارخانې او فابریکې تاداؤ کښېږده.

بزرګ ورته وفرمایل چې آیا ته دا غواړې چې ستا فابریکه ناکامه سی ځکه چې زه د بې مرادی پر مقام باندی یم، د هر شی څخه چې زما لاس ومښلی هلته بې مرادی راسی ستا کار به هم خراب سی، په دغه خاطر ما مه درسره بیا یې حق تعالیٰ زه خپل مراد جوړ کړی یم، زما مرادونه هغه را بې مراده کوی، زما بې مرادی د مخلوق سره ده، زه دحق تعالیٰ مراد یم، زما سره که واوسیږې نو په خپلو مرادو کی خو به بې مراده سې لاکن ته به د خالق مراد جوړ سې، دحق تعالیٰ محبوب به سې، د الله مراد به سې، لهٰذا که د دنیا مراد غواړې نو یو بل انتظام وکه، ما ولی د خپل دنیا دپاره کشوې چې دلته درځه او هلته درځه، ما د خپل صحرا څخه مه باسه، زه د صحرا په تنهایی کی د خپل خدای په یاد کی مست یم، ته ماته راسه او د خدای محبت زده که.

که څوک په ټوله دنیا کی بې مراده وی لاکن که هغه دخدای مراد وی نو دحق تعالیٰ ذات بې مثاله او د ټولو غمو نعم البدل دی او دهغه هیڅ بدل نسته لهٰذا د داسی سړی په زړه کی به پر خپل بې مرادی باندی هیڅ ارمان او غم نه وی بلکې هغه به پوه سی چې په دې طریقه حق تعالیٰ ما د ځان کول غواړی په دغه خاطر ما بې مراده ساتی، ځکه چې زموږ مراد د اوبو او خاورو دی، حق تعالیٰ موږ په خاورو او اوبو اخته کول نه غواړی، د خپل قرب په تجلاوو سره خپل بنده روښانه ساتل غواړی بیا حق تعالیٰ ټوله دنیا په دغه یوه بنده روښانه کړی، ډېره د راز خبره نن درته کوم، که ستا یو مراد پوره نه سی نو پوه سی چې زما د حقیقی محبوب مراد همدغه دی

چې دی زما مراد اوسی، داسی نه وی چې په خپلو مرادو اخته سی، که په خپلو مرادو اخته سو نو بیا به دخدای مراد څنګه جوړیږی، حق تعالیٰ خو غواړی چې دی په سفر کی واوسیږی، په ده دین نشر سی، په داغه خاطر نبی علیه الصلوٰة والسّلام دعا کړې ده چې یاالله! د علماوو رزق په ټوله جهان کی منتشر کړې. که چې علماء ځای ځای خپل رزق خوړلو ته ورسی نو زما دین به هم نشر کړی، د علماوو د رزق نشریدل به د دین د نشریدو سبب وی، په دغه خاطر د علماوو میلمستیا د نبی علیه الصلوٰة والسّلام د دعا ثمره ده لهٰذا په ملایانو چرګ خوړل دی څوک خپل احسان نه بولی، د بې مرادی خوند خو په ښکاره تریخ دی، دنیاداره خو به په دې وارخطا سی چې زه بې مرادی نه غواړم، دا دی د علماوو او اولیاوو مبارک سی، زموږ خو دی هر مراد حق تعالیٰ راپوره کړی، دغه د بې مرادی لار د ناپوهانو او بې عقلانو دپاره نه ده، هغه په دې څه خبر دی چې حق تعالیٰ څوک د پردو څخه بې مراده کړی او خپل مراد یې جوړ کړی دهغه زړه ته به څه مستی ورکړی، هغه خو به اعلان وکړی ـــ

**باده درجوشش گدای جوشِ ماست — چرخ در گردش اسیرِ هوشِ ماست**

د ټولی دنیا شراب زما د مستی ګدا دی، دا مولانا رومی صاحب دی ده ولی د ټولی دنیا ومیخانو ته للکار وکړی، د خپل غیر فانی عشق د میخانې څخه یې اعلان نشر کړی چې د ټولی دنیا شراب زما د جوش او مستی ګدا او فقر غوښتونکی دی او آسمان په خپل ګردش کی زما د هوښ بندی دی ځکه چې ماته د مځکی او آسمان د خالق تجلا حاصل ده په دغه خاطر د مځکی او آسمان پراخوالی په ما کی تنګ دی، آسمان او مځکه زما د هوښ یو جز دی او جز د خپل کُل مخته کوچنی وی، آسمان او مځکه څه حقیقت لری چې پر خپل پراخوالی باندی ناز وکړی ـــ

**ان کی نظر کے حوصلے رشکِ شہانِ کائنات**
**وسعتِ قلب عاشقاں ارض و سماء سے کم نہیں**

**ترجمه**: د اولیاوو د نظر حوصلې د کاینات تر شاهانو لوړی دی، د عاشقانو د زړو پراخوالی تر مځکی او آسمان په کمه نه دی

دا زما شعر دی او دغه هم شعر زما دی ؎

**دامنِ فقر میں مرے پنہاں ہے تاجِ قیصری**
**ذرّۂ دردِ غم ترا دونوں جہاں سے کم نہیں**

**ترجمه**: زما د مفلسۍ په لمن کی د قیصر تاج پټ دی، یاالله! ستا د لاری د غم یوه ذره تر دواړو جهانو په کمه نه ده

خلک یې کمتره بولی چی دا ملایان او صوفیان څه لری؟ زه دغه درته وایم چی د اولیاوو د مفلسۍ په لمن کی وکوری په هغه کی د روم د قیصر او د کاینات د سلاطینو تخت او تاج پټ دی، تاسی څه خبر یاست، د دې نشه په زړه کی ده، که حق تعالیٰ اولیاوو او دهغو خادمانو ته په ښکاره د قیصر تاج او مرغلری ورکړی وای نو د غیبو پارچه به ښکاره سوې وای او غیب به غیب پاته نه وای او په دنیا کی چی د امتحانو پارچه ترمخه راووځی نو امتحان بیرته د سره کیږی، په دغه خاطر حق تعالیٰ د غیبو دنیا ایښې ده چی پارچه ښکاره نه سی او په دنیا کی چی د امتحانو پارچې را ایستل کیږی دهغه سبب د حکومت کمزوری ده، په دنیا کی په رشوت ورکولو سره خلک پارچه راوباسی لاکن څوک سته چی دحق تعالیٰ سره خرابی جوړه کړی.

په دغه خاطر دحق تعالیٰ د غیبو دنیا به تر قیامته د غیبو دنیا وی، هیڅ سړی د غیبو پارچه نه سی را ایستلای په دغه سبب حق تعالیٰ یې

پټ پر زړه ورکوی، د اولیاوو مستی په زړو کی وی کوم چی بل څوک نه سی پیژندلای لاکن کوم چی د عقل او بصیرت خاوندان دی هغه پوه سی چی د اولیاوو زړو ته یو دولت حاصل دی، په دغه خاطر هغه په اولیاوو پسې وی او دهغو د زړو څخه یو شی حاصل کړی، دخدای عاشق هغه دی کوم چی نور خلک عاشقان کړی، نو پوه سه چی دهغه عاشقی پر شباب ده، لوی لوی علماء د خپل علم سربیره او لوی لوی تعلیم یافته خلک په هغه پسې وی ے

**خلقی پس دیوانه و دیوانه بکاری**

خلک په عاشق پسې دی او عاشق په خپل کار اخته دی، دلته وګوری کومه دنیا تقسیمیږی، داسی هیڅ خبره نسته، دا زموږ د بزرګانو فیض دی چی تاسی ماته راځی ے

**کچھ کھو رہے ہیں شوق سے کچھ پا رہے ہیں ہم**

**ترجمه**: یو څه په شوق د لاسه ورکوم داسی یو څه حاصلوم

یعنی د ګناوو خواهشات زه په شوق قربانوم چی نافرمانی راڅخه ونه سی او پر دې طریقه زه حق تعالیٰ حاصلوم، ګناوی د لاسه ورکوم او حق تعالیٰ حاصلوم او حق تعالیٰ خپل عاشقان په دواړو جهانو کی په عزت ساتی، حق تعالیٰ خپل عاشقان نه ضایع کوی

**اِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ**

**(سورت توبه، آیت ۱۲۰)**

حق تعالیٰ د خپلو عاشقانو اجر نه ورضایع کوی

تاسی چیری پر فنا کیدونکو لابنو باندی قربانیږی، په دواړو کی هیڅ نسبت نسته، په دغه خاطر هغه خلک ډیر بې عقلان او ناپوه دی

کوم چې دخدای ماسوا پر دنیا باندې مرې، په دغه خاطر پر خدای باندې ځان قربانول زده کړې او دا هم د اولیاوو په برکت زده کیږي، د شاهبازي حوصله دچا څه زده کیږي؟ د شاهباز څخه او شاهباز به څنګه جوړیږي؟ د صحبت په برکت، په دنیا کې هیڅوک دخدای دوست نه دی جوړ سوی تر څو چې هغه دخدای د یو دوست صحبت نه دی حاصل کړی.

که یو عام غوندی آم ته د لنګړا خاص آم په باره کې یو لک کتابونه ووایې، ښه ډېر سبقان ورته ووایې لاکن د یو لک کتابو وروسته به هم هغه عام غوندی آم پاته وي لاکن هغه ته یو کتاب هم مه وایه بس د لنګړا آم قلم ورکه، په کراره کراره به خپله د لنګړا خاص آم جوړ سي.

یوه ډېره لو خبره به بله درته وکړم که یو مرید د خپلې بې عقلۍ په خاطر د خپل شیخ مقام نه پیژني او شیخ خپله هم د خپل بزرګۍ په مقام ناخبره وي لاکن دهغه په صحبت کې به د ولي الله جوړولو خاصیت لازمي وي او دهغه په برکت به مرید کامیابه سي او دخدای دوستي به ورپه نصیب سي ځکه چې په هغه شیخ کې چې حق تعالیٰ کوم خاصیت ایښی دی دهغه تاثیر به ښکاره سي لکه څنګه چې یو څوک خبر نه وي چې اور څه شی دی او اور ته هم د خپل اور کیدو علم نه وي لاکن په اور کې به دغه خاصیت لازمي وي چې ؎

جلا کے خاک نہ کردوں تو داغ نام نہیں

**ترجمه**: که مې په سوځلو سره ایرې نه کړې نو اور مې نوم نه دی

ځنې بندګان دخدای دوستان وي لاکن دخپل طبیعت د ساده والي په خاطر هغه خپله هم نه وي خبر چې موږ د کومې درجې ولیان یو لاکن دهغو د فیض څخه هیڅوک محرومه نه پاتیږي.

**صَد هزاران دام و دانه است ای خُدا**

**ما چو مرغان حریصِ بی نوا**

دام معنٰی جال او دانه معنٰی د غنمو، وریجو او داسی نورو شیانو دانه کوم چی ښکاریان د مرغانو د نیولو دپاره په جال کی کاروی، ګواکې دغه دانه مرغان په جال کی د نیولو ذریعه ده، مرغه دا فکر کوی چی دا زما خوراک دی او په لوږی کی هغه خوړل شروع کړی او په جال کی بند سی، مولانا رومی صاحب حق تعالیٰ ته خواست کوی یاالله! د ګناوو په زرهاوو جالونه غوړیدلی دی او شیطان دهغه جالو تر شا په مثال د ښکاری په هغه کی موږ د نیولو دپاره ناست دی.

په حدیث شریف کی دی **اَلنِّسَآءُ حَبَائِلُ الشَّيْطَانِ** (**عمدة القاری شرح صحیح البخاری، جلد۲ صفحه۳۹۲**) ښځی د شیطان جال دی دهغو په ذریعه په ګناوو اخته کوی، په دې زمانه کی شیطان ښځی په بې پرده کولو سره پر قدم قدم باندی دغه جالونه غوړولی دی، د ښځو باړخوګان او وریښتان په ښکاره کولو سره خلګ په وبال اخته کوی، مطلب یې دا دی چی دحق تعالیٰ د خوابدتیا چی هر څونه خبری دی هغه ټوله د شیطان په دام او دانه کی شامل دی که څه هم هغه ښځی وی که لغړزنی هلکوان وی که حرام مال وی او که داسی نور شیان، د کوم شی په خاطر چی سړی د نفسی شهوت څخه په مغلوبیدو سره په ګناه اخته سی هم هغه د شیطان جال دی او په دې زمانه کی ځکه چی بې پردګی او عریانی عام ده په دغه خاطر د شیطان تر ټولو لوی جال د حسن خاوندان دی.

مولانا رومی صاحب خدای ته خواست کوی چی یاالله! شیطان د ګناوو په زرهاوو جالونه او دانې په ټوله جهان کی غوړولی دی او زه د

مسکین، غریب او بینوا مرغانو په شان یم کوم چي وږی تږی دی او هغه دانه خوړلو ته ناقراره دی، دغه رنګه په ما کی هم د شهوت او نفسی خواهشاتو سختی تقاضې موجود دی او مخته می د ګناوو دام او دانې پرتې دی، په دغه خاطر زما دپاره سخت خطر دی چي زه په دغه جال کی ونیول سم، مخته فرمايي ؎

**گر هزاران دام باشد بر قدم**
**چون تو با مايي نه باشد هیچ غم**

یاالله! که په زرهاوو جالونه زما پر قدم باندی وی لاکن که ستا رحمت او کومک زما سره راسره وی یعنی که ته زما نګاهبانه، همکاره او کومکی یې نو زه د دې جالو هیڅ بیره نه لرم، ته زما د حفاظت دپاره کافی یي ځکه چي نفس که څه هم **اَمَّارَه بِالسُّوء** دی یعنی ډیر د ګناوو حکم کونکی دی، د بدو کارو ډیر زيات حکم کونکی دی لاکن نفس په ما هیڅ نه سی کولای که پر ما باندی د **اِلَّامَارَحِمَ رَبِّیْ** (سورت یوسف،آیت۱۳) سایه وی.

د نفس د شر څخه هیڅوک محفوظ نه سی پاته کیدای ماسوا دهغه پر چا چي د حق تعالیٰ د رحمت سایه ده، **اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ** (سورت یوسف،آیت۱۳) دا جمله اسمیه ده کوم چي پر ثبوت او دوام باندی دلالت کوی یعنی هیڅوک د نفس د شر څخه ځان نه سی ساتلای تر څو چي هغه ته د نفسِ امّاره بالسُّوء د خالق استثنیٰ **اِلَّامَارَحِمَ رَبِّیْ** نه وی حاصل، که نفس امّاره بالسُّوء دی نو د **اِلَّامَارَحِمَ رَبِّیْ** دغه استثنیٰ هم د نفسِ امّاره د خالق ده، بس دغه استثنیٰ د حاصلیدو وروسته بیا د نفس امّاره بالسُّوء څه طاقت دی چي چیچل وکړی.

علّامه آلوسی فرمايي چې د **مَارَحِمَ رَبِّيٓ** ما مَصدَريه ظَرفِيه زمانيه ده چې معنٰی يې دا سوه **اَیْ فِیْ وَقْتِ رَحْمَةِ رَبِّيٓ** يعنی کله چې دخدای د رحمت سايه وی نو بيا د نفس څه طاقت دی چې هغه موږ ته تاوان را ورسوی. د مولانا رومی صاحب د دعا همدغه مضمون دی چې ياالله! که ستا د رحمت سايه پر موږ باندی وی نو نفس او شيطان موږ په ګناوو کی نه سی اخته کولای.

**موش تا انبار ما حفره زده است          و از فنش انبارِ ما خالی شده است**

په کرونده کی کوم ځای چې د غلې امبار پروت وی هلته موږک په مځکه کی دننه سوری جوړ کړی او تر ليری ځايه لار وباسی او په کراره کراره ټوله غله يوسی، مولانا رومی صاحب فرمايي څنګه چې موږک د غلې غل دی همدغه رنګه زموږ نفس هم غل دی، د کوم وخت څخه چې زموږ د نفس موږک زموږ د نيکيانو په امبار او خزانه کی پټه لار جوړه کړې ده نو دهغه د دې کار، مکر او دوکې په خاطر زموږ ټوله نيکيانی ضايع سوې مثلاً يو ځای يې ريا راباندی وکړه، يو ځای يې لويي راباندی وکړه، يو ځای يې ظلم راباندی وکړی چې په دې ټوله اعمال ضايع سی.

لکه څنګه چې يو حاجی صاحب خپل مزدور ته دغه وويل چې اې مزدوره! زما ميلمه ته په هغه کوزه کی د چيښنولو اوبه ورکه کوم چې په دوهم حج کی ما د مدينې شريفی څخه راوړې وه، حضرت تهانوی صاحب فرمايي چې ظالم په يوه جمله کی (د ريا کولو په خاطر) دواړه حجونه ضايع کړه، همداغه د نفس غلا ده چې د نيکيانو ټوله خزانې په خالی سی، مثلاً يو شخص دلته ناست دی هغه د بل چا غيبت وکړی او د چا غيبت چې يې وکړی هغه په بل ښار کی دی نو ګواکې غيبت کونکی د خپلو نيکيانو سرمايه په مفته بل ښار ته واستول يعنی د ده نيکيانی دهغه بل ښار د سړی په اعمال نامه کی

درج سوې او غیبت کونکی خبر هم نه دی چې زما څونه لوی تاوان وسو، په تکلیف ګټلې نیکیانی یې په مفته د لاسه ورکړې، غیبت په داغه خاطر حرام دی چې په مفته خپلې نیکیانی ضایع کیږی.

په حدیث شریف کې دی چې د قیامت په ورځ به د غیبت کونکی نیکیانی دهغه چا اعمال نامې ته ورواچول سی د چا غیبت چې یې کړی دی او که د غیبت کونکی نیکیانی ختمی سی نو دهغه سړی ګناوی به ددغه غیبت کونکی اعمال نامې ته ورواچول سی او په بل حدیث شریف کې دی **اَلْغِيْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا (مشکٰوة المصابیح، کتاب الاداب، باب السّلام)** غیبت تر زنا هم بدتره دی، اصحابو پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله! غیبت تر زنا ولې بدتره دی؟ نبی علیه الصلوٰة والسّلام ورته وفرمایل چې زنا دخدای حق دی، دخدای څخه بخښنه وغواړه معاف به سی، د چا سره چې زنا سوې ده دهغه څه بخښنه غوښتل فرض نه ده لاکن غیبت د بندګانو حق دی، که څوک یو لک واری استغفار او توبه وکړی لاکن تر څو چې هغه بنده یې ونه بخښی د چا چې غیبت سوی دی نه بخښل کیږی.

لاکن حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایي د دې تشریح دغه ده چې غیبت د بنده حق هغه وخت دی کله چې هغه بنده خبر سی چې زما غیبت سوی دی، که هغه بنده خبر سوی نه وی او دهغه څخه بخښنه وغوښتل سی نو هغه به خبر سی او په تکلیف به سی چې دغه سړی زما غیبت کړی دی، په داسی حال کې د غیبت تلافی دا ده چې په کوم مجلس کې غیبت سوی دی دهغه مجلس ټوله خلک دی راجمع کړی او دهغو مخته دی د خپلې غلطی اقرار وکړی چې زما څخه دا غلطی وسوه چې ما د پلانی سړی غیبت وکړی په هغه کې نور ښه عادتونه هم سته زه توبه کاږم او دخدای څخه دی بخښنه وغواړی او یو څه ثواب دی وروبخښی، پر دا طریقه به د

غیبت ګناه وبخښل سی، لاکن که هغه بنده خبر سو چې زما غیبت سوی دی نو بیا دهغه څه بخښنه غوښتل لازمی ده ځکه چې بې له دهغه د بخښلو د غیبت ګناه نه بخښل کیږی.

په داغه خاطر نبی علیه الصلوٰة والسّلام وفرمایل چې غیبت تر زنا بدتره دی ځکه چې دا د بندګانو حق دی، زنا دخدای حق کیدو قانون د اسلام د صداقت ډیر لوی دلیل دی، که عیسویانو او یهودیانو دغه قانون جوړ کړی وای نو به یې ویلای تا چې د چا سره زنا کړې ده دهغې څه بخښنه غواړه او د دې څه به څونه فتنې پیدا سوی وای مثلاً هغه ښځه د یو ملک وزیره یا صدرِ اعظمه ده او د ډیرو مملکتو صدرِ اعظمان ورسره ناست دی، په دا حال کی دهغې د کور ومخته څو کسان د بخښنی غوښتلو دپاره راغله ودریده چې محترمی! په یوولسم جماعت کی چې موږ ستا سره سبق ویلی نو یو څه غلط کارونه راڅخه وسوه لاکن هغه وخت موږ دخدای بیره نه درلوده په دغه خاطر موږ ستا سره زنا وکړه لاکن اوس زموږ په زړو کی دخدای بیره پیدا سوه لهٰذا ته موږ وبخښه.

تاسی ووایاست په دې کی به څونه بې عزتی او رسوایي وای، حق تعالیٰ زنا خپل حق په بللو سره د خپلو بندګانو عزت او آبرو وساتی چې بس زما څه بخښنه وغواړی، همداغه دلیل دی چې اسلام بالکل ربښتنی مذهب دی او دحق تعالیٰ جوړ کړی دین دی، کنې انسانی عقل به زنا د بندګانو حق بللی وای.

همدغه رنګه ځنی نادانه او کم فهمه خلګ وایي چې په اسلام کی د زنا سزا ډیره سخته ده چې سنګسار یې کړی یعنی د ډبرو په ویشتلو سره یې مړه کړی او حکم دا دی چې د سنګسار پر وخت خلګ هم راټول کړی، زه دا وایم چې د اسلام په دې قانون کی هم ډیر لوی رحمت دی، که

یوه قصه هم د سنګسار وسی یعنی پر دې حکم باندی یوواری عمل وسی نو ټوله ملک به د زنا څخه پاک سی او دا هم دحق تعالیٰ رحمت دی چې زنا ثابتول یې مشکله کړه چې څلور شاهدان به وی او هغو به زنا داسی لیدلې وې لکه سلایي چې د رانجه وښیښې ته اچول کیږی، داسی څوک سته چې د څلورو شاهدانو په موجودی کې زنا وکړی او د شاهدی دپاره چې په کوم حال کې د لیدو شرط دی هغه هم ډیر مشکل دی، نو د زنا ثبوت یې مشکله کړی چې زما بندګان د مصیبت څخه په امان سی، آیا دا رحمت نه دی او نور رحمت دا دی که په محکمه کې قاضی پوښتنه درڅخه وکړی چې آیا تا زنا کړې ده نو انکار کول تر اقرار کولو افضل دی، دلته درواغ ویل تر رشتیا ویلو افضل دی، دلته درواغ ویل خدای خوښ کړل چې په درواغ ویلو سره خپل ځان خلاص که بس زما څخه بخښنه وغواړه زه به دی وبخښم زه ستا سره محبت کوم زه تا وژل نه غواړم.

آه! د اسلام هر قانون رحمت هم رحمت دی مثلاً که په روژه کې یو سپین ږیری سړی په هیره کې خوراک کوی نو د شریعت حکم دا دی چې هغه خوراک ته پریږده، ورپه یادوه یې هم مه چې ستا روژه ده، آیا دا کرم او مهربانی نه ده او که ځوان په هیره کې خوراک کوی نو هغه ته روژه ورپه یاد که، همدغه رنګه حکم دی که ستا تبه ده او اوبه تاوان در رسوی نو تیمّم وکه، که ډاکټر درته وایي چې ته که تیمّم وکړې نو په درو ورځو جوړیږې او که په تودو اوبو اودس تازه کړې نو پر ځای د درو ورځو به په څلورو ورځو جوړ سې نو په داسی حال کې هم تیمّم کول روا دی.

یو دی اشتداد د مرض یعنی د مرض ډیریدل او یو دی امتداد د مرض یعنی په مرض کې خو ډیروالی او اضافه رانه سی لاکن فایده په ځنډ وی او صحت په ډیر وخت حاصلیږی نو په داسی حال کې هم تیمّم روا کول

آیا دا دحق تعالیٰ د رحمت شان نه دی، خیر دا خو په ضمن کی د دین د بعضی احکامو حکمتونه او رازونه حق تعالیٰ راباندی بیان کړه د دې څه معلوم سول چی د دین هر حکم پر رحمت ولاړ دی.

نو هغه شعر چی تشریح یې بیان سوه دهغه خلاصه دغه ده چی په ګناوو سره نیک عملونه ضایع سی او انسان د خاص دوستی څخه محروم پاته سی ځکه چی د دوستی بنیاد پر تقوا باندی دی، په دغه خاطر په دا بل شعر کی مولانا رومی صاحب نصیحت کوی ــ

**اوّل ای جان دفعِ شرّ موش کن　　　　بعد ازین انبارِ گندم کوش کن**

مولانا صاحب فرمایي اې پر ما ګرانه! اول دخدای د یو دوست په صحبت کی په اوسیدو سره د نفس د موږک د شر څخه د حفاظت طریقه زده که دهغه وروسته د نیکیانو غنم د راټولولو فکر وکه، ځکه چی څونه نیک کارونه کول ضروری دی هم هغونه دهغه حفاظت ضروری دی او د دې طریقه دخدای د یو دوست په صحبت کی په اوسیدو سره د خپل نفس اصلاح کول دی چی ګناوی راڅخه پاته سی او د نیکیانو نور راپاته سی، پر دین باندی استقامت او د اعمالو د بقا دپاره د اولیاوو صحبت دونه ضروری دی چی د تبلیغی جماعت بانی مولانا الیاس صاحب فرمایي کله چی زه د دین په تبلیغ پسی ولاړ سم نو په خلکو کی د ډیری ناستی او ولاړی په خاطر په نفس کی یو څه سختوالی او خرابی پیدا سی هغه د لیری کولو دپاره زه د اولیاوو وخانقاوو ته ورځم نو زړه می روښانه سی.

لکه څنګه چی موټر په اوږد سفر ولاړ سی نو پرزو ته یې یو څه خیره ورسی لهٰذا دهغه د صفایي ضرورت هم پیښیږی او د صفایي دپاره موټر مستری خانې ته استول کیږی همدغه رنګه د زړه د صفایي ضرورت هم پیښیږی او د دې مستری خانې خانقاوی دی، ځکه چی نفس غل دی په

هغه کی په پټه یو څه لویي راسی، یو څه ریا راسی، د چا چی د بزرګانو او علماوو سره تعلق نه وی نو دهغو د خبرو څخه معلوم سی، هغه په خوله لويي شروع کړی او په خبر هم نه وی چی زما په زړه کی کوم مرض پیدا سو، په دغه خاطر که څوک مدرس وی، معلم وی، مبلغ وی او که مصنف نفس بې له د اولیاوو د صحبتو او تعلق څخه نه پاکیږی.

یو سړی خپله راته وویل چی زه دخدای په فضل سره په تبلیغ کی یو څه وخت د تیرولو وروسته چی بیرته راغلم نو ټوله خلک ماته ډیر کم په نظر راغلل چی دا ټوله غافلان دی او دوی د دین فکر نه لری، علماء تر پنکو لاندی ناست د بُخاری شریف درس ورکوی او موږ د دریابو پر غاړه، په ځنګلو کی ګرځو دین خپره وو، لاکن هغه د یو بزرګ سره مرید وو، هغه خپل شیخ ته دغه حال ووایه چی ماته خو لوی لوی علماء هم شیطانان رامعلومیږی.

هغه بزرګ ورته وویل چی تر ټولو لوی شیطان خو ته یې ځکه چی ستا په زړه کی تکبر پیدا سوی دی، تا خپل نفس فنا کول نه دی زده کړی او اسلام خو دغه رابنوی چی ټوله مسلمانان تر ځان ښه وبوله او خپل ځان تر ټولو کم وبوله بلکې تر څو چی خاتمه پر ایمان باندی ونه سی ځان تر کافرانو او حیوانانو هم کمتره وبوله او ستا حال دونه خراب سوی دی چی عام مسلمان خو پریږده ته علماء کوم چی د نبیانو وارثان دی هغه کمتره بولې، هغه بزرګ ورته وفرمایل په حدیث شریف کی دی

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ

(صحیح مسلم، باب تحریم الکبر وبیانه)

هغه شخص به جنت ته نه سی داخل د چا په زړه کی چی د یوې ذرې په اندازه لويي وی

او په یوه روایت کی دی **وَلَا یَجِدُرِیْحَهَا** داخله خو لیری خبره ده د جنت خوشبویي به هم نه کړی حاصل، د دې څه معلوم سول چې د اولیاوو سره تعلق څونه ضروری دی، که دغه سړی شیخ نه درلودای نو به برباد سوی وای ځکه چې شیطان په زړه کی لویي ورواچول لاکن د شیخ په خوشکه یې ټوله تکبر ختم سو، دغه تکبر دونه لوی بم دی چې حج، عمره، تهجد، تلاوت، ذکر او نفلونه ټوله ختم کړی.

دغه رنګه سړی چې هر څونه لوی عالم وی، محدث وی، شیخُ الحدیث وی، د بُخاری شریف درس ورکوی لاکن که د اولیاوو سره اصلاحی تعلق نه لری نو ته به دهغه په علم او عمل کی فاصلې ووینې، که څه هم هغه د علم سمندر ولی نه وی لاکن که یې د ځان اصلاح نه وی کړې نو ته به هغه ووینې چې په طیاره کی کار کونکو ښځو ته ګوری او په خندا خندا دهغو سره خبری کوی او د **زِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ** (**صحیح مسلم، جلد ۱ صفحہ۶۵**) او د نبی علیه الصلوٰة والسّلام د لعنت **لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَيْهِ** (**مشکوٰة صفحہ۲۷۰**) حدیث به یې هیر وی.

مولانا رومی صاحب په دغه شعر کی همدغه نصیحت کړی دی چې څونه نیکیانی ګټل ضروری دی هغونه دهغه د حفاظت اهتمام هم ضروری دی کوم چې بې له د نفس د اصلاح نه کیږی او د نفس اصلاح د اولیاوو پر صحبت باندی موقوف ده.

۞۞۞

# مجلس درسِ مثنوی

**۱۵د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق۱۴ د جنوری ۱۹۹۸ء د چار شنبې ورځ د سهار اووه بجې، خانقاه امدادیه اشرفیه**

**ناله کردم که تو علّامُ الغیُوب     زیرِ سنگِ مکرِ بد ما را مکُوب**

یاالله! زه تاته په ژړا او زاری فریادونه کوم او زما د ژړا او زاری کولو سبب څه شی دی؟ ځکه چې ته علّامُ الغیُوب یې، زما په ټولو رازو خبر یې، زما په بې عقلیو او زما په ګناوو خبر یې، زما هیڅ حال ستا څه پټ نه دی، د مخلوق څخه موږ خپل حال پټولای سو لاکن څوک دی چې ستا څه خپل حال پټ کړی، لهٰذا تاته چې زما ټوله حال درمعلوم دی نو تاته د ژړا کولو او د بخښنی غوښتلو ماسوا بل چاره نسته. په داغه خاطر نبی علیه الصلوٰة والسّلام موږ ته دغه دعا راوښول چې حق تعالیٰ ته داسی خواست وکړی **اَللّٰهُمَّ لَاتُخْزِنِيْ فَاِنَّكَ بِيْ عَالِمٌ** یاالله! ما مه رسوا کوه ځکه چې ته ما ښه پیژنې، تاته زما هر عیب او هره ګناه درمعلومه ده او چاته چې د یو سړی د کمزوریو او بې عقلیو علم وی هغه چې هر وخت وغواړی هغه سړی رسوا کولای سی، بس فقط په خپل کرم سره ما مه رسوا کوه ځکه چې ما رسوا کول تاته هیڅ مشکل نه دی **وَلَا تُعَذِّبْنِيْ فَاِنَّكَ عَلَيَّ قَادِرٌ** (کنزالعمال) او ماته عذاب مه راکوه ځکه چې ته پر ما پوره قدرت لرې، زه ستا د کامل او غالب قدرت څخه چیری ځغستلای سم، هر چیری چې ولاړ سم هغه به ستا مځکه وی او هر چیری چې وځغلم هغه به ستا آسمان وی.

لهٰذا ته چې پر ما باندی هر رنګه قدرت لرې نو **تَفَضَّلْ عَلَيْنَا بِفُنُوْنِ الْاٰلَاۗءِ مَعَ اسْتِحْقَاقِنَا بِاَ فَانِيْنِ الْعِقَابِ** (روح المعانی، جلد۱۱، صفحه ۴۳)

د قسم قسم عذابو لایق ته عذاب مه ورکوه او ځکه چې ته کریم ذات یې نو پر ځای د عذاب پر ما باندی د قسم قسم نعمتو باران وکه.

نو مولانا رومی صاحب د حق تعالیٰ په دربار کی خواست کوی چی اې علّامُ الغُیوبه! ته چی زما په ټولو رازو او زما د ګناوو په ټولو قصو د شپې او د ورځی خبر یې نو د نفس او شیطان د مکر او غلطو تدبیرو تر ډېری لاندی ما مه بربادوه، پر ګناوو باندی د ټینګار د ناسیت په سبب د ګناوو په خواهشاتو کی شدت پیدا سوی دی لهٰذا یاالله! ته زما سره کومک وکه او سخته مجاهده راباندی آسانه که، د ګناوو د خواهشاتو په سبب ډېر په تکلیف یم ځکه چی زه د زړه څخه دا غواړم چی زما څخه ګناه ونه سی، زه د ګناوو څخه ځان ساتل غواړم، لهٰذا د دې علاج څه شی دی؟

په حدیث شریف کی راغلی دی چی کله د کفر وسوسه درته راسی نو **اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ** ووایه، همدغه رنګه کله چی د ګناه خیال دروګرځی یا پر یوې ښځی دی نظر ومبتلی او د زړه قبله دخدای د طرفه څخه واوړی او یوه اعشاریه هم دهغی ښځی وخوا ته متوجې سې نو دستی **اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ** ووایه لاکن نظر د اړولو وروسته یې ووایه، داسی نه چی ورته ګورې هم او وایې هم، ځکه چی هغه وخت به ستا دغه قول بې له عمل وی بلکې د حرام نظر بازی کوم عمل چی ته کوې هغه د لعنت وړ دی او لعنت چی راسی نو بیا دغه ویل به څنګه تاثیر ولری.

لهٰذا د حسن د خاوندانو څخه نظر اړول بیا **اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ** ویل پر الله او رسولانو باندی د ایمان راوړلو عملی او قلبی تصدیق دی، ځکه چی عمل د زړه تصدیق ښکاره کوی چی ما پر الله او دهغه پر رسولانو باندی ایمان راوړی نو انشاءالله ستا زړه به بې له دلیله دحسن د خاوندانو څخه لیری سی او بیاه به دخدای وطرفته متوجې سی، دا د جامع صغیر

حدیث دی علّامه جلالُ الدین سیوطی رحمة الله علیه لیکلی دی چې د دې ویلو په برکت به زړه د غیرالله د وسوسو څخه پاک سی او دحق تعالیٰ د عظمت او د رسولانو د عظمت په برکت به د غیرالله د وسوسو پر جراثیمو باندی دوا وپاشل سی یعنی زړه به د غیرالله څخه پاک سی.

**یا کریمَ العَفُو سَتّارَ العُیُوب    انتقام از ما مکش اندر ذُنُوب**

د کریم معنیٰ ده **اَلَّذِیْ یُعْطِیْ بِدُوْنِ الْاِسْتِحْقَاقِ وَالْمِنَّةِ** (مرقاة، جلد۳ صفحه۲۱۲) هغه ذات کوم چې بې له استحقاقه یې چاته عطا کړی او د چا چې حق نه جوړیږی هغه ته یې هم عطا کړی او څوک چې د عطا او بخښښ لایق نه وی هغه هم محرومه نه کړی، مولانا صاحب دعا کوی یاالله! که څه هم موږ د بخښښ لیاقت نه لرو لاکن ځکه چې ته کریم ذات یې په دغه خاطر د بخښښ لیاقت نه لرونکی ته وبخښه او زما د ګناوو تاثیر او نښانونه هم راپاک که، د عفو معنیٰ ده **اِمْحَآءُ آثَارِالذُّنُوْبِ** حق تعالیٰ چې څوک وبخښی دهغه د ګناوو تاثیر او نښانونه او د ګناوو شهادتونه هم ورپاک کړی. نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایي

**اِذَاتَابَ الْعَبْدُ اَنْسَی اللهُ الْحَفَظَةَ ذُنُوْبَهٗ وَاَنْسٰی ذٰلِكَ جَوَارِحَهٗ وَمَعَالِمَهٗ مِنَ الْاَرْضِ حَتّٰی یَلْقَی اللهَ وَلَیْسَ عَلَیْهِ شَاهِدٌ مِّنَ اللهِ بِذَنْبٍ**

(جامع صغیر، جلد۱ صفحه۲۱)

کله چې بنده دحق تعالیٰ څخه بخښنه وغواړی نو حق تعالیٰ د **کِرَامًا کَاتِبِیْنَ یَعْلَمُوْنَ مَاتَفْعَلُوْنَ** شاهدی ورپاکه کړی، د ګناه اول اثر چې پیدا کیږی هغه د کراماً کاتبین ملایکو شاهدی ده چې هغه زموږ په اعمال نامه کی ګناه لیکی، کله چې حق تعالیٰ څوک وبخښی نو په ملایکو باندی هغه ګناه هیره کړی او د اعمال نامې څخه هغه ګناه خپله پاکه کړی او د ګناوو

دوهم شاهد خپله زموږ د بدن غړی دی **اَلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلٰٓى اَفۡوَاهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ اَيۡدِيۡهِمۡ وَتَشۡهَدُ اَرۡجُلُهُمۡ بِمَا كَانُوۡا يَكۡسِبُوۡنَ** (یٰسٓ، آیت ۶۵) د قیامت په ورځ به زموږ لاسونه او پښې شاهدی ورکړی چې یاالله! موږ دغه ګناه کول، مولانا رومی صاحب داغه ته فرمایي ؎

**چشم گوید کرده ام غمزه حرام          گوش گوید چیده ام سُوءُ الکلام**

سترګې به ووایي چې ما حرام اشارې کړی دی او غوږونه به ووایي چې ما غلطی غلطی خبری اوریدلی دی، غزلی می اوریدلی دی، د خلکو غیبت می اوریدلی دی او داسی نور ؎

**لب بگوید من چُنین بوسیده ام          دست گوید من چُنین دزدیده ام**

شونډان به ووایي چې ما حرام مچې اخیستی دی او لاسونه به ووایي چې موږ د پلانی پلانی سړی مال غلا کړی دی، لاکن کله چې بنده توبه وکاږی نو حق تعالیٰ د اعضاوو شاهدی هم ورپاکه کړی او د بنده د حق توبه دغه ده چې د بنده حق دی بیرته ورکړی یا دی په هغه وبخښل سی او دریم شاهد اعمال نامه ده **وَاِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتۡ**(سورت تکویر، آیت ۱۰) بس د توبه کښلو په برکت کله چې حق تعالیٰ په ملایکو باندی د سړی ګناوی هیری کړی نو د اعمال نامې څخه پاکول خپله لازمیږی او د ګناوو څلورم شاهد د مځکی هغه ټوټه ده چیری چې بنده ګناه کوی.

حق تعالیٰ فرمایي **يَوۡمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخۡبَارَهَا** (سورت زلزال، آیت ۴) کوم وخت چې مځکه خپلی خبری بیان کړی، اصحابو پوښتنه وکړه چې د دې آیت مطلب څه شی دی، نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام ورته وفرمایل د مځکی پر شا چې کوم اعمال کیږی مځکه به دهغه شاهدی ورکړی، نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایي د توبې په برکت به حق تعالیٰ د مځکی شاهدی

هم ختمه کړی او بنده به دحق تعالیٰ سره په داسی حال کی وويني چی دهغه پر خلاف به هيڅ شاهد نه وی، مولانا رومی صاحب عرض کوی یاالله! په بخښلو کی ته بې اندازې کريم ذات يې او ته چی څوک وبخښې دهغه عيبونه هم ورپټ کړې.

علّامه آلوسی رحمة الله عليه د بخښښ معنیٰ ليکلې ده **سِتْرُالْقَبِيْحِ وَاِظْهَارُالْجَمِيْلِ** حق تعالیٰ چی څوک وبخښی دهغه عيبونه ورپټ کړی او دهغه نيک اعمال ښکاره کړی، بس یاالله! زموږ عيبونه او ګناوی هم د مخلوق د نظر څخه راپټی که، ځکه چی ستا هر صفت غير محدود دی په دغه خاطر ستا د ستّاری پرده هم غير محدود ده او زموږ د ګناوو تعداد کماً او کيفاً محدود دی که څه هم په لکهاوو، کروړهاوو او اربو وی، د تعداد استعمال پر محدود شی باندی کیږی، غير محدود د تعداد په خانه کی نه سی راوستل کيدای، په دغه خاطر زموږ د ګناوو تعداد چی هر څونه په اکثريت کی وی لاکن ستا د غير محدود بخښښ ومخته په اقليت کی دی ځکه چی کثير محدود د خپل ډيروالی سربيره د غير محدود ومخته په اقليت کی وی، په دغه خاطر د حديث شريف دعا ده

**اَللّٰهُمَّ اِنَّ رَحْمَتَكَ اَوْسَعُ مِنْ ذُنُوْبِيْ** (کنزالعمال، جلد ۲ صفحه ۱۹۸)

یاالله! ستا رحمت زما تر ګناوو ډير پراخه دی، بس زموږ محدود ګناوی د خپل غير محدود ستّاری په پرده کی راپټی که، لکه پر يو ميږی چی يو تکليف را روان وی مثلاً تيز باران يا يو بل مشکل پر را روان وی او هغه يو کريم ته ووايي چی په خپل لس ګزه څادر کی ما پټ که، په دغه کی لږ غوندی پناه راکه ځکه چی ستا د څادر يو کوچنی کونج هم زما وجود د پټولو دپاره کافی دی او ما په دغه کی پټول ستا دپاره هيڅ مشکل نه دی، نو مولانا جلال الدين رومی صاحب فرمايي یاالله! ته سَتّارُالعُيُوب يې، د غير

محدود ستّاری د پردې مالک یې، زما محدود لاکن ډیری گناوی خپل د غیر محدود ستّاری په پرده کی راپټی که، په دا بله مصرعه کی مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

## انتقام از ما مکش اندر ذُنُوب

یاالله! زما د گناوو په سبب ته زما څخه کسات مه اخله ځکه چی **فَاِنَّكَ عَلَىٰ قَادِرٌ** ته پر ما باندی پوره قدرت لرې او داسی قدرت راباندی لرې چی څنگه ته وغواړې هغسی عذاب پر ما نازلولای سې، د دې مثال دغه دی لکه یو میږی چی فیل ته ووایي صاحبه ما وبخښه ځکه چی زه ستا د کسات لایق نه یم، که ته بې له ارادې هم پر ما پښه کښیږدې نو زما به کولمې دباندی راووځی او زما وجود به ختم سی، نو دحق تعالیٰ د قدرت ومخته فیل څه شی دی، بې شمیره فیلان هم دهغه ومخته هیڅ نه دی.

په دغه خاطر مولانا صاحب حق تعالیٰ ته عرض کوی یاالله! موږ ستا د کسات لایقان نه یو، زموږ گناوی راوبخښه او زموږ څخه کسات مه اخله ځکه چی زموږ گناوی تاته هیڅ تاوان نه سی رسولای، زموږ گناوی هم موږ ته تاوان رسوی، په دغه خاطر نبی علیه الصلوٰة والسّلام دخدای په دربار کی خواست کوی چی

**يَامَنْ لَّا تَضُرُّهُ الذُّنُوْبُ وَلَا تَنْقُصُهُ الْمَغْفِرَةُ فَاغْفِرْلِيْ مَالَا يَضُرُّكَ وَهَبْ لِيْ مَالَا يَنْقُصُكَ** (شعب الایمان للبیهقی)

اې هغه ذاته! چاته چی زموږ په گناوو هیڅ تاوان نه رسیږی او په بخښلو سره چی د چا د بخښښ په خزانه کی هیڅ کمی نه راځی، بس زما هغه گناوی راوبخښه کوم چی ستا دپاره هیڅ تاوانی نه دی او ماته هغه بخښښ عطا که کوم چی ستا سره نه کمیږی

**از شرابِ قهر چون مستی دهی        نیست ها را صورتِ هستی دهی**

د قهر معنٰی عذاب او د شرابِ قهر معنٰی د ګناوو مستی کوم چې د عذاب سبب وی، د دې دلیل **اِنَّهُمۡ لَفِیۡ سَكۡرَتِهِمۡ یَعۡمَهُوۡنَ** دی چې د قومِ لوط خلګ په خپله نشه کی مست وه، وروسته عذاب پر نازل سو نو معلوم سول چې یو شرابِ قهر دی یو شرابِ مهر دی یعنی دخدای د محبت شراب، دا څه شی دی؟ حق تعالیٰ فرمایي

**فَمَنۡ یُّرِدِاللّٰهُ اَنۡ یَّهۡدِیَهٗ یَشۡرَحۡ صَدۡرَهٗ لِلۡاِسۡلَامِ**

حق تعالیٰ چې د چا دپاره د خیر اراده وکړی دهغه سینه د اسلام دپاره خلاصه کړی

همدغه د سینې خلاصیدل دحق تعالیٰ د محبت شراب دی، د دې علامت څه شی دی؟ د دې علامتونه نبی علیه الصلوٰة والسّلام بیان کړی دی چې چاته د محبت دغه شراب عطا سی نو د فانی شیانو څخه دهغه زړه لیری سی، د فانی دنیا څخه دهغه زړه مات سی او د آخرت وخوا ته راغب سی او هغه ته د مرګ تر مخه د مرګ د تیاری توفیق وسی.

د دې برعکس د مسلسله نافرمانی، سرکښی، فسق او فجور په سبب چې حق تعالیٰ د چا څخه انتقام اخیستل غواړی او چې څوک بربادول غواړی نو مولانا رومی صاحب فرمایي په هغه د قهر او عذاب شراب وچیښی، دهغه تاثیر بیا دغه وی چې په ګناوو کی هغه ډیر نشه او مست سی او دا د حق تعالیٰ ظلم نه دی ځکه چې حق تعالیٰ خو د ظلم څخه پاک دی بلکې دا دهغه د نافرمانی او سرکښی ثمره وی، څنګه چې حق تعالیٰ وفرمایل **بَلۡ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَیۡهَابِكُفۡرِهِمۡ** حق تعالیٰ چې د کافرانو پر زړو باندی کوم چاپ ور ولګوی دهغه سبب دهغو کفر دی ځکه چې هغو

اراده کړې وه چې همیشه به پر کفر باندی پاته یو، مولانا رومی صاحب فرمایي حق تعالیٰ چې په چا د خپل قهر، غضب او عذاب شراب وچیښی نو دهغه علامت څه شي وی ـــ

## نیست ها را صورتِ هستی دهی

دهغه په زړه کی د فانی شیانو ډیر اهمیت پیدا سی، فانی دنیا هغه ته ډیره ښایسته او عظیم الشانه معلومیږی چې آه! څنګه ښایسته ښځه ده، پر فانی حسن باندی لیونی سی، بس د حسن خاوندان په لیدلو سره چې په زړه کی مستی پیدا سی نو پوه سه چې دا قهرِ الٰهی دی، دا دخدای د محبت شراب نه دی بلکې هوښیار اوسه چې دا د حق تعالیٰ د عذاب شراب دی، دستی دخدای د بیری او عذاب او دوږخ فکر وکه او په مستقبل کی دهغو د حسن زوال او په قبر کی دهغو فنا کیدل درپه یاد که او فکر وکه چې په ژوند کی به دغه د حسن خاوندان داسی خراب سی چې بیا به می هغوته د کتلو زړه هم نه غواړی، که دی یو شپاړس کلنه کم عمره انجلی ته وهم کتل نو هغه به بیا په اتیا کالو کی پر کوم حال ووینې، لهٰذا په ځوانی کی دهغې پیری په فکر کی ونیسه نو خپله ځوانی به پر هغې قربان نه کړې، پر دې باندی زما شعر دی ـــ

**اُن کے بچپن کو اُن کے بچپن سے**
**پہلے سوچو تو دل نہیں دو گے**

**ترجمه**: دهغو پیری دهغو د ځوانی تر مخه، په فکر کی ونیسه نو به زړه ورنه کړې

❁❁❁

# مجلس درسِ مثنوی

۱۶ د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۵ د جنوری ۱۹۹۸ء د جمعې شپه

د سهار شپږ نیمی بجې، خانقاه امدادیه اشرفیه

گر ز چاهی می کنی هر روز خاک عاقبت اندر رسی در آبِ پاک

مولانا رومی صاحب فرمایي که ته د یو څاه څخه هره ورځ خاوری راباسې نو یو ورځ به ته پاکی اوبه پیدا کړې، په دغه شعر کی ټوله طریقت، ټوله تصوف او ټوله فقیری راغلې ده، کله چی ما معارفِ مثنوی کتاب لیکلی نو حق تعالیٰ په خوب کی د دې شعر شرح راته عطا کړه چی د څاه کیندلو پر وخت څلور درجې راځی، د ټولو تر مخه وچه خاوره د څاه څخه راوځی په هغه کی د اوبو نښان هم نه وی لاکن د تجربه کارانو پر خبره باندی په یقین کولو سره سړی مسلسله کار کوی او وچه خاوره راباسی، اته لس فټه صرف وچه خاوره راوځی لاکن سړی نا امیده کیږی نه، دهغه وروسته چی په خاورو کی لږ لندبل راشروع سی نو سړی خوشحاله سی چی اوس داسی معلومیږی لکه د اوبو منزل چی رانژدې دی، دهغه وروسته بیا یو وخت داسی راسی چی خاوری او اوبه پنځوس پنځوس فیصده ګډی راشروع سی یعنی نیمی اوبه او نیمی خاوری چی ختی بلل کیږی، تر دې منزله چی سړی ورسیږی نو پوه سی چی اوس زه اوبو ته ورسیدم، لاکن تجربه کاران ورته وایي چی اوس صبر ونه کړې، پر ختو باندی قناعت ونه کړې اوس یې نور وکینده، زیار او تکلیف یوسه، تر دې حده چی پاکی اوبه راپورته سی، دا څلور درجې سوې.

زما په زړه کی حق تعالیٰ دغه خبره راواچول چی دخدای د لاری هم څلور درجې دی، په سر کی به دخدای نوم اخیستل تاته خوند نه درکوی،

وچه خاوره به درمعلومیږی لاکن مولانا رومی صاحب فرمایي چي ته دخدای نوم اخله، یو څه وخت وروسته به دحق تعالیٰ د قرب د دریاب لندبل راشروع سی، ستا وجود به دخدای د نامه لړ لړ خوند احساسول شروع کړی، هغه وخت به ته خوشحاله سې چي منزل نژدې راورسیدی، بیا به یو وخت داسی راسی چي نیمی اوبه او نیمی خاوری به راشروع سی، دا د ختو وخت دی چي اوس د عبادتو انوار هم د ګناوو د ظلمتو سره ګډ وی، د قرب پاکی اوبه لا تر اوسه نه دی درپه نصیب سوی، لاکن دغه حال هم دخدای طلبګاره مستوی، مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

*جرعه خاک آمیز چُون مجنون کُند      صاف گر باشد ندانم چون کُند*

دا مولانا رومی صاحب دی، ډیر لوی شخص دی فرمایي چي د خاورینو اوبو غوړپ تا مستوی، ته پر خپلو نیکیانو مستیږې چي اوس لا په هغه کی د ګناوو خاوری ګډی دی، نو کومه ورځ چي ته دخدای د قرب پاکی اوبه وچیښې نو زه نه سم ویلای چي بیا به ستا څه حال وی، اوس چي په ناقص قرب ته دونه مستیږې نو کومه ورځ چي د ګناوو څخه پوره پاک سې او دخدای خاص قرب درته حاصل سی نو زه نه سم ویلای چي هغه به پر تا کوم کیف راولی.

لهٰذا پر دغه خاورینو اوبو قناعت مه کوه، اوس نور زیار وکاږه، تکلیف یوسه، هره نافرمانی پریږده، یو حرام لذت هم زړه ته مه پریږده نو د قرب د دریاب پاکی اوبه به تاته حاصلی سی او بیا به دی زړه ته داسی مستی او خوشحالی حاصله سی چي د ټولی دنیا ژبی به دهغه خوند نه سی بیانولای.

لاکن دغه خبری خالی د علم نه دی، د عمل دی، د علم خوند هغه وخت دی چي عمل په وسی او د عمل خوند هغه وخت دی چي اخلاص

پکښې کې وی او د اخلاص خوند هغه وخت دی چې د صدق او دخدای د رضا تابع وی اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنَا لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی.

**آن یکی در کُنجِ مسجد مست و شاد         و آن یکی در باغ تُرش و نامراد**

مولانا رومی صاحب فرمایي یو سړی د مسجد په کونج کی ناست دخدای په یاد کی مست دی او بل سړی په باغ کی ناست دی، هری خوا ته یې د آرام او قرار اسباب دی لاکن غمګین دی ځکه چې په زړه کی یې غم دی، د زړه قرار دخدای په لاس کی دی، حق تعالیٰ د قرار په اسبابو کی سړی ناقراره کولای سی او د غم په اسبابو کی یې خوشحاله ساتلای سی، هغه په کېږدۍ کی چاته آرام ورکولای سی او په قصر کی پر ناآرامه ساتلو باندی قادر دی، په وچه ډوډی کی چاته آرام ورکولای سی او په وریجو او کباب کی پر زړه عذاب ورکولای سی، مولانا صاحب فرمایي حق تعالیٰ په زوزانو کی سړی خندولای سی او په ګلانو کی یې ژړولای سی، مولانا صاحب فرمایي که خوشحاله اوسیدل غواړې نو د آرام اسباب د راټولولو فکر مه کوه، د اسبابو خالق راضی که نو بې له د آرام د اسبابو به ته قرار حاصل کړې، کومه لحظه چې ته حق تعالیٰ د راضی کولو اراده وکړې دهغې لحظې څخه به ستا د زړه خوشحالی شروع سی، څوک چې دخدای پر خوا روان سی دخدای د قرب یخوالی هغه ته راشروع سی.

موږ د خپل شیخ شاه عبدُالغنی صاحب سره ډهلی(هندوستان) ته روان وو نو لار راڅخه ورکه سوه او هغه سړک ته ووتلو کوم چې د دریاب پر خوا تلی، یو څه وخت وروسته زموږ شیخ وفرمایل چې دغه لار دریاب ته تللې ده ځکه چې په هوا کی یخوالی محسوسیږی، همدغه رنګه څوک چې دخدای نوم اخیستل شروع کړی، دخدای وطرفته تګ شروع کړی د آرام او قرار یخوالی دهغه وزړه ته راشروع سی ځکه چې حق تعالیٰ فرمایي زما په

ذکر کې دغه خاصیت دی چې کله ناقراره او ناآرامه زړه زما نوم واخلی نو هغه ته اطمینان ورپه نصیب سی **اَلَا بِذِکْرِ اللّٰہِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ** (سورت رعد آیت ۲۸) دغه **اَلَا**، **اَمَا**، **هَا** د پاملرنی الفاظ بلل کېږی، زموږ شیخ به د دې آیت ترجمه داسی کول چې خبردار! د خپلو غوږو څخه د غفلت پومبه وباسی په ښه فکر یې واوری چې فقط د الله په یاد به زړو ته قرار حاصل سی.

په روپو او پیسو به زړه قرار نه کړی حاصل، په قصر او تعمیراتو به قرار نه کړی حاصل، په وریجو او کبابو به قرار نه کړی حاصل، د زړه قرار حق تعالیٰ په خپل لاس کې ایښی دی، کنې پر خوله به کباب وی او پر زړه به عذاب وی، که ته د ټولی دنیا د آرام او خوشحال اسباب راټول کړې لاکن که حق تعالیٰ نه دی درڅخه خوشحاله نو په هیڅ شی کې ته آرام نه سې حاصلولای، د زړو قرار فقط دخدای په یاد کې دی، خواجه صاحب داغه ته فرمایي ؎

**خدا کی یاد میں بیٹھے جو سب سے بے غرض ہو کر**

**تو اپنا بوریا بھی پھر ہمیں تختِ سلیماں تھا**

**ترجمه**: دخدای په یاد کې چې کښېنستم د ټولو څخه بې غرضه، نو خپله بوریٔ هم بیا ماته د سلیمان تخت وو

**چٹائی پر ملے گا تختِ شاہی   اگر حاصل کرو عشقِ الٰہی**

**کھلا کیا راز سلطانِ بلخ پر   فقیری لی ہے دے کر تاجِ شاہی**

**ترجمه**: پر سترنجی به د پاچاهی تخت درته حاصل سی، که ته دخدای عشق حاصل کړې، د بلخ پر پاچا باندی دغه راز څه ښکاره سو، فقیری یې واخیسته پاچاهی یې پرېښول

دغه دواړه زما شعرونه دی، نو معلوم سول چې دخدای په یاد زړه ته قرار حاصلیږی لاکن دخدای یاد څه شی دی؟ په اطاعت او فرمانبرداری سره حق تعالیٰ خوشحاله ساتل او په نافرمانی سره حق تعالیٰ نه خوابدی کول د دې نوم دخدای یاد دی او په دې کی رسوخ د حاصلولو طریقه څه شی ده چې سړی یوه لحظه دخدای د یاد څخه غافله نه سی، د دې طریقه دخدای د لاری مجاهدې او د تقوا غم دی یعنی دحق تعالیٰ د نافرمانی څخه د ځان ساتلو غم په زغملو سره زړه ته د سلامتیا مزاج عطا سی او په طبیعت کی داسی سلامتیا پیدا سی چې دحق تعالیٰ د خوابدتیا د لارو څخه یوه ذره خوشحالی حاصلول هغه د خپل ایمانی غیرت خلاف بولی، که په نافهمی کی هم د یو چا د حسن د خوند یوه ذره ورته راسی نو دهغه زړه یې درک کړی لکه څنګه چې یو ځای برق شارټ وی نو په برقی پیچکش کی رڼا ښکاره سی چې په هغه معلوم سی چې د دې ځای څخه برق شارټ دی.

دغه رنګه چې د ایمان ضایع کیدو ابتدا او شروعات وسی نو دستی یې دهغه زړه درک کړی چې د دې ځای څخه حرام خوند او دخدای د نافرمانی د لاری څخه خوشحال راروانه ده، حق تعالیٰ هغه ته پاملرنه ورکړی او هغه وایی یاالله! که ستا د خوابدتیا د لاری څخه یوه اعشاریه خوشحالی هم زما زړه ته راغلې وی نو زه په پښیمانی ستا څخه بخښنه غواړم ځکه چې ستا په خوابدتیا سره زه خوشحالی حاصل کړم دا زما د بندګی، د بندګی د ادب، د بندګی د حقوق او شرافت خلاف دی.

لهٰذا پر هوایی میدان وی، په طیاره کی وی او که په بازار کی هر ځای چې دی یو د حسن خاوند ومخته راسی چې په هغه لړ غوندی هم زړه خوشحالی سی نو پوه سه چې دغه خوشحالی د مومن دپاره زهر قاتل ده او دحق تعالیٰ دوستی د حاصلولو دپاره سخت تاوانی ده، حق تعالیٰ په خوابدی

کولو سره یوه ذره خوشحالی زړه ته راوستل دا معمولی ګناه مه بوله، په دې د زړه قبله بدله سی، کوم زړه چې نوی(۹۰) درجې دخدای وطرفته متوجې وو هغه ته داسی تاوان رسیبږی چې یو سلو اتیا(۱۸۰) درجې دخدای څخه واوړی چې د زړه رخ دهغه حسن د خاوند وخوا ته سی او شا د حق تعالیٰ وطرفته سی العیاذبالله او د ایمان تازوالی او دحق تعالیٰ د قرب باغ اور واخلی ځکه چې بدنظری ګناهِ کبیره ده.

زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب به فرمایل چې کال دوه کاله یوې درختی ته امبار او اوبه ورکه، تر دې حده چې هغه ښه شنه سی او بیا که هغه درختی ته نژدې یو چا اور بل کړی نو د کال دوو کالو خواری به یې ضایع سی او دهغه درختی ګلان او بلګونه به شومانده سی، دغه رنګه په ګناهِ کبیره سره دخدای تعلق ته داغسی تاوان رسیبږی، په ذکر او تلاوت او د شیخ په محبت سره چې دخدای د تعلق کوم باغ غوړیدلی وی په ګناهِ کبیره یعنی په بدنظری او داسی نورو ګناوو سره د ایمان هغه شنه درخته وسوځل سی بیا ډیر وخت نیسی چې بیرته بیا دغه شینوالی پیدا کړی.

په دغه خاطر د زړه د سلامتیا علامت داغه دی چې هغه د حرام خوشحالی اسباب په لیدلو سره مستیږی نه بلکې په پښیمانه کیدو سره استغفار شروع کړی او څوک چې دخدای سره نسبت نه لری او چاته چې دخدای سره خاص تعلق نه دی حاصل هغه مست سی، د خونده زنګیږی، دهغه نفس زنګیدل شروع کړی چې واه څنګه ښایسته شکل راروان دی اوس به ښه ورته وګورم، نو پوه سه چې دغه شخص دخدای د قرب څخه محرومه دی، د ده په طبیعت کی تر اوسه دوږخی مزاج شامل دی، تر اوسه یې د دوږخی کارو سره تعلق نه دی ختم سوی، دخدای په رزق سره طاقت حاصلوی او هغه طاقت دخدای په نافرمانی کی کاروی، نو پوه سه

چې دغه شص د اولیاء کرامو د صدق او وفاداری د مقام څخه ډیر لیری دی، دخدای په لار کی ډیر بې وفا او غدار دی چې رزق دخدای خوری لاکن د نفس او شیطان خبره منی او کوم چې د نسبت خاوند دی، د دوستی خاوند دی، د قسمت او قرب د دولت خاوند دی د حسن خاوندان په لیدلو سره به دهغه پر زړه لړزه راسی، هغه به ریږد واخلی چې یاالله! ما وساته او زما پر حال باندی رحم وکه، زه تا په خوابدی کولو سره خپل زړه خوشحاله کول نه غواړم، کله چې دغه جذبه سړی ته ورپه نصیب سی نو پوه سه چې نن دخدای دوستی ورپه نصیب سوه، دهغه تعلق دحق تعالیٰ سره قوی سو او د نفس سره یې تعلق کمزوره سو، د دښمن د غیړی څخه راووتی او د دوست غیړی ته راغلی، دغه شخص دخدای د رحمت په غیږ کی مقبول سو.

لهٰذا موږ ټوله باید دخدای څخه دخدای داسی محبت طلب کړو چې یوه لحظه هغه مالک په خوابدی کولو سره خپل زړه ته ناروا خوشحالی رانه ولو ځکه چې په دې نمک حرامی کی د انسانیت زوال دی، عروج نه دی خروج دی، داسی خوشحالی د ذکرالله خلاف ده او د زړه آرام پر ذکر ولاړ دی نو کله چې زړه د ذکر څخه محرومه سو نو د آرام څخه به هم محرومه سی، ژوند به ډیر ناقراره او ناآرامه سی، تاسی راته ووایاست چې د قرآن شریف دغه تیر سوی آیت پر کوم شی دلالت کوی چې د غیرالله څخه آرام او قرار حاصلونکی به قرار حاصل کړی او که به ناآرامی حاصل کړی؟

اې وروره! دخدای څخه په لیریوالی کی څوک د قرار خوب هم نه سی لیدلای، لهٰذا دخدای څخه لیریوالی باید زموږ د ټولو دونه ناخوښه سی لکه ماهی چې د اوبو څخه په لیریوالی سره ناقراره سی او کله چې ماهی د اوبو څخه لیری سی نو په ناقراری سره دریاب ته ورځی پر قراره نه ورځی، **فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ** (سورت ذاریات، آیت ۵۰) حق تعالیٰ فرمایي زما دغه آیت دلیل

دی چې ستاسی ارواح ماهیان دی او زما د قرب دریاب ستاسی دپاره ژوند دی، که تاسی زما په خوابدتیا سره حرام خوشحالی واخیسته نو څنګه چې ماهی د اوبو دباندی ناقراره سی تاسی به هم ناقراره یاست، لهٰذا زما وخوا ته په کراره کراره مه راځی، په توبه کی ځنډ مه کوی، غلط ماحول په کراره کراره مه پریږدی بلکې ژر په ناقراری سره ماته راسی **فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ اَیْ عَمَّا سِوَی اللّٰهِ** د غیرالله څخه فرار اختیار کړی او د فرار معنٰی ده ژر وځغله، د ګناه په حال کی یوه لحظه هم قرار مه نیسه، یوه لحظه د یوې ښځی پر مخ، باړخوګانو او وریښتانو باندی نظر مه اچوه، قرار که څه هم د یوې سانیې وی او که لس ساعته وی قرار خو قرار دی او د فرار خلاف دی د **فَفِرُّوْٓا** یعنی د ځغاستی حکم په راکولو سره حق تعالیٰ دا غواړی چی موږ دستی د غیرالله څخه فرار اختیار کړو او یوه لحظه هلته قرار اختیار نه کړو، یوه سانیه پر یوې ښځی او لغړزنی باندی نظر وانه چوو.

په طیاره کی کار کوونکی یوې فرانسوی ښځی په طیاره کی زموږ د میر صاحب(د حضرت صاحب د خاص خادم نوم میر صاحب دی) څخه تعویذ وغوښتی، هغې ته یو تکلیف وریپښ وو، هغه چوکی ته نژدې پر مځکه باندی په ادب ناسته وه او د ده څخه یې پوښتنی کولې او میر صاحب سترګی کښته کړی وې هغې ته ګډ وو، که میر صاحب صحبت یافته نه وای نو د هغې په سترګو کی به یې سترګی اچولی وای او ښه ښه به یې ورته ویلای او په ښه ښه ویلو کی به یې حرام خوندونه اخیستلای.

په دغه خاطر دخدای په لار کی دخدای د خوابدتیا د لارو څخه ډیر نه فقط د یوې ذرې پر خوشحالی باندی په واه واه کولو سره کار نه سمیږی بلکې په آه آه کولو سره کار سمیږی، واه واه نه غواړی، آه آه غواړی، دخدای د لاری غم یوسه لاکن په یوه ذره ناروا خوشحالی خپل زړه

مه خوشحاله کوه او دعا وکه چې یاالله زما ژوند ستا دپاره وقف سی، هم تا ماته ژوند راکړی دی او په دې کې ستا هیڅ شریک نسته نو بیا څوک حق لری چې پر هغه باندی موږ خپل ژوند وقف کړو، خدای چې موږ ته ژوند راکړی دی نو هم دخدای دپاره باید زموږ ژوند وقف سی لاکن موږ خپل اجزا خو دخدای دپاره وقف کوو مثلاً مدرسې ته مو کتاب ورکړی، پیسې مو ورکړې، غلّه مو ورکړه او مهتمم صاحب ته مو وویل چې دا دخدای دپاره وقف دی لاکن خپل ذات خو هم دخدای دپاره وقف که، خیرات خو دخدای دپاره وقف کوې، ژوند خو هم دخدای دپاره وقف که، داسی بې مثاله خوند به حاصل کړې چې ټوله بدمستی او مرده خوری او د بدن غلاظتونه به دی هیر سی کله چې د ایمان او تقوا پختګی حاصل کړې ــ

**چراغِ مُردہ کجا شمعِ آفتاب کجا**

چیری د مجازی حسن بې نوره څراغان او چیری دخدای د قرب لمر، دخدای د قرب لذت چې چا حاصل کړی هغه سلطنت خرڅ کړی بلکې خرڅول چیری مفت یې خیرات کړی، لهٰذا زه دغه درته وایم چې د لذت په نیت د تقوا لار اختیار کړی چې دخدای د قرب لذت بې مثاله دی، ابدی دی، بې مثاله پاکی پکښې کې ده، د دواړو جهانو د عزت او آرام، د زړه د قرار، د زړه او روح د اطمینان ضامن دی، دغه خوند څوک نه سی بیانولای، مولانا رومی صاحب فرمایي ــ

**بوی آن دلبر چو پرّان می شود ‌‌‌‌ ‌ ‌ این زبان ها جمله حیران می شود**

کله چې دخدای خوشبویي زما زړه ته راسی نو هیڅ ژبه دخدای د قرب هغه لذت نه سی بیانولای ځکه چې دخدای لذت غیر محدود او غیر فانی دی او زموږ ژبه او لغت فانی او محدود دی لهٰذا غیر فانی او غیر محدود لذت زموږ فانی او محدود لغت څنګه بیانولای سی، زه دا نه وایم چې خوند

پریږدی بلکې دغه درته وایم چې د خوند حاصلولو دپاره دخدای وطرفته راوځغلی، خوند ته راسی، ابدی خوند، پاک خوند، بې مثاله، غیر فانی او غیر محدوده خوندے

**وہ شاہِ دوجہاں جس دل میں آئے　　مزے دونوں جہاں سے بڑھ کے پائے**

**ترجمه**: هغه د دواړو جهانو پاچا چې کوم زړه ته راسی، خوندونه تر دواړو جهانو بالا اخلی

دا څه شی دی چې د لیونیانو په شان ښځو ته په کتلو سره زنګیږې او هغه ښځه چې د اتیا(۸۰) کالو سی نو بیا به د حیوان په شان ځنی ځغلې **حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ○ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ** (سورت مدثر، آیت ۵۱،۵۲) دغه ځغاسته د اولیاوو ځغاسته نه ده، هغه وخت خو کافر هم ځنی ځغلی، کله چې د حسن پر خاوندانو باندی پیری راسی نو آیا یو یهودی او عیسایي هغو ته ګوری؟ که دی د پیری وروسته ځنی وځغستل نو څه کمال دی وکړی، عین د ځوانی په حال کی چې ځوانی پر مستی باندی وی هغه وخت د نظر په حفاظت سره د خپل نسبت او دخدای د دوستی ثبوت وړاندی که نو بیا به معلوم سی چې په تا کی یو شی سته او پر پیری او د حسن پر زوال باندی ستا نظر دی او داغه دلیل دی چې تاته لازوال دولت حاصل دی، کوم بنده چې د زوال لرونکو خوندو څخه ځان وساتی نو همداغه دلیل دی چې دهغه زړه ته حق تعالیٰ لازوال دولت ورکړی دی.

دغه د اولیاوو مضمونونه حق تعالیٰ په خپل رحمت د اوریدونکو په خاطر راته عطا کوی، دغه وخت ښونه محدثین او علماء دلته ناست دی او دوی ښونه تکلیفونه وړی دی، د جلا جلا مملکتو څخه، د زرهاوو میل لیری څخه راغلی دی نو آیا د دوی د قسمته به پر دسترخوان باندی د تقوا او الٰهی قرب عمده وریجی نه راځی؟ داغه یو مضمون کوم چې اوس بیان

سو که موږ پر داغه باندی عمل وکړی نو د اولیاء صدیقینو آخری درجې ته به انشاءالله ورسیږو او موږ باید دحق تعالیٰ ځخه دغه مقام وغواړو چې یاالله! موږ خو نااهله یو، نالایقان یو لاکن ته کریم ذات یې کوم چې نالایقان هم د خپل کرم ځخه نه محرومه کوی، په دغه خاطر فقط په خپل کرم سره بې له استحقاقه موږ د اولیاء صدیقینو آخری درجې ته ورسوه ؎

**بر کریمان کارها دشوار نیست**

د کرم خاوندانو ته دغه کار زور نه غواړی

**چون عنایاتت شود با ما مقیم　　　کی بود بیمی از آن دزدِ لئیم**

یاالله! که ستا عنایت او محبت او ستا رحمت او کومک زموږ سره مقیم سی، د مقیم لفظ یې ولی بیان کړی؟ په خاطر د دې چې ستا رحمت مستقله زموږ سره راسره سی، داسی نه چې کله رحمت راباندی وسی او کله زموږ د نالایقی په سبب حق تعالیٰ خپل رحمت راځخه لیری کړی، که د حق تعالیٰ رحمت همیشه پر موږ باندی نه وی نو موږ به برباد سو مثلاً په کعبه شریفه کی پر موږ باندی رحمت وسو نو په استغفار او توبه سره پښیمانه سولو او خپلو ملکو ته چې راغلو نو بیا مو ټوله ګناوی شروع کړې، د روژې په میاشت کی خو دخدای دوستان سولو او د اختر میاشت په لیدلو سره شیطانان سولو او د تقوا لباس مو وغورځاوه نو دا دلیل دی چې زموږ د بدعملیو په سبب د حق تعالیٰ مسلسله کومک تر اوسه موږ ته نه دی حاصل سوی، په داغه خاطر نبی علیه الصلوٰة والسّلام دعا فرمایی

**اَللّٰهُمَّ اِنِّیْٓ اَسْئَلُكَ الْعَافِیَةَ وَدَوَامَ الْعَافِیَةِ وَالشُّکْرَ عَلَی الْعَافِیَةِ**

یاالله زه ستا ځخه عافیت غواړم او د عافیت دوام غواړم او پر عافیت باندی د شکر توفیق غواړم (کنزالعمال، جلد۲، صفحه۶۷۹)

ملّا علی قاری رحمة الله علیه د مشکوٰة په شرح مرقاة کې د عافیت معنیٰ دغه لیکلې ده چې **اَلسَّلَامَةُ فِي الدِّیْنِ مِنَ الْفِتْنَةِ وَالسَّلَامَةُ فِي الْبَدَنِ مِنْ سَیِّئِ الْاَسْقَامِ وَالْمِحْنَةِ** یعنی دین سلامت وی د ګناوو څخه او بدن سلامت وی د خرابو خرابو ناجوړیو څخه او د سختی خواری څخه.

معلوم سول چې د عافیت دوام او د عنایت دوام مطلوب دی چې هم په دغه سره زموږ دین او دنیا سلامته پاته کیدای سی او په شکر سره په نعمت کې ډیروالی راځی او اصلی شکر تقوا ده.

حق تعالیٰ فرمایي

**لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ**

(سورت آل عمران، آیت ۱۲۳)

الله په بدر کې ستاسی سره کومک وکړی کله چې تاسی کمزوری واست بس تاسی تقوا اختیار کړی چې تاسی شکر ګزاره بندګان جوړ سی

بس ځوک چې دا غواړی چې دحق تعالیٰ عنایتونه همیشه پر ما باندی وسی نو د دې طریقه تقوا ده. نو مولانا رومی صاحب فرمایي یاالله! که ستا عنایت او مهربانی او ستا رحمت زموږ سره مقیم سی یعنی همیشه زموږ سره راسره سی، د عنایتو دوام راپه نصیب سی او یوه لحظه هم موږ ستا د عنایتو څخه محرومه نه سو نو بیا د دغه غله او بې غیرته نفس او شیطان څخه موږ ته هیڅ بیره نسته، بیا دوی موږ ته هیڅ تاوان نه سی را رسولای ځکه چې د چا حفاظت چې حق تعالیٰ وکړی هغه بیا ځوک بربادولای سی او حق تعالیٰ چې د یو چا حفاظت ونه کړی ټوله دنیا بیا هغه برباد کړی.

آبِ خوش را صورتِ آتش مده

اندر آتش صورتِ آبی منه

مولانا رومی صاحب فرمایي یاالله اوبه موږ ته اور مه راښکاره کوې یعنی د ګناوو په سبب ته د انسانانو زړونه او سترګې وربدل کړې چې بیا د حقیقت خلاف په سترګو لیدل کیږی، لهٰذا موږ د داسی عذاب څخه وساته چې ستا لار او د اولیاوو لار کوم چې د اوبو په شان پاکه او د ژوند سبب ده هغه موږ ته د اور په شان خطرناکه او خرابه رامعلومه سی او په اور کی موږ ته اوبه مه راښکاره کوې یعنی د نافرمانی او ګناوو لار کوم چې د دوږخ د اور لار ده هغه موږ ته د خوند او قرار سبب مه راښکاره کوې، داسی نه وی چې د ګناوو په سبب موږ د تقلیب ابصار په امتحان اخته سو او د ګناوو د لذت په دوکه اخته سو ځکه چې په حدیث شریف کی راغلی دی

**حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ...الخ**

**(بخاری جلد۸، صفحہ ۱۰۲)**

د دوږخ اور د شهوت او نفس د لذتو په پرده کی پټ سوی دی څوک چې دغه پرده چاک کړی دوږخ ته به ورولویږی

لهٰذا موږ ته په ګناوو کی خوند او مستی مه راښکاره کوې کنې موږ به برباد سو ځکه چې د ګناوو په سبب عقل خراب سی، بیا سړی ته ګناه ډیره خوندور معلومیږی او د ګناوو په لذت کی چې کوم تکلیف پټ دی دهغه احساس نه ورته کیږی، دا په دې سبب کیږی چې د ګناوو په خاطر په عقل کی خرابی پیدا سی او په نیکی او تقوا سره په عقل کی نور پیدا سی چې دهغه په سبب نیک عملونه سړی ته خوندور معلومیږی او دحق تعالیٰ د لاری تکلیفونه خوند ورکوی ځکه چې پوهیږی **حُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ** چې جنت په تکلیفو کی پټ سوی دی، یاالله! زموږ ګناوی راوبخښه او د تقلیب ابصار د عذاب څخه موږ محفوظه کړې، حق حق او باطل باطل راښکاره کړې. آمین یاربَّ العالمین.

# مجلس درسِ مثنوی

## ۱۸ د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۷ د جنوری ۱۹۹۸ء د شنبې ورځ د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

قطرهٔ دانش که بخشیدی ز پیش        متصل گردان به دریاهای خویش

دانش د دانستن څخه دی چې معنٰی یې ده خبریدل، د دې مضارع داند وی، د داند دال چې ایسته سی او شین ورسره اضافه سی نو حاصل یې مصدر جوړ سو، مولانا رومی صاحب فرمایي یاالله! تا چې په خپل کرم سره د علم او دانش کوم څاڅکی ماته راکړی دی هغه د خپل غیر محدود علم د دریاب سره را مربوط که، د چا د علم څاڅکی چې دخدای د غیر محدود علم د دریاب سره مربوط سو نو فکر وکه چې دهغه علم به بیا څنګه وی دهغه علم به هیڅکله نه سی ختم، په دغه خاطر د صاحبِ نسبت علماوو علم ته نور علماء نه سی رسیدلای.

د چا د علم څاڅکی چې د کتابو د مطالعې سره مربوط دی او د چا د علم څاڅکی چې دحق تعالیٰ د غیر محدود دریاب سره مبنتی دی په دواړو کی د مځکی او آسمان فرق دی، د دې مثال داسی دی لکه یو څاه چې دی وکیندی او بیا دی هغه د دباندی څخه په اوبو ډک کړی نو دغه اوبه به یو ورځ ختمی سی، دا مثال دهغو علماوو د علم دی چا چې د کتابو په ویلو سره د علم حروف او نقوش خو حاصل کړه لاکن دخدای د یو دوست په صحبت کی یې د علم روح نه کړه حاصل.

په دې باره کی د یو محدث شعر دی کوم چې زما خلیفه هم دی او کوم چې مولانا یوسف بنوری رحمة الله علیه د حدیث شریف د درس دپاره جنوبی افریقه ته استولی وو، دهغه ډیر ښایسته شعر دی ؎

**اگر ملی نہ غلامی کسی خدا کے ولی کی　　　　تو علم درسِ نظامی کو علم ہی نہیں کہتے**

**ترجمه**: که دخدای د یو دوست غلامی چاته حاصل نه سوه، نو د درسِ نظامی علم ته علم نه ویل کیږی

او د صاحبِ نسبت عالم د علم مثال دغه دی لکه یو څاه چې دی وکیندی او دونه دی وکیندی چې کښته د اوبو چینې ته ورسیدې او د مځکې څخه چینه راووته، اوس به د دې څاه اوبه هیڅکله ختمې نه سی، همدغه رنګه کوم عالم چې الله الله کوی، د یو بزرګ سره دخدای دپاره محبت کوی او په هغه د خپل نفس اصلاح کوی، تکلیفونه وړی، د ګناوو څخه د ځان ساتلو غم وړی، دهغه بزرګ په برکت پر خپل علم باندی عمل کوی نو دهغه د علم څاځکی دحق تعالیٰ د غیر محدود علم د دریاب سره مربوط سی بیا دهغه علم نه ختمیږی او هغه ته داسی داسی علوم عطا کیږی چې نور علماء حیران ورته پاته سی چې دغه علوم دته د کومی خوا عطا کیږی کوم چې په کتابو کی نه پیدا کیږی ؎

**بینی اندر خود علومِ انبیاء　　　　بی کتاب و بی معید و اوستا**

هغه په خپل ځان کی د نبیانو د علوم فیض وینی بې له کتاب او بې له استاذ، په دا بل شعر کی مولانا رومی صاحب د دې سبب بیانوی ؎

**خُم که از دریا در اُو راهی شود　　　　پیشِ اُو جیحون ها زانو زند**

کوم منګی چې پټ سمندر ته لار پیدا کړه نو بیا دهغه ومخته لوی لوی جیحون او فرات دریاب په ادب زنګونان کتوی ځکه چې د دې دریابو اوبه ختمیدای سی لاکن د دغه منګی اوبه نه سی ختمیدای ځکه چې منګی ته د پټې لاری څخه د سمندر اوبه را روانی دی، همدغه سبب دی چې کله لوی لوی علماء دخدای د یو دوست وصحبت ته ورغلل نو حیران

پاته سوه چې یاالله دا څنګه علوم دی کوم چې زموږ په ګمان کې نه سی راتلای.

د سید سُلیمان ندوی رحمة الله علیه علم معمولی نه وو، تر عرب مملکتو پورې د ده د علم شهرت وو لاکن اول سر د طریقت قایل نه وو، د خپل خوریي مولانا ظفر احمد عثمانی صاحب سره د ده بنه سلام دعا وه، یوواری هغه د مثنوی شریف یو شعر دته لیکلی را واستوی چې په هغه د سید سُلیمان صاحب پر زړه یو زخم ولګیدی، هغه کوم شعر وو ـــ

**قال را بگذار مردِ حال شو پیشِ مردِ کاملی پامال شو**

قال(خبری) پریږده د حال خاوند سه او دا به څنګه جوړیږي؟ د یو بزرګ ومخته خپل نفس فنا که. سید سُلیمان صاحب د تهانه بهون خانقاه ته ورغلی او د مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه په یوه مجلس دونه متاثیره سو چې د مجلس وروسته یې د خانقاه چوکاټ ونیوی او په ژړا سو او وې فرمایل ما خو دا فکر کاوه چې زه ډیر لوی عالم یم لاکن نن رامعلوم سول چې زما سره خو علم سته هم نه، علم خو د دغه پر بوریٰ ناست سپین ږیری سره دی او بیا یې دغه شعرونه وویل ـــ

**جانے کس انداز سے تقریر کی پھر نہ پیدا شُبۂ باطل ہوا**

**آج ہی پایا مزہ قرآن میں جیسے قرآں آج ہی نازل ہوا**

**چھوڑکر تدریس و درس و مدرسہ شیخ بھی رندوں میں اب شامل ہوا**

**ترجمه**: په عجب انداز یې تقریر وکړی، بیا د باطل شوبه نه سوه راته پیدا، نن می پر قرآن خوند واخیستی، لکه قرآن چې نن نازل سوی وی، تدریس درس او مدرسه می پریښول، شیخ هم اوس په صوفیانو کې شامل سو

په دغه آخری شعر کی په ښکاره د درس، تدریس او مدرسې سپکاوی معلومیږی لاکن سپکاوی نه دی بلکې مطلب یې دا دی چی اول پر ما باندی د منطق، فلسفې او علم غلبه وه اوس د الٰهی عشق غلبه راباندی وسوه، علم په دوهمه درجه کی سو او حق تعالیٰ په اوله درجه کی سو.

یعنی په مدرسو کی چی کوم علم دخدای لار راښوی اول ما هغه کافی بلی او د اولیاوو په صحبت کی چی کوم د محبت درد، زاری، فریادونه او پر هغه علم باندی د عمل کولو توفیق حاصلیږی کوم چی موږ تـر خدایه رسوی زما په زړه کی دهغه اهمیت نه وو، اوس می نظر بدل سو او یقین می پوخ سو چی حق تعالیٰ افضل دی دحق تعالیٰ تـر علم، لاکن د حق تعالیٰ علم هم ضروری دی کنې د حق تعالیٰ لار به څنګه معلومیږی، په دغه خاطر درس او تدریس هم ضروری دی، یو څه علماء باید داسی وی د چا علم چی ډیر پوخ وی لاکن دهغو پر علم به دحق تعالیٰ محبت غالب وی نو بیا داسی عالم نورٌ علٰی نور وی، د چا پر علم چی دخدای محبت غالب سی دهغه په علم کی خوږوالی ډیر سی او بیا یو جهان په هغه اوبه سی.

لهٰذا د دې شعر مطلب مدرسه پریښول نه دی بلکې د مدرسې پر علم باندی دخدای محبت غالبول دی چی د علم خاوند دخدای دوست سی او دغه نعمت د خانقاوو څخه او د اولیاوو د زړو څخه حاصلیږی.

د دې وروسته سُلیمان ندوی صاحب حضرت تهانوی صاحب ته د بیعت کولو درخواست وکړی، لاکن واه! حضرت تهانوی صاحب، د سید سُلیمان ندوی صاحب د اصلاح دپاره یې ورته وفرمایل چی زه اوس تا نه بیعت کوم، ستا په پلانی پلانی تصنیف کی دغه دغه غلطیانی دی کوم چی زموږ د مشایخو د مسلک خلاف دی لهٰذا ته په خپله رساله کی په عامه د دغه غلطیو اعلان نشر که نو بیا زه تا بیعت کوم، دا د سید سُلیمان ندوی

ډیر لوی امتحان وو ځکه چې دونه لوی عالم ته خپل علمي غلطۍ په نشرولو کې لویي مانع وی لاکن د سید سُلیمان ندوی صاحب پر زړه باندی زخم لګیدلی وو، ولاړی او په خپله رساله المَعارف کې یې اعلان نشر کړی او رساله یې حضرت تهانوی صاحب ته راوړه حضرت تهانوی صاحب خوشحاله سو او وې فرمایل ؎

## از سلیمان گیر اخلاصِ عمل

که اخلاص زده کول غواړی نو د سید سُلیمان ندوی صاحب څخه یې زده کړی او سید سُلیمان ندوی صاحب یې بیعت کړی، زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب به فرمایل چې کله یو غیر عالم دخدای د یو دوست سره بیعت سی او الله الله وکړی نو هغه د نور خاوند سی لاکن کله چې یو عالم بیعت سی او الله الله وکړی نو هغه نُورٌ علٰی نور سی، یو د علم نور دوهم د ذکر نور، سید سُلیمان ندوی صاحب چې کله الله الله وکړی او دخدای محبت خوند ورکړی او نسبت ورته حاصل سو نو دهغه وخت د ده عجبه شعرونه دی، فرمایې ؎

**نام لیتے ہی نشہ سا چھا گیا**

**ذکر میں تاثیرِ دورِ جام ہے**

**ترجمه**: دخدای نوم چې می واخیستی نو نشه راباندی راغله، په ذکر کی د جام تاثیر سته

او د تهجد د لمانځه په باره کی فرمایې ؎

**وعدہ آنے کا شبِ آخر میں ہے** **صبح سے ہی انتظارِ شام ہے**

**ترجمه**: دحق تعالیٰ د راتلو وعده په نیمه شپه کی ده، زه د سهاره څخه د شپې په انتظار یم

د حضرت تهانوی صاحب سره د تعلق وروسته د سید سُلیمان ندوی صاحب حالات بدل سوه او خلافت هم ورته حاصل سو، د شیخ په محبت کی یې دغه ډیر د درده ډک شعرونه دی، فرمایي ؎

**جی بھر کے دیکھ لو یہ جمالِ جہاں فروز　　پھر یہ جمالِ نور دکھایا نہ جائے گا**

**چاہا خدا نے تو تری محفل کا ہر چراغ　　جلتا رہے گا یوں ہی بجھایا نہ جائے گا**

**ترجمه**: زما د شیخ جمال ته ښه وګوری، بیا دغه جمال نه ښکاره کیږی،که خدای کول نو ستا د مجلس هر څراغ به، داغسی ځلیږی وژل کیږی به نه

هر چاته چی یو شی حاصل سوی دی د خپل شیخ په خدمت سره ورته حاصل سوی دی، کنې د عالم پر علم باندی دهغه د نفس تیاره غوړیدلې وی، پر خپل علم باندی د عمل کولو توفیق نه ورته حاصلیږی او که عمل هم کوی نو اخلاص نه وی پکښی، علم خو یې ډیر وی لاکن په هغه کی کیفیات نه وی، مولانا رشید احمد ګنګوهی صاحب فرمایي چی اخلاص بې له د اولیاوو د صحبتو څخه حاصلیدای هم نه سی، تاسی یې تجربه کړی وې ګوری، د غیر صحبت یافته عالم په علم او عمل کی به فاصلې وی، علم دهغه دپاره د شهرت، لویي او خود غرضی ذریعه وی، مولانا رومی صاحب همداغه ته فرمایي ؎

**علم را بر تن زنی ماری بُود　　علم گر بر دل زنی یاری بُود**

علم که ته د تن پرستی، شهرت، جاه او مال دپاره استعمال کړې نو دغه علم ستا دپاره مار دی چی تا به برباد کړی، لاکن که علم د زړه پروری ذریعه جوړ کړې چی زړه می جوړ سی، زړه می دخدای دوست سی، دخدای رضا راته حاصله سی نو دغه علم ستا ډیر ښه دوست دی، په داغه خاطر په حدیث کی دی د ترمذی شریف حدیث دی چی

**مَنْ خَرَجَ فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ حَتّٰى يَرْجِعَ**

(باب فضل طلب العلم صفحه ۹۳ جلد ۲)

څوک چې دخدای د رضا دپاره د علم په طلب کې د کوره څخه راووتی دهغه دپاره دهغه مجاهد ثواب دی کوم چې د جهاد دپاره راوتلی دی تر دې حده چې هغه بیرته کور ته راسی

ځکه چې دین په را ژوندی کولو کې، شیطان په ذلیله کولو کې او پر نفس باندی جبر په راوستلو کې هغه هم د مجاهد په شان دی، همدغه رنګه د علماء سوء دپاره کوم چې علم د دنیاداری، تن پرستی او خپل عزت او جاه ذریعه جوړوی په احادیثو کې سخت وعیدونه راغلی دی، نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایي

**مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ اَوْلِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَآءَ اَوْ يَصْرِفَ بِهٖ وُجُوْهَ النَّاسِ اِلَيْهِ اَدْخَلَهُ اللهُ النَّارَ**

(ترمذی باب ماجاء فی من یطلب یعلمہ الدنیا صفحه ۹۴ جلد ۲)

یعنی چا چې په دې نیت علم حاصل کړی چې پر علماوو باندی فخر وکړی یا د بې عقلانو او جاهلانو سره شخړی وکړی یا خلک د دې په ذریعه ځان ته متوجې کړی چې خلک زما عزت وکړی، مطلب یې دا دی چې په علم دهغه غرض د دنیا طلب، شهرت، مال، جاه او داسی نور وی دهغه دپاره د دوږخ وعید دی

او په یو بل حدیث کې ارشاد دی

**مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغٰى بِهٖ وَجْهُ اللهِ لَا يَتَعَلَّمُهٗ اِلَّا لِيُصِيْبَ بِهٖ عَرَضًا مِّنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَعْنِيْ رِيْحَهَا**

(ابن ماجه باب الانتفاع بالعلم والعمل به صفحه ۲۲۔ ابوداؤد کتاب العلم، باب فی طلب العلم لغیر الله)

یعنی د قرآن او حدیث کوم علم چې دخدای د رضا دپاره زده کیږی هغه علم که څوک د دې دپاره زده کوی چې د دنیا مال او متاع حاصل کړی نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایي داسی سړی به د جنت خوشبویي هم نه کړی حاصل. په دغه خاطر د دین علم د زده کولو دپاره نیت صحیح کول او اخلاص ډیر ضروری دی، که اخلاص چاته نه دی حاصل نو علم دهغه دپاره وبال دی او اخلاص بې له د اولیاوو د صحبتو څخه نه حاصلیږی، که یو لوی تر لوی علّامه هم د اولیاوو څخه مستغنی وی نو علم هغه د خپل نفس د قید څخه نه سی آزادولای، دهغه د علم پر نور به د نفس تیاره وی چې په دې به دهغه علم نه خپله دهغه دپاره ګټمند وی نه به د اُمَّت دپاره ګټمند وی، په دغه خاطر مولانا رومی صاحب دعا کوی چې ؎

**قطرۂ علم است اندر جانِ من          وارهانَش از هوا وز خاکِ تن**

یاالله! د علم کوم څاڅکی چې ستا راکړل سوی او عطا سوې زما په روح کی موجود دی د علم پر هغه څاڅکی باندی زما د نفسانی خواهشاتو تیاره غوړیدلې ده او د علم هغه څاڅکی زما د خاورین وجود یعنی زما د څلورو سرو عناصرو( اور، خاوره، اوبه او هوا) په غلطو خواهشاتو کی پټ دی، ته په خپل کرم سره هغه ته د نفسانی قید څخه آزادی ورپه نصیب که، ځکه چې ستا د نور ومخته د نفسانی خواهشاتو د تیارې څه طاقت دی چې پاته سی، مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

**که گریزد ضدّها از ضدّها          شب گریزد چون بر افروزد ضیا**

هر ضد د خپل ضد څخه ځغلی لکه څنګه چې د شپې تاریکه وځغلی کله چې د سهار روښنایي ښکاره سی. د انسان پیدایښت په څلور عناصرو سوی دی یعنی په اور، اوبو، خاوری او هوا باندی او دغه څلور سره شیان یو د بل ضد دی، روح دغه شیان راګرځولی دی، لهٰذا کله چې

روح ختم سی نو څلور سره عناصر خپل مرکز او د قرار ځای ته ولاړ سی، اور په اور، اوبه په اوبو، خاوری په خاورو او هوا په هوا ګډه سی، شپږ میاشتی وروسته که قبر وکیندې او وې ګورې نو هیڅ شی به ونه وینې.

په دغه خاطر روح چی څونه قوی وی هغونه به څلور سره عناصر مغلوب او تابع وی، ځکه چی کله د ملک مرکز قوی وی نو مخالف حزب د حکومت تر لاس لاندی وی او که مرکز کمزوری سو نو حکومت د مخالف حزب د شر او فساد څخه په عذاب وی او په ولایتو کی انتشار، کشمکش او بغاوت شروع سی، همدغه رنګه په روح کی طاقت دحق تعالیٰ په عبادت، فرمانبرداری او تقوا په نور سره پیدا کیږی نو د بدن پر مخالف عناصرو باندی د روح قبضه او ګرفت صحیح وی او دغه عناصر پر آرامه وی او ګناه روح کمزوره کوی.

لهٰذا په بدنظری او مجازی عشق کی تکلیف د ډیریدو سبب دغه دی چی دحق تعالیٰ په نافرمانی روح کمزوره سو او پر خپلو څلورو مخالف عناصرو باندی دهغه ګرفت کمزوره سو او دوهم په بدنظری سره او یو معشوق ته په زړه ورکولو سره یې دهغه معشوق څلور مخالف عناصرو بار هم پر خپل سر واخیستی، دغه رنګه اوس د اتو عناصرو بار پر ولویدی، څلور د خپل مخالف عناصرو بار او څلور دهغه مجازی معشوق عناصرو بار.

په نافرمانی خو روح کمزوری سو او د مخالف عناصرو بار دوه چنده سو ګواکې مرکز کمزوری سو او حزبِ مخالف قوی سو لهٰذا په ولایتو کی جنجال، شخړی او بغاوت شروع سی، د سترګو په ولایت کی بغاوت شروع سی چی هغه معشوق ته په کتلو سره حرام خوند اخلی، د غوږو ولایت هم بغاوت کوی او دهغه معشوق په خبرو سره حرام خوند حاصلوی، همدغه رنګه لاس، پښې، غوږونه، پزه ټوله دخدای په نافرمانی کی مبتلا سی

چې په دې روح په عذاب او ناقراره سی چې بیا یوه لحظه هم پر قراره نه وی په دغه خاطر داسی خلک اکثره په آخر کی لیونیان سی یا ځان مړ کړی او په تاریخ کی یو مثال هم داسی نه سی پیدا کیدای چې دخدای یو دوست دی ځان وژلی وی یا دی هغه لیونی او مجنون سوی وی.

زما شعر دی ؎

**خُدا کی سرکشی سے خودکشی ہے مال و دولت میں**
**کبھی اللہ والوں سے نہیں ایسا سنا جاتا**
**بُتوں کے عشق سے دنیا میں ہر عاشق ہوا پاگل**
**گناہوں سے سکوں پاتا تو کیوں پاگل کہا جاتا**

**ترجمه**: دخدای د نافرمانی انجام ځان وژل دی که څه هم مال او دولت وی، د اولیاوو په باره کی هیڅکله داسی نه اوریدل کیږی، په دنیا کی په مجازی عشق سره هر عاشق لیونی سو، که په ګناوو کی آرام وای نو ولی به لیونی بلل کیدی

د مجازی عشق دغه تقریر فلسفی او منطقی دی، نه ما یو ځای اوریدلی دی نه می ویلی دی او شاید تاسی هم یو ځای نه وی اوریدلی، حق تعالیٰ په خپل کرم سره زما زړه ته دغه مضمون عطا کړی، فَالْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ.

نو په دغه شعر *وارهانش از هوا وز خاکِ تن* کی د هوا مطلب د نفس هوا ده یعنی د نفس غلط غلط خواهشات، د ګناوو غلطی غلطی تقاضې، حق تعالیٰ فرمایي چې **وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى** (سورت نازعات، آیت ۴۰) زما خاص بندګان غلط خواهش راګرځوی دا د جنت د خاوندانو لار ده، د دې آیت په ترتیب کی فکر وکړی نو په دغه خبره به مو سر خلاص سی

چې حق تعالیٰ فرمایي **وَاَمَّامَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ ....الخ** څوک چې د خپل ربّ وړاندې د درېدو څخه وېرېدی یعنی د قیامت په ورځ د حق تعالیٰ د سوال او جواب، اعمال او حساب څخه دونه وېرېږي چې دهغه ثمره دغه راووځی **وَنَهَى النَّفۡسَ عَنِ الۡهَوٰىۙ** چې هغه د خپل نفس د غلط خواهش څخه ځان راوګرځوی **فَاِنَّ الۡجَنَّةَ هِىَ الۡمَاۡوٰىؕ** همدداسی خلکو ځای جنت دی، معلوم سول چې دونه بیره پکار ده کوم چې نفس د غلط خواهش څخه راوګرځوی، دا د جنت د خاوندانو لار ده، دا مطلب یې نه دی چې دهغو څخه هیڅکله خطا نه کېږی، که یو وخت په نافهمی کی خطا ځنی وسی نو په استغفار او توبه دهغه مخنیوی کوی.

د دې برعکس کوم شخص چې خپل نفس د غلط خواهش څخه نه راګرځوی، مسلسله نافرمانی کول خپله غذا وګرځوی نو دهغه بیره د جنت د خاوندانو بیره نه ده، تر اوسه دهغه بیره بالغه سوې نه ده، تاثیرناکه او نتیجه ورکونکې نه ده سوې، کنې پر خپل نفس به یې غلبه حاصل کړې وای، دغه شخص تر اوسه د جنت د خاوندانو پر لار باندی نه دی، مولانا رومی صاحب په داغه خاطر دغه دعا کوی چې یاالله! بعضی وخت علم وی لاکن د نفس د شر په خاطر د عمل کولو توفیق نه کېږی، په دغه خاطر د څلورو عناصرو او د نفس د غلبې څخه ماته نجات راپه نصیب که چې زه پر خپل علم باندی عمل وکړم.

په داغه خاطر نبی علیه الصلوٰۃ والسّلام خپل اُمَّت ته دغه دعا وروښول **اَللّٰهُمَّ اَلۡهِمۡنِیۡ رُشۡدِیۡ (ترمذی جلد۲صفحہ۱۸۶)** یاالله! د رُشد او هدایت خبری زما پر زړه را اچوه، بعضی وخت پر زړه راسی لاکن د نفس د شر په خاطر پر هغه باندی عمل نه کېږی مثلاً سړی په دې خبر وی چې دغه ښځی یا لغړزنی هلک ته کتل صحیح نه دی، دخدای د خوابدتیا سبب دی

لاکن د نفس د شر په خاطر ورته ګوری، په دغه خاطر نبی علیه الصلوٰة والسّلام د الهام او رُشد غوښتلو وروسته دستی دغه وغوښتل چی **وَاَعِذْنِيْ مِنْ شَرِّ نَفْسِيْ** (ترمذی جلد۲ صفحه۱۸۶) او ما د خپل نفس د شر څخه وساته. داسی نه وی چی د هدایت د علم سربیره د نفس د شر څخه په مغلوبیدو سره پر هغه باندی عمل وکړم.

همداغه طاقت د حاصلولو دپاره په خانقاوو کی د اولیاوو په صحبتو کی اوسیدل کیږی چی دونه بیره راته حاصل سی چی موږ د خپل نفس پر غلطو  خواهشاتو باندی عمل ونه کړو، کوم چی مولانا صاحب په دغه شعر کی وفرمایل چی د حق تعالیٰ راکړل سوی د علم څاڅکی زموږ د څلورو سرو عناصرو یعنی نفسانی خواهشاتو د قید څخه آزاد سی. لهٰذا د خپل شیخ سره په سفر او حضر کی داغه نیت وکه چی ماته تقوا حاصل سی او دخدای ذات راته حاصل سی، کنې شیطان او نفس په نیت کی د غیرالله نیت په ګډولو سره عمل ضایع کړی مثلاً په سړی داسی نیت وکړی چی د شیخ سره په سفر کی به پر دسترخوان باندی قسم قسم خواړه وی، قسم قسم ښارونه او مملکتونه به ووینم، قسم قسم ښایسته مخان په لیدلو سره به حرام خوند واخلم او داسی نور، دا د نفس غلاوی دی که څوک ورته هوښیار نه وی نو د شیخ په صحبت کی د اوسیدو سربیره به محرومه وی، حق تعالیٰ دی موږ ټولو ته د خپل نفس سازشونه د پیژندلو توفیق راکړی.

په دې زمانه کی تر ټولو لوی باطل الٰه او د نفس او شیطان تر ټولو لوی جال دغه ښایسته مخان دی، حق تعالیٰ چی چاته د بدنظری څخه د ځان ساتلو توفیق ورکړی نو پوه سه چی پر هغه باندی عظیم الشانه انعام نازل سو او پوه سه چی بس هغه دخدای دوست کیدونکی دی او څوک چی دغه وایی چی ښځو ته په کتلو سره څه کیږی، نه می څه واخیسته نه

می څه ورکړه فقط ورته ومی کتل نو دا ډیر بې عقل او حیوان دی او هیڅکله حق تعالیٰ نه سی حاصلولای چی بدنظری معمولی ګناه بولی، که دغه معمولی ګناه وای نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام به د سترګو زنا نه وای بللې، نن په داغه خاطر خلګ د پر مختګ څخه محرومه دی او دا معمولی تاوان نه دی، بدنظری کونکی د اولیاء صدیقینو آخری درجې ته نه سی رسیدلای او کله چی مرګ ورته راسی بیا به ارمان ورته ودریږی چی زه پر چا قربان سوم، نن هغو ملګرتیا راسره پریښول او قبر ته می جنازه یوازی تاکیږی کشکې می تقوا اختیار کړې وای نو ما به هم حق تعالیٰ حاصل کړی وای او د اولیاء صدیقینو آخری درجې ته به رسیدلی وای، لاکن هغه وخت به ارمان څه فایده وکړی، په ژوند کی دغه د حسن خاوندان پریږده، د حرام خوندو څخه توبه وکاږه، د نظر حفاظت وکه نو د دې حسن د خاوندانو او ټولو خوندو حاصل حق تعالیٰ پر زړه باندی پر ورکولو قادر دی.

علماء حضرات به د دې دلیل غواړی ځکه چی"مولوی آن باشد که بدونِ دلیل خاموش نه شود" ملا هغه دی کوم چی بې له دلیله باید چپ پاته نه سی، نو د دې ډیر ښایسته دلیل دی او هغه به ډیر خوند درکړی، حق تعالیٰ فرمایي **اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ** (سورت زمر، آیت۳۶) آیا الله د خپل بنده دپاره کافی نه دی، راته ووایاست آیا په دې کی ذکر سته چی لیلیٰ که نه سوه درته حاصل نو مولیٰ به ستا دپاره کافی نه وی او بیا به ستا ژوند څنګه تیریږی؟ حق تعالیٰ فرمایي ستاسی ربّ ستاسی دپاره په هر حال کی کافی دی، څوک چی لیلاوو ته نمک ورکولای سی هغه بې له لیلاوو ستا زړه او روح ته د ټولی دنیا د ټولو خوندو حاصل او مستی داخلولای سی.

بس لږ په محبت سره دخدای نوم خو واخله، دخدای دپاره حرام لذتونه خو پریږده چی بیا څه درته حاصلیږی لاکن خبره دا ده چی موږ د

خاورو څخه جوړ يو او هر جنس د خپل جنس وخوا ته متوجې کيږی دا دهغه فطری تقاضا ده، بس زموږ خاوره(وجود) پر خاورو(ښځو او لغړزنو) باندی په خاوری(ضايع) کیدو سره خاوری کیدل غواړی.

لاکن حق تعالیٰ غواړی چی تاسی د خپل خاورو د فطرت خلاف زما پر خوا پرواز وکړی، بيا ستاسی ارزښت لوړيږی، د کومو شيانو په فطرت کی چی پرواز دی دهغو پرواز کول څه کمال دی، کمال دغه دی چی کوم څوک موږ د خاورو څخه پيدا کړی دی هغوته پرواز حاصل سی، لکه د طيارې چی هر څونه پرزې دی ټوله د خاورو دی، دهغه وسپنه، دهغه پيتل، دهغه ټوله مادې او پرزې د مځکی څخه پيدا دی په دغه خاطر د خپل فطرت په حساب ټوله طيارې پر مځکه ولاړی دی لاکن داغه طياره د خپل فطرت پر خلاف کله پرواز کوی؟

کله چی يو پيلوټ ولری او په طياره کی تيل وی بيا هغه ته پرواز عطا کيږی، د طيارې پرواز کول پر درې " پ " باندی موقوف دی، يو پيلوټ کوم چی هغه د صحيح رخ او صحيح منزل پر خوا بوځی، دوهم پټرول او تيل کوم چی د طيارې غذا ده، معلوم سول چی پيلوټ او تيل د پرواز ضمانت ورکوی، دغه رنګه زموږ خاورين وجود دخدای پر خوا د په هوا کولو دپاره پيلوټ څوک دی؟ هغه شيخ دی او تيل او طاقت څه شی دی؟ هغه دخدای محبت دی لاکن دغه طاقت څنګه پيدا کيږی؟

دحق تعالیٰ د مرضی پر خلاف چی د نفس کوم خواهشات دی د هغو څخه د ځان راګرځولو غم په زغملو سره دغه طاقت پيدا کيږی او څوک چی څونه ډير غم پر ځان يوسی هغونه ډير طاقت پيدا کيږی او څنګه چی طياره د فطرت پر خلاف د مځکی څخه د پورته کولو دپاره ډير زيات تيل غواړی همدغه رنګه زموږ وجود کوم چی د خاورو دی او د خاورو پر

شیانو او د خاورو پر شکلو باندی قربانیدل غواړی نو دغه دخدای پر خوا د په هوا کولو دپاره د محبت ډیر زیات تیل غواړی او دغه تیل د نفس د حرام خواهشاتو په مخالفت سره یعنی د ګناوو د اسبابو څخه په لیریوالی سره جوړیږی، که دغه تیل راپه نصیب سول نو زموږ د روح طیاره به زموږ د وجود سره دخدای پر خوا په هوا سی.

مولانا رومی صاحب داغه ته وفرمایل چی حق تعالیٰ د خپل معرفت کوم علم چی موږ ته راکړی دی هغه د دې نفسی خواهشاتو څخه مغلوب دی، په دغه خاطر موږ حق تعالیٰ ته نه سو رسیدای، کله چی ته نفسی خواهشات مغلوب کړې نو پر علم باندی به د عمل توفیق درته حاصل سی او یودم به دخدای پر خوا په هوا سې ؎

**جسم کو اپنا سا کر کے لے چلی افلاک پر**

**اللہ اللہ یہ کمالِ روحِ جولاں دیکھئے**

**ترجمه**: وجود یې خپل په شان کړی او د آسمان پر خوا یې پورته کړی، الله الله د مست روح دغه کمال ته وګوری

او ژر د ولی الله جوړیدو دغه ډیره ښه نسخه ده او څوک چی دخدای د لاری غم یو نه سی، د ښځو او لغړزنو څخه نظر ونه ساتی، د خپل نفس غلام پاته وی، د حرام خواهشاتو وینه توی نه کړی نو هغه ته د محبت دغه تیل هیڅکله نه سی حاصلیدای چی دغه شخص په الوزولو سره د اولیاء صدیقینو آخری درجې ته ورسوی، لهٰذا دغه ژوند یوواری راکړل سوی دی بیا نه راکول کیږی، موږ ټوله باید د سر په سودا دخدای د محبت دغه طاقت حاصل کړو چی ابدی خوشحالی او ابدی آرام راته حاصل سی.

**اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنَا لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى.**

# مجلس درسِ مثنوی

**۱۹د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق۱۸د جنوری ۱۹۹۸ء د یک شنبې ورځ د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه**

*دستِ ما چو پایِ ما را می خورد　　　بی امانِ تو کسی جان کی برد*

آه! څنګه د درده ډک شعر دی، د مولانا رومی صاحب مقام د ده د کلام څخه معلومیږی چې څونه لوی شخص دی، فرمایي یاالله! هم زما لاس زما پښنه خوری، بل څوک ماته تاوان نه را رسوی زه په خپل لاس په ګناه کولو سره خپلی پښنې په تبر واهم، لهٰذا بې له ستا د کرم او حفاظت او ستا د پناه څخه هیڅوک خپل ځان په سلامتیا سره نه سی رسولای، څنګه عاجزی ده، څنګه درخواست دی، څنګه ښایسته مضمون دی او څونه نور دی په دغه شعر کی او په څنګه ښایسته انداز سره مولانا رومی صاحب حق تعالیٰ ته د ګناوو څخه د حفاظت او پناه خواست کوی چې یاالله! ته موږ په خپل حفاظت کی واخله بیا موږ د ګناوو څخه ځان ساتلای سو.

کله چې دحق تعالیٰ فضل وسی نو بیا که د ګناوو په زرهاوو جالونه پر پښنو پراته وی بیا هم سړی دهغو څخه وساتل سی مثلاً که ګناه خپله سړی ته راسی نو حق تعالیٰ چې څوک ساتل غواړی نو اول نظر پر مبتلو سره د ګناه د آخری منزل غلاظت دهغه ومخته راسی، کوم چې زه داسی بیانوم چې تر نامه سربیره اول منزل دی او تر نامه لاندی کښته منزل دی، نو پر چا چې دخدای فضل وسی نو پر اول منزل (یعنی د ښځی پر مخ) باندی نظر په مبتلو سره د کښته منزل (یعنی د شرمګاه) غلاظتونه دهغه ومخته راسی چې دغه مخ او سترګی او دغه بارخوګان او وریښتان به تا د کښته منزل لښتیو ته ورپوری وهی (یعنی زنا به درباندی وکړی) او ستا

عزت به په شیطانت در بدل کړی، دا زه درس او سبق نه درکوم بلکې د تصوف او طریقت روح درته بیانوم او د زړه په درد یې درته بیانوم چې د یو چا په اول منزل یعنی دهغه په حسن مه خطاوزه کنې ژوند به دی برباد سی ځکه چې د مجازی عشق ټوله منزلونه پر ګناه(یعنی زنا ) باندی ختمیږی.

پر دې باندی زما شعر دی ؎

**عشقِ بتاں کی منزلیں ختم ہیں سب گناہ پر**
**جس کی ہو ابتداء غلط کیسے صحیح ہو انتہا**

**ترجمه**: د مجازی عشق ټوله منزلونه ختم دی پر ګناه باندی، د کوم کار چې ابتدا غلطه وی انتها به یې څنګه صحیح وی

او په ګناه کولو سره به ته دحق تعالیٰ څخه ډیر لیری سې او بیا د مرګ وروسته به ارمان کوې لاکن هغه وخت به هیڅ شی نه کیږی ځکه چې هغه دارُالجزاء ده، دارُالعمل ختم سو، هلته به په افسوس هیڅ نه کیږی، پر چا چې دخدای فضل وی هم هغه د بدنظری څخه په امان وی ځکه چې هغه ته دا یقین وی چې په بدنظری سره به زه د حق تعالیٰ د رحمت څخه لیری سم او د نبی علیه الصلوٰة والسّلام د ښیرا **لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَيْهِ** **(مشکوٰۃ جلد۲، صفحہ۹۳۶)** مستحق به سم، نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایي څوک چې بدنظری کوی یاالله! ته پر هغه باندی لعنت و اورو‌ه او پر ځان ښکاره کونکی باندی هم لعنت و اوروه یعنی پر کتونکی او ځان ښکاره کونکی دواړو باندی لعنت و اوروه.

عظیم محدث ملّا علی قاری رحمة الله علیه د دې حدیث په شرح کی لیکلی دی چې دلته د نظر د متعلقاتو ذکر نسته یعنی نه د هلک نه د ښځی د هیچا ذکر نسته یعنی متعلق یې خاص نه کړی چې حکم عام پاته

وی او هر هغه نظر کوم چې دحق تعالیٰ د مرضی پر خلاف دی هغه په دې کی شامل سی، دا د نبوت د کلام بلاغت دی، بس د ګناوو څخه د ځان ساتلو کوښښ دی وسی او حق تعالیٰ ته دی خواست هم وسی، لکه څنګه چې مولانا رومی صاحب وفرمایل چې بې له دحق تعالیٰ د فضل څخه کار نه سمیږی، زما شعر دی ؎

**کام بنتا ہے فضل سے اخترؔ　　　فضل کا آسرا لگائے ہیں**

**ترجمه**: کار سمیږی په فضل سره اې اختره، فضل ته می امید ساتلی دی

**مرکب توبہ عجائب مرکب است　　　تا فلک تازد بیک لحظہ ز پست**

مولانا رومی صاحب فرمایي چې د توبې سواری عجبه سواری ده چې ګنهګاره بنده د مځکی څخه پورته کړی په یوه لحظه یې تر آسمانه ورسوی، د ګناوو لیریوالی د توبې په برکت په نژدیوالی بدل سی، حق تعالیٰ فرمایي**إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ**(سورت بقره، آیت ۲۲۲) اې زما ګنهګاره بندګانو ولی نااميده کیږی که تاسی په ګناه کولو سره زما څخه لیری سواست نو د توبې پر سواری باندی کښینی ماته راسی، په دنیا کی هیڅ طیاره، هیڅ راکټ داسی نه دی جوړ سوی کوم چې تاسی تر ما پوری را ورسوی تاسی توبه وکاږی، زه توبه کونکی نه صرف دا چې وبخښم بلکې خپل محبوب یې هم وګرځوم، توبه کونکو ته زه د توبې پر وخت او توبه د قبلیدو په برکت خپل محبوبیت ورکړم او دغه نه چې یوواری به مو بخښم که په آینده کی هم ګناه درڅخه وسی نو په آینده کی به هم زه تاسی وبخښم.

په داغه خاطر یې دغه لوړ آیت په مضارع سره نازل کړی، په مضارع کی حال هم وی او مستقبل هم وی، په دغه آیت کی حق تعالیٰ د خپلو بندګانو د حال او مستقبل دواړو د حفاظت ضمانت ورکوی چې د

بشرتوب په خاطر که ستاسی څخه خطاوی کیږی لاکن که تاسی توبه ورسره کاږی نو حالاً او استقبالاً به زه ستاسی سره مینه کوم، د توبې په برکت به زه تاسی د خپل محبوبیت څخه نه باسم، تاسی په ګناه کولو سره ستړی کیدای سی زه په بخښلو سره نه سم ستړی کیدای.

کله چی کوچنی د مور پر ځیګر باندی مرداری وکړی نو آیا مور د کوچنی د محبت څخه لاس واخلی؟ او که هغه ولمبوی، پاک کالی په واغوندی، په غیږ کی یې راپورته کړی او مچ یې کړی او په دې یقین لری چی کوچنی بیا مرداری کوی لاکن اراده لری چی زه یې بیا پاکوم، نو آیا د حق تعالیٰ محبت د مندو تر محبت کم دی؟ د مور محبت کول څه زده دی، مندو ته محبت کول خو هم حق تعالیٰ ورزده کړی دی.

په داغه خاطر یې **یُحِبُّ** په نازلولو سره **تَوَّابِیْن** یعنی توبه کونکو ته دا امید ورکړی چی ناامیده کیږی مه، د توبه کښلو په برکت به زه تاسی د خپل محبوبیت څخه نه باسم بلکې توبه کونکو ته دخدای رحمت تر سابقه قرب ډیر قرب ورکوی ځکه چی سابقه قرب د عبادت په سبب وو او دغه قرب چی ورته عطا کیږی په دې کی د عبادت د قرب سره د پښیمانی قرب اضافی دی او هم د پښیمانی په سبب دته د محبوبیت لباس عطا کیږی.

په داغه خاطر حق تعالیٰ موږ ته حکم راکړی چی **اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّکُمْ** **(سورت نوح، آیت ۱۰)** د خپل ربّ څخه معافی وغواړی، کله چی یو پلار خپل زوی ته ووایی چی بخښنه راځخه وغواړه نو دا دلیل دی چی پلار خپل زوی بخښل غواړی دحق تعالیٰ د **اِسْتَغْفِرُوْا** حکم را کول دلیل دی چی هغه موږ بخښل غواړی او مخته یې **اِنَّهٗ کَانَ غَفَّارًا** په فرمایلو سره نور ترغیب راکړی چی زه ډیر بخښونکی یم لهٰذا ظالمانو زما څخه بخښه ولی نه غواړی

او په **اِسۡتَغۡفِرُوۡا** سره دغه هم معلوم سول چې خطاوی به زموږ څخه کیږی کنې د بخښنی غوښتلو حکم یې ولی راکوی، لهٰذا کوم بنده چې بخښنه طلب کوی نو دا علامت دی چې دغه بنده اوس هم دخدای محبوب دی او په مستقبل کی به هم دخدای محبوب وی، په دغه خاطر د ګناوو څه مه ناامیده کیږه، پر ګناوو باندی دلاوره کیږه خو مه بلکې کوښښ وکه او ځان قربانولو ته تیار سه چې ګناه راڅخه ونه سی لاکن که یو وخت غوځار سې نو پروت مه اوسیږه، ولاړ سه توبه وکاږه بیا دخدای د محبوبیت وغیږی ته راسه ـ

**ہم نے طے کیں اس طرح سے منزلیں گر پڑے گر کر اُٹھے اُٹھ کر چلے**

**ترجمه**: زه تر منزله داسی ورسیدم، غوځار به سوم ولاړ به سوم بیا به می تګ شروع کړی

او که دی شیطان وبیروی چې ستا توبه هم اوس توبه ده چې ته یې هر واری ماته کړې، اوس خو توبه کاږې لاکن ته بیا داغه ګناه کوې، نو شیطان ته ووایه چې زه به بیا توبه وکاږم، دحق تعالیٰ چوکاټ موجود دی او زما سر باقی دی، زما لمن پاته ده او دحق تعالیٰ کرم پاته دی، زما دغه سر دی سلامت وی چې دحق تعالیٰ پر چوکاټ پروت وی او زما خواستونه دی باقی وی چې زما لمن په ډکیږی.

د توبې د قبلیدو دپاره دونه کافی دی چې د توبه کولو پر وخت به توبه د ماتولو اراده نه وی، پوخ عزم به وی چې بیا هیڅکله دغه ګناه نه کوم او که خیال در وګرځیدی چې ته بیا دغه ګناه کوې نو دا وسوسه ده اراده نه ده، وسوسه هیڅ تاوانی نه ده، توبه د ماتیدو دغه بیره د توبې خلاف نه ده بلکې دغه بیره خو عین بندګی ده، د خپل ضعف او کمزوری اظهار دی چې یاالله! زه په ځان باور نه لرم، هم په تا باور لرم چې ته به ما د ګناوو څخه ساتې، بنه پوه سه چې د توبه کولو پر وخت که توبه د ماتولو نیت نه وی

نو دغه توبه قبوله ده، که بالفرض بیا توبه ماته سوه نو د دې تر مخه توبه نه باطله کیږی هغه انشاءالله قبوله ده، دغه خبره که په فکر کی وی نو شیطان هیڅکله سړی نه سی ناامیده کولای.

زما شعر دی ؎

**یہی ہے راستہ اپنے گناہوں کی تلافی کا**
**تری سرکار میں بندوں کا ہردم چشم تر رہنا**

**ترجمه**: هم داغه لار د خپلو ګناوو د تلافی ده، چی دخدای په دربار کی دی بندګان هر وخت اوښکی تویوی

د امام غزالی صاحب استاذ علّامه اسفرائینی دیرش کاله دعا وکړه چی یاالله! ماته د ګناوو څخه عصمت راکړې، یو ورځ په زړه کی خیال وروګرځیدی چی حق تعالیٰ خو ارحمُ الرّاحمین دی بیا هم زما دعا نه ده قبوله سوې او زما څه خطاوی وسی، حق تعالیٰ په زړه کی ورواچول چی اې اسفرائینی! ما د خپل ملاقات دپاره دوې لاری ایښی دی، یوه د تقوا ده دوهمه د توبې ده، ته د تقوا د لاری څخه ولی راتګ غواړې، د تقوا لار چی تاته نه حاصلیږی نو د توبې د لاری راسه، زما شعر دی ؎

**مایوس نہ ہوں اہلِ زمین اپنی خطاء سے**
**تقدیر بدل جاتی ہے مضطر کی دعا سے**

**ترجمه**: بندګان دی پر خپلو خطاوو باندی نه ناامیده کیږی، ځکه چی تقدیر بدل سی د بې تابه سړی په دعا سره

د مثنوی شریف د درس په دوران کی حضرت صاحب وفرمایل چی بزرګانو د خپل شیخ سره څنګه محبت او دهغه څنګه ادب کړی دی او پر دې باندی یې د یو بزرګ دغه شعر ووایه ؎

**نسبتِ خود به سگت کردم و بس منفعلم      زان که نسبت به سگِ کُوی توشُد بی ادبی**

ما ستا د کوڅې د سپی سره خپل ځان سم کړی، اې زما شیخه! زه شرمنده یم چی زما څخه سخته بې ادبی وسوه ځکه چی زه د دې لایق نه وم چی ستا د کوڅې د سپی سره خپل ځان سم کړم او بیا حضرت صاحب د مولانا رومی صاحب دغه شعر ووایه ـ

**آن سگی کو گشت در کُویش مقیم      خاکِ پایش به ز شیرانِ عظیم**

مولانا رومی صاحب فرمایي کوم سپی چی زما د محبوب شیخ په کوڅه کی اوسیږی دهغه د پښو خاوری تر لوی لوی زمریانو ښه دی او په بل شعر کی مولانا صاحب فرمایی ـ

**آن سگی کو باشد اندر کُوی اُو      من به شیران کی دهم یک موی اُو**

زما د شیخ شمس تبریزی په کوڅه کی چی کوم سپی اوسیږی زه زمریانو ته دهغه یو ویښته هم نه سم ورکولای.

**ای که شیران مر سگانش را غُلام      گفتن امکان نیست خامش والسَّلام**

اې دنیاوالو! لوی لوی زمریان د اولیاوو د سپیانو غلامان سوه، اوس تر دې زیات زه د زمانې بې عقلان نه سم پوه کولای بلکې عام خلک هم نه سم پوه کولای ځکه چی د جلالُ الدین رومی دغه خبری د عقل تر ادراک لوړی دی، اوس دخدای د محبت تر دې زیات وضاحت زه نه سم کولای کنې خلک به تور راباندی ولګوی چی جلالُ الدین رومی پیر پرستی کوی لهٰذا اوس زه چپ سوم او داسی خلګو ته سلام هم کوم.

ځکه چی د شیخ په ذریعه خدای حاصلیږی په دغه خاطر مرید د شیخ د هر شی سره محبت کوی، دهغه د وطن سره، دهغه د کور سره، د هغه د کوڅې سره، دهغه د کوڅې د سپی سره، د شیخ سره چی د هر شی

معمولی غوندی تعلق وی د مرید دهغه سره محبت پیدا سی لاکن څوک چی په دغه لار ناخبره دی دهغو په دې خبرو سر نه خلاصیږی، هغوته سړی څه وواېي بې له دې چی ے

**لُطف مے تجھ سے کیا کہوں زاہد　　　ہائے کمبخت تو نے پی ہی نہیں**

**ترجمه**: دخدای د محبت د شرابو خوند زه تاته څه ووایم اې زاهده،

افسوس! بدبخته تا چیښلی نه دی

اوس پر دې باندی یوه قصه درته کوم، د تهانه بهون د کلی یو هندو جاروکښ د مولانا قاسم نانوتوی صاحب کلی نانوته ته ورغلی، مولانا قاسم صاحب پوښتنه ځنی وکړه چی د کوم ځایه راغلی یې؟ هغه ورته وویل چی زه ستا د پیر حاجی امدادُالله صاحب د کلی تهانه بهون څخه راغلی یم، مولانا قاسم صاحب دستی وفرمایل چی د ده دپاره چارپایی راوړی سترنجی پر اواره کړی او ژر یې دهغه دپاره ډوډی راوغوښته، یوه طالب ورته وویل چی شیخ صاحب دا خو جاروکښ دی نو مولانا قاسم صاحب ورته وفرمایل چی ستا نظر خو پر جاروکښ باندی دی او زما نظر پر دې باندی دی چی زما د پیر د وطن څخه راغلی دی، ته دا فکر کوې چی زه د کافر عزت کوم، که څه هم ما د کافر نه بلکې د تهانه بهون د کلی عزت وکړی، د خپل شیخ عزت می وکړی، آه! په محبت د سر خلاصولو دپاره زړه باید د محبت څخه ډک وی، په عقل کی باید نور وی، د چا په عقل کی چی فساد وی هغه په دې خبرو نه سی پوهیدای، که د شیخ محبت زده کول غواړی نو د مولانا رومی صاحب څخه یې زده کړی، فرمایی ے

**من نجویم زین سپس راهِ اثیر　　　پیر جویم پیر جویم پیر پیر**

کله چی ماته دغه رامعلوم سول چی دخدای لار بې له رهبر څخه نه حاصلیږی نو زه یوازی دخدای لار د پیدا کولو کوښښ هم نه کوم بلکې د

حق تعالیٰ د حاصلولو دپاره زه پیر پیدا کوم، پیر پیدا کوم، په پیر پسی ګرځم، په پیر پسی ګرځم، آه! د پیر په نامه سره مست سو او د پیر پیر تکرار یې شروع کړی.

یو چا د حاجی امدادُالله صاحب څخه پوښتنه وکړه چې دا عجبه خبره ده کله چې د شمسُ الدین تبریزی نوم راسی نو مولانا رومی صاحب مست سی او صفحې صفحې دهغه په صفت کی ولیکی، حاجی صاحب ورته وفرمایل که مولانا رومی صاحب پنځوس کاله عبادت کړی وای نو هغه عظیم الشانه قرب به یې نه وای په نصیب سوی کوم چې د شمسُ الدین تبریزی د یو څو شپو په صحبت سره ورپه نصیب سو، څوک چې د چا تر احسانو لاندی وی دهغه خبری کوی یعنی د چا څخه چې یو نعمت تر لاسه کړی پر هغه قربانیږی، همداغه سبب دی چې د شمسُ الدین تبریزی نوم په راتلو سره مولانا رومی صاحب بې حاله سی.

یوواری شمسُ الدین تبریزی د قونیه د ښاره څخه یودم ورک سو، مولانا رومی صاحب ناقراره سو او پر اوښه باندی ناست وو په هغه پسی ګرځیدی، په ګرځیدو کی د شام مملکت ته نژدې ورسیدی او د یو چا څخه یې پوښتنه وکړه چې آیا تا زما شیخ شمسُ الدین تبریزی یو ځای ولیدلی؟ خلکو ورته وویل چې هو! موږ هغه د شام په ملک کی ولیدی نو مولانا رومی صاحب وفرمایل آه! په کوم شام کی چې زما شمسُ الدین تبریزی اوسیږی دهغه شام به سهار څنګه وی، بیا تبریز ښار ته راغلی او خپلی اوښی ته یې وفرمایل ے

**اُبْرُکِیْ یَا نَاقَتِیْ طَابَ الْاُمُوْر — اِنَّ تَبْرِیْزًا لَّنَا ذَاتَ الصُّدُوْر**

اې زما اوښی! ودریږه، زما خو ټوله کارونه سم سوه، وګوری دغه دی د شیخ محبت، پر خپل شیخ یې څونه ښه ګمان وو او څونه ډیر

محبت یې ورسره کاوه چې اوښې ته فرمایي ودریږه، زما د پیر ښار راغلی، زما ټوله کاروبار سم سوه، د تبریز ښار زما د سینې د رازو ښار دی، د محبت د رازو ښار دی، د محبت د اسرارو ښار دی، د حق تعالیٰ د محبت رازونه د شمسُ الدین تبریزی د سینې په ذریعه ماته د داغه ځای څخه حاصل سوی دی، آه! تاسی ووایاست آیا دا محبت نه دی؟ بیا یې وفرمایل ؎

**اِسۡرَحِیۡ یَا نَاقَتِیۡ حَوۡلَ الرِّیَاضِ        اِنَّ تَّبۡرِیۡزًا لَّنَا نِعۡمَ الۡمَفَاضِ**

اې زما اوښې! د تبریز د ښار د باغو پر اطرافو باندی ژر ژر واښه وخوره، د تبریز ښار زموږ دپاره ډیر د فیض ځای دی، زما فیض انوارات او الٰهی تجلیات دی او ستا فیض د دې ځای ښه ښه مبارک واښه دی، مخته فرمایي ؎

**هر زمان از فوحِ روح انگیز جان**

**از فرازِ عرش بر تبریزیان**

یاالله! هره لمحه، هر وخت د تبریز پر خلکو باندی د عرشِ عظیم څخه د خپل رحمت، محبت، معرفت او فیض زبردسته باران و اوروه، تاسی ووایاست دا عجبه خبره ده چې فقط د خپل شیخ دپاره نه د ټوله تبریز دپاره دعا کیږی، بس څه درته ووایم محبت د قسمت خاوندانو ته عطا کیږی او په محبت د پوهیدو دپاره فکر هم د قسمت خاوندانو ته عطا کیږی ؎

**محبت کے لئے کچھ خاص دل مخصوص ہوتے ہیں**

**یہ وہ نغمہ ہے جو ہر ساز پر چھیڑا نہیں جاتا**

**ترجمه**: د محبت دپاره یو څو زړونه خاص وی، دا هغه نغمه ده چې پر هر ساز باندی نه ویل کیږی

بس د نن مضمون ختم سو لاکن څنګه د درده ډک داستان می نن درته بیان کړی، دحق تعالیٰ د نعمت شکر ادا کوم، د ټولی دنیا خانقاوو ته ورسی او د ټولو خبری واوری او زما د خبرو سره یې وګوری نو به درمعلوم سی چی په دې زمانه کی حق تعالیٰ زما د ژبې څخه کوم کار اخلی **وَلَافَخْرَ يَارَبِّ** دا ټوله زما د بزرګانو فیض دی.

دعا وکړی چی حق تعالیٰ موږ ټولو ته خپل محبت راپه نصیب کړی او د ټولو تر مخه دی حق تعالیٰ موږ ته دخپل شیخ محبت راپه نصیب کړی او خپل محبت دی حق تعالیٰ راباندی غالب کړی او د نفس او شیطان د غلامی څخه دی موږ خلاص کړی او سل فیصده خپل د فرمانبرداری ژوند دی راپه نصیب کړی، د خپل محبت درد دی راپه نصیب کړی، یاالله! زموږ خاورین وجود د خاورو پر شیانو باندی د خاوری کیدو څخه راوساتې، تا چی موږ د کوم مقصد دپاره پیدا کړی یو یاالله پر هغه مقصد باندی موږ ته د ځان قربانولو توفیق راکړې،

یاالله! زموږ مشایخو د بلخ سلطنت پر تا قربان کړی دهغو په صدقه موږ ټوله د شهرت د حُب او د مال د حُب څخه پاک کړې، سر تر نوکه محبت راڅخه جوړ کړې، د اولیاء صدیقینو انتها ته موږ ورسوې، ما زما اولادونه، د کور خلک، زما مریدان، ناست کسان، غیر حاضر کسان، د دوی اولادونه، د کور خلک او د دوی خپلوان او دوستان هم ټوله دخدای دوستان کړې او ټوله په اولیاء صدیقینو کی شامل کړې.

**آمِيْنَ يَارَبَّ الْعٰلَمِيْنَ بِحُرْمَةِ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ بِرَحْمَتِكَ يَااَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ .**

# مجلس درسِ مثنوی

۲۰ د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۱۹ د جنوری ۱۹۹۸ء د دو شنبې ورځ
د سهار د لمانځه وروسته، خانقاه امدادیه اشرفیه

**تازگئ هر گلستانِ جمیل　　هست بر بارانِ پنهانی دلیل**

سهار وختی چې د باغو بلګونه شنه شنه ووینې او دهغو مخ پریولی ووینې نو پوه سه چې د شپې باران پر سوی دی، د بلګو دغه تازه والی د شپې د باران دلیل دی، نو مولانا رومی صاحب فرمایي څنګه چې د هر باغ تازه والی او د بلګو پاکوالی دلیل دی چې د شپې باران پر سوی دی همداسی دخدای د دوستانو په کلام کی چې کوم علوم او معارف بیانیږی دغه دلیل دی چې دهغو پر زړو باندی د شپې د حق تعالیٰ د رحمت باران سوی دی، دهغو الفاظ او مضمونونه غیبی علوم او دخدای د طرفه څخه الهام وی.

**چون او خواهد عینِ غم شادی شود　　عین بندِ پای آزادی شود**

کله چې حق تعالیٰ وغواړی نو د غم د ذاته څخه خوشحالی جوړه کړی، سائنس پوهان خو به اول د غم اسباب لیری کړی بیا به د خوشحالی اسباب راوړی لاکن حق تعالیٰ ته د غم اسباب د لیری کولو ضرورت نسته، هغه د غم ذات په **کُنۡ فَیَکُوۡن** سره په خوشحالی بدل کړی، حق تعالیٰ ته د غم لیری کولو ضروت نه پیښیږی، هغه عین غم په خوشحالی بدل کړی یعنی دهغه غم څخه خوشحالی جوړه کړی او د کوم شی په باره کی چې سړی دا فکر کوی چې زما د پښې زنځیر او قید دی هم هغه قید او زنځیر حق تعالیٰ آزادی جوړولای سی د دنیا خلک خو د بندی د پښو څخه زنځیر خلاصوی بیا هغه ته آزادی ورکوی لاکن مولانا رومی صاحب دحق تعالیٰ د قدرت

تماشه بیانوی چې حق تعالیٰ که فیصله وکړی نو د بندی د پښو د زنځیرانو او زولنو څخه آزادی جوړه کړی، بند په آزادی بدل کړی.

**از برون چون گورِ کافر پُر حلل         و اندرون قهرِ خدای عزّ و جل**

د کافر پاچاهانو پر قبرو باندی ښه سنګ مرمر کاریږی، د ګل ګلابو عرق او ګلان پر پاشل کیږی او د نورو مملکتو پاچاهان ګلان پر اواروی لاکن په قبر کی دننه دخدای عذاب پر اوری، نو وې فرمایل چې بعضی خلګ ډیر ګران کالی اغوندی په ګران موټر کی سپریږی لاکن دخدای د نافرمانی مثلاً شراب، زنا او فلمو په سبب دهغو پر زړو باندی عذاب اوری، په خوله کی یې کباب وی پر زړه یې عذاب وی، لهٰذا د ظاهری عیش فکر مه کوه خپل مالک راضی که نو حق تعالیٰ به پر ستړنجی او بوری باندی د سلطنت او په وچه ډوډی کی به د وریجو خوند درکړی.

**ظاهرش را پشّهٔ آرد به چرخ         باطنش باشد مُحیطِ هفت چرخ**

د اولیاوو ظاهر خو دونه کمزوره کیدای سی چی یوه غوماشه که یې وخوری نو هغه لیونی کولای سی یعنی د تکلیف څخه یې ناقراره کولای سی لاکن دهغو باطن اووه سره آسمانونه په ځان کی اخیستی دی لهٰذا د اولیاوو د باطنی طاقت او پراخوالی اندازه ته نه سې کولای ځکه چی ـــ

**ظلِّ او اندر زمین چون کوهِ قاف         روحِ او سیمرغ بس عالی طواف**

مولانا رومی صاحب فرمایي د اولیاوو بدن خو په مثل د کوه قاف غره پر مځکه معلومیږی لاکن دهغو روح هر وخت د عرشِ عظیم طواف کوی، د وجود په لحاظ خو هغه د مخلوق سره دی لاکن د روح په لحاظ هغه هر وخت دخدای درباریان دی نو بیا دهغو مقرب روح ولی اووه سره آسمانونه په ځان کی نه وی اخیستی، مولانا رومی صاحب داغه خبره بل ځای داسی بیان کړیده ـــ

**در فراخ عرصهٔ آن پاک جان　　　　تنگ آید وسعتِ هفت آسمان**

لاکن دخدای د درباریانو مقام، حال او کیفیات عام غوندی عقلونه په فکر کی نه سی راوستلای ے

**تو ندیدی گهی سلیمان را　　　　چه شناسی زبانِ مرغان را**

اې شخصه! تا خو حضرت سُلیمان علیه السّلام هیڅکله نه دی لیدلی بس نو بیا ته د مرغانو په ژبه څنګه پوهیدای سې؟ مطلب یې دا دی چې د اولیاوو د قرب مرتبې هر کس او ناکس نه سی پیژندلای، تر څو چې دهغو په صحبت کی په اوسیدو سره دخدای محبت زده نه کړی او دخدای پر لار ولاړ نه سی یعنی د یو کامل شیخ په صلاح سره، دخدای پر اوامرو باندی په عمل، د ګناوو څخه په حفاظت او پر سنتو باندی په عمل سره هغه د قرب مرتبې په نصیب کیږی کوم چی اوس په وهم او خیال کی هم نه سی راتللای، حق تعالیٰ دې په خپل فضل سره موږ ټولو ته راپه نصیب کړی.

او د باطن دغه دولت فقط کامل مومنانو ته ورپه نصیب کیږی، کافر یا فاسق ته نه ورپه نصیب کیږی، ځکه چی مومن دحق تعالیٰ غلام وی او کافر د طبیعت غلام وی، دغه رنګه فاسق مومن یعنی ګنهګاره مومن هم د دغه خاص قرب د نعمت څخه محرومه وی، فرق صرف دا دی چی کافران خو بالکل محرومه دی ځکه چی په هغو کی خو ایمان نسته او د ګنهګاره مومن په زړه کی ایمان خو سته لاکن دونه کمزوره ایمان دی چی د ګناه د خواهش پر وخت هغه د طبیعت غلام سی او په ګناوو اخته سی، هغه وخت هغه دخدای نظر هیر کړی چی خدای ماته ګوری مثلاً یو ښایسته ښځه کوم چی ځوانه ده هغه یې مخته راغله نو د خپل طبیعت په خاطر به ورته لیونی سی او هغې ته به په بد نظر وګوری بلکې تر دې

بدتره به د ګناهِ کبیره کونښښ ورسره وکړی، هغه وخت یې دخدای بیره خو څه په یاد وی د حسن د انجام څخه هم غافله سی، هغه وخت دغه خیال هم نه ورګرځی چې یوه ورځ به یې حسن ختم سی، سپین سرې به سی، باړخوګان به یې را وزړیږی، عینکې به یې پر سترګو سی، غاښونه به یې ووځی، ملا به یې کړوپه سی، دغه د طبیعت غلامان د خپل طبیعته څخه پر مجازی حسن باندی مری او کله چې یې حسن ختم سی نو د خپل طبیعت په خاطر ځنی ځغلی، دخدای د بیری څخه نه ځنی ځغلی، په دغه خاطر هغه محرومه وی او دخدای قرب په خوب هم نه سی لیدلای.

او د اولیاوو څنګه شان وی چې د حسن په عین شباب کې کله چې دهغو په طبیعت کې خواهش هم ډیر زیات وی چې دغه ښځی ته یو نظر وګوره لاکن هغه دخدای د بیری څخه د خپل نظر حفاظت کوی او غم پر ځان وړی، د داغه غم د لاری هغوته حق تعالیٰ حاصلیږی او دغه غم یوه ورځ نه وی بلکې هغه یې ټوله ژوند دخدای دپاره پر ځان وړی او په دغه غم کې حق تعالیٰ هغوته هغه لذت ورکوی په کوم چې د خوند او عیش خاوندان نه سی پوهیدلای او ځکه چې دهغو غم مسلسله وی نو دهغو پر زړو باندی دخدای د قرب تجلیات هم مسلسله نازلیږی، بس د چا زړه چې دخدای په خاص تجلاوو روښانه وی نو دهغو وړخته به د اوو آسمانو پراخوالی ولی نه سی تنګ، چیری حق تعالیٰ او چیری مخلوق، مولانا رومی صاحب داغه خبره په یو بل شعر کې فرمایي ـــ

**چرخ در گردش اسیرِ هوشِ ماست**

**باده در جوشش گدای جوشِ ماست**

آسمان په خپل څرخ کې زما د هوښ بندی دی او شراب په خپل مستی کې زما د کیف او مستی ګدا دی

**ای خوشا چشمی کہ آن گریانِ اوست**

**ای همایون دل کہ آن بریانِ اوست**

مولانا رومی صاحب فرمايي مبارکی دی هغه سترګی کوم چی دخدای په یاد کی ژاړی چی اې زما ربّه! ته ماته چیری حاصلیږې، مولانا رومی صاحب هغه سترګو ته مبارکی ورکوی کوم چی دخدای په یاد کی ژاړی، مولانا رومی صاحب دوه قسمه خلګو ته مبارکی ورکړې ده، یو هغه سترګو ته کوم چی دخدای په یاد کی ژړا کوی او یو هغه زړه ته کوم چی دخدای په عشق کی سوځی او د سترګو ژړا دغه هم ده چی کله یو نامحرمه ښځه ومخته راسی نو دهغې څه نظر وساتل سی او سړی ړوند سی، زما شعر دی ـــ

**جب آگئے وہ سامنے نابینا بن گئے**

**جب ہٹ گئے وہ سامنے سے بینا بن گئے**

**ترجمه**: کله چی هغه مخته راغلله نو ړوند سوم، کله چی هغه د مخ څخه ایسته سوه نو بینا سوم

یعنی کله چی ښځه یا لغړزنی هلک زما ومخته راغلی نو سترګی په اړولو سره ړوند سوم او کله چی هغه ایسته سوه نو سترګی می خلاصی کړې او حق تعالیٰ خو دا وینی چی زما د بنده په سترګو کی د دید روښنایي وه لاکن بیا هم زما د بیری څه او زما په حکم سره ړوند سو، زما بنده زما د حکم څونه خیال ساتی که څه هم په سینه کی زړه لری او زړه هم د عاشقانو لری لاکن زما د بنده زړه د عاشقانو خو دی لاکن طبیعت یې د فاسقانو نه دی، خپل عاشقانه طبیعت زما د بندګی په حدودو کی ساتی، د فسق حدود ته یې داخلیدو ته نه پریږدی نو آیا پر دې بندګی به خواجګی نه کیږی

یعنی کله چې زموږ د طرفه څخه بندګي وسي نو دخدای د طرفه څخه به خواجګي وسي او زړه ته به د ایمان خوږوالی او د خپل قرب هغه لذت عطا کړي چې ټوله د حسن خاوندان او د کاینات جمله لذتونه به په نظر کې بې قدره سي، د دې برعکس ډیری سترګې د یو معشوق په یاد کې ژاړي، دغه اوښکې د خره تر بولو زیات بې ارزښته دي ځکه چې د دې اوښکو تعلق د غیرالله سره دی، د فنا کیدونکو لاښو سره دی د دې اوښکو آخري منزل زنا ده، په دې باره کې زما شعر دی ؎

**عشقِ بتاں کی منزلیں ختم ہیں سب گناہ پر**

**جس کی ہو انتہا غلط کیسے صحیح ہو ابتداء**

**ترجمه**: د مجازي عشق ټوله مقصد ختم دی پر ګناه باندې، د کوم کار چې انتها غلطه وي ابتدا به یې څنګه صحیح وي

دغه اوښکې هیڅ ارزښت نه لري بلکې دغه شخص ته به سزا ورکړل سي ځکه چې دغه اوښکې یې د ګناوو د غلط مقصد حاصلولو دپاره توی کړي دي، کومې اوښکې چې دخدای په یاد کې توی سي حق تعالیٰ هغه د شهیدانو د وینو په اندازه تلي او کومې اوښکې چې د غیرالله دپاره توی سي پر هغو باندې دخدای عذاب نازلیږي او په دنیا کې دهغه زړه ورناقراره کړي، ډیری بدبخته دي هغه سترګې کوم چې په غیرالله پسې ژاړي او ډیری مبارکې دي هغه سترګې کوم چې دخدای په یاد کې ژاړي او په دوهمه مصرعه کې مولانا رومي صاحب فرمایي ؎

**ای همایون دل که آن بریانِ اوست**

ډیر مبارک دی هغه زړه کوم چې دخدای په عشق کې سوځي او د خپل مالک په تلاښ کې دي چې یاالله! ته څنګه راته حاصلیږې او چیری

راته حاصلیږي، په دې دنیا کی څوک د صدارت په عشق کی سوځی، څوک د وزارت په عشق کی سوځی، څوک د حسن پر خاوندانو باندی مری، څوک په مال او دولت پسی مری او په داغه دنیا کی داسی بندګان هم سته د چا زړونه چې دخدای په محبت کی سوځی، مځکه، آسمان، لمر او سپوږمی ته په کتلو سره هغه په حق تعالیٰ پسی ګرځی چې زموږ ربّ به چیری راته حاصل سی ـ

**اپنے ملنے کا پتہ کوئی نشاں          تو بتادے مجھ کو اے ربِّ جہاں**

**ترجمه**: خپل د حاصلیدو ځای او نښان، ته ماته راوښوه اې د جهان ربه

څوک چې دغه کاینات ته په کتلو سره او په دې کاینات کی د بندګانو د پرورش انتظام او مسلسله د نعمتو عطا کیدل په لیدلو سره هم په خپل مالک پسی نه ګرځی نو هغه شریف سړی نه دی، کوم ربّ چې زموږ د اوسیدو دپاره مځکه جوړه کړه، کوم ربّ چې په لمر، سپوږمی او ستورو سره انسان ته فیض ورکړی، کوم ربّ چې د لمر د شغلو په ذریعه د سمندرو څخه وریځی جوړی کړې او باران یې و اوروی، کوم مالک چې غله راشنه کړه، کوم مالک چې موږ وپاللو، په داسی پالونکی پسی نه ګرځیدونکی حیوان دی انسان نه دی.

زموږ د شیخ شاه عبدُالغنی صاحب آسمانی علم ته وګوری، هغه د سر خلاصولو دپاره څنګه ښایسته مثال بیان کړی چې یو سټړی ستومانه وږی تږی مسافر کوم چې د لوږی او تږی د لاسه مړ کیدی هغه یودم په ځنګله کی یو کور ولیدی، مسافر چې ورغلی نو په هغه کور کی یخی اوبه او یخچال هم سته، هګی هم سته، قسم قسم نعمتونه پراته دی، کباب هم سته، وریجی هم سته نو مسافر ژر ژر ټوله شیان وخوړل او پر یو پوست ځای باندی بیده سو، کله چې راپورته سو نو د چوکیدار څخه یې پوښتنه وکړه

چې دا د چا کور دی، ځوک داسې کریم او مهربانه دی چا چې دغه انتظام کړی دی نو دغه سړی شریف دی ځکه چې په احسان کونکی پسې ګرځیدل د شرافت تقاضا ده او یو شخص ښه خوراک چیښاک وکړی، نعمتونه وخوری، استراحت وکړی او چې راپورته سی بې له پوښتنې روان سی چې ځوک داسې مهربانه دی چې دغه انتظام یې کړی دی نو راته ووایاست چې هغه حیوان دی که یا.

نو په حق تعالیٰ پسې ګرځیدل عین فطرت، عین شرافت او عین د عقل تقاضا ده، چا چې دغه مځکه جوړه کړه، موږ ته یې لمر او سپوږمۍ راکړل او د آسمان خیمه یې راباندې ولګول او خیمه هم ځونه ښایسته ده چې پر هغه باندې یې د لمر، سپوږمۍ او ستورو ګروپان راولګول او د ګروپانو بل هم نه راځي نو دحق تعالیٰ د ربوبیت دغه انتظام په لیدلو سره په خدای پسې ګرځیدل او پر خدای باندې ایمان راوړل عقلاً فرض دی، ځوک چې دحق تعالیٰ مځکه او آسمان، سپوږمۍ او لمر، سمندر او غرونه په لیدلو سره او د دې نعمتو څخه د ګټې اخیستلو وروسته هم په خدای پسې نه ګرځي نو هغه ډېر بې حیا او تر حیوانانو بدتره دی.

په داغه خاطر مولانا رومی صاحب فرمایي چې مبارک دی هغه زړه کوم چې دخدای په محبت کې سوځي او د سوځلو څه معنیٰ ده یعنی چاته چې د ښځو او لغړزنو هلکوانو څخه د نظر ساتلو حوصله او توفیق حاصل دی او چاته چې پر خدای باندې خپل نفسي خواهشات قربانول ورپه نصیب دی هم هغه ته د ژوند خوند حاصل دی، هغه شخص په خوند څه خبر دی کوم چې پر حق تعالیٰ باندې خپل خواهشات نه قربانوی، هغه خو حیوان دی، حیوان هم نس ډکوی او مرداری کوی، ستا تر مرداری هم د حیوان مرداری ډېره ده او هم ستا تر خوراک دهغه خوراک ډېر دی، د

خوراک او چیښاک نوم ژوند نه دی، د خوړلو او چیښلو وروسته پر خپل مالک باندی د قربانیدو نوم ژوند دی، چا چی رزق درکړی پر هغه قربان سه، دغه اصلی ژوند دی او یو عقلی دلیل حق تعالیٰ زما زړه ته عطا کړی چی ژوند که نه وی نو آیا په دنیا کی څوک د یو شی خوند اخیستلای سی؟ آیا د خوړلو، چیښلو او واده خوند مړی اخیستای سی؟

معلوم سول چی ژوند د کاینات څخه د خوند اخیستلو سبب دی، نو کوم ژوند چی د ژوند پر خالق او د کاینات د لذتو پر خالق قربان سی نو آیا د ژوند خالق به بیا هغه ژوند ته د ژوند کولو خوند ورنه کړی، حق تعالیٰ په هغه د ټوله کاینات د لذتو حاصل او جوس وچیښی، که داسی نه وای او حق تعالیٰ هغوته نعم البدل او عظیم الشانه نعمتونه نه ورکولای نو اولیاء کرام به د دنیا په عوض خرڅیدلای لاکن د چا زړونه چی دخدای په محبت کی کباب سوی دی هغه د دنیا په هیڅ نعمت نه خرڅیږی.

همداغه دلیل دی چی دهغو زړو ته یو داسی لوی نعمت حاصل دی چی دهغه په سبب د ټوله کاینات نعمتونه دهغو په نظر کی بې قدره سول، دا دحق تعالیٰ د محبت انعام دی، په داغه خاطر مولانا جلال الدین رومی صاحب همداسی زړو ته مبارکی ورکړې ده.

اوس سوال دغه دی چی دخدای په محبت کی داسی سوځلی او کباب سوی زړه څنګه په نصیب کیږی نو د دې طریقه دا ده چی کوم خلک خپل ژوند پر حق تعالیٰ قربانوی کله چی زموږ ژوند دهغو اولیاوو سره تیر سی کوم چی پر خدای باندی هر وخت قربانیږی نو موږ او تاسی ته به پر خدای باندی د قربانیدو طریقې راپه نصیب سی یعنی پر حق تعالیٰ به خپل حرام خواهشات قربانول زموږ زده سی، په موږ کی دغه ضرب المثل مشهوره دی چی هندوانه د هندوانې څخه رنګ اخلی، کله چی په یو

بې جانه شی کی دغه تاثیر دی چی دهغه صحبت پر بل تاثیر کوی نو آیا د اولیاء کرامو په صحبت کی به دغه تاثیر نه وی چی بې وفا وفاداره سی او محرومه کسان دخدای د محبت په درد خبر سی، امام غزالی رحمة الله علیه لیکلی دی چی

**اِنَّ الطَّبَائِعَ تَسْرِقُ مِنْ طِبَاعٍ اُخْرٰی**

یعنی حق تعالیٰ د انسانانو طبیعتونه داسی جوړ کړی دی چی هغه یو د بل اخلاق غلا کوی څنګه چی صحبت وی هغسی دهغه تاثیر وی، یو بې لمانځه سړی د لمونځ ګزارو په صحبت کی په اوسیدو سره لمونځ ګزاره سی، دغه رنګه د دې برعکس دی.

حق تعالیٰ دی د عمل کولو توفیق راکړی، حق تعالیٰ دی د خپل محبت درد موږ ټولو ته راپه نصیب کړی او د مړه کیدونکو او فنا کیدونکو لاښو د حسن څخه دی زموږ زړونه او ارواح راپاک کړی او خپل محبت دی موږ ټولو ته راپه نصیب کړی، آمین.

**وَصَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ الْكَرِيْمِ**

❁ ❁ ❁

# مجلس درسِ مثنوی

۲۱ د رمضان المبارک ۱۴۱۸ھ مطابق ۲۰ د جنوری ۱۹۹۸ء د سې شنبې ورځ
مسجد اشرف، خانقاه امدادیه اشرفیه

**بگذران از جانِ ما سوء القضا    وامبر ما را ز اخوانُ الصَّفا**

مولانا صاحب فرمايي ياالله! ستا هر ځونه فیصلې چې زموږ دپاره تاوانی دی هغه په ګټمن فیصلو رابدلی کړې، ياالله! که زما د نالايقی په سبب تا زه دوږخی لیکلی یم نو دغه فیصله ختمه که او ما جنتی ولیکه، د دې مطلب دا دی چې ستا فیصله پر تا باندی حکومت نه سی کولای، ستا قضا او فیصله پر تا باندی حاکم نه ده ستا تابع ده، لهٰذا نبی علیه الصلوٰة والسّلام خپل اُمَّت ته دغه وروښول چې په حق تعالیٰ باندی فیصلې بدلی کړی، تقدیر په بدل کړی، تقدیر مخلوق نه سی بدلولای لاکن خالق خپله فیصله بدلولای سی، بس هم حق تعالیٰ ته فریاد وکړی چې

**اَللّٰهُمَّ اِنِّیٓ اَعُوْذُبِكَ مِنْ جَهْدِ الْبَلَآءِ وَدَرْكِ الشَّقَآءِ وَسُوْٓءِ الْقَضَآءِ وَشَمَاتَةِ الْاَعْدَآءِ** (مرقاة، جلد۵، صفحہ ۲۲۲)

په دغه حدیث شریف کی د سوء قضا څخه پناه غوښتل سوې ده چې مطلب یې دا دی ياالله! که زما په تقدیر کی یو شقاوت، بدبختی او سوء قضا یعنی هغه فیصلې کوم چې زما په حق کی خرابی لیکل سوی دی نو هغه په ښو فیصلو رابدلی که، شقاوت په سعادت او خرابه خاتمه په ښه خاتمه رابدل که، دلته د خرابی نسبت د قاضی وطرفته نه دی د مقضی وطرفته دی یعنی د خرابی نسبت د حق تعالیٰ وطرفته نه دی ځکه چې د حق تعالیٰ هیڅ فیصله خرابه نه سی کیدلای لاکن د چا پر خلاف چې هغه فیصله ده دهغه په حق کی خرابه ده.

لکه ځنګه چې قاضي يو مجرم ته د پانسي سزا ورکړي نو د قاضي فيصله غلطه نه ده، دلته د خرابي نسبت د قاضي وطرفته نه کيږي ځکه چې هغه خو انصاف وکړی لاکن د کوم مجرم پر خلاف چې دغه فيصله سوې ده دهغه په حق کی خرابه ده، د حق تعالیٰ هيڅ کار د حکمت څخه خالی نه دی، هغه د خير او شر خالق دی څنګه چې د خير تخليق د حکمت څخه خالی نه دی همدغه رنګه د شر تخليق هم د حکمت څخه خالی نه دی مثلاً په ظلمت سره د نور، په کفر سره د ايمان پيژندنه کيږی او داسی نور شيان دی، لهٰذا دحق تعالیٰ د هيڅ کار وطرفته د خرابی نسبت نه سی کيدلای.

مولانا رومی صاحب داغه ته فرمايي ؎

**کفر هم نسبت به خالق حکمت است**
**چون بما نسبت کُنی کفر آفت است**

کفر پيدا کول دحق تعالیٰ عين حکمت دی لاکن کله چې د کفر نسبت د بنده وطرفته سی او بنده کفر اختيار کړی نو کفر دهغه دپاره مصيبت، بدنصيبی او بدبختی ده، معلوم سول چې جزا او سزا پر اختيار باندی ده څوک چې ايمان اختيار کړی بنه جزا ورکول کيږی او څوک چې کفر اختيار کړی سزا ورکول کيږی.

زموږ شيخ شاه ابرارُالحق صاحب د دې عجبه مثال ورکړی دی فرمايي لکه حکومت چې برق جوړ کړی او بيا ټولو ته دغه ووايي چې دغه پلانی پلانی سويچ ته لاس وروړی لاکن دغه سويچ ته لاس مه وروړی، اوس که څوک منع سوی سويچ ته لاس وروړی نو هغه به ونيول سی چې تا دغه سويچ ته لاس ولی وروړی، همدغه رنګه حق تعالیٰ د خير او شر خالق دی حکم يې راکړی چې خير اختيار کړی او د شر څخه ځان وساتی،

اوس که څوک شر اختیار کړی نو پر هغه باندی مواخذه او نیونه ده چې ما منع کړی وې تا ولی شر اختیار کړی.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه داغه ته وفرمایل چې د خرابی نسبت د قاضی وطرفته نه دی د مقضی وطرفته دی او په حدیث پاک کی د خرابی خاتمې څخه د پناه غوښتلو څه معلوم سول چې خرابه خاتمه که په ښه خاتمه بدلیدل نامـمکنه وای یا دغه دعا دحق تعالیٰ د مرضی خلاف وای نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام به اُمَّت ته دغه دعا نه وای وربښوولې، د نبی علیه الصلوٰة والسّلام د خرابی خاتـمې څخه پناه غوښتل دا دلیل دی چې حق تعالیٰ خرابه خاتـمه په ښه خاتـمه بدلوی او دغه خواست عین دخدای پر مرضی برابر دی او کوم خلک چې دغه وایی چې تقدیر څوک نه سی بدلولای نو د دې معنٰی دغه ده چې مخلوق یې نه سی بدلولای، حق تعالیٰ خپله فیصله بدلولای سی، دحق تعالیٰ فیصلې پر حق تعالیٰ باندی بالادستی نه لری بلکې حق تعالیٰ پر خپلو فیصلو باندی بالادستی لری.

مولانا رومی صاحب داغه ته وفرمایل چې یاالله! قضا ستا تابع ده پر تا باندی حاکمه نه ده، لهٰذا خرابه خاتـمه په ښه خاتـمه را بدله که او په داغه خاطر حق تعالیٰ **مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّيۡنِ** وفرمایل چې د قیامت په ورځ به زما حیثیت د قاضی نه وی ځکه چې هغه خو د ملک د قانون پابنده وی، هغه د قانون خلاف هیڅ فیصله نه سی کولای، یو مجرم د قانون پر خلاف نه سی آزادولای لاکن حق تعالیٰ فرمایی چې زه د قیامت د ورځی مالک یم، زه به د قاضی په شان د قانون پابنده نه یم، کوم ګنهګار چې د قانون په حساب د دوږخ مستحق وی نو زه به د قانون څخه مجبوره نه یم چې هغه به دوږخ ته اچوم، هر څوک چې وغواړم په خپل شاهی رحم سره به یې وبخښم، مثنوی شریف په اصل کی د قرآن پاک او حدیث پاک عاشقانه درس دی لکه

څنګه چې د مولانا رومی صاحب دغه تیره مصرعه د حدیث شریف د لوړ ذکر سوی دعا څخه اخیستل سوې ده، په دوهمه مصرعه کې مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

**وامبر ما را ز اخوانُ الصَّفا**

د خرابۍ خاتمې څخه د پناه غوښتلو وروسته مولانا رومی صاحب دخدای په دربار کې فریاد کوی چې یاالله! موږ د خپل صالحین او مقبولین بندګانو څخه مه جلا کوه، ځوک چې دهغو څخه قلباً او اعتقاداً لیری سو هغه به د محشر په میدان کې د **وَامْتَازُوا الْيَوْمَ اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ** (سورت یٰسٓ آیت۵۹) خطاب اوری او د دې خطاب وروسته به مجرمین د صالحینو څخه جلا صف جوړ کړی العیاذبالله، حق تعالیٰ دی موږ ټوله وساتی.

د خرابۍ خاتمې څخه د پناه غوښتلو وروسته مولانا رومی صاحب د صالحینو د لیریوالی څه پناه ولی غواړی؟ په خاطر د دې چې د نیک بندګانو رفاقت او ملګرتیا او دهغو سره دخدای دپاره محبت د خرابۍ خاتمې څخه د حفاظت سبب دی، دهغو د دنیا ملګرتیا به د جنت په ملګرتیا بدل سی انشاءالله، دغه هم په دلایلو درته ثابتوم، د بخاری شریف په حدیث کې نبی علیه الصلوٰة والسّلام فرمایي

**ثَلٰثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلَاوَةَ الْاِيْمَانِ....الخ**

درې خبری چې په چا کې وی هغه به دهغو په سبب د ایمان خوږوالی حاصل کړی

په هغه درو خبرو کې یوه دغه ده چې **مَنْ اَحَبَّ عَبْدًا لَّا يُحِبُّهٗ اِلَّا لِلّٰهِ** کوم شخص چې د یو بنده سره فقط دخدای دپاره محبت وکړی هغه ته د ایمان خوږوالی حاصلیږی.

او ملّا علی قاری رحمة الله علیه په مرقاة کی د دې حدیث په شرح کی فرمايي **وَقَدْ وَرَدَ اَنَّ حَلَاوَةَ الْاِيْمَانِ اِذَا دَخَلَتْ قَلْبًا لَا تَخْرُجُ مِنْهُ اَبَدًا** او کوم زړه ته چې د ایمان خوږوالی داخل سی بيا هیڅکله دهغه زړه څخه نه وځی **فَفِيْهِ اِشَارَةٌ اِلٰى بَشَارَةِ حُسْنِ الْخَاتِمَةِ** او په دې کی اشاره ده د ښه خاتمې د زیری(**مرقاة ، جلد ا صفحہ ۷۴**) کله چې ایمان د زړه څخه هیڅکله نه وځی نو خاتمه به پر ایمان باندی کیږی او ښه خاتمه د جنت ضامن ده.

اوس که څوک اشکال وکړی چې په دې حدیث کی د ښه خاتمې او جنت ته د داخلیدو زیری خو سته لاکن د اولیاوو د رفاقت او په جنت کی د ملګرتیا ثبوت خو نسته، نو د بُخاری او مسلم شریف حدیث دی، د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې یو شخص د نبی علیه الصلوٰة والسّلام وخدمت ته حاضر سو او عرض یې وکړی

"کوم شخص چې د یو قوم (یعنی د علماوو او صلحاوو) سره محبت کوی لاکن په نفلی اعمالو او سختو مجاهدو کی یې دهغو سره ملګرتیا ونه سوه"

نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام ورته وفرمایل چې

**اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ**

**(بخاری جلد ۸ صفحہ ۳۹)**

سړی به (د قیامت په ورځ) دهغه چا سره وی د چا سره چې محبت کوی

ملّا علی قاری د دې حدیث په شرح کی فرمايي

**اَىْ يُحْشَرُ مَعَ مَحْبُوْبِهٖ وَيَكُوْنُ رَفِيْقًا لِمَطْلُوْبِهٖ كَمَا قَالَ تَعَالٰى**

**وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ**

یعنی د محبت دغه عظیم الشان کرامت دی چې د دغه محبت په برکت به د محبت کونکی حشر د خپل محبوب سره وی او دهغه به رفیق وی لکه څنګه چې حق تعالیٰ وفرمایل چې څوک د الله او رسول اطاعت وکړی هغه به دهغه چا سره وی پر چا چې حق تعالیٰ انعام وکړی یعنی د نبیانو او صدیقینو او شهداءُ او صالحینو سره به وی.

د دې آیت په تفسیر کی علّامه آلوسی رحمة الله علیه یو حدیث نقل کړی دی چې یو شخص حاضر سو او عرض یې وکړی

"یارسول الله! ته ماته زما تر خپل ځان زیات او زما تر اولادو زیات محبوب یې، کله چې زه په کور کی یم او تا یاد کړم نو زما څخه صبر نه کېږی تر دې حده چې زه ستا خدمت ته په حاضری سره ستا دیدار وکړم لاکن په آخرت کی به ته د نبیانو سره په اعلیٰ درجه کی یې او موږ به په جنت کی په کښته درجه کی یو نو تا به څنګه وینو او څنګه به ستا دیدار کوو، نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام چپ سو، تر دې حده چې دغه لوړ آیت **وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ......**الخ نازل سو". **(روح المعانی سپاره۵ ، صفحه۷۵)**

او په تفسیر خازن کی د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چې یو سړی د نبی علیه الصلوٰة والسّلام څخه پوښتنه وکړه چې قیامت څه وخت راځی،

نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام ورته وفرمایل چې تا د قیامت دپاره څه تیاری کړې ده، هغه ورته وویل چې ما تیاری خو هیڅ نه ده کړې، **اِلَّااِنِّیْ اُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ** لاکن زه د الله او دهغه د رسول سره محبت کوم، نو نبی علیه الصلوٰة والسّلام ورته فرمایل چې ته به دهغه چا سره یې د چا سره چې محبت کوې. حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې موږ ته داسی خوشحالی

هیڅکله نه وه حاصل سوې څنګه چې د نبی علیه الصلوٰة والسّلام په دغه فرمان سره حاصل سوه. **(تفسیر خازن، جلد۱، صفحہ۳۷۶)**

مفسرینو او محدثینو د دې آیتو او احادیثو په تفسیر کې لیکلی دی چې په جنت کې د ملګرتیا مطلب دا نه دی چې ټوله به په یوه درجه کې راټول سی بلکې مطلب یې دا دی چې په جنت کې به د هر سړی دپاره یو د بل سره ملاقات او دیدار هر وخت ممکن وی، د اعلیٰ درجې جنتیان به دکښتې درجې جنتیانو ته راتلای سی او د کښتې درجې جنتیان به د اعلیٰ درجې جنتیانو ته ورتلای سی.

دا زما د بزرګانو کرامت دی او دهغو صدقه ده چې د دې شعر یو عجبه او څونه مدلل شرح حق تعالیٰ په خپل کرم سره راباندی بیان کړه، که مولانا رومی صاحب هم دغه شرح اوریدلې وای نو زما ګمان دی چې پر وجد به راغلی وای او زه به یې په زړه پوری نیولی وای، حق تعالیٰ ته دا خواست کوم چې په جنت کې مولانا رومی صاحب ما په زړه پوری ونیسی.

حق تعالیٰ دی موږ وبخښی او په جنت کې دی اول داخلیدل موږ ټولو ته راپه نصیب کړی، حق تعالیٰ دی د عمل کولو توفیق راکړی او حق تعالیٰ دی د روژې مبارک په صدقه موږ ټوله ولی الله وګرځوی او د خپلو دوستانو صورت دی هم راپه نصیب کړی او د خپلو دوستانو سیرت دی هم راپه نصیب کړی او د خپلو دوستانو اخلاق دی هم راپه نصیب کړی او زموږ د ټولو اصلاح دی راوکړی.

یاالله! داسی ایمان او یقین راپه نصیب کړې چې د ژوند هره ساه پر تا قربان سی، یوه ساه هم موږ تا په خوابدی کولو سره حرام خوندونه وانه خلو. **وَصَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ الْكَرِيْمِ**

مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

**شد صفیرِ بازِ جان در مرجِ دین نعره های لَآ اُحِبُّ الْآفِلِیْن**

د حضرت ابراهیم علیه السّلام قول **لَآاُحِبُّ الْآفِلِیْنَ** حق تعالیٰ په قرآن پاک کی نازل کړی دی چې موږ د فنا کیدونکو سره محبت نه کوو، مولانا رومی صاحب فرمایي کوم باز چې هر وخت د پاچا پر لاس باندی ناست وی نو د پاچا د قرب په سبب، د پاچا د نظر په فیض سره دهغه حوصله دونه لوړه سی چې هغه په ځنګله کی بې له نر زمری د بل حیوان ښکار کول خپله بې عزتی بولی، د دې برعکس د کرکس یعنی ټپوس غذا مردار لاښونه دی، نر زمری خو لوی شی دی ټپوس خو د یو بل ژوندی حیوان د ښکار حوصله هم نه لری، تاسی به په ځنګله کی دا ووینی چې هر چیری یوه مړه سوې ګامیښه یا غوا پرته وی هلته به ټپوسان پر راټول وی او شهباز فقط د ژوندی زمری ښکار کوی، زما شعر دی ؎

**می نگیرد بازِ شه جز شیر نر**

**کرگسان بَر مردگان بکشاده پر**

شهباز بې له نر زمری بل د هیڅ حیوان ښکار نه کوی او ټپوسان وزرونه غوړولی پر مړه سوی لاښو مښتی وی، مړه سوی لاښونه هغوته وریجی او کباب معلومیږی، همدغه رنګه کوم چې د فانی دنیا عاشقان دی دهغو حوصله دونه کښته او ذلیله سی چې مرداره دنیا او فنا کیدونکی ښځی او لغړزنی هلکوان هغوته ډیر اعلیٰ په نظر ورځی او د ټپوسانو په شان د فنا کیدونکو لاښو څخه خوند اخیستل دهغو طبیعت او د ژوند مقصد جوړ سی، مولانا رومی صاحب په دغه شعر کی فرمایي کوم بنده چې دخدای محبوب سی نو دهغه روح چې په معنیٰ د شهباز ده د دین په ښکار ګاه کی

هغه په مثل د حضرت ابراهیم علیه السّلام د لَآ أُحِبُّ الْآفِلِيْنَ ناره پورته کړی او بې له خدای ماسوا بل طرفته رخ نه کوی او بې له دخدای د رضا هیڅ شی محبوب نه ساتی، دهغه څه دا نه سی کیدای چې یوه ښځه یا لغړزنی هلک یې مخته راسی او هغه حق تعالیٰ په هیرولو سره پر هغه فانی حسن باندی ځان قربان کړی، مومن د خپل طبیعت غلام نه وی.

د دې برعکس کافر او فاسق مومن د خپل طبیعت غلامان وی، کوم شکل چې یې خوښ سی پر هغه ځان قربانول شروع کړی او کله چې هغه شکل زوړ سی ټوله تماشا یې ختمه سی، د حسن خیمه راولویږی نو عاشق صاحب هم خراب سی او پر چا چې قربانیدی دهغه څه په ځغاسته سی او داسی ځنی په ځغاسته سی څنګه چې د زمری څه خر په ځغاسته سی **حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ○ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ** (سورت مدثر، آیت ۵۱، ۵۲) آه! بیا فرق څه شی سو د مومن او کافر تر مابین، د حسن د ختمیدو وروسته خو کافر هم ځنی په ځغاسته سی، هغه وخت که ګنهګاره مومن هم ځنی لیری سی نو څه کمال یې وکړی، ځکه چې د نفس په ویلو سره دهغه قرار وو او د نفس په ویلو سره ځنی فراره سو.

د کامل مومن او ولی الله شان دغه دی چې عین د حسن د شباب په حال کی هغه دخدای د بیری څخه خپل نظر د ښځو او لغړزنو هلکوانو څخه ساتی، دهغه نفس هم ورته وایی چې یو نظر ورته وګوره لاکن هغه دخدای د بیری په خاطر دهغه ځای څخه ځغلی، پر **فَفِرُّوْٓا اِلَى اللهِ** باندی عمل کوی، دهغه **فَفِرُّوْٓا اِلَى اللهِ** دخدای په خاطر ده، په دغه سبب دخدای عارف دی او څوک چې د نفس په ویلو سره پر حسن باندی قربان سو او د نفس په ویلو سره د زاړه حسن څخه لیری سو دا د غیرالله عارف خو کیدای سی لاکن دخدای عارف نه سی کیدای، د ده ځغاسته د غیرالله

ځغاسته ده دخدای د عارف ځغاسته نه ده، دخدای د عارف ځغاسته جلا ده او د غیرالله د عارف ځغاسته جلا ده، د طبیعت او نفس په خاطر ځغاسته جلا ده او دخدای په حکم سره ځغاسته جلا ده.

کله چې ما د رِی یونین اول سفر وکړی کوم چې د فرانس تر تسلط لاندی یوه جزیره ده نو د فرانس راډیو اعلان وکړی چې پلانۍ ورځ به د سمندر پر غاړه لڅی انجونی او لڅ هلکوان لمبیږی نو ځینی مسلمان ځوانانو ماته وویل چې ملا صاحب زموږ په نفس کی د ورتګ ډیر خواهش راپورته دی، موږ څه وکړو، نفس مو هلته ورکشوی او دخدای بیره مو راګرځوی، ما ورته وویل چې یو څو دقیقې دغه فکر وکړی چې دغه انجونی کوم چې سبا لمبیږی ټوله د نوی(۹۰) کالو سوې، باړخوګان یې را وزړیده، غاښونه یې ووته، ځیګرونه یې یو یو فټ راوځړیده، وریښتان یې د زړې خرې د لکۍ په شان وخته، غاړی یې ریږدی او ما ورته وویل که د فرانس راډیو اعلان وکړی چې سبا ټوله د نوی کالو سپین سرانی لڅی لمبیږی نو آیا بیا به یې دید ته ورسی، لهٰذا پر کوم حسن باندی چې سبا زوال راځی دهغه څه تاسی نن راوګرځی نو به اجر او ثواب او دخدای قرب درته حاصل سی، کنې ځنی راګرځی خو سبا هم لاکن بیا به هیڅ ثواب نه سی درته حاصل، دخدای رضا بیا نه درته حاصلیږی، ځوانانو راته وویل چې په دې فکر موږ ته ډیره فایده راورسیده.

دا خو د حسن د خاوندانو د ژوند حال دی او د مرګ وروسته چې په قبر کی یې بدن وچاؤ دی، چینجان پر ګرځی، بد بوی یې ځی هغه وخت خو پر هغو قربان سه، پر عراق چې بمباری وسوه نو لس زره انجونی او هلکوان مړه سوه، دهغو بدنونه خراب سوه نو اخباری نماینده هم هلته نه سوای ورتللای، دونه سخته بدبویي وه، آه! آیا پر داسی بدبوداره

شیانو باندی د قربانیدو دپاره حق تعالیٰ موږ ته ژوند راکړی دی؟ آیا پر فنا کیدونکو لاښو باندی د قربانیدو دپاره یې موږ پیدا کړی یو؟ آه! **وَمَاخَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّالِيَعْبُدُوْنِ** (سورت ذاریات، آیت ٥٦) حق تعالیٰ خو موږ د خپل عبادت دپاره پیدا کړی وو او موږ پر فنا کیدونکو باندی مرو. مولانا رومی صاحب فرمایي ؎

**بهر این آورد ما یزدان برون**
**مَا خَلَقْتُ الْاِنْسَ اِلَّا يَعْبُدُوْن**

حق تعالیٰ د عالم ارواح څخه موږ دې دنیا ته د دغه دپاره رااستولی یو چی موږ دخدای د اطاعت او عبادت د لاری خدای وپيژنو. نو مولانا رومی صاحب فرمایي چی د دنیا د فانی شیانو سره زړه مه لګوی او په مثل د حضرت ابراهیم علیه السّلام **لَآاُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ** ووایاست چی موږ د دې فانی شیانو سره محبت نه کوو، مولانا رومی صاحب داغه مضمون په دیوان شمس تبریز کی فرمایي ؎

**خلیل آسا در مُلک یقین زن**
**نوای لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْن زن**

په مثل د حضرت ابراهیم علیه السّلام ته هم د یقین په ملک کی قدم کښیږده یعنی دحق تعالیٰ ذات یقینی دی دهغه وعدې یقینی دی، کوم شیان چی ښکاره دی هغه فانی دی، حق تعالیٰ باقی دی، لهٰذا ته هم ووایه چی زه د فنا کیدونکو شیانو سره محبت نه کوم، دحق تعالیٰ سره محبت کوم.

**وَاٰخِرُدَعْوَانَآاَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ**

# د تصوف حاصل خپل نفس فنا کول دی

علامه سید سلیمان ندوی رحمة الله علیه د خپل شیخ حضرت مولانا شاه اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه څخه چې کله پوښتنه وکړه چې حضرت د تصوف حاصل څه شي دی؟ په تصوف کې څه کېږي؟ د تصوف مقصد څه شي دی؟ ورته وې فرمایل چې د تصوف حاصل فقط نفس فنا کول دي او خپله څوک نفس نه سي فنا کولای، د دې دپاره د بزرګانو خدمتونه کېږي، دخدای د عشق په لار کې خپل نفس ذلیله کول وي ـــ

نه سازد عشق را کنج سلامت          خوشا رسوائی کوئی ملامت

خپل عشق حق تعالیٰ د سلامتیا کونج نه دی جوړ کړی، په دې کې نفس رسوا کول وي، د محبوب د کوڅې رسوایي هم څنګه مبارک ذلت دی، مبارک دی هغه ذلت کوم چې دخدای په لار کې د نفس د اصلاح دپاره راسي، خواجه صاحب داغه ته فرمایي ـــ

نہ لو نامِ الفت جو خودداریاں ہیں          بڑی ذلتیں ہیں بڑی خواریاں ہیں

**ترجمه**: د محبت نوم مه اخله چې ځان درباندې ګران دی،
ډیر ذلتونه دی ډیره رسوایي ده پکښې

عارف باللہ مجدد زمانہ حضرت مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب